وفاقی وزارتِ تعلیم و پیشه ورانه تربیت( حکومتِ پاکستان، NCCقومی نصاب کونسل

"اتحاد تنظیمات مدارس پاکستان" د نمائنده علماء کرامو ، پنجاب کریکولم

# د قرآنِ حکیم مطالعهٔ

# د طالبانو او طالباتو دپاره

# دویمه برخه

نوم ______________________

ولدیت/دکورمشر ______________________

کلاس ____________ سیکشن ____________

اسکول ______________________

## "د قرآنِ حکيم مطالعهٔ د طالبانو او طالباتو دپاره" د ښپروشوو برخو د ښپرولو تفصيلات


اوله برخه ............داول طبع نه ترلسمي – ۲۰۱۰ ء نه ۲۰۱۸ ء - ټول تعداد : ۱۱۵۱۷۵۰

طبع جديد ..............جولائي ۲۰۱۸ ء - شميره : ۵۰۰۰۰

- دويمه برخه...... داوّل طبع نه ترنهمي– ۲۰۱۱ ء نه ۲۰۱۸ ء- ټول شميره : ۵۰۲۰۰۰
  طبع جديد ..............جولائی۲۰۱۹ ء- شميره : ۱۰۰۰۰۰
- دريمه برخه .............. داوّل طبع نه تراتمي– ۲۰۱۲ ء نه ۲۰۱۸ ء - ټول شميره : ۲۴۵۰۰۰
  طبع جديد ..............جولائی۲۰۱۹ ء - شميره : ۱۰۰۰۰۰
- څلورمه برخه داوّل طبع نه ترشپږمي– ۲۰۱۳ ء نه ۲۰۱۸ ء - ټول شميره : ۱۵۵۰۰۰
  طبع جديد ..............جولائی۲۰۱۹ ء - شميره : ۱۰۰۰۰۰
- پينځمه برخه داوّل طبع نه ترڅلورمي– ۲۰۱۵ ء نه ۲۰۱۸ ء - ټول شميره : ۱۲۴۰۰۰
  طبع جديد ..............جولائی۲۰۱۹ ء– شميره: ۸۰۰۰۰
- شپږمه برخه اوّل طبع ۲۰۱۸ ء – ټول شميره: ۳۵۰۰۰
  طبع جديد ..............جولائی۲۰۱۹ ء– شميره: ۷۰۰۰۰
- اوومه برخه.....اوّل طبع جولائی ۲۰۱۹ ء– شميره: ۷۰۰۰۰
- زيراهتمام ..........شعبه تصنيف وتاليف۔قرآن پروگرام(دی علم فاؤنډيشن)
- پته . . . . . . . . . . . . . . . . . . ۲۳/۳ ،بلاک نمبر۳ ،دهلی مرکنټايل کوآپريټوهاؤوسنگ سوسائټی،پوسټ کوډ ۷۴۸۰۰کراچی ،پاکستان



فون نمبر.................... ۳۴۳۰۴۴۵۰، ۳۴۳۰۴۴۵۱(۲۱_+۹۲ )

موبائل نمبر.......................... ۰۳۳۵_۳۳۹۹۹۲۹

tifi430agma.ilcom/infoatif.edu.pk ای میل....................

www.tif.edupk ويب سائټ..................

## عرضِ ناشر

دالله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی پۀ فضل وکرم سره پۀ انتهائی ذمه داری سره ممکن کوشش کړےشوےدے چې د مطاٰلعۀ قرآنِ حکیم نصاب د تمام کَمَیو اوغلطو نه پاک د بهترین اشاعت اهتمام دے۔که چرته خدانخواسته پۀ دورانِ طباعت اعراب ،جلدبندی یانورې څه غلطیانې چې کومې سهواً شوې وې اوستاسو د نظرنه تیرې شې نواداري ته پۀ اطلاع ورکولو کښې به ستاسو احسان مندئې وو ددې دپاره چې پۀ آئنده اشاعت کښې تصحیح وکړے شي۔

**دا کتاب دالله د رضا پۀ خاطر بغیر د قیمته ورکولے شي۔**

# ابتدائي کلمات

قرآنِ حکیم د الله هغه آخری کتاب دے چې حضرت جبرائیل امین راوړے دے اوزمونږ د خوږ نبی حضرت محمد رسول الله خاتم النبیّین ﷺ پۀ مبارک زړۀ باندې نازل شوےدے۔هغه زمونږدپاره هدایت اوپۀ دنیا اوآخرت کښې د کامیابۍ ذریعه ده۔زمونږدپاره قرآنِ حکیم دیو فیصله کونکي کلام حیثیت لرې لکه چې الله فرمائیلي دي"بیشکه دا ( قرآن) یو فیصله کونکے کلام دے(سورةالطارق۸۶،آیت:۱۳)

چې حضرت نبی کریم ﷺ فرمائي پۀ دې دنیا کښې زمونږ عروج او زوال د قرآنِ حکیم سره تړلےدے لکه "چې حضرت نبی کریم ﷺفرمائي بیشکه الله تعالی ددې قرآن پۀ دولت قومونوته عروج ورکړےدے او ددې (د پریښودلو ) پۀ وجه ډیر قومونه) ذلیل او رسوا کوي۔"(صحیح مسلم)

د حضرت سیدناعلی کرّم اللّٰهُ وَجهَهٗ نه روایت دےچې حضرت نبی کریمﷺ اوفرمائیل نزدې ده چې ډیرې فتنې به راشي۔ حضرت علی رضی الله عنه فرمائي چې ماعرض وکړوچې یارسول الله!ددینه به څنګه بچ شو؟ حضرت نبی کریمﷺ اوفرمائیل دالله کتاب (مخې ته کیښودل) پۀ دیکښې ستاسو نه د مخکینوخلقوخبرونه دي اوچې کوم حالات روسته راځي دهغه اطلاعات دي،چې کوم ستاسوپۀ مینځ کښې مسائل دي دهغوپۀ باره فیصلے دي، دا قولِ فیصل دے، څه ټوقې نۀ دي ، چاچې دا سپک

وکړو او پرېږدو الله به ئې داغورد خاوروسره ميلاوکړي، او څوک چې ددينه علاوه په بل څه کښې هدايت اولاړښودنه تلاش کوي الله به ئې گمراه کړي ، دا قرآن حکيم د الله ورکړے شوي مضبوطه رسۍ ده،په ديکښې لوي مظبوط نصيحتونه دي اودا صراطِ مستقيم دهـ (جامع ترمذی، بحار الانوار) په آخرت کښې هم زمونږ د کاميابۍ دارومدار په قرآن حکيم باندې عمل کول اودرسول الله ﷺ کامل تابعدارسره تړلے شوے دے لکه چې حضرت نبی کريم ﷺ فرمائيلي "قرآن به ستاسو په حق کښې دليل وي يا به ستاسو خلاف دليل وي-"(صحيح مسلم) بس ضرورت ددې خبري دے چې مونږ د قرآن او صاحبِ قرآن "حضور نبی کريم ﷺ" سره خپل تعلق مضبوط جوړ کړو- په دې باندې دزړۀ نه ايمان ولرو، اود کتاب الله باقاعده تلاوت کوو، په دې ځان پوهه کړو په دې باندې عمل وکړو اودا نوروته درسولو کوشش کول - په ابتدائي ژوند کښې چې کومه خبره په ذهن کښې کيني نوددې ډېوخ والي اودجاولي اثراتو په باره کښې دوه رائې ګاني نۀ وي - الحمدلله زمونږ په،معاشره په ابتدائي ژوند کښې د قرآن حکيم ناظره تعليم اود قرآن د حفظ اهتمام کولے شي چې ددې وجينه په ټول ژوند کښې تلاوت کول آسان وي -دغه رنګې که په ابتدائي ژوند کښې د قرآن حکيم مفهوم اومعناګانو اړخ ته توجّه وشي نو اميد دے چې په قرآني تعليماتو پوهيدل يادول اود قرآني هداياتو مطابق ژندګي تيرول آسان شي"مطالعۀ قرآنِ حکيم د طالبانو او طالباتو دپاره" آسان اوپۀ عام فهم انداز کښې دابتدائی عمر نه قرآنِ حکيم سره تعلق جوړول يو مربوط اور منظّم کوشش دے-د قرآنِ حکيم دانصاب طالبانو اوطالباتو دعصری تعليم پۀ دوران "اسلاميات" د عمومی نصاب سره وييلے شي-اُميد دے چې اِن شاء الله پۀ اووکلونو کښې (تقريباً ۳۵۰ ګهنټو) کښې طالبان اوطالبات پوره د قرآنِ حکيم ترجمه، مختصر تشريح، اهم مضمونونه او د عملی هداياتو نه واقف کړے شي-دغه رنګې ددوئ دپاره به عملي ژوند دقرآني تعليماتو مطابق اسانول ممکن شي -ددې افرادو بدليدل ديونيک معاشري د قيام ذريعه جوړه شي -

دالله ﷻ نه دعاده چې ددې "مطالعۀ قرآنِ حکيم د طالبانو او طالباتو دپاره" تکميل اوتدريس زمونږ دپاره آسان شي زمونږ دا کوشش قبول کړي او چې کوم طالبان او طالبات ددينه فائده حاصلۍ ددې ټولو دپاره صدقۀ جاریہ جوړه کړي۔آمين

# "مطالعۀ قرانِ حکیم د طالبانوا و طالباتودپاره" څه خصوصیتونه

١. "مکمل قرآنِ حکیم"د ٧٠ نه زیات معتبر اومشهورومعروف ترجمونه انتخاب کول"عام فهم او آسان ترجمه"مرتب کړےشوےدے۔

٢- "د دوو رنګونو دا ستعمال" نه ترجمه پۀ عربی متن کښې یوشان اود بامحاوره کولو کوشش کړےدے۔

٣-د ایاتونود تشریح پۀ حوالےسره "اَهمې نُکتې" لیکل دغه رنګې دسبقونوسره متعلق دڅه تحریري کار دپاره "سادهصفحات"هم ورکړې دي۔

۴-حتی الامکان "د مشکلو اصطلاحاتو اوذومعنی الفاظو نه ډډه" شوې ده۔

۵-"د بچو ذهني سطح اودلچسپی" د مدنّظر پۀ بنیاد نصاب مرتب شوےدے۔لکه څرنګه چې "مطالعۀ قرآنِ حکیم د طالبانو او طالباتودپاره"پۀ اوّله برخه کښې دقرآن او صاحبِ قرآن پۀ عنوان سره د حضور نبی کریم ﷺ پاک ژوند فضائیل او کمالاتو پۀ حواله سره څو بنیادی خبرې، سورةالفاتحه،سورة الصّفّت،آخری لس سورتونه اودشپږو رسولانو(حضرت آدم،حضرت نوح،حضرت هود (علیه السلام)، حضرت صالح (علیه السلام) ، حضرت شعیب (علیه السلام) او حضرت یونس (علیه السلام)) قصّے، پۀ دویمه برخه کښې د دیرشتوسیپاررو اود سورتونو(د سُورَةُ النَّبَانه سُورَةُ الْهُمَزَة) سره سره د حضور نبی کریم ﷺ فضائیل و مکارم اود معجزات پۀ حواله سره څو آیاتونه مبارکه او حدیثونه، د حضرت ابراهیم (علیه السلام) او حضرت موسیٰ (علیه السلام) قصّے، پۀ دریمه برخه کښې د حضرت یوسف (علیه السلام) قصّه اوپۀ څلورمه کښې دحضرت زکریا (علیه السلام) ، حضرت مریم، حضرت عیسیٰ (علیه السلام) ، حضرت سلیمان (علیه السلام) اود حضرت لوط (علیه السلام) د قصّوسره مکی سورتونه شامل کړےشوي دي۔پۀ پنځمه کښې دمعراج واقعه، تاریخ بنی اسرائیل،اصحاب سبت، اصحابِ کهف،باغ والا، حضرت موسیٰ (علیه السلام) اوحضرت خضر (علیه السلام) اود ذوالقرنین قصّے شامل کړې دي۔پۀ شپږمه برخه او اوومه برخه کښې شامل پۀ مدنی سورتونوکښې معاشرتی او سماجی تعلیمات،ریاستی امور، غزواتِ نبوی،جهاد اوقتال فی سبیل الله اودنورو اهمو موضوعاتو سره متعلق تفصیلات او واقعات بیان کړےشوي دي

٦-دسورتونود مطالعي نه مخکښې ددي " شان نزول اود تعارف" بیان شوےدے۔

٧-د قرآني ایاتونو پۀ رڼائي کښې د انبیاءکرام قصّے "پۀ آسان او زړۀ راښکونکښې انداز"کښې" د معتبر موادو" سره مرتب کړےشوےدے۔

٨-دانبیاء کرام قصّے پۀ بهتر اندازباندې دپوهولودپاره " د نقشو استعمال"هم کړےشوےدے ددې دپاره چې دواقعاتو د

محـــــــــل او مقــــــــام نـــــــــــه واقفيــــــــــت حاصـــــــــــل کـــــــــړي.

۹ - دهرسورت او قصّې پۀ آخر کښې سبق آموز نُکتې"دعلم او عمل خبرې" پۀ عنوان سره دآیات قرآنی حواله جاتو سره بيـــان کـــړې دي ددې دپـــاره چـــې د قـــرآنِ حکـــيم د فکـــری او عملـــی هـــدیاتَ نـــه خبردارشـــې.

۱۰ - دهر سورت او قصّې سره متعلق "ځان پرې پوهه کړئ اوحل ئې کړئ"پۀ عنوان سره مختلف مشقونه شامل کړےشـــوي دي ددې دپـــاره چـــې د طالبـــانو د قـــرآن د پـــوهې جـــائزه واخســـتلے شـــي.

۱۱. د طالبانو دقرآنِ حکيم پۀ حواله سره دعملی مشق کولودپاره " کورنی هله زله " پۀ عنوان سره زړۀ راښکونکې هلـــې زلـــې تجويزکړےشـــوي ددې دپـــاره چـــې دطالبـــانودکوروالاتعلق هـــم دقـــران حکـــيم ســـره زيـــات شـــي.

۱۲. دطالبـــانو دفکـــری اوعملـــی لارښـــودنې دپـــاره پـــۀ هرســـبق کښـــې "فرمـــانِ نبـــوی" ، "عملـــی خبـره" ، "آياتاسـوپوهيږئ؟" ، "معلـوم کـړئ"او "سـوچ وکـړئ"پـۀ دې عنوانـات سره اهم معلومـات هـم ورکړےشوي دي.

۱۳. دطالبانود سهولت دپاره"د مشکلو الفاظو معنی "دکتاب پۀ آخر کښې د سبقونو د ترتيب مطابق دحروف تهجی لحاظ شـوےدے.

۱۴. داستاذنودتدريسي مـددد پاره دهرحصّې سره يوجـامع "داستاذانولارښـود "هـم تيـار کړےشـوےدے.چې پـۀ ديکښې دهرآيــــــــــت پــــــــــۀ ضــــــــــمن کښــــــــــې " تشـــــــــــريحی نُکتـــــــــــې، علمی اوعملی اړخ،آيات ِ قرانی حواله جات او احاديث مبارکه "الحمد لله د ۷۰ نه د زياتو ترجمو او تفسيرونو پۀ رڼائې کښې مرتـــــــــــب شـــــــــــــــوےدے.عـــــــــــــــلاوه ددې نـــــــــــــــه " د تـدريس طريقـه" ، "دمطـالعې مقصـدونه"او "د سـوررت د ربـط "سـره سـره "د مشـقونو جوابونـه" ، " دسبقونو منصوبه بندی"اومزيـد" عملی هلې زلې " هم شـامل کړےشوي دي.دغه رنګې د مطالعۀ قرآنِ حکيم د تدريس بهتر جوړولودپاره " عمومی تدريسی هدايات"هم مرتب کړےشوي دي،ددې سره مزيد دا چې د تدريس د طريقې د عملی مظاهرې دپاره " Demo Class"هم ريکارډ کړےشـوےدے."ماډل پيپر اودعمومی تپوسلےشـوو سـوالات(FAQs) "هـم "پـۀ رهنمائے اساتذه"کښې ورکړےشوي دي.

۱۵. "مطالعۀ قرآنِ حکيم د طالبانو او طالباتودپاره"پۀ مرتب کولوکښې ددې خبرې خصوصي طوراهتمام شـوےدے چې "د مسلکی اختلافاتود بيان نه ډډه "کړےشوې ده اودهغو اُمورو او تشـريحاتو بيان کړےشـوےدے چې پۀ دې باندې عموماً دټولو اتفاق شـوےدے.

۱۶ - ددې نصاب پۀ مرتب کولوکښې علماء کرام، حفاظِ کرام،اساتذه کرام او دوالدين "د مشـاورت اود نظر ثانی"نه استفاده کړےشوې ده.

## د"مطالعۀ قرآنِ حکیم"دنصاب پۀ باره کښې دمشهوروعلماء کرامواوتعلیم دماهرینودتأثراتونه اقتباسات

### مفتی محمدتقی عثمانی صاحب (نائب صدرجامعه دارالعلوم کراچی،چیرمین شرعیه کونسل بحرین)

ددې کتاب مقصددا سکولونوهلکانواوجنکودقرآن کریم سره تعلق پېدا کول اوددې بنیادې تعلیمات اوواقعات پۀ آسانه ژبه اوطریقه کښې پیش کول دي،دکتاب دپاڼودا ړولونه اندازه کېږي چې پۀ مجموعي حیثیت داکتاب په دې مقصدکښې کامیاب دے،اودبچوذهني قابلیت مخې ته ایښودل ددینه فائده مندمعلومات پۀ آسانۍ سره اسانولےشې ۔ الله دې داکتاب دبچودپاره فائده مندجوړکړي ۔

### مفتی منیب الرحمٰن صاحب(صدرتنظیم المدارس،مهتمیم دارالعلوم نعیمیه کراچی)

پۀ دې کتابونوکښې د منتخب انبیاء کرامو سوانح پۀ زړۀ کښې کېنول اوپۀ اسان اندازکښې ترتیب ورکړے شوےدے ۔ پۀ طالبانوکښې دنفس داصلاح اوذات داحتساب دشعورپېدا کولودپاره"مونږپۀ څه اوپیژاندل ؟"،په دې عنوان سره پخپله ،خپله جائزه اخستلودپاره دتربیت اهتمام وکړےشې ۔ پۀ مجموعی حیثیت باندې دایوقابلِ قدراوقابلِ تحسین کوشش دے ۔ داټوله سلسله دادارے د مؤوسِّسینودا خلاص اود دینی جذبی مظهردے ۔ زمادعاده چې الله تعالی داکوشش داجراوثواب وګرځوي،ددې دافیض دې همیشه اوعام قبول وګرځوي ۔

### مولانامحمد اسماعیل صاحب(چیئرمین متحده علماء بورډ،چیف خطیب نائب امیر جماعت اسلامی خیبرپختونخوا)

عام طورباندې دقرآن کریم ترجمه،تفسیرلیکل یابیان کول دخپل حساسیت (Sensitivity) باوجودنسبتاًآسان کاردے،لیکن ددې کورس کتاب جوړول اودټیکسټ بُک شکل ورکول غټ دزړۀ پۀ زوراوګران کار دے،اودامشکل کار(دی علم فاؤنډیشن ) کراچی سرته ورساؤوچې ټول قرآن ئې پۀ مختلف حصّوکښې تقسیم کړودطالبانودصلاحیت مطابق دامرتب کړواوبیاددې نصاب کتاب جوړول داسکولونودطالبانودپاره ډیرآسان کړےدے ۔ ددې وجې نه پخپل ځائے باندې وییلےشوي دې چې دا نصاب پخپله ددې مثال دے ۔ داخبره ډیره داطمینان باعث ده چې ددې پۀ تیارولوکښې د تمام مکاتبِ فکر جیّد عالمانو اود مفسّرینو کرامود کوششونونه زیات مدداخستے شوے دےاوداددې تمام مکاتب فکردپاره قابلِ قبول جوړکړےشوےدے ۔ ددې نصاب دټولونه اهم خصوصیت داد ےچې پۀ دیکښې هیڅ قسم فرقه واریت یا د څه قسم عصبیت بوۍ نشته د بلکه د قرآن آفاقي دعوت ئې محورجوړکړےدے ۔ ددینه داامېد پېدا کېږي چې زمونږبچي اوبچۍ دانصاب اوایي نودهرقسم زباني ،جماعتي،نسلي ،قومي،علاقائې اومذهبي فرقه بندونه به آزادشې خالص دقرآن او سنت پۀ ذریعه دخپل آفاقي دین "اسلام" فهم حاصلوي ۔ ګویادانساب پۀ فرقواوجماعتونوکښې داامّت یوځل بیادیوکېدلودپاره دواحد امېد حیثیت لري ۔

مولانا محمد مظفر شیرازی صاحب(فاضل اسلامک یونیورستی مدینه منوّره ،وائس چانسلر جامعه عمر بن عبد العزیز الاسلامیه سیالکوټ)

دانصاب روان اوآسان دے ـ دوړکي عمرطالبانو دپاره زيات فائده منداوآسان دے ـ دځني اياتونوسره د ورکړےشوي نقشو دوجي نه د طالبانو دپاره انتهائي زړه راښکونکي دي ـ دطالبونود ذهني استعداد برابرترتيب ورکړےشوےدے ـ دالله تعالىٰ نه دعاده چې داپاکه هستي دقرآن کريم دپاره ستاسو لوي خدمات ته قبوليت ورکړي اوستاسوداغوره محنت پۀ دنياکښې دبرکـــت باعـــث اوپـــۀ آخـــرت کښـــې دنجـــات باعـــث وګرځـــوي ـ آمـــين

ډاکټـــر محمـــد محســـن نقـــوی صـــاحب(مـــاهر تعلـــیم)

الحمدلله! دنظرلاندې دکتابونوسلسلئه لره زمونږ ديني ورنږو عالمانواوفاضلانوترتيب ورکړےدے ـ دنوي طريقي پۀ ذريعه د قـرآنِ مجيـد د مختلف مقاماتومطالعـه،ددې ژبـې اوبيـان تشـريح ،دمطالـب حـلّ ،تمرينات،خوږوالےدبيان دغـه رنګـي دتعقيدنه پـاک طريقه ددې مزيدارخصوصـيات دي ـ دالله تبارک وتعـالى نه دعـاده چې ددې کتابونودسلسلي دمصنفينو ،مرتبينو ،دحسـن افزائې ذمدارحضراتو اوناشرينوخائسته کوششونه قبـول کـړي اوطالبـانودقرآن لـره دې ددې کتابونوپـه سلســـله کښـــې دزيـــاتي فائـــدې حاصـــلولوتوفيق ورکـــړي ـ آمـــين يـــاربّ العـــالمين ـ

مولانا محمد سیف البر سکرګاهی صاحب(فاضل وفاق المدارس العربیۃ ،مرکزی ناظم اعلیٰ ټرسټ جمیعت تعلیم القرآن)

دی علم فاؤنډيشن داکابرينوتفسيرونه اوترجمي رامخي ته کړي دې خاص طورباندې داسکولونود طالبانودپـاره ئې چې کوم نصاب لـه ترتيب ورکړےدے چې دا نصاب پخپله ددې مثـال دے ـ دسبقونونه حاصل تمرينونه اوکورنۍ هلي زلي وغيره متعلمينواومتعلماتو دپاره به نهايت فائده مندې ثابتي شي ان شاءالله زيات امېددےچې دانصاب دقرآن ـ حکيم دفهـم دپـاره نهايـتِ مـؤثرکرداراداکړي ـ پـۀ ديکښـې دټولونـه زياتـه خـاص خبـره داده چـې پـۀ ټـول نصـاب کښـې هغـه اموراوتشريحاتودبيانولوخصوصي اهتمـام کړےشـوےدےچې پۀ ديکښې عمومًادټولواتفاق کړےشـوےدے ـ چې ددينه دبچوداذهن جوړشي چې زمونږدين داختلافاتومجموعه نۀ ده دغه رنګي نزديکت تـه ودده ميلاويږي اوکومي فاصلي بلکي خليجونه چې دمسلمانانوپۀ درميان کښې پېداشوي دي هغه پۀ دمـه دمـه کميـږي(ان شاءالله) دزړۀ اوزان نـه دعـاده چـې الله د (دي علم فاؤنډيشن ) دټولوذمدارانوخدمتونه اوکوششونه قبول کړي اوددنيااوآخرت پۀکاميابيانومودې الله کامياب کړي اواداري تـــــــه دې ډېـــــــره ترقـــــــي ورکـــــــړي ـ (آمـــــــين)

مولانـــا حکـــيم محمـــد مظهـــر صـــاحب(مهـــتمم جـــامعۃ اشـــرف المـــدارس کراچـــی)

پـۀ دې کتـاب کښـې دبچـوذهني سـطح مخـې تـه ايښودلےشـوي ده دقرآنـي آياتونوترجمـه پـۀ عـام فهـم ا ندازبانـدې پـيش

کړےشوےده، پۀ مجموعي لحاظ سره داکتاب ډیرفائده مندد ے۔ ددې کتاب مقصدد اسکول د هلکانو اوجنکود قرآن کریم سره تعلق پیداکول اوددې بنیادې تعلیم نه خبرول دې۔ اوداپخپله مقصدکښې کامیاب ثابت شې ان شاءالله۔

## شیخ الحدیث مولانامفتی عطاءالرحمٰن صاحب(مهتمم جامعه مدنیه بهاولپور)

صرف قرآن کریم دےچې دمسلمانانوددنیااوآخرت دکامیابۍ اوفلاح واحد ذمواردے ۔ افسوسناک صورتِ حال داد ےچې کوم قام ته داکتاب ورکړےشوےدےهغه نن ددکتاب نه پردې اوبل اړخ ته پۀ نظرراځي۔ ددین نه بیزاري اودمغربیت مزه ځکل پۀ دې دورکښې ځنې دینداره داسي هم دې چې دقرآن کریم تعلیمات دټولونه په اسان اندازکښې ډال کړل کورکورته یې درسولوکوشش وکړلو۔ پۀ دې باهمت ته خلقوکښې د(دی علم فاؤنډیشن) ملګرې هم دې۔ چې دوئ ماشاءالله چې دوئ دعماءکرامودنګرانۍ لاندې داسکول کالج درسګاهونودپاره ډیرزیات آسان اوپه جدیدطرزِ تدریس سره اتفاقي مطالعۀ قرآن حکیم نصاب جوړ کړو۔ پۀ مجموعي طورباندې نصاب پخپل ترتیب اودمظامینودانتخاب پۀ لحاظ بهترین دے۔ د(دی علم فاؤنډیشن) ټول ملګرې ددې خدمت دپاره دمبارکۍ مستحق دې ۔ الله دې ددې حضراتوکوششونوته قبولیت ورکړې اوامت ته دې ددې ډیروختـه پـوري ددینـه دفائدواخستلوتوفیق ورکړي ۔

## جسټس دوست محمدخان صاحب(جسټس سپریم کورټ آف پاکستان)

"مطالعۀ قرآن حکیم دطالبانواوطالباتودپاره"دانصاب داسلامي عزتونوپۀ پاللوکښې ډیرګران خدمت دےچې دصفت لائق دےځکه قرآنې علمونه اوچتول اوزړۀ بیناکوي (دی علم فاؤنډیشن) دارخ نه داکوشش نوري تدریسي اداروله هم لاربنودنه آسانوي ۔ ددې مطالعه مشکله ده ۔ د بصارت سره بصیرت هم ذرغونولوولادےددې دپاره چې دقام معماران دمستقبل دتورتمونونه راووځي ۔ الله دې تاسوروغ اوخوشحاله لري ۔

## مولانا ډاکټرقاری محمدضیاءالرحمٰن صاحب(چیئرمین القرآن ایجوکیشن ټرسټ،انچارج فیصل مسجد اسلامک سینټربین الاقوامی اسلامک یونیورسټی اسلام آباد)

د(دی علم فاؤنډیشن)مرتب شوے نصاب "مطالعۀ قرآن حکیم دطالبانواوطالباتودپاره)دپاکستان دلکهونوعصری اوددیني تعلیمي اداروډطالبانودعلم اوعمل ،کردار،اخلاق اوفکري پاللودپاره دمظبوط بنیادکارورکوي ۔ چې ددې پۀ ذریعه مونږصرف دانۀ چې خپل ورکړے شوي اخلاق اودورک شوې دمشرۍ مقام سره اشناکښې بلکې دپوره عالمِ انسانیت دپاره مؤوثراوفائده مندثابت شې،"دمطالعۀ قرآن حکیم کورس یواهم خصوصیت داد ےچې دهرشان فِرقه وارانه سوچ نه

اوچـــــــــــــــــــــت اوداٴمّـــــــــــــــــــــت داتحادترجـــــــــــــــــــــان دے .

**ونـګ کمانډرډاکټرمولاناضـمیراخترخان صـاحب (ډائریکټرشـعبه امورِدینیـه .پاکسـتان فضاییه،فاضـل علـومِ اسـلامیه)**

(دی علم فاؤنډیشـن) دعصری تعلیمی اداروډپـاره دمطالعۀ قـرآن حکیم دنصاب ترتیب ورکړودملّتِ اسلامیه پاکستان دپاره خاص طورباندې اوعام طورباندې دخدمت عظیم فریضه اداکوې. دعلم فاؤنډیشـن غټه کرنامه (HerculeanTask) پـــۀ پـــوره قـــرآن مجیـــدفرقانِ حمیدبانـــدې محـــیط ددې کتابونوترتیـــب اوتـــدوین دے .

**Prof. Dr. Masoom Yasinzai (Rector International Islamic University Islamabad)**

Its very impressive work on Quranic teachings 'Mutalae Qurane Hakeem'. I am greatly impressed by the IlM Foundation approach for introducing Quranic teaching with the help of stories of Prophets and from the grass root level. Surely, The ILM Foundation work will make a sustainable impact on the lives of future generations in their personal lives as practicing Muslims and in the society at large.

**Pir Noor Ul Haq Qadri Sahib (Federal Minister for Religious Affairs & Interfaith Harmony)**

I have gone through the work of The ILM Foundation regarding development of comprehensive syllabus of the Holy Quran for the students in Urdu. I really appreciate the work of The ILM Foundation. This will surely be helpful in propagating the true teaching of Islam as enshrined in The Holy Quran.

**دی سیټیزن فاؤنډیشن (شعبۀ نصاب)**

دمختلف رنګونواستعمال دبچودپاره ډیرinteractiveدے اودقرآن پۀ پوهه کښې معاون دے. ددې کتاب مشقونه ډیرزیات ښۀ دې په دې نصاب کښې څه داسې موادنشته چې ددینه پۀ طالبانو اوطالبات کښې انتهاپسندې پېدا شې .نصابِ قرآن دبچوداخلاقي تربیت دپاره هم ډیرمعاون دے. پۀ مجموعي حیثیت باندې ډیرښۀ کوشش دےیقیناًددې ښۀ نتیجې به مخې ته راشې.

**مفتی محمدقمرالحسن صاحب (استاداحدیث جامعه حمادیه ،شرعیه ایډوائزرټرسټ جمعیت تعلیم القرآن،ایډوکیټ هائی کورټ)**

پۀ طالبانو اوطالباتوکښې داسلامي کرداراوتشخص اوایمانی جذبه وقوّت پېداکولودپاره پۀ دېکښې چې کوم محنت

شوید ے داچې ولیدلےشي بےاختیاره دژبي نه د شاباس الفاظ راوځي ۔دهرسورت پۀ شروع کښې ددې مقصد اومزید اره خلاصه لویه فائده مندده ۔"دعلم اوعمل خبري"پۀ عنوان دقرآنِ حکیم فکري اوعملي هدایاتونه دخبرداری ورکولو طریقه هم ډیره مؤوثره ده ۔الله تعالیٰ دې داکتاب ددین داشاعت اودایماني جذبي ذریعه جوړه کړي ۔

**قاری سیدعلی عابدنقوی صاحب(اعزازی مشیراسلامی نظریاتی کونسل،منتظم اعلیٰ امامیه دارالتجوید ،بین الاقوامی قصرقرآنِ پروجیکٹ اسلام آباد)**

ماته ډیره خوشحالي ده چي اداری دمسلکی اختلافاتونه پرهیزکړےدے پۀ طالبانو اوطالباتو کښې حقیقی دقرآنی روح نه خبردارکولو اهتمام کړےدے ۔ځۀ داکارقابلِ تحسین ګنړل ۔دڅلویښتوکالونه پۀ وزارتِ مذهبی اموروپسی نښتي ؤوو د علم فاؤنډیشن افرادپه اداره کښې ملازمت نۀ بلکه پۀ نظریاتی بنیادونوباندې کارکوي۔پۀ دې موجوده ګډوډدورکښې دی علم فاؤنډیشن پۀ قرآنی حوالی سره کارډیراوچت دے ۔ددې چې څومره تعریف وکړےشي کم دے ۔

**مفتی محمدمنظورعلی خان قادری حنفی صاحب (فاضل علوم شرقیه ،خطیب اعلیٰ غوثیه مسجد ،ګلشن جدید)**

دپنځم کلاس نه ترلسم کلاس دبچودپاره دانبیاءکرامو عَلَيۡهِم السّلَام پۀ قرآنی واقعاتوباندې چې کوم مشتمل نصاب مخې ته راغلےدےدابچودپاره ډیرفائده مندثابت شو ۔پۀ دې ترجمه کښې پۀ یومقام باندې ماته څه غلطی یابےادبی پۀ نظرنۀ ده راغلي۔داترجمه دااهلِ سنت دمسلک سره بلکل مطابق صحیح ده ۔پۀ دې وخت ددې کاردپاره چې کوم خلق جاني اومالي قرباني کوي هغه دصفت لائق دي ۔الله تعالیٰ دې هغوئ ته اجرِعظیم ورکړي ۔

خبرداری:الحمدلله چي کوم عزتمندعالمان بره ذکرشواودعزتمند شخصیاتونه علاوه هم دنوروتعلیمي ادارومشران ،عزتمندعالمان اودتعلیم ماهرینوخپل قیمتي تأثرات هم ذکرکړي ۔

نوټ: الحمدلله دبره ذکرشووعلماءکرامواومعززشخصیاتونه علاوه نورهم د تعلیمي ادارومشران،علماءکرام اوماهرینودتعلیم پۀ خپل قیمتي تأثراتو سره ښائسته کړےدے ۔

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

## د مضمونونو فهرست


| شمیره | مضمونونه | | مخ |
|---|---|---|---|
| ۱ | د تلاوت او ترجمه قرآن یو څو آداب او د طالبانو د پاره اهم هدایات | | |
| ۲ | قرآن او صاحب قرآن | | |
| ۳ | سبق: ۲ سُوۡرَةُالضُّحٰی(سورت نمبر: ۹۳، ټولي رکوعګاني: ۱، ټول آیاتونه: ۱۱) | | ۱۸ |
| ۴ | رکوعګاني: ۱، ټول آیاتونه: ۸) (سورت نمبر: ۹۴، ټولي | سبق: ۳سُوۡرَةُالۡاِنۡشِرَاح | ۲۳ |
| ۵ | (سورت نمبر: ۹۵، ټولي رکوعګاني: ۱، ټول آیاتونه: ۸) | سبق: ۴سُوۡرَةُالتِّيۡن | ۲۸ |
| ۶ | سبق: ۵ د اول وحی قصّه | | ۳۳ |
| ۷ | (سورت نمبر: ۹۶، ټولي رکوعګاني: ۱، ټول آیاتونه: ۱۹) | سبق: ۶سُوۡرَةُالۡعَلَق | ۳۴ |
| ۸ | (سورت نمبر: ۹۷، ټولي رکوعګاني: ۱، ټول آیاتونه: ۵) | سبق: ۷سُوۡرَةُالۡقَدۡر | ۳۹ |
| ۹ | (سورت نمبر: ۹۸، ټولي رکوعګاني: ۱، ټول آیاتونه: ۸) | سبق: ۸سُوۡرَةُالۡبَيِّنَة | ۴۴ |
| ۱۰ | (سورت نمبر: ۹۹، ټولي رکوعګاني: ۱، ټول آیاتونه: ۸) | سبق: ۹سُوۡرَةُالزِّلۡزَال | ۴۹ |
| ۱۱ | (سورت نمبر: ۱۰۰، ټولي رکوعګاني: ۱، ټول آیاتونه: ۱۱) | سبق: ۱۰سُوۡرَةُالۡعٰدِيٰت | ۵۴ |
| ۱۲ | (سورت نمبر: ۱۰۱، ټولي رکوعګاني: ۱، ټول آیاتونه: ۱۱) | سبق: ۱۱سُوۡرَةُالۡقَارِعَة | ۵۹ |
| ۱۳ | (سورت نمبر: ۱۰۲، ټولي رکوعګاني: : ۱، ټول آیاتونه: ۸) | سبق: ۱۲سُوۡرَةُالتَّكَاثُر | ۶۴ |
| ۱۴ | (سورت نمبر: ۱۰۳، ټولي رکوعګاني: : ۱، ټول آیاتونه: ۳) | سبق: ۱۳سُوۡرَةُالۡعَصۡر | ۶۹ |
| ۱۵ | (سورت نمبر: ۱۰۴، ټولي رکوعګاني: : ۱، ټول آیاتونه: ۹) | سبق: ۱۴سُوۡرَةُ الۡهُمَزَة | ۷۳ |
| ۱۶ | قصّه د حضرت ابراهیم سبق: ۱۵ | | ۷۷ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۷ | (اوّله برخه) قصّه د حضرت موسیٰ سبق:۱۶ | ۹۴ |
| ۱۸ | (دویمه برخه) سبق:۱۷ قصّه د حضرت موسیٰ | ۱۰۳ |
| ۱۹ | (دریمه برخه) قصّه د حضرت موسیٰ سبق:۱۸ | ۱۲۷ |
| نمبر شمار | سبق | صفحه نمبر |
| ۲۰ | (سورت نمبر:۷۸،ټول رکوعګاني: :۲،ټول آیاتونه:۴۰) سُوْرَةُ النَّبَا سبق:۱۹ | ۱۴۵ |
| ۲۱ | (سورت نمبر:۷۹،ټولي رکوعګاني: :۲،ټول آیاتونه:۴۶) سبق:۲۰سُوْرَةُ النّٰزِعٰت | ۱۵۱ |
| ۲۲ | (سورت نمبر:۸۰،ټول رکوعګاني:۱،ټول آیاتونه:۴۲) سُوْرَةُ عَبَس سبق:۲۱ | ۱۵۷ |
| ۲۳ | (سورت نمبر:۸۱،ټول رکوعګاني:۱،ټول آیاتونه:۲۹) سُوْرَةُ التَّكْوِيْر سبق:۲۲ | ۱۶۳ |
| ۲۴ | (سورت نمبر:۸۲،ټولي رکوعګاني: :۱،ټول آیاتونه:۱۹) سُوْرَةُ الْاِنْفِطَار سبق:۲۳ | ۱۶۸ |
| ۲۵ | (سورت نمبر:۸۳،ټولي رکوعګاني: :۱،ټول آیاتونه:۳۶) سبق:۲۴سُوْرَةُ الْمُطَفِّفِيْن | ۱۷۳ |
| ۲۶ | (سورت نمبر:۸۴،ټولي رکوعګاني: :۱،ټول آیاتونه:۲۵) سبق:۲۵سُوْرَةُ الْاِنْشِقَاق | ۱۷۹ |
| ۲۷ | دیو ظالم بادشاه او د مومن هلک کا قصّه سبق:۲۶ | ۱۸۵ |
| ۲۸ | (سورت نمبر:۸۵،ټول رکوعګاني:۱،ټول آیاتونه:۲۲) سبق:۲۷ سُوْرَةُ الْبُرُوْج | ۱۸۷ |
| ۲۹ | (سورت نمبر:۸۶،ټولي رکوعګاني:۱،ټول آیاتونه:۱۷) سبق:۲۸سُوْرَةُ الطَّارِق | ۱۹۳ |
| ۳۰ | (سورت نمبر:۸۷،ټول رکوعګاني:۱،ټول آیاتونه:۱۹) سُوْرَةُ الْاَعْلٰى سبق:۲۹ | ۱۹۸ |
| ۳۱ | (سورت نمبر:۸۸،ټولي رکوعګاني:۱،ټول آیاتونه:۲۶) سبق:۳۰سُوْرَةُ الْغَاشِيَة | ۲۰۳ |
| ۳۲ | (سورت نمبر:۸۹،ټول رکوعګاني:۱،ټول آیاتونه:۳۰) سُوْرَةُ الْفَجْر سبق:۳۱ | ۲۰۸ |
| ۳۳ | (سورت نمبر:۹۰،ټولي رکوعګاني:۱،ټول آیاتونه:۲۰) سبق:۳۲سُوْرَةُ الْبَلَد | ۲۱۳ |
| ۳۴ | (سورت نمبر:۹۱،ټولي رکوعګاني:۱،ټول آیاتونه:۱۵) سبق:۳۳سُوْرَةُ الشَّمْس | ۲۱۸ |
| ۳۵ | (سورت نمبر:۹۲،ټولي رکوعګاني:۱،ټول آیاتونه:۲۱) سبق:۳۴سُوْرَةُ الَّيْل | ۲۲۳ |
| ۳۶ | د مشکل الفاظو معنی | ۲۲۷ |
| ۳۷ | ”مطالعۀ قرآنِ حکیم د طالبانو او طالباتو دپاره“ د مکمل نصاب تفصیل | ۲۴۰ |

## تلاوت او دَ قرآن مجید دَ ترجمې ځو آداب

نوټ: تلاوتِ قرآن، فهمِ قرآن، اودتجویداهمیت سره سره دقرآن حکیم دبنیادي معلوماتود مطالعهٔ قرآن حکیم پهٔ اوله برخه کښې کتلے شي.

۱۔ پاک صفا اوپهٔ اودس سره دَقرآنِ حکیم تلاوت کول پکار دي۔

۲۔ دَتلاوت شروع کولو نه مخکښې تعوّذ (اعوذبِالله) او تسمیه (بِسمِ الله) ویېل پکار دي۔

۳۔ دَتجوید سره دَتلاوت کوشش کول پکار دے۔

۴۔ دَ تلاوت کولو پهٔ وخت دَ ربّ العالمین او دَ هغهٔ دَ کلام عظمت هم پهٔ زړهٔ کښې کښېنول پکار دي۔

۵۔ تلاوت پهٔ دمه آواز اوپهٔ اوچت آواز کښېدلے شي۔ البته دا خیال ساتل پکار دي چې پهٔ اوچت آواز کولو سره دَ چا پهٔ څهٔ کار یا آرام کښې خلل واقع نهٔ شي۔

۶۔ دَ سجدې دَتلاوت پهٔ آیت باندې سجده کول پکار دي۔

۷۔ کله چې بل تِلاوت کوي، نو دا پهٔ خاموشۍ او توجه سره اورېدل پکار دي۔

۸۔ دَترجمې او تشریحاتو دَمطالعې پهٔ وخت کښې ښهٔ غور او فکر کول پکار دي، دَ دې د پاره چې دَ آیاتونو مفهوم پهٔ ښه طریقه پهٔ ذهن کښې کښېني۔

۹۔ الله تعالیٰ او دَهغهٔ دَ رسول ﷺ دَ محبت او اطاعت پهٔ جذبې سره دَ دین احکام زده کول او پهٔ دې باندې د عمل کولو پهٔ نیت د قرآنِ حکیم پهٔ غور سره مطالعه کول پکار دي۔

۱۰۔ د الله تعالیٰ او دَرسول الله ﷺ دَعظمت او رفعت او دَ جنت او دَ خو شحالۍ والو دَ آیتونو دَترجمې ویېلو پهٔ وخت دَ خوشحالۍ اظهار او دَ شکر سره دَ جنت دعاء غوښتل پکار دي۔

۱۱۔ دَالله تعالیٰ دَغضب، جهنّم او دَهغهٔ دَعذاب والا آیاتونو دَترجمې پهٔ وخت دَالله دَ ویرې سره دَعذاب دَ جهنم نه دعاء غوښتل پکار دي۔

۱۲۔ دَتلاوت پهٔ آخر کښې دَ خپل ځان مور او پلار استاذانو وفات شوي مسلمانان او د پوره امتِ مسلمه د پاره دَ سلامتۍ او مغفرت دعاء غوښتل پکار دي۔

## دَ طالبانو د پاره اهم هدایات

تول طالبان او طالبات د دې نصاب دَمطالعې پهٔ دوران دا لاندې خبرې پهٔ ذهن کښې کښېنوئ۔

۱۔ دَمطالعه قرآنِ حکیم دَکتاب اَدب او حفاظت وکړئ او دَدې جلدبندې هم وکړئ۔ دا خیال کول پکار دي چې تاسو آینده هم د دې نه فائده واخلئ۔

۲۔ پهٔ مطالعه قرآنِ حکیم کښې دَ پېش شوې ترجمې انتخاب دَ ډیرو علمآءِ کرامو او د دیني بزرگانو دَ مشهورو ترجمونه شوے دے۔ پهٔ دې حوالې سره د دې معززو شخصیاتو عظیم جدوجهد او د دې ډیرو خدماتو مونږ لره قدر کول پکار دي او دوي خپل محسنین ګڼړل پکار دي او مونږ دوي ته خِراجِ تحسین پیش کوو۔

۳۔ پهٔ دي نصاب کښې دَ قرآنِ حکیم ترجمه او دَ دې دَ بنیادي تعلیماتو نه دَ خبرداری کوشش شوے دے۔ دَ دیني مسائلو او دَ قرآنِ حکیم دَ احکاماتو دَ تفصیل د پاره علماۤءِ کِرامو ته رجوع کول پکار دي۔

۴۔ دَ دې نصاب یو اهم مقصد دَ قرآنِ حکیم دَ بنیادي پیغاماتو او هِدایاتو نه طالبان خبرول دي۔ البته دَ دې مطالعې پهٔ نتیجه کښې ځان د دې قابل ګنړل چې مونږ دَ قرآنِ حکیم مسائل او احکامات زده کوو او مونږ ته دَ اهلِ علمو نه دَ څهٔ ازده کولو ضرورت نشته. هیڅ کله دا صحیح نهٔ دهٔ.

۵۔ دَ قرآنِ حکیم دَ مطالعې سره دَ حضرت نبي کریم ﷺ دَ احادیثِ مبارکوو او دَ سیرت النبيﷺ مطالعه هم ډیره ضروري دهٔ ځکه دَ قرآني احکاماتو او تعلیماتو وضاحت حضرت نبي کریم ﷺ دَ خپل قول او عمل پهٔ ذریعه باندې کړے دے۔ ګویا دَ قرآنِ حکیم عملي وضاحت دَ حضرت نبي کریم ﷺ دَ اسوهٔ حسنه نه اسانیږي۔ پهٔ دې سلسله کښې دَ خپلو استاذانو او علماوو نه ځان خبر کړئ۔

سبق نمبر۱:

## صاحب قران۔۔۔زمونږه خوږ نبی حضرت سیدنا محمد مصطفیٰ ﷺ

### عظمت د حضرت نبی کریم ﷺ پهٔ ژبه دقرآن حکیم

۱:۔ پهٔ حضرت نبی کریم ﷺ باندے د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی او د فرشتو د درود رالیګلو او مؤمنانو تهٔ د درود او سلام لیګلو حکم۔

بیشکه الله او د هغه فرښتې درود لیګی پهٔ حضرت نبی کریم ﷺ باندے اے ایمان والو! تاسو هم پهٔ دې باندے درود ولیګئ او څهٔ سلام ولیګئ ۔(سُوْرَةِ الاحزاب آیت: ۵۲)

۲:۔ د خاتم الانبیاء عَلَیْهِ السَّلَام رِسالت عامّه:

حضرت نبی عَلَیْهِ السَّلَام فرمائي اے خلقو! بیشکه زهٔ تاسو ټولو ته د الله ﷻ د طرف نه رسول یم ۔(سُوْرَةِ الاعراف آیت:۱۵۸)

۳:۔ سید المرسلین او نور الٰهی:

بیشکه راغلے دے تاسو ته د الله د طرف نه نور او روښانه کتاب۔(سُوْرَةِ المائده آیت:۱۵)

۴ حضرت نبی کریم دَ الله ﷻ نعمت عظمیٰ د الله سبحانه وتعالی پهٔ دے نعمت باندے احسان ګنړل۔

بیشکه الله لوئ احسان وکړو پهٔ ایمان والو باندې چې کله ئې ددوي نه پهٔ دیکښې د حکمت والا رسول راولیږو- (سورة الاعراف آیت:۱۲۴)

## ۵۔ رسول الله ﷺ دالله دطرف نه پاکونکے اودکتاب معلّم اود حکمت والا راولیږلو ۔

هغه رسول تلاوت کوی دوئ ته دهغه آیاتونه اودوئ پاکوی اودوئ ته کتاب اوحکمت ښائ- (سورة العمرآن آیت: ۱۲۴)

## ۶۔ حضرت نبی اکرم ﷺ دپاره دمقام محمود اعزازاو(شفاعت کُبری) ۔

یقینن ستا رب تاسولره په په مقام محمود باندې اوچت کړي وئ- (سُورَۃ بنی اسرئیل ایت: ۷۹)

## ۷۔ د رسول الله ﷺ په ښوښه اورضاء باندې د قبلي تبدیلي ۔

یقینن وینومونږه ګرزول د مخ ستاپهٔ طرف داسمان پس خامخا یقینًا وبه ګرزوو تا داسې قبلي ته چې تهٔ به پری راضي شې ،پس وګرزوهٔ مخ خپل پهٔ طرف د جماعت عزتمند- (سُورَۃ البقره آیت :۱۴۴)

## ۸۔ د رحمت لِلعٰلمین وجود مبارک پهٔ برکت امت دعذاب نه محفوظ کېښېدل۔

اونه دی الله تعالی چې عذاب ورکړی دوئ ته اوته پهٔ دوئ کښې ئې ۔ ( سورة الانفال آیت:۳۳)

## ۹۔ الله سبحانه وتعالی اود رسول الله ﷺ غنی کیدل ۔

اوبد نهٔ ګڼړي دا منافقان مګردا خبره چې مالدارکړی دی دوئ لره الله تعالی اورسول دهغه پهٔ تقسیم کولو سره دفضل دالله نه-(سورة توبه آیت: ۷۴)

## ۱۰۔ دطلب مغفرت دپاره د رحمت للعٰلمین ﷺ پهٔ خدمت کښې د حاضرئ حکم۔

اوکه چرته دوئ خلقوکله ئې چې ظلم وکړوپهٔ ځانونوخپلو باندې نوراغلي وی تاته ښښنه ئ غوښتي وي دالله تعالی نه اوښښنه غوښتلي وي دوئ لره رسول ﷺ نوخامخا موندلي به ئې وے الله تعالی توبه قبلونکي اومهربانه۔(سورة النساء آیات: ۲۴)

پس څه حال به وی کله چې راولو دهرامّت نه ګواه او رابه ولو تالره ګواه پهٔ دوئ باندې ۔ ( سورة النساء آیات ۴۱

## ۱۱۔ د رسول الله دپاره دالله خاص مدد ۔

که چري امداد نه کوئ تاسي درسول ﷺ نو هیڅ پرواه نشته پس یقینن امداد کړي دی ورسره الله کله ئې چې رایستلے وو هغه لره۔(سورة التوبه آیت: ۴۰)

### ۱۳۔ د حضرت نبی اکرم ﷺ دعا ۔۔۔ د زړونو دپاره آرام او قرار دے ۔

اے محبوب ﷺ !واخله د مالونو ددوئ نه صدقی لره چې پاک کړې دوئ لره دګناه نه اوزيات کړې دوئ لره مال په سبب دهغې اودعا کوه دوئ ته يقينن دعا ستا ارام دے دوئ لره ۔ (سورة التوبه ايت: ۱۰۳)

### ۱۴۔ د حضرت نبی کريم ﷺ سره د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى مدد ۔

نبی ﷺ ډيرلائق اومهربان دے په مؤمنانوباندې د ځانونو د دوئ نه –(سورة احزاب آيت: ۲)

### ۱۵۔ د حضرت نبی اکرم ﷺ د مؤمنانو سره نزديکت۔

حضرت نبی کريم ﷺ د مؤمنانود زانونونه زيات حق لري په مؤونانوباندې۔(سُوْرَةَ الاحزابآيت:۲)

### ۱۶۔ د حضور ﷺ سره بيعت کول په حقيقت کښ د الله سره بيعت کول دي ۔

يقيناً هغه کسان چې بيعت کوی ستاسره يقينن دوئ بيعت کوي دالله سره لاس دالله تعالی پاسه دلاسونو ددوئ نه دے-(سورة احزاب آيت: ۱۰)

### ۱۷۔ د الله سبحانه وتعالی د رسول الله ﷺ عمل خپل عمل ګرزول ۔

اوتا نۀ دي رسولې شګې په سترګود کافرانو کښې کله چې دې وشتلې دلاس نه اوليکن الله ورسولې سترګو دهغو ته(سورة الانفال آيت: ۱۷)

### ۱۸۔ سيِّد المرسلين ﷺ ته الله رب العزت خيرکثيرورکړې ۔

بيشکه مونږه تاسوته خيرکثيردرکړے دے ۔ (سورة کوثر ايت: ۱)

### ۱۹۔ درسول الله ﷺ اطاعت عين د الله اطاعت دي۔

چاچې تابعداری وکړه درسول الله ﷺ نوپس اطاعت ئې وکړو د الله تعالی۔(سورة النساء آيت: ۸۰)

### ۲۰۔ دحضرت نبی کريم ﷺ فيصله اود الله فيصله په دې باندې غيرمشروط عمل کول ضروری دي۔

اونۀ دې مناسب مؤمن سړي او مؤمني ښځې لره کله چې فیصله وکړې الله تعالی اورسول دهغۀ دیو کار چې شي دوئ لره اختیارد یو کاردوی کښې (سورة احزاب ایت: ۳۶)

**۲۱. الله سبحانه وتعالی د خپل حبیب ﷺ ته د شپې پۀ لږه برخه کښې د برکتي مقامونو سیال وکړلو.**

پاکی ده هغه ذات لره چې بوتلي ئې دی بنده خپل پۀ څه برخه د شپې کښې د جمات عزتمندنه تر مسجد اقصیٰ ترهغه پورې چې برکت اچولي دی مونږه چارچاپیره دهغې نه چې وښائو هغه ته نښنی دقدرت خپل یقینن صرف الله سبحانه وتعالی اوریدونکی اولیدونکی دهرڅه دی – (سورة بنی اسرائیل ایت: ۱)

**۲۲. درسول الله ﷺ حفاظت الله سبحانه وتعالی پۀ خپل ذمّه کرم باندې اخستی ده.**

او الله تعالی به بچ کوی تالره د خلقونه – (سورة مائده آیت: ۶۷)

**د حضرت نبی کریم ﷺ خصوصیتونه او معجزات:**

۱. د حضرت نبی کریم ﷺ خولَه مبارکه د خوشبونه زیاته معطّره وه.

۲. د حضرت نبی کریم ﷺ دمبارکولاسونو دمونځ نه وروسته صحابه کرامو د خپلو مخونو سره لګولی دي ښکل کړی ئې دی ، د حضرت نبی کریم ﷺ مبارک لاس دواوري نه زیات یخ اود مَشکو نه زیات خوشبوداره ؤوو.

۳. حضرت نبی کریم ﷺ چې پۀ کوم ځائ باندې ناست دی پۀ بعضو اوقاتو کښې دوني سپوری هغۀ طرف ته کوږ شوی دے.

۴. حضرت نبی کریم ﷺ ته ګټو ونو سلام کړی دے.

۵. د حضرت نبی کریم ﷺ لاړو مبارکو ترخې اُوبه خوږی وي.

۶. حضرت نبی کریم ﷺ د حَجّةُ الوَداع پۀ موقع باندې پۀ خطبه کښې تمام موجوده صحابه کرام رضی الله عنهم پۀ یو اواز باندې لرې اونزدې ټولو دهغه خطبه اوریدلی ده–

۷. حضرت نبی کریم ﷺ چې کله اوده ؤوو نود هغه زړۀ به بیدارؤوو.

۸۔ د حضرت نبي کریم ﷺ سره صحابۂ کِرام رضی الله عنهم، حضرت جبرایېل عَلَیْهِ السّلَام حضرت میکایېل عَلَیْهِ السّلَام اونورو فرښتوپۀ جنګ بدراوجنګ احدکښې د مشرکانوسره جنګ کړے ؤوو۔

۹۔ د حضرت نبي کریم ﷺ د دعاء پۀ وجه د حضرت انس رضی الله عنه باغ به پۀ کال کښې دوه زله میوې کولې اود هغه د خوشبوداربوټونه به د مشکو خوشبوراتلله۔

۱۰۔ د حضرت نبی کریم ﷺ پۀ دعاء سره الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی ډوب شوې لمرواپس کړلو۔

۱۱۔ د حضرت نبی کریم ﷺ نه مشرکینو معجزې طلب کولو باندې سپوږمۍ دوه ټوکړې شوله اوهغو ولیدله۔

## د حضرت نبی ﷺ ویناګانې اوعملی زندګي

### ۱۔ بهترین مسلمان

حضرت رسول الله ﷺ فرمائلي دي بهترین مسلمان هغه دی چې دهغه د ژبې اودلاسونونه بل مسلمان محفوظ وی۔

### ۲۔ پۀ قیامت کښې درسول الله ﷺ نزد یکت

رسول الله ﷺ فرمائې چې د قیامت پۀ ورځ به ماته د ټولونه زیات نزدې پۀ ماباندې پۀ کثرت سره درود وئیلو والا قرب حاصلی۔

### ۳۔ نیکی

رسول الله ﷺ فرمائي چې څوک د نیکۍ تلقین کی ،نود یته دنیکۍ کولوپۀ شان ثواب ملاوېږي۔

### ۴۔ علم

رسول الله ﷺ فرمائي چې کوم کس دعلم دوتلو دپاره ؤوځی دهغه دپاره دجنت لارې اسانېږی۔

### ۵۔ دعا

رسول الله ﷺ فرمائي دعا دعبادت مغزدې۔

### ۶۔ حیاء

رسول الله ﷺ فرمائي دهردین اخلاق دي ،اود اسلام اخلاق حیاء ده۔

## ۷۔ اخلاق

۱۔ رسول الله ﷺ فرمائي څۀ ددې دپاره رالیږلی شوي یم چې د اعلٰی ترینو اخلاقو تکمیل وکړم۔

۲۔ رسول الله ﷺ فرمائي تاسو کښې بهترین خلق هغه دي چې پۀ تاسو کښې دبهترینو اخلاقو والاوي۔

## ۸۔ د فضیلت معیار تقوٰی ده نۀ رنګ اونۀ نسل ۔

۱۔ رسول الله ﷺ فرمائي چې تاسو د سُوراو د تور دوجې نه بهتر نۀ ئي وئ مګر دا چې تاسو پۀ تقوٰی سره مخکښې شئ

۲۔ رسول الله ﷺ د حجّة الوَداع پۀ موقعه باندې وفرمائل ،اے خلقو! پۀ غورباندې واورئ بیشکه ستاسو رب یو دې ،اوبیشکه ستاسوپلار آدم علیه السلام یو دې، خبرشئ! نۀ ده عربی پۀ عجمی باندې څه فضیلت شته او نۀ دعجمی پۀ عربی باندې، نۀ د سپین پۀ تورباندې ،اونۀ ده تورپۀ سپین باندې څۀ فضیلت شته ،فضیلت صرف دتقوٰی پۀ بناء باندې دی ،آیاما خبره ورسوله؟ صحابه کرامو رضی الله عنهم عرض وکړو یا رسول الله ﷺتاسود تبلیغ حق آدا کړلو۔

## ۹۔ شفاعت

رسول الله ﷺ فرمائي چې زما شفاعت زما دامت د لوئی ګناهونو والا دپاره به وي۔

## ۱۰۔ د صدقي کولو دوجی نه مال اودمعافی کولو دوجی نه مرتبه نۀ کمیږی ۔

۱۔ رسول الله ﷺ فرمائي چې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی فرمائي چې اے دادم بچیۀ! ته زما د رضاء پۀ خاطر باندې د خپل ګټې نه خرچ کوه زۀ به تاتۀ ورکړه کوم ۔

۲۔ رسول الله ﷺ فرمائي دصدقی کولو دوجی نه پۀ مال کښې کمی نۀ راځي ،اوقصوروالامعاف کول الله سبحانه وتعالٰی دبنده پۀ عزت کښې اضافه کوي اوکوم بنده چې دالله سبحانه وتعالٰی د رضاء دپاره عاجزي اوانکساري اختیارکښې الله تعالی دا بلند او اوچتوی۔

## ۱۱۔ پۀ ضرورتمندو باندې خوراک څښکاک او جامې اغوستلوبهترینه جزاء:

رسول الله ﷺ فرمائي چې کوم مسلمان دويم مسلمان ته کپړه وروا غوندي چې د هغۀ سره دا غوستلو څه نۀ وي ، الله سبحانه وتعالی به دۀ ته د جنت شين لباس وروا غوندي۔ اوکوم مسلمان چې دويم مسلمان لره د لوږي پۀ حالت کښې خوراک ورکړې الله رب العزت به پۀ دۀ باندي د جنت هغه مېوي وخوروي ، اوکوم مسلمان چې د تندي پۀ حالت کښې پۀ دويم مسلمان باندي اُوبه وڅښکي نو الله سبحانه وتعالی به پۀ دۀ باندي د جنت مهرشوي پاک شراب وڅښکوي۔

## ۱۲۔ دوفات شوو افرادو دطرفنه صدقه کول۔

يوکس د رسول الله ﷺ پۀ خدمت کښېښ عرض وکړو چې زما مور آچانک مړه شوه او زما ګمان دی که دې دوفات کيدلونه مخکښې څه وئيلی نودې به ضرورصدقه کړې وے که چرته زۀ د هغې داړخ نه صدقه کوم نو آيا هغې ته به ددې ثواب رسيږي رسول الله ﷺ ارشاد وفرمائيل .ها آو ثواب ورته رسېږی۔

## ۱۳۔ پۀ خپل اهل وعيال باندي خرچ کول هم صدقه ده۔

۱ ۔ رسول الله ﷺ فرمائي چې کوم کس پۀ خپل اهل وعيال باندي د ثواب پۀ نيت باندې خرچ کوې نودا دهغه پۀ حق کښې صدقه ده .تردې پورې چې يونوړئ چې تۀ ئې دخپل بی بی خولې لره وړې نودا هم صدقه ده۔

## ۱۴۔ دبی بی حقونه

يوکس د رسول الله ﷺ نه سوال وکړو چې دبی بی پۀ خاوند باندې څه حق دے رسول الله ﷺ ورته وفرمائيل چې څه پۀ خپله خوری نوپۀ هغې دې هم خوري چې څه پۀ خپله اغوندې نوپۀ هغې دې هم وا غوندي اوهغه دې پۀ خوله نۀ وهي ، نۀ دې هغې ته رد بد وائی .د کور نه علاوه دې يوځائے نۀ پرېږدې۔

## دعلم اوعمل خبرې

۱۔ دالله سبحانه وتعالی پۀ نزد معززاومکرم کيدلو معيارتقوٰی ده لِهٰذا مونږ لره پاکيزګي او تقوی اختيارول پکار دی۔

۲ ۔ مونږه پۀ خپلې ژبې او لاس سره هيڅوا ته تکليف ونۀ رسوو - ددی دپاره چې مونږه بهترين مسلمانان جوړ شو -

۳- پۀ حضرت نبی کریم ﷺ باندې مونږه لره پۀ کثرت سره درود وئیل پکار دي ، ددې دپاره چې د قیامت پۀ ورځ باندې زمونږ د حضرت نبی ﷺ سره قرب نصیب شی۔

۴- مونږه پخپله هم نیکی کؤو او نورو ته هم دنیکئ کولو تلقین کؤوو-

۵- مونږه لره د زندګئ پۀ هر لمحه کښې د علم د حصول دپاره خرچ کول پکار دي ددې دپاره چې د جنت لاره آسانه شی ۔

۶- مونږه لره شرم اوحیاء اود ژوند پۀ هره شعبه ښائسته اخلاق برابرول پکاردي۔

۷- دالله دطرفنه بهترین بدله حاصلولو دپاره مونږه لره ضرورتمندو اوپۀ غریبانانو باندې خوراک څښکاک اوجامه تیارول پکار دي۔

۸- دمعافئ پۀصورت کښې دانسان پۀعزت کښې اضافه کښېږی اود عاجزئ اوانکسارئ اختیارولو دوجې نه د انسان مرتبه اوچتېږی۔

۹- پۀ خپل اهل وعیال باندې خرچه کول هم صدقه ده۔

۱۰- دخپلې بی بی سره حسن سلوک کول اود هغې سره پۀ مناسب انداز باندې کارکول پۀ سړی باندې لازم دی-

ځان پرې پوهه کړئ او حل ئې کړئ

سوال ۱: د لاندې لیکلې شووسوالونومختصرجوابونه ورکړئ:

۱- پۀ سورۃ آل عمران آیت نمبر ۱۶۴ کښې دنعمتِ عظمٰی ذکرڅرنګې شوی دی ؟

۲- دکومې مبارکې هستئ پۀ رضاء اوخواهش باندې د قِبلې تبدیل وشو؟

۳- دسورۃ احزاب آیت: نمبر ۵۶ کښې پۀ حضرت نبی ﷺ باندې د درود اوسلام پۀ باره کښې څه حکم شوی دي ؟

۴- د سُورَۃ التوبه آیت: ۷۴ پۀ رنړائې کښې واضحه کړئ چې پۀ منافقینو به کومې خبرې بدې لګېدلې؟

۵- د حضرت نبی کریم ﷺ پۀ دعاباندې د حضرت انس رضی الله عنه پۀ باغ باندې څه اثروشو؟

۶- صحابه کرامو رضی الله عنهم د نبې کریم ﷺ مبارک لاسونه څرنګه اومندل ؟

## ال نمبر ۲: خالي ځايونه ډک کړئ

) اوکه چرته دی خلقوکله ئی چې وکړوپۀ ځانونو خپلو [____] او بيا راغلی وے تاتۀ (ﷺ) اے نبی ﷺ
س غوښتلی ئي وی د الله نه [____] اوغوښتلی وی دوئ لره رسول(ﷺ) نو خامخا موندلی به ئې وی الله
ر [____] قبلونکی او بی حده [____] کولو والا .

)اے محبوب ﷺ ! واخله ددوئ نه [____] صدقی زکوٰة لره چې ددې پۀ ذريعه باندې تاسو دوئ
کناهونونه) [____] اودوئ
ايمان اومال دپاکيزګئ نۀ) ورکئ ددې پۀ حق کښې فرمائې بيشکه تاسو ددی دپاره باعث دپاکوالي يئ ،اوالله
ريدونکی اوښۀ پوهی والا دی .

) د نبی ﷺ خطبه [____] تول موجو [____] پۀ يو وخت [____] او [____] اوريدله.

نبیﷺفرمائې چې کوم کس د حصول [____] دپاره وځی اللّٰہرب ّالعزتدهغۀدپاره [____] لارې آسانه وې.

) نبی کريم ﷺ فرمائې چې کوم کس پۀ خپل ځان باندې [____] دنيت نه [____] وکړی دا دهغه پۀ حق کښې
[____] وی.

) چې کوم مسلمان دويم مسلمان لره پۀ [____] حالت کښې خوراک ورکړې اللہ سُبْحَانَہُ وَتَعَالٰی به هغه ته پۀ [____]
راک ورکړي.



کورنۍ هله زله

ضرت نبی کریمﷺ ذات بابرکت دهغۀ ځو خصوصيات اومعجزات خپل کوروالاته واوروئ .

ستادلاس ليک سره دتاريخ:__________ د موروپلار لاس ليک سره د تاريخ:__________

## سبق: ۲۲ (سُورَةُ الضّحٰی) (سورة نمبر۹۳- ټولي رکوعګاني۱- ټول آیاتونه : ۱۱)

شان نزول (پس منظر) اوپیژندګلو: دا سورة پۀ حضرت نبی کریم ﷺ باندې دمکی پۀ زندګئ کښې بالکل پۀ ابتدائی دورکښې نازل شوی دی ، حضرت نبی کریم ﷺ به د ثابت پۀ مونځ کښې سورت الشمس اوسورت الضّحٰی دتلاوت کولو تاکید کولو- (رواه الطبرانی) پۀ دې سورة کښې د حضرت نبی کریم ﷺ عظیم شخصیت اهم ترین صفتونه اوپۀ حضرت نبی کریم ﷺ باندې دالله رب العزت د طرفنه دانعاماتو او احساناتو بیان دے پۀ ابتداء کښې د حضرت نبی کریم ﷺ د قرآن کزیم سره د محبت ذکردی څه مودی دپاره پۀ حضرت نبی کریم ﷺ باندې دوحی دنازلیدلو سلسله بنده شوی وه- حضرت نبی کریم ﷺ ډیرزیات غمژن ؤو کفارو هم د وحی دنۀ راتللوپۀ وجه باندې پۀ حضرت نبی کریم ﷺ باندې اعتراضونه کول ،پۀ دی باندې الله رب العزت حضرت نبی کریم ﷺ ته تسلی ورکړه چې نۀ الله رب العزت تاسوځانله پریښې وی ،اونۀ الله رب العزت ستاسو نه ناراضه دی ،نو د مشکلاتو دور مختصروي،اوستاسو دپاره هرراروان وخت داول نه بهتر دی ،الله رب العزت پۀ حضرت نبی کریم ﷺ باندې داسی نعمتونه کړي دي چې الله رب العزت د حضرت نبی کریم ﷺ نه راضی ؤو ،یعنی الله رب العزت پۀ حضرت نبی کریم ﷺ باندې ډیرزیات نعمتونه مثلاً.ختم نبوت ،ددین تکمیل ،ددین غلبه ،معجزات،بهترین امّت ، شفاعت کبریٰ،دامت مغفرت،حوض کوثر،اومقام محمود پشانته ډیرزیات نعمتونه ورکړي ؤوپۀ حضرت نبی کریم ﷺ باندې داحساناتوذکر کوي او فرمائی چې د یتیمۍ پۀ حالت کښې الله سبحانه وتعالی د حضرت نبی کریم ﷺ د پرورش اهتمام د حضرت نبی کریم ﷺ د نیکۀ حضرت عبد المطّلِب او دهغه ترۀ جناب ابوطالب پۀ ذریعه باندې کولو، حضرت نبی کریم ﷺ پۀ نبوّت اورسالت باندې کامیاب شوی ؤو ،اوهغه ته مغفرتِ کامله ورکړی شوي ؤو،پۀ ابتداء کښې د حضرت خدیجه رضی الله تعالٰی عنها ټول مال بیا د مال غنیمت اومال فیۍ تر دې پوري چې د زمکی د خزانو چابیانې ورکړی شوي وي ،او حضرت نبی کریم ﷺ ئې غنی جوړکړی ؤو، د سورة پۀ ذریعه امّت ته تلقین دی ،چې نۀ دې د یتیمانانو سره سختې وکړې شي اونۀ د سوال کولو والا وچیړلے شي - دغه رنګی دخلقو مخی ته دالله سبحانه وتعالٰی دنعمتونو ذکروکړے شي

اَعُــوذُ بِاللّــهِ مِــنَ الشّــيطٰنِ الــرّجِيمِ
زۀ پناه غواړم په الله سره د شيطان رټلي شوي نه

بِسْـــــمِ اللّـــــهِ الــــرّحْمٰنِ الـــــرّحِيْمِ○
خاص د الله په نوم سره شروع کوم چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

وَالضُّـــــــحٰى٠٠١ وَالَّيْـــــــلِ اِذَا سَـــــــجٰى٠٠٢ مَـــــا وَدّعَـــــكَ رَبُّـــــك
قسم دی د ځلېدونکې ورځې په رڼا باندي او په شپه باندي کله چې قراره شي چې تاسو (ﷺ) خپل رب نۀ پرېښی ئي
وَمَـــــا قَلـــــى٠٠٣ وَلَلْـــــاٰخِرَةُ خَيْـــــرٌ لّـــــكَ مِـــــنَ الْـــــاُوْلٰى٠٠٤
او نۀ ئي (ستاسو ﷺ سره) بغض ساتلی دی او خامخا هر راتلونکې (وخت) غوره دے ستاسو (ﷺ) د پاره د اولنی (تېرشوي وخت) نه
وَلَسَـــــوْفَ يُعْطِيْـــــكَ رَبُّـــــكَ فَتَرْضٰـــــى٠٠٥
او خامخا زر به تاسو (ﷺ) ته ستا رب درکړي، نو تاسو (ﷺ) به راضي (خوشحاله) شي
اَلَـــــمْ يَجِـــــدْكَ يَتِيْمًـــــا فَـــــاٰوٰى٠٠٦ وَوَجَـــــدَكَ ضَـــــآلًّـــــا
ايا (الله) تاسو يتيم نۀ وي موندلی؟ پس د پناه ځای ئي درکړو او تاسو (ﷺ) ئي ناخبره (او ناپوه) وموندلی،
فَهَـــــدٰى٠٠٧ وَوَجَـــــدَكَ عَـــــآئِلًـــــا فَـــــاَغْنٰى٠٠٨ فَاَمّـــــا الْيَتِـــــيْمَ فَلَـــــا تَقْهَـــــرْ٠٠٩
نو لار ئي (درته) وښودله او تاسو (ﷺ) ئي فقير وموندلئ، نو مالداره ئي کړي، نو هر چي يتيم دی، نو تاسو (ﷺ) په ده سختي مه کوئ کړئ
وَاَمّـــــا السّـــــآئِلَ فَلَـــــا تَنْهَـــــرْ٠١٠ وَاَمّـــــا بِنِعْمَـــــةِ رَبِّـــــكَ فَحَـــــدِّثْ٠١١
او هر چي سوالګری دی، نو ته ئي مه رټه او پاتي شو (نعمت) نو ته د خپل رب نعمت بيانوه

## اهمي نکتي

# د علم او عمل خبرې

۱ ـ لکه څرنګه چې دورځي نه روسته د شپې پۀ وقفه کښې حکمت دے نو دغه رنګې پۀ وحي کښې وقفه هم د الله رب العزت د حکمت مطابق وه .(سورة الضحی آیت : ۱ نه ۳۳)

۲ ـ الله سبحانه وتعالی کله هم د خپل انبیاء کرامو عَلَیۡهِمِ السَّلَام نه ناراضه او هغه تنها نۀ پرېږدي . (سورة الضحی آیت: ۳)

۳ ـ انبیاء کرامو عَلَیۡهِمِ السَّلَام ته همیشه د الله سبحانه وتعالی حمایت او مدد حاصل دے .(سورة الضحی آیت: ۳)

۴ ـ الله سبحانه وتعالی حضرت نبی کریم ﷺ ته کمالِ فضل ورکړے ؤو او د حضرت نبی کریم ﷺ راتلونکي هره ګینټه د مخکښې ګینټې نه ډېره زیاته بهتره وه.پۀ دیکښې دحضرت نبی کریم ﷺ دپاره دنیاوی او اخروی دواړو لِحاذونو باندې دقرب الٰهی پۀ درجاتو کښې ترقی اوبې شمیره فضائیل شامل دي ـ چې صرف حضرت نبی کریم ﷺ ته د الله دطرفنه ورکړی شوی ؤو ـ( سورة الضحی آیت: ۴)

۵ـ الله سبحانه وتعالی د قیامت پۀ ورځ حضرت نبی کریم ﷺ ته دومره څه ورکړی چې حضرت نبی کریم ﷺ به د الله سبحانه وتعالی ددې ورکړی نه راضی شی ـ(سورة الضحی آیت:۵)

۶ـ الله سبحانه وتعالی د انسان ټول مشکلات لرې کولو والا دی او د انسان د ټولو ضروریاتو پوره کولو والا دی:(سورة الضحٰی آیت: ۶ نه ۸)-

۷ـ الله سبحانه وتعالی پۀ مونږه باندې بیشمیره احسانات کړی دي ـ (.سورة الضحٰی آیت: ۶نه۸)

۸ـ د الله سبحانه وتعالی هدایت هغه چاته ورکولی شی چې د چاه پۀ زړۀ کښې دهدایت ریښتونی طلب وي ـ( سورة الضحٰی آیت نمبر ۷)

۹ـ د معاشری د محرومو طبقاتو سره سلوک کول الله رب العزت ته خوښ دی ـ ( سورة الضحٰی آیت: نمبر ۹نه ۱۱)

۱۰ـ دریاء کاری نه بغیر د الله سبحانه وتعالی د نعمتونو د خلقو مخی ته ذکرکول هم دحکم الٰهی تعمیل او دهغه د شکر یوه طریقه ده ـ(سورة الضحٰی آیت: نمبر ۱۱)

## ځان پري پوهه کړئ اوحل ئې کړئ

**سوال ۱:** پهٔ صحیح جواب باندې صحیح نښه (✓) ولګوئ:

(۱) د مکي مشرکینو حضرت نبی ﷺ ته څه پیغور کولو ؟

(الف) دشاعرکیدلو (ب) دجادوګر (ج) د وحی دبندېدلو

(۲) دسورة پهٔ اغازکښې د کوم قسم ذکر دے ؟

(الف) د نمراوسپوږمۍ (ب) د ورځې او دشپې (ج) د زمکې اودآسمان

(۳) د حضرت نبی ﷺ د مورد وفات نه وروسته دحضرت نبی ﷺ پرورش چاه کولو؟

(الف) حضرت عبدالمطلب (ب) ابولهب (ج) حضرت عبدالله .

۴۔ الله سبحانه وتعالیٰ حضرت نبی ﷺ د چاه د مال پهٔ ذریعه باندې مالداره کړو؟

(الف) حضرت خَدیجه رضی الله عنها (ب) حضرت حفصه رضی الله عنها (ج) حضرت عائشه رضی الله عنها

(۵)۔ دالله سبحانه وتعالیٰ دنعمت د خلقو مخکښې ذکرکول د څه ذریعه ده؟

(الف) تکبر (ب) شکر (ج) ریاء کاری .

**سوال ۲** دلاندې جملو متعلق دده سره د متعلقه آیاتونونمبري ولیکئ ؟

رب ناراضه نهٔ دے

د رب دنعمتونوذکروکړئ.

الله سبحانه وتعالی ټکانه ورکړې ده

پهٔ یتیم باندې سختی مه کوئ.

دسوال کولو والا مه چیړئ

سوال نمبر۳: دلاندینو لیکلي شوی سوالونو مختصر جوابونه ورکړئ .

۱ . دا سورة په کوموحالاتوکښې په حضرت نبی ﷺ باندې نازل شوے دے ؟

۲- په دې سورت کښې په حضرت نبی ﷺ باندې د الله سبحانه وتعالی دکومو احسانا توذ کردے؟

۳ . د یتیمانانو سره مونږه لره څه سلوک پکار دې؟

٤- د سوال کولو والا سره زمونږه څه طرزعمل کول پکاردې؟

٥ . د الله سبحانه وتعالی په نعمتونو باندې زمونږه څه طرزعمل کیدل پکار دې؟



## کورنۍ هله زله

۱- یو فهرست جوړ کړئ ،وښایئ چې روڅانه په کومو موقعو باندې په مونږه باندې د الله سبحانه وتعالی شکر آدا کول پکار دي.

۲- د یتیمانانو او غریبانانو متعلق څه ۲ آیاتونه تلاش کړئ او د هغې ترجمه ولیکئ.

.په لاندې چاټ کښې په خپل ځان باندې د الله سبحانه وتعالیٰ څو احساناتو ذکر وکړئ




ستاد لاس لیک سره د تاریخ: ______

د مورپلار لاس لیک سره د تاریخ: ______

سبق : ۲۳

# سُوْرَةُ الْاِنْشِرَاح

(سورت نمبر:۹۴،تولي ركوعګاني:۱،تول آياتونه:۸)

شانِ نزول او پيژندګلو: دا سورت په حضرت نبی کريم ﷺ باندې د مکي ژوندګۍ په ابتدائي دورکښې د سوره الضّحیٰ نه روسته نازل شوے دے په دې سورت کښې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی خپل حبيب ﷺ ته خصوصي خطاب کوي د حضرت نبی کريم ﷺ د عزت او عظمت ذکر کوي او د حضرت نبی کريم ﷺ زړۀ له ډاډاو د زړۀ تسلي کوي د سُوْرَةَ الضحیٰ په شان په دې سورت کښې هم به حضرت نبی کريم ﷺ باندې د فضل او احسان ذکر کوي په شروع آياتونو کښې په حضرت نبی کريم ﷺ باندې د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د اړخ نه د ورکړے شوؤ دري ۳ غټو نعمتونو بيان دے يو(۱) دا چې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د حضرت نبی کريم ﷺ سينه مبارکه علم وحکمت د هدايت او نبوت عظيم ذ مواريانو سنبالولو دپاره کولاو کړې وه دويم ۲ دا چې د خپل قام جهالت ،ظلم او زياتي او شرک ليدل په حضرت نبی کريم ﷺ باندې به د غم خفګان بوج پريوتلو الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دغه بوج لرې کړو ،دريم۳ دا چې د حضرت نبی کريم ﷺ ذکرِمبارک ښۀ اوچت کړو ،يعني اوس د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د مبارک نوم سره د حضرت نبی کريم ﷺ مبارک نوم هم يادېږي لکه په کلمه،اذان او مونځ وغيره کښې يادېږي بيا حضرت نبی کريم ﷺ ته وښودلے شو چې په کومو مرحلو باندې ستا تيرېدل دي دا خو ورځې دي او ددې مشکلاتو سره آسانياني وي۔ددې سورت په آخر کښې حضرت نبی کريم ﷺ ته تلقين شوے دے چې کله تۀ د اسلام د دعوت د خورولو نه فارغه شې ، نو د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی ذکر او دغه د عبادت دپاره مزيد کوشش کوه۔

اَعُـوْذُ بِاللّٰـهِ مِـنَ الشَّـيْطٰنِ الـرَّجِيْم
زۀ دالله په پناه کښې راځم د شيطان رټلي شوي نه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
د الله په نامه سره شروع کوم چې ډير زيات مهربان،بې حده رحم کوونکې دے

اَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ ۙ۰۰۱ وَوَضَعْنَا عَنْكَ وِزْرَكَ ۙ۰۰۲

ايا مونږ تا سو(ﷺ) لره ستا سو (ﷺ) سينه نۀ ده فراخه کړې؟ (او مونږ ستاسو نه (ﷺ) ستاسو بوج(ﷺ) نۀ ؤو اوچت کړے

الَّذِيْ اَنْقَضَ ظَهْرَكَ ۙ۰۰۳ وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ ؕ۰۰۴

هغه (بار) چې ستا شا ئې کږه (او) درنه کړې وه،او تا دپاره مو ستا ذکر اوچت کړ

فَاِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ۙ۰۰۵ اِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ؕ۰۰۶

نو بېشکه د سختۍ سره اساني شته ،نو بېشکه د سختۍ سره اساني شته

فَاِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْۙ۰۰۷ وَاِلٰى رَبِّكَ فَارْغَبْ۰۰۸

نو کله چې ته فارغ شې، نو (په عبادت کې،) ځان ستړی کوه، او خاص خپل رب ته رغبت (او زاري) کوه

## اهمي نکتې

## د علم او عمل خبرې

۱ ـ اللّٰه سُبْحَانَهٗ وتَعَالٰی د حضرت نبی کریم ﷺ سینه مبارکه د علم و حکمت او د معرفت د پاره کولاو کړې وه۔(سُوْرَۃُ الاِنشِرَاح،آیت:۱)

۲ـ اللّٰه سُبْحَانَهٗ وتَعَالٰی حضرت نبی کریم ﷺ ته د نبوت و رسالت د فرائضو د اداکولو د پاره غټه حوصله ورکړې وه۔(سُوْرَۃُ الاِنشِرَاح،آیت:۱)

۳ـ اللّٰه سُبْحَانَهٗ وتَعَالٰی د حضرت نبی کریم ﷺ په موجودوالي کښې) د حضرت نبی کریم ﷺ امّت په عذاب نۀ مبتلا کوې او آئنده په قیامت کښې د حضرت نبی کریم ﷺ سره د سفارش د قبلولو وعده کړې د حضرت نبی کریم ﷺ بوجئې سپک کړے ده ـ(سُوْرَۃُ الاِنشِرَاح،آیات:۲،۳)

۴ ـ حضرت نبی کریم ﷺ همیشه د خپل امت د پاره فکرمندؤ او ددوئ د خیرډیر فکرئې کولو۔(سُوْرَۃُ الاِنشِرَاح،آیت:۲،۳)

۵۔ د الله سُبْحَانَهُ وتَعالٰی پهٔ نزد د رسول الله ﷺ خاص مقام د محبوبیت دے دغه وجه ده چې پهٔ کلمه شهادت۔،اذان ۔اقامت ،خطبه،تشهداودرود وغیره کښې د الله سُبْحَانَهُ وتَعالٰی د نوم مبارک سره د حضور نبی اکرم ﷺ نوم مبارک هم اخستلے شي یووخت هم داسې نشته چې پهٔ دیکښې څه نه څه د حضرت نبی کریم ﷺ د خیرذکرنهٔ وي۔(سُوْرَةَ الاِنشِرَاح،آیت:۱ نه تر۴)

۶۔ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی حضورنبی ﷺ ته پهٔ دنیا اوآخرت کښې ډیر اوچت مقام ورکړےؤو ۔(سُوْرَةَ الاِنشِرَاح،آیت:۴)

۷۔ د هرمشکل سره اساني هم وي۔ (سُوْرَةَ الاِنشِرَاح،آیات: ۶،۵)

۸۔ ټول مشکلات د مختصروخت دپاره وي لِهٰذا ددینه وېریدل نهٔ دي پکار ۔(سُوْرَةَ الاِنشِرَاح،آیت: ۶،۵)

۹۔ د الله سُبْحَانَهُ وتَعَالٰی د عبادت اوریاضت نه بعدمونږله د دعاهم خصوصي اهتمام کول پکارې۔(سُوْرَةَ الاِنشِرَاح،آیت:۸،۷)

۱۰۔ د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دین اړخ ته د دعوت ورکولوالاره هم پهٔ فارغ وختونوکښې پخپله هم د الله سُبْحَانَهُ وتَعَالٰی یاداود عبادت دپاره خصوصي کوشش کول پکاردي۔ (سُوْرَةَ الاِنشِرَاح،آیات:۸،۷)

## ځان پرې پوهه کړئ اوحل ئې کړئ

**سوال ۱ :** پهٔ صحیح جواب باندې صحیح نشان(✓)ولګوئ:

(۱) پهٔ دې سورت کښې پهٔ حضرت نبی کریم ﷺ باندې د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د څومره نعمتونو ذکردے؟

(الف) دوه　　　(ب) درې　　　(ج) څلور

(۲) د هرمشکل سره څهٔ شےوي؟

(الف) عذاب　　　(ب) آساني　　　(ج) د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی خفګان

(۳) پهٔ دې سورت کښې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د چاه سره خطاب کوي؟

(الف) ټول انسانان　　　(ب) ټول مسلمانان　　　(ج) حضرت نبی کریم ﷺ

(۴) یونیک کس د خلقوپهٔ باره کښې د څه وجې نه فریشانه وي؟

(الف) بیماري    (ب) ولګه    (ج) ګناه

۵) پهٔ دي سورت کښې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د حضرت نبی ﷺ د کوم شي ذکر کړے دے؟

(الف) امّت    (ب) د ښائستوالي    (ج) زړهٔ له ډاډورکول

**سوال۲:** د لاندې ورکړے شوي آیت نمبر د متعلقه جملو سره کرښې را ښکلو سره میلاو کړئ.

| | |
|---|---|
| آیت نمبر ۱ | د حضرت نبی کریم ﷺ ذکرئې اوچت کړے دے |
| آیت نمبر ۲ | د حضرت نبی کریم ﷺ بوج ئې غورځولے دے |
| آیت نمبر ۴ | د مشکل سره آساني وي |
| آیت نمبر ۶ | د رب اړخ ته مینه وکړئ |
| آیت نمبر ۸ | د حضرت نبی کریم ﷺ سینه ئې کولاو کړې ده |

**سوال ۳:** د لاندې لیکلي شؤو سوالونو مختصر جوابونه ورکړئ:

۱۔ د شرح صدر نه څه مراد دے؟

---

۲۔ پهٔ حضرت نبی ﷺ باندې کوم بوج ؤو چې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی پهٔ خپل رحمت سرې وغورزولو؟

الله سُبۡحَانَهُ وتَعَالٰی د حضرت نبی ﷺ ذکر څرنګه اوچت کړےؤو؟

٤- ددې سورت په آخره کښې الله سُبۡحَانَهُ وتَعَالٰی حضرت نبی ﷺ ته څه خصوصي تلقين کړےؤو؟

٥- په دې سورت کښې په حضرت نبی ﷺ باندې د الله سُبۡحَانَهُ وتَعَالٰی د کوموکومونعمتونوذکردے ؟



کورنئ هله زله

په يوچاټ باندې "وَرَفَعنَالَکَ ذِکرکَ"د ترجمې سره وليکئ اورنګ ئې کړئ.

.د حضرت نبی کريم ﷺ په شان کښې صفتي شعرونه وليکئ.

.د حضرت نبی کريم ﷺ د عبادتونونه څلورکيفيات بيان کړئ



ستادلاس لیک سره دتاریخ:________ د مورپلارلاس لیک سره د تاریخ :________

## اَهمې نُکتې

# سُورَۃُ التِّین

سبق : ۲۴

(سورت نمبر:۹۵، ټولې رکوعګانې:۱، ټول آیاتونه:۸)

شانِ نزول او پیژندګلو: دا سورت په حضرت نبي کریم ﷺ باندې د مکي ژوندګۍ په درمیانه دور کښې په حضرت نبی ﷺ باندې هغه وخت نازل شوې کله رسول الله ﷺ په ښکاره باندې تبلیغ شروع کړو او کافرانو حضرت نبی ﷺ د دعوت مخالفت وکړو، ددې سورت په شروع کښې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی په څلورو څیزونو قسم کوي چې ددینه عمومًا د انبیاء کرامو عَلَیْهِم السَّلَام علاقې مراد اخستلے شي ۔ مثلًا د طورسینا نه مراد هغه غرد ے چې په کوم باندې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د حضرت موسٰی عَلَیْهِ السَّلَام سره خبرې کړې وې اود امن والا ښار نه مکّه مکرمه ده چې دلته د حضرت نبی ﷺ پیدائش مبارک شوے ؤ وددینه روسته د انسان د دوه ۲ مختلفو کیفیاتو ذکر شوے دے اول کیفیت دا چې خلق د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی په نافرمانۍ کښې مبتلا دې په ذلت کښې غورزیدلي دي ۔ البته د ایمان راوړلو نه روسته د نیک عملونو کولو والا خلق صرف دا نه چې د ذلت نه بچ دي بلکه د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی په نزد د بهترین اجر او ثواب حقدار ګرزیدلي دي د سورت په آخر کښې د دوه غټو حقیقتونو بیان دے یعني په آخرت باندې د ریښوني زړۀ نه یقین لرل او الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی حقیقي حاکم منل ۔

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ
زۀ پناه غواړم په الله سره د شیطان رټلي شوي نه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ○
خاص د الله په نوم سره (شروع کوم) چې ډیر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکې دے

وَالتِّیْنِ وَالزَّیْتُوْنِ ۰۰۱ وَطُوْرِ سِیْنِیْنَ ۰۰۲
قسم دے په انځر او زیتون (ښونه) باندې او په طور سینین (غره) باندې

وَهٰذَا الْبَلَدِ الْاَمِیْنِ ۰۰۳ لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِیْٓ اَحْسَنِ تَقْوِیْمٍ ۰۰۴
او په دې امان ورکوونکي (امن والا ښار باندې چې یقینًا مونږ انسان په ډیر ښکلي صورت (او اعتدال کې پیدا کړی دی

ثُمَّ رَدَدْنٰهُ اَسْفَلَ سٰفِلِیْنَ ۰۰۵ اِلَّا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ
بیا دی مونږ وګرځاوه د ښکتو ډیر ښکته مګر هغه کسان چې ایمان ئې راوړی دی او نیک عملونه ئې کړي دي،

فَلَهُمْ اَجْرٌ غَیْرُ مَمْنُوْنٍ ۰۰۶
نو د دوی دپاره نه ختمیدونکی اجر دی

فَمَـــــــــــــــا يُكَـــــــــــــــــذِّبُكَ بَعْـــــــــــــــدُ بِالـــــــــــــــــدِّيْنِ ۭ ٠٠٧

نـو (ای د قیامـت منکـره!) د دې حقیقـت نـه وروسـته تـا څـه شـی د قیامـت پـهٔ حقلـه دروغ ګڼړلـو تـه تیـزه وي؟

اَلَـــــــــــــــيْسَ اللّٰهُ بِـــــــــــــــــــــاَحْكَمِ الْحٰكِمِـــــــــــــــــــيْنَ ٠٠٨

آیـــــــــا الله د ټولو حاکمانونـــــــــــه لـــــــــــوی حـــــــــــاکم نـــــــــــهٔ دی؟

## اهمې نکتې

## د علم او عمل خبرې

۱ ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی پهٔ اهمو خبرو د زور ورکولو د پاره پهٔ قرآنِ حکيم کښې د مختلفو څيزونو قسمونه بيان کړي دي ـ (سُوْرَةَ التِّين، آيات: ۱ نه تر ۳)

۲ ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی مکّه مکرّمه د امن والا ښار ګرزولے دے ځکه پهٔ دې ښار کښې جنګ جګړې او ټول ځناور د تکليف نه بچول پکار دي ـ (سُوْرَةَ التِّين، آيت: ۳)

۳ ـ پهٔ مخلوق کښې اعلیٰ ترين انبياء کرام عَلَيْهِمِ السَّلَام دي ـ (سُوْرَةَ التِّين، آيات: ۱ نه تر ۴)

۴ ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی انسان ته پهٔ ټول مخلوق باندې غوره والے ورکړے دے ـ (سُوْرَةَ التِّين، آيات: ۴)

۵ ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی انسان د بدن سره روح هم ورکړے دے او دائې بهترين مخلوق ګرزلے دے ـ (سُوْرَةَ التِّين، آيت: ۴)

۶ ـ که چرته د نفس خواهشات قابو نشي ، نو انسان به ډېر ښکته لاړ شي ـ (سُوْرَةَ التِّين، آيت: ۵)

۷ ـ د جسم د غذا پشان روح ته هم ضرورت دے او هغه داچې دا ايمان او د نيک عملونو اهتمام کوي ـ (سُوْرَةَ التِّين، آيت: ٦)

۸ ـ د روح ضرورتونه پوره کړئ يعني ايمان او د نيک عملونو پهٔ ذريعې سره انسان غټ مقام حاصلوي ـ (سُوْرَةَ التِّين، آيت: ٦)

۹ ـ د آخرت نه انکار کولو والا د روح د ضرورتونو نه غافله دے ـ (سُوْرَةَ التِّين، آيت: ۷)

۱۰ ـ قيامت واقع کېدلو والا دے او الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی به پهٔ دې ورځ د ټولو معاملاتو فيصله وکړي ـ (سُوْرَةَ التِّين، آيات: ۷ نه تر ۸)

## ځان پرې پوهه کړئ او حل ئې کړئ

سوال ۱ : پهٔ صحيح جواب باندې صحيح نشان (✓) ولګوئ:

(۱) الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی انسان پهٔ څه کښې پېدا کړے دے؟

(الف) لاندې د لاندو (ب) ښائسته شکل (ج) خَټه (خاوره)

(۲) د کوهِ طور تعلق د کوم نبی سره دے؟

(الف) حضرت نوح عَلَيْهِ السَّلَام (ب) حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام (ج) حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام

(۳) د حضرت نبی کریم ﷺ ذکرد کوم قسم په ذریعه شوے دے؟

(الف) امن والابنار (ب) زیتون (ج) کوهِ طور

(۴) په دې سورت کښې کوم یود امن والابنارګرزولے شوے دے؟

(الف) طائف (ب) مدینه (ج) مکّه

(۵) د ایمان اونیک عمل کولو والادپاره څرنګه اجردے؟

(الف) عزت والا (ب) نۀ ختمیدلو والا (ج) شاندار،مزیدار

**سوال ۲:** دلاندې الفاظو متعلق ددې سره د متعلقه آیاتونونمبرې ولیکئ؟

| | |
|---|---|
| | طورِ سینا |
| | امن والابنار |
| | الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د ټولونه لوې حاکم دے |
| | بهترین صورت |
| | انځراوښونه (زیتون) |

**سوال ۳:** د لاندې لیکلې شؤوسوالونومختصرجوابونه ورکړئ:

۱ ـ په دې سورت کښې د کوموڅیزونوقسمونه ذکرشوي دي؟

. په ټولو مخلوقاتو کښې د انسان څه خاص مقام دے؟

په دې سورت کښې د انسان د کومو دوه (۲) مختلفو کیفیاتو ذکر دے؟

ددې سورت په آخر کښې د کومو دوه (۲) حقیقتونو بیان دے؟

د بهترین صورت حقیقي مثال څوک دے؟

## کورنۍ هله زله، کار

. ددې سورت په شروع کښې اللّٰه سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی په کومو څیزونو باندې چې قسم کړے دے د هغوی تصویرونه جوړ کړئ او وضاحت وکړئ.

. په یو چاټ باندې د نیکیو د لسو ۱۰ کارونو او د ګناه دلسو کارونو فهرست جوړ کړئ او خپل کورو الاته د نیکۍ کولو او د ګناه نه د بچ کېدلو ترغیب ورکړئ.

. د قرآن حکیم نه د بهترین او ناکاره انسانانو دړې مثالونه ورکړئ.




ستادلاس ليک سره دتاريخ :________ د مورپلارلاس ليک سره د تاريخ :________

## سبق: ۲۵ داولنۍ وحی قصّه

د اولنۍ وحی د نزول تفصيلات د حديثونو پهٔ ټولو کتابونو (مثلًا صحيح بخاری ،صحيح مسلم) مي بيان شوي دي ددې تفصيلاتو مطابق چې کله د حضرت نبی کريم ﷺ عمرمبارک تقريبًا څلويښت ۴۰ کاله و ، نوپهٔ ضرت نبی کريم ﷺ باندې د ظهورنبوت شروع داسې وشوه چې حضرت نبی کريم ﷺ به اول ريښتوني خوبونه ليدل ، ضرت نبی ﷺ به چې کوم خوب وليدلو ،نوهغه به د سپين سباپشان واضح کښېدلو بيا حضرت نبی کريم ﷺ يوازيوالے

غوره کړو حضرت نبی کریم ﷺ به د خپل ځان سره خوراک ښنکاک وړلو او څو څو ورځې دپاره به ئې غارِ حرا ته تشریف وړلو يوه ورځ حضرت نبی کریم ﷺ په غارِ حرا کښې دے، چې اول ځل حضرت جبرائيل عَلَيۡهِ السّلَام تشریف راوړو او حضرت نبی کریم ﷺ ته ئې وويل چې "لوله"، حضرت نبی کریم ﷺ وفرمائل چې زهٔ لوستونکے نهٔ یم دې فرښتې حضرت نبی کریم ﷺ ته ډیرزورورکړو او خپل ټول طاقت ئې پرې صرف کړو او بیائې پریښوده او ورته ویېل "لوله"، حضرت نبی کریم ﷺ دويم ځل بیا وویل چې زهٔ لوستلو والانهٔ یم پهٔ دې باندې فرښتې حضرت نبی کریم ﷺ پهٔ ډیرزور سره ونیولو او سخت زورئې ورکړو او پرې ئې خوده بیائې ورته وویل "لوله"، حضرت نبی کریم ﷺ بیا وویل زهٔ د لوستلو والانهٔ یم دې فرښتې پهٔ دریم ځل حضرت نبی کریم ﷺ ته ډیرزورورکړو او خپل ټول طاقت ئې پرې ختم کړو او بیائې پریښوده او ورته وې وئل "اِقرَاء"۔" وایهٔ د خپل رب پهٔ نوم سره . . . . . .، دغه رنګې دا ایاتونه نازل شو او د قرآن حکیم د نزول شروع وشوه . رسول الله ﷺ پهٔ دې نازل شؤ آیاتونو سره کورته واپس تشریف راوړو، نو پهٔ حضرت نبی کریم ﷺ باندې ویره وه حضرت نبی کریم ﷺ وفرمایل چې پهٔ ما باندې کمبل روا چوئ پهٔ ما باندې کمبل روا چوئ . .، د حضرت نبی ﷺ بي بي محترمه حضرت خدیجه رضی الله عنها پهٔ حضرت نبی کریم ﷺ باندې کمبل وروا چوله تردې چې د حضرت نبی کریم ﷺ نه ویره لاړه ددینه روسته حضرت نبی کریم ﷺ حضرت خدیجه رضی الله عنها ته ټوله واقعه واوروله او ورته وي‌ویېل چې پخپل ځان ویریدم ام المؤمنین حضرت خدیجه الکبریٰ رضی الله عنها حضرت نبی کریم ﷺ ته تسلي ورکوله چې  هیڅ کله داسې نهٔ ده پهٔ الله سُبۡحَانَهُ وَتَعَالَی قَسم! الله سُبۡحَانَهُ وَتَعَالَی به تاهیڅ کله نهٔ ضائع کوي تهٔ د خپلوانو حق اداکوې د غریبانو بوجه اوچتوې د ضرورت مندو ضرورتونه پوره کوې د میلمنو میلمستوب کوې او د حق پهٔ لاره کښې پهٔ راتلونکو مشکلاتو باندې د خلقو مدد کوې ،بیائې حضرت نبی کریم ﷺ د خپل تړورد زوې ورقه بن نوفل خواته بوتلو ـ هغه د انجیل عالم ؤ او ډیر زیات بوډا شوے ؤ وهغه ورته وویل پهٔ تاسو ﷺ باندې هغه فرښتې وحې راوړې ده چې کومه به د حضرت موسیٰ عَلَيۡهِ السّلَام او حضرت عیسیٰ عَلَيۡهِ السّلَام خواته راتلله ورقه بن نوفل حضرت نبی کریم ﷺ ته پهٔ رسالت ورکولو باندې زیرے ورکړو هغه حضرت نبی کریم ﷺ ته داهم وویل چې" زړه چې تابه خپل قام ددې مکې نه اوباسې ـ حضرت نبی کریم ﷺ پهٔ تعجب سره تپوس وکړو آیا زما قام به ما اوباسي ؟ورقه بن نوفل وویل چې بیشکه تهٔ به ویستلے شې ځکه چې کله هم یو کس د الله سُبۡحَانَهُ وَتَعَالَی د اړخ نه ریښتوني پیغام او پهٔ حق دین باندې راغلے لکه چې تهٔ راغلے ئې ،نو هغه قام د هغه سره دشمني کړې ده او تکلیف ئې ورته رسولے دے ـ که چرته زهٔ ژوندې پاتې شوم ،نو زهٔ به ستا ډیرمظبوط مدد وکړم . .، مګر ورقه

بن نوفل جلت وفات شود سُوْرَة العَلَق ابتدائي آياتونه د قرآنِ حکيم وحي وه چې پۀ حضرت نبی کريم ﷺ باندې نازلـه شـوي وه بيامسلسل د درويشت (۲۳) کالوپورې پۀ حضرت نبی کريم ﷺ باندې قرآنِ حکيم لږ لږ نازليدلو۔

شانِ نزول اوپيژندګلو: پۀ دې سورت کښې اولني پنځۀ آياتونه پۀ حضرت نبی کريم ﷺ باندې پۀ غارِ حرا کښې د قرآنِ حکيم د اولنۍ وحي پۀ صورت کښې نازل شوي دي (صحيح بخارى، وصحيح مسلم) د سورت باقي برخه څو کاله روسته نازلـه شـوه د سورت پۀ اولنو پنځۀ آياتونو کښې د علم اهميت واضح شوےدے۔ددې نه روسته د آخرت نه د غافل انسان کردار بيان شوےدے،بيا د ابوجهل پۀ باره کښې ذکردې چې حضرت نبی کريم ﷺ به ئې پۀ خانه کعبه کښې د مونځ کولو نه منعه کولو۔ د سورت پۀ آخر کښې د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى د اړخ نه ابوجهل لره پۀ دې عمل باندې د غلط انجام نه ويروي۔

## سُوْرَةُ الْعَلَق

سبق : ۲۶

(سورت نمبر: ۹۶،ټولې رکوعګانې: ۱،ټول آياتونه: ۱۹)

| | |
|---|---|
| اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ○ |
| زۀ پناه غواړم پۀ الله سره د شيطان رټلي شوي نه | خاص د الله پۀ نوم سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکښې دی |

اِقْرَاْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِيْ خَلَقَ ۱۰۰

تاسو(ﷺ) د خپل هغه رب پـه نامه سره ولولئ چې پيدا کړي ئې دے (ټول مخلوقات)

خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ ۲۰۰

دۀ انسان لـه دجم شوي (ټوټې) وينې نه پيدا کړی دی

اِقْرَاْ وَرَبُّكَ الْاَكْرَمُ ۳۰۰ الَّذِيْ عَلَّمَ بِالْقَلَمِ ۴۰۰

تاسو(ﷺ) ولولئ، پـه داسې حال کې چې ستاسو(ﷺ) رب د ټولو لوی عزتمند دی هغه چې د قلم پۀ ذريعه سره ئې ښودنه کړې ده

عَلَّمَ الْاِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ ۵۰۰

انسان ته ئې هغه څه ښودلي دي چې دی پرې نه پوهېده

كَلَّآ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَيَطْغٰىٓ ۙ ٠٠٦

هيڅ کله (نافرماني) نهٔ (کول پکار دي) حقه ده دا خبره چې يقينًا انسان خامخا سرکشي کوي

اَنْ رَّاٰهُ اسْتَغْنٰى ؕ ٠٠٧

په دې وجه چې دی خپل ځان وينې چې دی بې پروا (بې حاجته) شو

اِنَّ اِلٰى رَبِّكَ الرُّجْعٰى ؕ ٠٠٨ اَرَءَيْتَ الَّذِيْ يَنْهٰى ۙ ٠٠٩

بېشکه خاص ستا رب ته بېرته ورتلل دي تاسو (ﷺ) ما ته خبر راکړئ د هغه کس چې منع کوي

عَبْدًا اِذَا صَلّٰى ؕ ٠٠١٠ اَرَءَيْتَ اِنْ كَانَ عَلَى الْهُدٰىٓ ۙ ٠٠١١

يو بنده (محمد ﷺ) لره کله چې دی مونځ کوي ته ما ته خبر راکړه که چېرې دغه (بنده) په هدايت وي -

اَوْ اَمَرَ بِالتَّقْوٰى ؕ ٠٠١٢ اَرَءَيْتَ اِنْ كَذَّبَ وَتَوَلّٰى ؕ ٠٠١٣

يا په تقوٰى (پرهېزګارۍ) سره حکم کوي (نو دا به ښهٔ وي) ته ما ته خبر راکړه که دغه (منع کوونکی) تکذيب کوي او (ده حق نه) مخ اړوي

اَلَمْ يَعْلَمْ بِاَنَّ اللّٰهَ يَرٰى ؕ ٠٠١٤

ايا دی نهٔ پوهېږي چې بېشکه الله وينې؟

كَلَّا لَىِٕنْ لَّمْ يَنْتَهِ ۙ۬ لَنَسْفَعًا بِالنَّاصِيَةِ ۙ ٠٠١٥

داسې (هيڅ کله) (بې وېرې کېدل نهٔ دي پکار! قسم دی که دی منع نشو، (نو) مونږ به (دی) خامخا ضرور ډېر سخت راکاږو د تندي (وچولي) په وېښتانو سره

نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ خَاطِئَةٍ ۚ ٠٠١٦ فَلْيَدْعُ نَادِيَهٗ ۙ ٠٠١٧ سَنَدْعُ الزَّبَانِيَةَ ۙ ٠٠١٨

داسې تندی چې دروغجن (او) خطا کار دی - نو دی دې خپل مجلس (والا) راوبلي زر ده چې مونږ به (دعذاب) والاملايك راوبلو -

كَلَّا ؕ لَا تُطِعْهُ وَاسْجُدْ وَاقْتَرِبْ ۩ ٠٠١٩

داسې نهٔ ده تهٔ د ده خبره مه منه، او (الله ته) سجده کوه او (الله ته) ښه نږدې شه

## اهمي نکتې

# د علم او عمل خبرې

۱۔ مونږ لره د هرنیک کارشروع د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی په نوم "یعني بِسمِ الله "سره کول پکار دي۔(سُوْرَةَ العَلَق،آیت:۱)

۲۔ د انسان د عظمت وجه داده چې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دیته علم ورکړے دے۔(سُوْرَةَ العَلَق،آیات:۱ نه تر۵)

۳۔ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی په خپلو بندګانو باندې ډیر کرم والا دے۔(سُوْرَةَ العَلَق،آیت:۳)

۴۔ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی قلم لره د علم ښودلو ذریعه ګرزولې ده ۔(سُوْرَةَ العَلَق،آیت:۴)

۵۔ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی انسان ته ټول علمونه ښودلي دي۔(سُوْرَةَ العَلَق،آیت:۵)

۶۔ په دنیا کښې په غلطو عملونو د سزانه میلاویدلو باندې انسان د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی نافرماني او سرکشي کوي۔ (سُوْرَةَ العَلَق،آیت:۷،۶)

۷۔ د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی مخي ته دجواب ورکولو احساس ، انسان د غلطو عملونو نه محفوظ کوي۔(سُوْرَةَ العَلَق،آیت:۸)

۸۔ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی زمونږ ښه او بد عملونه ویني۔(سُوْرَةَ العَلَق،آیت:۱۴)

۹۔ د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی انکار کونکي د رسول الله دروغژن کولو والا او د حضرت نبی کریم ﷺ تعلیمات پریښودلو والا د سختې سزا نه ویرولے شوي دي۔(سُوْرَةَ العَلَق،آیت:۱۵ نه تر۱۸)

۱۰۔ د سجدې په حالت کښې بنده الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی ته د ټولو نه زیات نزدې وي۔(سُوْرَةَ العَلَق،آیت:۱۹)

## ځان پرې پوهه کړئ او حل ئې کړئ

سوال ۱: په صحیح جواب باندې صحیح نشان() ولګوئ:

لله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی انسان د کوم خیزنه پیدا کړے دے؟

الف) د اوبونه ب) د اورنه ج) د جم شوي ويني نه

۲) پۀ دې سورت کښې د ويلوحکم څوزله شوےدے؟

الف) يو ۱ ب) دوه۲ ج) دري۳

۳) الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى انسان ته پۀ کومي ذريعي سره علم ښودلےدے؟

الف) قلم ب) جنات(پيران) ج) نفس

۴) د انسان د سرکشۍ يوه وجه څه ده؟

الف)پۀ نبی يقين نۀ کول ب)پۀ دنيايقين نۀ کول ج) پپ آخرت يقين نۀ کول

۵) د انسان عزت پۀ کوم څيزسره حاصليدلےشي؟

الف) شهرت ب) علم ج) دولت

سوال ۲ پۀ لاندې ورکړلې شوي آيت نمبراوددېنه پۀ متعلقه الفاظوکښې يوشان رنګ ورکړئ:

| | |
|---|---|
| آيت نمبر ۱ | سجده کول |
| آيت نمبر ۴ | د رب اړخ ته واپسي |
| آيت نمبر ۸ | د رب پۀ نوم سره ويل |
| آيت نمبر ۱۰ | مونځ کول |
| آيت نمبر ۱۹ | قلم اوعلم |

ِال ۳: د لاندې لیکلي شووسوالونومختصرجوابونه ورکړئ:

.انسان سرکشي ولې کوي؟اوپهٔ دې سورت کښې د ذکرشوي سرکش انسان نه څوک مراد دے؟

.پهٔ دې سورت کښې يوناکاره انسان حضرت نبی کریم ﷺ د کوم کارنه منعه کوي؟

. پهٔ دې سورت کښې بيان شوي د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د نافرمان انسان دوه(۲)بدياني وليکئ ؟

.پهٔ دې سورت کښې د عبد نه مرادکوم اوچتي مرتبې والاذات مراددے؟ددې دوه(۲)ښه صفتونه بيان کړئ.

۵.الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی ته انسان پهٔ کوم حالت کښې ډيرنزدې وي؟



کورنۍ سرګرمي(هله زله)

.الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د قلم پهٔ ذريعه علم ښودلے دے.نن سباد قلم اوعلم څه ذرائع دي مثلًا کمپيوټر،کتاب،اوانټرنيټ
بيره.ددې ذريعونه نه پنځهٔ ښه استعمالونکي پهٔ چاټ باندې اوليکئ.

.د يوعالم پهٔ مدد سره د علم د فضيلت پهٔ حواله سره د قرآنِ حکيم د يوآيت اوحديث ترجمه تلاش کړئ او ويلکئ

. د علم پنځۀ فائدي پۀ لاندې چاټ باندې ولیکئ.




استادلاس لیک سره دتاریخ: ________ د مورپلارلاس لیک سره د تاریخ: ________

سبق: ٢٧

## سُوۡرَةُ الۡقَدۡرِ

(سورت نمبر: ٩٧، ټولي رکوعګاني: ١، ټول آیاتونه: ٥)

ِن نزول اوپیژندګلو: دا سورت پۀ حضرت نبي کریم ﷺ باندې د مکي زندګۍ پۀ ابتدائي دور کښې نازل شوے دے، پۀ دې
ِرت کښې د شبِ قدر عظمت او اهمیت بیان شوے دے د حضرت نبي کریم ﷺ د امت عمرونه د تیرشوو امتونو پۀ مقابله

کنبي کم دي ددې وجې نه ددې امت عملونه د نورو امتونو د عملونو برابرنۀ شي کنبېدلے چې د هغو عمرونه زیات وو ،نو الله سُبْحَانَهُ وتَعَالٰی د خپل حبیب حضرت نبي کریم ﷺ امت تۀ شبِ قدرورکړه چې د زرو(۱۰۰۰)میاشتو بهتره ده ،ددې شپې د عظمت د وجې نه د قرانِ حکیم نزول شوےدے ـ د قدرمعنیٰ د عزت او شرافت نه علاوه د تقدیرهم ده پۀ دې شپه کنبې د الله سُبْحَانَهُ وتَعَالٰی د اړخ نه د یو رمضان نه د راروان رمضان پورې د ټول مخلوق د پاره مقررکړےشوي حکمونه فرښتوتۀ سپارلےشي الله سُبْحَانَهُ وتَعَالٰی پۀ دې شپه کنبې پوره قرآنِ حکیم د لوحِ محفوظ نه پۀ آسماني دنیاباندې نازل کړےوو ـ بیاد آسماني دنیانه پۀ ۲۳ درویشت کاله کنبې د حضرت جرایبل امین عَلَيْهِ السَّلَام پۀ ذریعه پۀ حضور اکرم ﷺ باندې لګ لګ نازل شوےوو رسول الله ﷺ د آخري عشري پۀ پنځۀ طاقو شپو کنبې (۲۹،۲۷،۲۵،۲۳،۲۱ ) د تلاش کولو تلقین کړےدے ـ حضرت نبي کریم ﷺ فرمائي چې چاه پۀ شبِ قدرکنبې د ایمان او ثواب پۀ نیت قیام اوکړو ،نو الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی به ددې ټول مخکنې ګناهونه معاف کړي (صحیح بخاري)پۀ شبِ قدرکنبې حضرت نبي کریم ﷺ د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی نه د معافۍ دا دعاښودلې ده (اَللّٰهُمَّ اِنَّکَ عَفُوٌّتُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنّی)اے الله !بیشکه تۀ معاف کولو والا ئې تۀ معافي ښوښوې،نو تۀ ما معاف کړې ـ (صحیح بخاری)

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ
زۀ پناه غواړم پۀ الله سره د شیطان رټلي شوي نه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ○
خاص د الله پۀ نوم سره(شروع کوم)چې ډېرزیات مهربان،بې حده رحم کوونکےدی

اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ فِيْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ ۝١ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ ۝٢
بیشکه مونږ دا (قرآن) د قدر پۀ شپه کې نازل کړی دی او تۀ څۀ شي پوهه کړې چې د قدر شپه څۀ شی دی؟
لَيْلَةُ الْقَدْرِ ۙ خَيْرٌ مِّنْ اَلْفِ شَهْرٍ ۝٣ تَنَزَّلُ الْمَلٰٓئِكَةُ وَالرُّوْحُ فِيْهَا بِاِذْنِ رَبِّهِمْ ۚ
د قدر شپه د زرو میاشتو نه غوره ده پۀ دغه (شپه) کې راکوزیږي (نور) ملایك او روح (جبریل) د خپل رب پۀ حکم سره د پاره د (پوره کولو)
مِنْ كُلِّ اَمْرٍ ۝٤ سَلٰمٌ ۛ هِيَ حَتّٰى مَطْلَعِ الْفَجْرِ ۝٥
د هر (نیک) کار (انتظام) کولو د پاره.دغه شپه (سلامتیا ده، دغه (شپه) تر سبا ختلو پورې ده

## دعلم او عمل خبري

۱۔ الله سُبْحَانَهٗ وتَعَالٰى پۀ شبِ قدرکښې قرآنِ حکيم نازل کړےدے۔(سُوْرَةَ القدر،آيت: ۱)

۲۔ د شبِ قدر د فضيلت دوجې نه پۀ دې شپه کښې قرآنِ حکيم نازل شوےدے۔(سُوْرَةَ القدر،آيت: ۱)

۳۔ شب۔ قدرډيره د عظمت او اهميت والا شپه ده۔(سُوْرَةَ القدر،آيات: ۱ نه تر ۳)

۴۔ الله سُبْحَانَهٗ وتَعَالٰى پۀ شبِ قدرکښې قرآنِ حکيم نازل کړود دنياتقديربدل شو۔(سُوْرَةَ القدر،آيات: ۱ نه تر ۳)

۵۔ شبِ قدرد رمضان المبارک د آخري عشري پۀ طاقوشپوکښې پۀ يوه شپه کښې ده۔(تعارف سُوْرَةَ القدر)

۶۔ مونږلره د شبِ قدراهميت پيژندل پۀ آخري عشره طاقوشپوکښې د الله سُبْحَانَهٗ وتَعَالٰى پۀ ښه طريقه عبادت کول پکاردي۔(سُوْرَةَ القدر،آيات: ۲ نه تر ۳)

۷۔ پۀ شبِ قدرکښې مونږلره پۀ کثرت سره استغفاراودعاغوښتل پکاردي۔(سُوْرَةَ القدر،آيت: ۲ نه تر ۳)

۸۔ د شبِ قدرعبادت اجراوثواب د زرو(۱۰۰۰) مياشتود عبادت نه زيات دے۔(سُوْرَةَ القدر،آيت: ۳)

۹۔ پۀ شبِ قدرکښې د الله سُبْحَانَهٗ وتَعَالٰى پۀ حکم سره حضرت جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام او نورملائک د ډيروکارونود انتظاماتودپاره راکوزيږي۔(سُوْرَةَ القدر،آيت: ۴)

۱۰۔ الله سُبْحَانَهٗ وتَعَالٰى شبِ قدرلره د امن اوسلامتئ والا شپه ګرزولې ده۔(سُوْرَةَ القدر،آيت: ۵)

## ځان پرې پوهه کړئ اوحل ئې کړئ

سوال ۱: پۀ صحيح جواب باندې صحيح نشان(✓)ولګوئ:

(۱) د قدرڅه معنىٰ ده؟

(الف) عزت (ب) شپه (ج) قدرت

(۲) شبِ قدر د رمضان د آخري عشره د کوموشپونه پهٔ یوه شپه کښې وي؟

(الف) طاق  (ب) جفت  (ج) تولي(تمامي)

(۳) د شبِ قدر د عظمت او اهمیت څه وجه ده؟

(الف) رمضان  (ب) روژه  (ج) قرآنِ حکیم

(۴) پهٔ شبِ قدر کښې د عبادت ثواب پهٔ څومره عبادت باندې زیات دے؟

(الف)د زرو کلونو عبادت نه(ب) د زرو میاشتو عبادت نه  (ج) د زرو ،ورځو د عبادت نه

(۵) پهٔ شبِ قدر کښې د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی پهٔ حکم سره د چا نزول کښیږي؟

(الف) انسانان  (ب) فرښتې  (ج) جنّات(پیران)

سوال ۲ د لاندې ورکړے شوو الفاظو مطابق د دې متعلق آیاتونو نمبرو لیکئ۔

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | د زرو میاشتو نه غوره شپه | |
| | | | | د فرښتو راکوزیدل | |
| | | | | شبِ قدر | |
| | | | | نزولِ قرآن | |
| | | | | د سلامتۍ والا شپه | |

ال نمبر۳: د لاندې ليکلي شوو سوالونو مختصرجوابونه ورکړئ:

. د شبِ قدرپۀ شپه د کارونود انتظاماتودپاره څوک راکوزېږي؟

د شبِ قدرڅه فضيلت دے؟

. الله سُبۡحَانَهٗ وَتَعَالٰی قرآنِ حکيم څرنګه نازل کړےدے؟

شبِ قدر ترڅوپورې د سلامتۍ شپه ده؟

. پۀ شبِ قدرکښې مونږه لره څه کول پکاردي؟

کورنۍ هله زله

۱- پهٔ یو چاټ باندې د شبِ قدردعا اوددې ترجمه پهٔ خوشخطۍ سره ولیکئ اوپهٔ کورکښې ئې ولګوئ

۲- مونږه لره پهٔ شبِ قدرکښې څه کول پکاردي ویلیکئ.

۳. د خپل موراوپلارنه معلوم کړئ د قرآنِ حکیم د اهمیت پهٔ باره کښې پنځهٔ خبرې ولیکئ.




د استادلاس لیک سره دتاریخ: ــــــــــــــ د مورپلارلاس لیک سره د تاریخ: ــــــــــــــ

# اَهمي نُکتي

# سُورَةُالْبَيِّنَة

سبق : ۲۸

(سورت نمبر:۹۸،ټولي رکوعګاني:۱،ټول آیاتونه:۸)

شانِ نزول اوپیژندګلو: چي کله سُوْرَةُ البينه پهٔ حضرت نبي کریم ﷺ باندي نازلېدلو ،نو حضرت جبرایېل عَلَيْهِ السَّلَام عرض اوکړویارسول الله!الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی تاسوتهٔ حکم کړےدے چي دا سوت ابَی بن کعب رضی الله عنه ته تلاوت کړئ چي وائي ورې۔(ابَی بن کعب رضی الله عنه ډیر بهترین قاري وو)۔حضرت ابَی بن کعب رضی الله عنه چي دا خبره واوریدله پهٔ حیرانوالي سره ئي تپوس وکړوآیاالله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی تاسوتهٔ زمانوم اخستے دے۔،نو حضرت نبي کریمﷺ اوفرمائل بیشکه ،نوابَی بن کعب رضی الله عنه چي دا واوریدل (د خوشحالی) نه پهٔ ژړاشو ۔ (صحیح بخاري ،صحیح مسلم)پهٔ دې سورت کښې دا خودلي شوي دي چي الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی قامونه د کفراوشرک د ګمراهۍ نه د راویستلو دپاره خپل انبیاءِکرام اورسولان عَلَيْهِمِ السَّلَام پهٔ واضحه تعلیماتوسره رالېږلي ،بیائي پهٔ

دي خبره پوهه کړي دي چې کوم خلق د رسول او کتاب د راتګ نه روسته هم د هدايت لاره نه اختياروي ،نو دا د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى پهٔ نزد بدترين مخلوق دے ـ د داسي خلقو ډپاره دوزخ دے ددې برعکس چې کوم خلق د هدايت لاره اختياروي هغه بهترين مخلوق دے د داسي خلقو ډپاره جنت اود الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى رضا ده ـ

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ
زهٔ پناه غواړم پهٔ الله سره د شيطان رټلي شوي نه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ○
خاص د الله پهٔ نوم سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکے دے

لَمْ يَكُنِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ وَ الْمُشْرِكِيْنَ مُنْفَكِّيْنَ حَتّٰى تَاْتِيَهُمُ الْبَيِّنَةُۙ ٠٠١
نهٔ هغه کسان چې کافران شوي دي، چې کتابيان او مشرکان دي، جدا کيدونکي تر دې چې دوی ته ښکاره دليل (رانشي)
رَسُوْلٌ مِّنَ اللّٰهِ يَتْلُوْا صُحُفًا مُّطَهَّرَةًۙ ٠٠٢ فِيْهَا كُتُبٌ قَيِّمَةٌؕ ٠٠٣
چې د الله ده اړخه رسول دی، چې (دوی ته) ډېرې پاکې صحيفې لولي پهٔ دغو (صحيفو) کې ډېر سم (او درست) حکمونه دي ـ
وَمَا تَفَرَّقَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنَةُؕ ٠٠٤
او اهل کتاب پهٔ خپل مينځ کې سره جدا (او مختلف) شوي نه وو مګر وروسته ددې چې دوی ته ښکاره دليل راغی
وَمَآ اُمِرُوْٓا اِلَّا لِيَعْبُدُوا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۙ۱ حُنَفَآءَ
او دوی ته حکم نهٔ وو شوے مګر پهٔ داسي حال کې دوی عبادت وکړي د الله چې دين (عبادت) دغه (الله) لره خالص کوونکي وي (او بلکل ځانله (د باطل نه حق ته راګرځيدونکي) وي،
وَيُقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَ يُؤْتُوا الزَّكٰوةَ وَذٰلِكَ دِيْنُ الْقَيِّمَةِؕ ٠٠٥ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ وَالْمُشْرِكِيْنَ
او (ددې چې) دوی دې مونځ قايموي او زکات دې ورکوي او هم دغه ډېر پوخ دين دی، بيشکه هغه کسان چې کفرئې کړے دے چې اهل کتاب او مشرکان دي،
فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ۱ اُولٰٓئِكَ هُمْ شَرُّ الْبَرِيَّةِؕ ٠٠٦ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا
(دوی به) د دوزخ پهٔ اور کې وي، چې پهٔ ده کې به تل ترتله وي. هم دغه کسان د خلقو بدترين دي بيشکه هغه کسان چې ايمان ئې راوړی دی
وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ۙ۱ اُولٰٓئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِؕ ٠٠٧ جَزَآؤُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ
او نيک عملونهٔ ئې کړي دي هم دغه کسان د خلقو بهترين دي بدله ددوئ پهٔ نزد د رب ددوئ جنتونه د هميشوالي دي چې د هغو د لاندې ولې بهيږي،
خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ۱ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ ؕ۱ ذٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهٗ ٠٠٨
چې دوی به پهٔ دغو کې تل ترتله هميشه وي، الله ددوی نه راضي شوی دی او دوی له هغه نه راضي شوي دي، دغه (وعده) د هغه چا ډپاره ده چې د خپل رب نه ويريږي -

## اَهمې نُکتې

# د علم او عمل خبرې

۱ـ د الله سُبْحَانَهُ وتَعَالَی د اړخ نه د واضح دلیل د راتګ نه روسته په حق او باطل کښې فرق واضح شو ـ (سُوْرَةَ البینه، آیت: ۱)

۲ـ الله سُبْحَانَهُ وتَعَالَی حضرت نبي کریم ﷺ ولیږلو خلقو ته ئې د قرآنِ حکیم ریشتوني حکمونه واورول ـ (سُوْرَةَ البینه، آیات: ۱ نه تر ۳)

۳ـ د الله سُبْحَانَهُ وتَعَالَی هدایت په زان بوج کول او نظرانداز کول انسان الله سُبْحَانَهُ وتَعَالَی په کفر او شرک کښې مبتلا کوي ـ (سُوْرَةَ البینه، آیت: ۴)

۴ـ د ټولو انبیاءِ کرامو عَلَیْهِمِ السَّلَام دین یو ؤ یعني صرف د عبادت کول ـ (سُوْرَةَ البینه، آیت: ۵)

۵ـ ټولو انبیاءِ کرام عَلَیْهِمِ السَّلَام به خپل قامونو ته صرف د یو الله سُبْحَانَهُ وتَعَالَی د مکمل عبادت کولو حکم کولو ـ (سُوْرَةَ البینه، آیت: ۵)

۶ـ ټولو انبیاءِ کرام عَلَیْهِمِ السَّلَام به خپل قامونو ته د مونځ قائیمولو او د زکوٰة ورکولو حکم کولو ـ (سُوْرَةَ البینه، آیت: ۵)

۷ـ د کفر او شرک کولو والا به همیشه د دوزخ په اور کښې وي ـ (سُوْرَةَ البینه، آیت: ۶)

۸ـ د کفر او شرک کولو والا په ټول مخلوق کښې د ټولو نه زیات بدتر مخلوق دے ـ (سُوْرَةَ البینه، آیت: ۶)

۹ـ الله سُبْحَانَهُ وتَعَالَی او د هغه په رسول ﷺ باندې ایمان راوړل او نیک عملونو کولو والا په ټولو مخلوقاتو کښې د ټولو نه زیات ښه خلق دي ـ (سُوْرَةَ البینه، آیات: ۷، ۸)

۱۰ - چې کوم کس د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی نه پۀ ویرې سره زندګي تیروي د هغه دپاره د جنت همیشه والا نعمتونه دي او الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی به ددۀ نه راضي وي او دابه د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی نه راضي وي - سُورَةَ البینه،آیت:۸)

## ځان پرې پوهه کړئ او حل ئې کړئ

**سوال ۱ :** پۀ صحیح جواب باندې صحیح نشان(✓)ولګوئ:

(۱) د اهلِ کتابونه مراد څوک دي؟

(الف) هندواو سِکه (ب) یهودي او عیسائي (ج) پارسي او بُدّهي

(۲) پۀ دې سورت کښې د بیّنه نه مراد څه شے دے؟

(الف) حضرت عیسیٰ عَلَیْهِ السّلَام او انجیل (ب) حضرت موسیٰ عَلَیْهِ السّلَام او تورات

(ج) حضرت سیدنا محمد مصطفیٰ ﷺ او قرآن

(۳) ټولو انبیاءِکرام عَلَیْهِم السّلَام خپلو قامونه نود څه خبرې حکم کولو؟

(الف) حج کول (ب) روژه نیول (ج) د یو الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د عبادت کولو

(۴) پۀ دې سورت کښې کافرانو ته څه ویېلي شوي دي؟

(الف) شَرُّالْبَرِیّةِ (ب) خَیْرُالْبَرِیّةِ (ج) الْمنَافِق

(۵) د جنت او د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د رضاد حصول دپاره څه ذرائع دي؟

(الف) سیال او تفریح (ب) ایمان او نیک عمل (ج) نافرماني او سرکشي

**سوال ۲ :** د لاندې ورکړلے شوي آیت نمبرد متعلقه الفاظونه کرښه اوباسئ او میلاو ئې کړئ:

| | |
|---|---|
| آیت نمبر۱ | ایمان اونیک عمل |
| آیت نمبر۳ | اهلِ کتاب |
| آیت نمبر۵ | د همیشه اوسیدلوولا باغونه |
| آیت نمبر۷ | مونځ اوزکوٰة |
| آیت نمبر۸ | مظبوط حکمونه |

**سوال ۳** د لاندې لیکلي شووسوالونومختصرجوابونه ورکړئ:

۱۔ د دنیانه د کفراوشرک ختمولودپاره الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی څه انتظامات کړي دي؟

---

---

۲۔ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی څوک بدترین مخلوق ګرزولے دے؟

---

---

۳۔ د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی پۀ مخلوق کښې د بهترینوخلقوڅه صفتونه دي؟

---

---

۴۔ پۀ دې سورت کښې د نیکانوخلقودپاره دکومونعمتونوذکرشوے دے؟

---

---

.پهٔ دې سورت کښې د ارکانِ اسلام نه دکوموددوو ارکانوذکردے؟



## کورنۍ سرګرمۍ(هله زله)

.يوچاټ جوړکړئ اود شَرُّالْبَرِيّةِ اود خَيْرُالْبَرِيّةِ د کرداراوانجام موازنه وکړئ۔

.شرک يوه غټه ګناه ده چې پهٔ دې سره الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی ناراضه کښېږي يهوديانو،عيسايانو،اود مکّې مشرکانوڅه شرک کړے وُو ؟ دا وليکئ۔

.پهٔ قرآنِ مجيد کښې د شپږويشت (۲۶) انبياءکرامو عَلَيْهِمِ السّلَام نومونه راغلي دي ددوئ نه يوولس(۱۱) نومونه تلاش کړئ پهٔ لاندې ليکلي شوي چاټ کښې وليکئ۔



د استادلاس لیک سره دتاریخ :.............                    د مورپلارلاس لیک سره دتاریخ: ..........

# سُوۡرَةُ الزِلۡزَالِ

سبق : ۲۹

(سورت نمبر: ۹۹،ټول رکوعګاني: ۱،ټول آياتونه: ۸)

شانِ نزول اوپيژندګلو: داسورت پۀ حضرت نبي کريم ﷺ باندې د مکي زندګۍ پۀ ابتدائي دورکښې نازل شوےدے،پۀ حديث مبارک کښې دي چې يوبوډاکس د حضرت نبي کريم ﷺ نه د قرآنِ حکيم د لوستوخواست اوکړواودا عرض ئې اوکړوچې زۀ غټې غټې سورتونه نشم يادولےنوتاسو ﷺ راتۀ يومختصراوجامع سورت اوايۍ ،نو حضرت نبي کريم ﷺ هغه ته سُوۡرَةَ الزلزال اوويبيلو۔(ابوداؤود)

دا سورت حضرت نبي کريم ﷺ د نيم قرآن برابرګرزولےدے۔(ترمذی)پۀ دې سورت کښې الله سُبۡحَانَهٗ وَتَعَالٰی د قيامت حالتونه بيان کړي دي چې ځمکه به د سختې زلزلي نه وخوزولےشي دابه د الله سُبۡحَانَهٗ وَتَعَالٰی پۀ حکم باندې خپل دننه ټول ښيزونه يعني خزاني اوانسانان رابهرکړي اوددې د بره چې کومي خبرې شوي دي هغه به ټولي بيان کړي پۀ دې ورځ به ټول انسانان د خپلي وړي نه وړه نيکي اوګناه ويني ۔

اَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ
زۀ پناه غواړم پۀ الله سره د شيطان رټلي شوي نه

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ○
خاص د الله پۀ نوم سره (شروع کوم) چې ډيرزيات مهربان،بې حده رحم کوونکښې دی

اِذَا زُلۡزِلَتِ الۡاَرۡضُ زِلۡزَالَهَا ۰۰۱ وَاَخۡرَجَتِ الۡاَرۡضُ اَثۡقَالَهَا ۰۰۲

کله چې ځمکه وخوزلی شي پۀ خپلو سختو خوزولو سره او ځمکه خپل (دننه) درانه بارونه بهر ته راوباسي -

وَقَالَ الۡاِنۡسَانُ مَا لَهَا ۰۰۳ يَوۡمَئِذٍ تُحَدِّثُ اَخۡبَارَهَا ۰۰۴

او انسان به ووايي چې پۀ دې څه شوي دي؟- پۀ دغې ورځې کې به دا ځمکه (خپلې تيرې شوي خبرې حالات) بيانوي

بِاَنَّ رَبَّكَ اَوۡحٰى لَهَا ۰۰۵ يَوۡمَئِذٍ يَّصۡدُرُ النَّاسُ اَشۡتَاتًا ۱

پۀ دې سبب چې ستا رب به دې ته (دغه) حکم کړےوي پۀ دغې ورځ کښې به خلق بيرته راګرځي،پۀ داسې حال کې چې بيل بيل (او مختلف) به وي،

لِّيُرَوۡا اَعۡمَالَهُمۡ ۰۰۶ فَمَنۡ يَّعۡمَلۡ مِثۡقَالَ ذَرَّةٍ خَيۡرًا يَّرَهٗ ۰۰۷

د دې دپاره چې دوی ته خپل عملونه وښودل شي نو هغه څوك چې د يوې ذرې په اندازه نيك عمل وكړي (نو) د ے به هغه ووينی-

وَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَّرَهٗ ۰۰۸

او هغه څوك چې د يوې ذرې په اندازه شر (او بدی) عمل كوي، (نو) دی به هغه ووينی

| |
|---|
| |
| |
| |

## دعلم او عمل خبرې

۱ ـ د قيامت په ورځ به په ځمکه باندې سخته زلزله راشي ـ (سُورَةَ الزلزال آيت: ۱)

۲ ـ د د قيامت په ورځ به ټول انسانان د قبرونونه راويستلي شي ـ (سُورَةَ الزلزال آيت: ۲)

۳ ـ د قيامت د ورځې حالات چې ويني د آخرت نه منكرانسان به تعجب وكړي ـ (سُورَةَ الزلزال آيت: ۳)

۴ ـ زمونږد عملونوګواه ځمکه هم ده ـ (سُورَةَ الزلزال آيات: ۳، ۴)

۵ ـ ځمکه به د قيامت په ورځ د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى په حکم سره ټولې خبرې بيان كړي ـ (سُورَةَ الزلزال آيات: ۵، ۴)

۶ ـ د قيامت ورځ په اعتبار د عملونو به نيکان خلق او بدان جدا جدا کړلے شي ـ (سُورَةَ الزلزال آيت: ۶)

۷ ـ د قيامت ورځ به خلقوته د دوئ ټول عملونه اوښودلے شي (سُورَةَ الزلزال آيت: ۷)

۸ ـ زمونږخبرې او عملونه محفوظ دي او د قيامت په ورځ به د دې نتيجه راوزي ـ (سُورَةَ الزلزال آيات: ۸، ۷)

۹ ـ د قيامت په ورځ به هره نيکي ښېښ شي ،نو پکارده چې وركوټي نيكي هم پرې نۀ ښودلے شي ـ (سُورَةَ الزلزال آيت: ۷)

۱۰ ـ د قيامت په ورځ چې هرڅنګه ګناه وي ،نو د نيولو سبب به جوړېږي ،نو وړوكي ګناه هم معمولي ګڼړل نۀ دي پكار ـ (سُورَةَ الزلزال آيت: ۸)

ځان پرې پوهه کړئ او حل ئې کړئ

سول۱: پهٔ صحیح جواب باندې صحیح نښه (✓) ولګوئ:

(۱) پهٔ دې سورت کښې د چاه ذکر دے؟

(الف) تیزه هوا (ب) سخته زلزله (ج) سیندې طوفان

(۲) د قیامت پهٔ ورځ به څمکه څه شے بهرراغورزی؟

(الف) نیکان خلق (ب) بدان خلق (ج) ټول خلق

(۳) پهٔ دې سورت کښې پهٔ انساني عملونوباندې د چاه د ګواهئ ذکر دے؟

(الف) جسماني اندامونه (ب) فرښتې (ج) څمکه

(۴) د قیامت پهٔ ورځ به انسان څه شے وینې؟

(الف) خپل ټول عملونه (ب) خپل ښه عملونه (ج) خپل بدعملونه

(۵) د قیامت پهٔ ورځ به انسان پهٔ څه شې باندې حیران وي؟

(الف) د جنت پهٔ نعمتونو (ب) د زمکې حالت (ج) د دوزخ هیبتوالے

سوال ۲: د لاندې ورکړے شوو الفاظو مطابق ددې متعلقه آیاتونونمبرې ولیکئ:

| | |
|---|---|
| د زمکښې بوجه | |
| د خبروبیان | |
| د ذرِّي برابرنیکښې | |
| د ذرِّي برابرګناه | |
| سخته زلزله | |

سوال۳: د لاندې لیکلې شووسوالونومختصرجوابونه ورکړئ:

پۀ دې سورت کښې د قيمت کوم منظربيان شوے دے؟

پۀ دې سورت کښې د معمولي نيکيانو او ګناهونو پۀ باره کښې څه بيان شوے دے؟

د قيامت پۀ ورځ به د زمکې نه ګواهي ولي اخستلے شي؟

د قيامت پۀ ورځ به ځمکه څه خبرونه بيانوي؟

ددې سورت پۀ رنړائې کښې واضحه کړئ چې د زمکې د بوج نه څه شے مراد دے؟



## کورنۍ هله زله

د هرې ورځې ښونيکئ وليکئ چې کومې مونږ ورې ګڼو او پرېږدوئې.

د هرې ورځې خوبدېانې اوليکئ چې کومې مونږورې ګڼو او پۀ دې باندې مونږتيرېږو.

۳- د زلزلې نه تباه شوو کارونونه یو څو تصویرونه جمع کړئ اولاندې ولګوئ.



د استادلاس لیک سره دتاریخ : ______ د مورپلارلاس لیک سره د تاریخ : ______

## اَهمي نُکتې

# سُوۡرَةُ الۡعٰدِيٰتِ

سبق : ۳۰

(سورت نمبر: ۱۰۰، ټول رکوعګاني: ۱، ټول آياتونه: ۱۱)

شانِ نزول اوپيژندګلو: دا سورت په حضرت نبي کريم ﷺ باندې د مکي زندګۍ په ابتدائي دورکښې نازل شوے دے، په دې سورت کښې د مجاهدينود اسونوذکرشوے دے د عربوخلقوبه اسونه د مختلفوکارونودپاره استعمالول اس ډيروفادارځناور دے چې د مالک په هرحکم باندې عمل کوي ددې خبرې حواله ده چې د الله سُبۡحَانَهٗ وَتَعَالٰی د تعبدارۍ تلقين کړلے شوے دے د سورت په شروع کښې الله سُبۡحَانَهٗ وَتَعَالٰی د مجاهدينود اسونوقِسمونه ذکرکړي دي چې اسونه د خپل مالک تعبداراوشکرګزاروي اوانسان د خپل مالک الله سُبۡحَانَهٗ وَتَعَالٰی نافرمان اوناشکره دے ددې ناشکرۍ اصل وجه د مال سره سخت محبّت دے د مال د محبت علاج آخرت يادول دي چې د خلقونيتونه اوعملونه به ټول ښکاره شي۔

اَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ
زۀ پناه غواړم په الله سره د شيطان رټلي شوي نه

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ○
خاص د الله په نوم سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

وَالۡعٰدِيٰتِ ضَبۡحًاۙ ۰۰۱
قسم دی په تيزو ځغليدونکو اسونو، چې (په ميدانِ جهاد کښې) د سينو او ګيډو نه آواز ايستونکي دي

فَالۡمُوۡرِيٰتِ قَدۡحًاۙ ۰۰۲
(قسم دی) په (هغو اسونو) چې په خپلو سُمانو سره تيرې وهي او اور را ايستونکي دي

فَالْمُغِيْرٰتِ صُبْحًاۙ٠٠٣ فَاَثَرْنَ بِهٖ نَقْعًاۙ٠٠٤

پس (قسم دى) په (هغو اسونو) چې د سباپهٔ وخت کې لوټمار کوونکي دي نو پهٔ دغه وخت کې دغه (اسونه) ګرد پورته کوي

فَوَسَطْنَ بِهٖ جَمْعًاۙ٠٠٥ اِنَّ الْاِنْسَانَ لِرَبِّهٖ لَكَنُوْدٌۚ٠٠٦

پس پهٔ دغه وخت کې (د دښمن پهٔ لوئې ډلې کښې) مينځ کې ننوځي چې بيشکه انسان د خپل رب ډېر ناشکره دى-

وَاِنَّهٗ عَلٰى ذٰلِكَ لَشَهِيْدٌۚ٠٠٧ وَاِنَّهٗ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيْدٌؕ٠٠٨

او بيشکه دى پهٔ دې خبره يقينًا ښهٔ خبردار (او ګواه) دى او بيشکه دى د مال پهٔ مينه کې يقينًا ډېر سخت دى -

اَفَلَا يَعْلَمُ اِذَا بُعْثِرَ مَا فِي الْقُبُوْرِۙ٠٠٩

ايا نو دى نه پوهيږي کله چې هغه (مړي) راوښکل شي چې پهٔ قبرونو کې دي؟

وَحُصِّلَ مَا فِي الصُّدُوْرِۙ٠٠١٠

او هغه (پټ راز) راښکاره کړى شي چې پهٔ سينو کې دي

اِنَّ رَبَّهُمْ بِهِمْ يَوْمَىِٕذٍ لَّخَبِيْرٌ۠٠٠١١

بيشکه د دوى رب پهٔ دغې ورځ کښې پهٔ دوى باندې يقينًا ښه خبردار دى-

## اَهمې نُکتې

# دعلم او عمل خبرې

۱ ـ د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ پۀ نزد د مجاهدينو د اسونو هم ډيرغټ قدر دے الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ د هغوئ د قِسمونو ارشادفرمايلے دے ـ (سُوْرَة العاديات،آيت: ۱)

۲ ـ اسونه د خپل مالک تعبداري کوي ليکن انسان د خپل مالک يعني د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ ناشکري کوي ـ (سُوْرَة العاديات،آيات: ۱نه تر ۲)

۳ ـ اسونه د خپل دپاره د خپل زان قرباني کوي مونږه لره هم د حق پۀ خاطرهري قربانۍ ته تياريدل پکاردي ـ (سُوْرَة العاديات،آيات: ۱نه تر ۵)

۴ ـ مونږه لره د اسونونه سبق اخستل ،اود خپل مالک يعني الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ تعبداري کول پکاردي ـ (سُوْرَة العاديات،آيات: ۱نه تر ۲)

۵ ـ هرانسان د خپلي ناشکرۍ اونافرمانۍ نه خبردارد ے ـ (سُوْرَة العاديات،آيت: ۷)

۶ ـ د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ د ناشکرۍ د وجي نه د انسان د مال سره سخته مينه ده ـ (سُوْرَة العاديات،آيت: ۸)

۷ ـ مونږه لره د ټولونه زيات د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ سره محبت کول پکاردي ـ (سُوْرَة العاديات،آيت: ۸)

۸ ـ د مال سره د زيات محبت علاج قيامت يادول دي ـ (سُوْرَة العاديات،آيت: ۹)

۹ ـ د قيامت پۀ ورځ به د خلقود نيتونو او سينورازونه ټول ښکاره شي ـ (سُوْرَة العاديات،آيت: ۱۰)

۱۰ ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ زمونږ د رازونونه ښه خبردارد ے لِهٰذا مونږلره د بدوعملونونه بچيدل پکاردي ـ (سُوْرَة العاديات،آيت: ۱۱)

## ځان پرې پوهه کړئ او حل ئې کړئ

سوال ۱ : پهٔ صحيح جواب باندې صحيح نشان(✓)ولګوئ:

(۱) د سورت پهٔ شروع کښې د څاه قَسمونه ذکرشوي دي؟

(الف) هواګاني (ب) فرښتې (ج) اسونه

(۲) پهٔ دې سورت کښې د خيرنه څه مراد دي؟

(الف) نيکي (ب) مال (ج) قرآنَ حکيم

(۳) د مرګ نه روسته به زمونږه سره څه کښېږي؟

(الف) دويم زل پاڅېدل (ب) خاوري کښېدل (ج) هيڅ کله نه پاڅېدل

(۴) پهٔ دې سورت کښې د آخرت د ورځې د څه شي د ظاهيريدلو ذکرشوےدے؟

(الف) عمل نامې (ب) د زمکې خزانې (ج) د سينورازونه

(۵) د قبرنه به څوک پاڅېږي؟

(الف) صرف نيکان خلق (ب) ټول انسانان (الف) صرف بدکاره خلق

سوال ۲: پهٔ لاندې ورکړلې شوې آيت نمبراو ددېنه پهٔ متعلقه الفاظوکښې يوشان رنګ ورکړئ:

| | |
|---|---|
| آيت نمبر۱ | حمله کولووالا اسونه |
| آيت نمبر۳ | منډې والا اسونه |
| آيت نمبر۵ | د دشمن پهٔ فوځ کښې ورنوتونکې اسونه |
| آيت نمبر۲ | د مال سره سخته مينه |

ال۳: د لاندې ليکلي شووسوالونومختصرجوابونه ورکړئ:

.پهٔ دې سورت کښې د اسونوکوم صفتونه ذکردي؟

الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د اسونو قِسمونه ولې ذکرکړې دي؟

.پهٔ دې سورت کښې د انسان د کوموکوتاهيانوذکردے؟

.پهٔ دې سورت کښې د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی کوم صفتونه ذکردي؟

.انسان د څه څيزسره سخت محبت کوي؟



کورنۍ هله زله

۱ ـ د مال د محبت نه چې پۀ انسان کښې کومې بدیانې پيدا کښېږي د هغوی فهرست جوړ کړئ.

۲ ـ د اسونوپۀ باره کښې د قرآنِ حکیم زیاتې يو مقام تلاش کړئ ،د اسونو یو درې فائدې ولیکئ.

---

---

---

۳ـ د اللہ سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی ورکړے شوې څو نعمتونه اوليکئ چې پۀ دې باندې مونږ لره د اللہ سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی شکر ادا کول پکار دي

د اللہ سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی شکر دے چې:

۱ ـ مور پلار او استاذان ئې را کړي دي.

۲ ..........................................

۳ ..........................................

۴ ..........................................

۵ ..........................................

د استادلاس لیک سره دتاریخ :______ . . د مورپلارلاس لیک سره د تاریخ :____________ .

# سُوْرَةُالْقَارِعَة

سبق : ۳۱

(سورت نمبر: ۱۰۱، ټول رکوعګاني: ۱، ټول آیاتونه: ۱۱)

شانِ نزول اوپیژندګلو: دا سورت پهٔ حضرت نبي کریم ﷺ باندې د مکي زندګۍ پهٔ ابتدائي دورکښې نازل شوے دے پهٔ دې سورت کښې د قیامت حالات بیان شوي دي پهٔ آخرت باندې ایمان د خلقوپهٔ عملونوباندې د ټولونه زیات اثرکونکي دے پهٔ دې سورت کښې دا ښودلي شوي دي چې د قیامت پهٔ ورځ به د انسانانود عملونووزن کښېدلے شي ،چې د کوموخلقود نیکوعملونووزن درون شوهغه کامیاب دےاود چاه د نیکوعملونووزن چې سپک شو،نوهغه به ناکام وي .

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

زهٔ پناه غواړم پهٔ الله سره د شیطان رټلي شوي نه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ○

خاص د الله پهٔ نوم سره (شروع کوم) چې ډېر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکښی دی

اَلْقَارِعَةُ ۰۰۱ مَا الْقَارِعَةُ ۰۰۲ وَمَا اَدْرٰىكَ مَا الْقَارِعَةُ ۰۰۳ؕ

(د زړونو) ټکوونکی (قیامت)؟ (د زړونو) ټکوونکی څه شی دی؟ او تهٔ څه شي پوه کړې چې (د زړونو) ټکوونکی څه شی دی؟

يَوْمَ يَكُوْنُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوْثِ ۰۰۴ۙ

(دی به زړونه ټکوي) پهٔ هغې ورځ کښې چې خلق به د خواره کړې شویو پتنګانو پهٔ شان شي

وَتَكُوْنُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوْشِ ۰۰۵ؕ فَاَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُهٗ ۰۰۶ۙ

او غرونه به د ډانډس کړې شوې رنګینې وړۍ پهٔ شان شي نو هر چې هغه څوک دی چې د هغه تلې (د نیکو عملونو) درنې شوې

فَهُوَ فِيْ عِيْشَةٍ رَّاضِيَةٍ ۰۰۷ؕ وَاَمَّا مَنْ

نو دی به پهٔ ډېر ښهٔ ژوندون کې وي او پاتې شو هغه کس

خَفَّتْ مَوَازِيْنُهٗ ۰۰۸ۙ فَاُمُّهٗ هَاوِيَةٌ ۰۰۹ؕ

چې د هغه تلې (د نیکو عملونو) سپکې شوې نو د ده استوګنځی هاویه ده

وَمَا اَدْرٰىكَ مَاهِيَهْ ۰۰۱۰ؕ نَارٌ حَامِيَةٌ ۰۰۱۱ؕ

او تـهٔ څـه شـې پـوه کـړې چـې دغـه (هاويـه) څـه شــی دی؟(دغـه) ډېـر ګـرم اور ( بےحـده لانـدې کنـده) دی

| |
|---|
| |
| |
| |

## دعلم و عمل خبرې

١ ـ د قیامت واقع کېدل یقیني خبره ده ـ (سُوْرَةُ القارعة،آيات: ١ نه تر ۴)

٢ ـ د قیامت ورځ يوه هيبتناکه ورځ ده ـ (سُوْرَةُ القارعة،آيات: ۵ ،۴)

٣ ـ د قيامت پهٔ ورځ به انسانان د پتنګانو پشان وي هريوته به د خپل زان فکروي هيڅوک به دبل فکرنه کوي ـ (سُوْرَةُ القارعة،آيت: ۴)

۴ ـ د قیامت پهٔ ورځ به د انسانانو عملونه وزن کولے شي ـ (سُوْرَةُ القارعة،آيات: ٦ نه تر ٨)

۵ ـ پهٔ دنیا کښې د شوو عملونو نتيجه به پهٔ آخرت کښې ضرور ښکاره کښېږي ـ (سُوْرَةُ القارعة،آيات: ٦ نه تر ٩)

٦ ـ نيکياني د کاميابۍ ذريعه ده مونږلره د آخرت د کاميابۍ دپاره د نيکو عملونو کوشش کول پکار دي ـ (سُوْرَةُ القارعة،آيت: ٦)

٧ ـ د نيکو عملونو کولو والا به پهٔ آخرت کښې خوشحاله وي ـ (سُوْرَةُ القارعة،آيت: ٧)

٨ ـ ګناهونه د ناکامۍ ذريعه ده مونږلره پهٔ آخرت کښې د ناکامۍ نه د بچيدلو دپاره د ګناهونو نه د جدا کښېدلو کوشش کول پکار دي ـ (سُوْرَةُ القارعة،آيت: ٨)

٩ ـ د بدو عملونو کونکي به پهٔ آخرت کښې پهٔ سخت عذاب کښې وي ـ (سُوْرَةُ القارعة،آيات: ٨ نه تر ١١)

۱۰- د دوزخ ګرم شوے اور ډیر سخت دے مونږ له د دېنه د بچيدلو زيات کوشش کول پکار دي.(سُوْرَةَ القارعة،آيات: ۱۱، ۱۰)

## ځان پري پوهه کړئ او حل ئې کړئ

سوال ۱: په صحيح جواب باندي صحيح نشان(✓) ولګوئ:

(۱) د القارعة نه مراد څه دي؟

(الف) ګرم شوے اور (ب) د قيامت ورځ (ج) د قرآن لوستلو والا

(۲) د قيامت په ورځ به د انسانانو څه حالت وي؟

(الف) د الوزولي شوو غرونو پشان به شي (ب) او که د ډانډس کړی شوي رنګيني وړی په شان به شي (ج) د خواره کړی شويو پتنګانو په شان به شي

(۳) د قيامت په ورځ به غرونه څه رنګه شي؟

(الف) الوزولے شوے ګردوغبار (ب) ډانډس کړی شوي رنګيني وړی (ج) خواره کړی شويو پتنګان

(۴) د آخرت په ورځ باندي به د انسان د عملونو سره څه کښيږي؟

(الف) تقسيم کړلے شي (ب) وزن کولے به شي (ج) په کاربه نه رازي

(۵) د جنت والا د نيکو عملونو چاپېرے به څرنګه وي؟

(الف) خالي (ب) درون (ج) سپک

**سوال ۲** : د لاندي ورکړل‌شوي آيت د نمبر متعلق د الفاظونه کرښه راکاږئ او ميلاوئي کړئ:

| | |
|---|---|
| آيت نمبر۲ | د خواره کړی شويو پتنګانو پهٔ شان انسانان |
| آيت نمبر۴ | د رنګيني وړی پشان غر |
| آيت نمبر۵ | ټنګولو والا قيامت |
| آيت نمبر۸ | هاويه |
| آيت نمبر۱۰ | سپک چاېرے |

**سوال ۳** : د لاندي ليکلي شووسوالونومختصرجوابونه ورکړئ:

۱ ـ د قيامت پهٔ ورځ به انسان اوغرپهٔ څه حالت کښي وي؟

۲ ـ پهٔ آخرت کښي به د انسانانوعملونه څرنګه پيژندلےشي؟

۳ ـ پهٔ دي سورت کښي د ښه اوبدوانسانانوڅه انجام بيان شوےدے؟

. پۀ دې سورت کښې د جهنم څه نوم بیان شوے دے؟

. پۀ آخرت باندې د ایمان څه اهمیت بیان شوے دے؟

کورنۍ هله زله



. یو حدیث شریف تلاش کړئ او وي لیکئ چې پۀ دې کښې د عملونو تول ذکروي۔

د نیکیو د چابړې د وزن کولو د پاره د څه لس ١٠ کارونو فهرست جوړ کړئ۔

٢

٤

٥

٨ ٩ ١٠

. د قرآنِ حکیم څه دوه آیاتونه تلاش کړئ چې پۀ دې کښې د عملونو د وزن کښېدلو ذکروي او ددې حواله پۀ لاندې چاټ کښې اولیکئ .

| دویم مقام | اول مقام |
| --- | --- |
| د سورت نوم:________________ | د سورت نوم : __________ |
| آیت نمبر________________ | آیت نمبر :____________ |

: د استادلاس لیک سره دتاریخ :__________ . . د مورپلارلاس لیک سره د تاریخ :________________ . .

## اَهمي نکتي

# سُوْرَةُ التَّكَاثُر

سبق : ۳۲

(سورت نمبر: ۱۰۲، ټولې رکوعګاني: ۱، ټول آياتونه: ۸)

شانِ نزول او پيژندګلو: دا سورت حضرت نبي کريم ﷺ باندې د مکي ژوندګۍ په منځني دورکښې نازل شوے دے په دې سورت کښې د انسان د مال او دولت سره ډير محبت او د آخرت نه د غفلت ذکر دے، د انسان دې کيفيت په باره کښې حضرت نبي کريم ﷺ فرمايي که د بني آدم سره د سوناو کنده شي، نو دا ښوښوي چې چې ددې سره (داسې) دوه نوري کندې شي او (وا وری!) د انسان خوله (د قبر) د خاورونه علاوه بل څه شے نشې ډکولے او الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى ددې توبه قبلوي چې کله داتوبه اوباسي. حضرت ابي بن کعب رضی الله عنه د حضرت انس رضی الله عنه نه نقل کوي چې مونږ به دا الفاظ د قرآن برخه ګڼړله تردې پورې چې (الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى) دا سورت نازل کړو. (صحيح بخاري)

په دې سورت کښې د آخرت نه غافل انسان، د غلط انجام نه ويرولے شوے دے. د سورت په آخر کښې دا ښودلې شوي دي چې د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى نعمتونه د ازمائش ذريعه ده، د انسان نه به ددې نعمتونو په باره کښې په آخرت کښې تپوس کښېدلے شي.

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

زۀ پناه غواړم په الله سره د شيطان رټلي شوي نه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ○

خاص د الله په نوم سره (شروع کوم) چې ډير زيات مهربان، بې حده رحم کوونکښی دی

اَلْهٰكُمُ التَّكَاثُرُ ۰۰۱ حَتّٰى زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ ۰۰۲

ډير زيات د (مال) خواهش تاسو غافل کړي وئ. تر هغه پورې چې تاسو هديرو ته ورشئ.

كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۰۰۳

هيڅ کله (مال به په کار) را نشي، زر ده چې تاسو به (په حقيقت) ځان پوهه کړئ

ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۰۰۴

بيا بيخي داسې نه ده هيڅ کله (مال به په کار) را نشي، زر ده چې تاسو به (په خپل انجام) ځان پوهه کړئ

كَلَّا لَوْ تَعْلَمُوْنَ عِلْمَ الْيَقِيْنِ ۰۰۵ لَتَرَوُنَّ الْجَحِيْمَ ۰۰۶

داسې نه ده که تاسو په علم اليقين سره پوهيدلی (نو تاسو به د آخرت نه غافل نۀ وے) تاسو به خامخا ضرور دوزخ وينئ

ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيْنَ الْيَقِيْنِ ۰۰۷ ثُمَّ لَتُسْـَٔلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيْمِ ۰۰۸

بيا به تاسو خامخا ضرور دغه (دوزخ) د يقين په سترګو وينئ بيا به په دغې ورځ کښې ستاسو نه خامخا ضرور د نعمتونو په باره کې تپوس کيږ.

## اَهمي نُکتي

# دعلم او عمل خبري

۱ ـ د انسانانو اکثريت د آخرت نه غفلت دے۔ (سُوْرَةُ التّکاثر، آيت: ۱)

۲ ـ د آخرت نه د غفلت غټه وجه ددنيامحبت دے۔ (سُوْرَةُ التّکاثر، آيت: ۱)

۳ ـ ددنيامحبت او د مال لالچ د انسان د مرګه پورې زياتيږي۔ (سُوْرَةُ التّکاثر، آيت: ۲)

۴ ـ د دنيا پهٔ مقابله کښې آخرت د ټولونه زيات قيمتي دے، داحقيقت به د مرګ پهٔ وخت پهٔ انسان باندې واضح شي۔ (سُوْرَةُ التّکاثر، آيت: ۴)

۵ ـ چې د قيامت پهٔ ورځ کله دوباره ژوندي شي ،نو انسان به د دنيا او آخرت حقيقت اوپيژني۔ (سُوْرَةُ التّکاثر، آيات: ۳،۴)

۶ ـ د آخرت يقين لرلو والا ددې تيارۍ نه غافله نه وي۔ (سُوْرَةُ التّکاثر، آيت: ۵)

۷ ـ د قيامت پهٔ ورځ به انسان ته دوزخ اوښودلے شي چې د نافرمانو ځاے دے۔ (سُوْرَةُ التّکاثر، آيت: ۲)

۸ ـ د قيامت پهٔ ورځ به نافرمانه جهنم ويني ددې يقين به اوکړي۔ (سُوْرَةُ التّکاثر، آيت: ۷)

۹ ـ پهٔ دنياکښې ورکړلې شوې نعمتونه د امتحان ذريعه ده مونږلره د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى د نعمتونوشکراداکول پکاردي۔ (سُوْرَةُ التّکاثر، آيت: ۸)

۱۰ ـ د قيامت پهٔ ورځ به الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى د خپلونعمتونوبالخصوص هدايت اولوي نعمت امام الانبياءوالمرسلين حضرت سيدنامحمد مصطفیٰ ﷺ پهٔ باره کښې زمونږه نه سوال کښيږي۔ (سُوْرَةُ التّکاثر، آيت: ۸)

## ځان پرې پوهه کړئ او حل ئې کړئ

سوال ۱: پۀ صحيح جواب باندې صحيح نشان (✓) ولګوئ:

(۱) د نعمتونو پۀ باره کښې به سوال چرته کښيږي؟

(الف) پۀ دنيا کښې (ب) پۀ آخرت کښې (ج) پۀ قبر کښې

(۲) پۀ هر نعمت باندې انسان لره د ټولونه زيات شکر اداکول د چاه اداکول پکار دي؟

(الف) د الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰى (ب) د مورپلار (ج) د خلقو

(۳) د مال د زيات جمعه کولو خواهش د کومې پورې جاري وي؟

(الف) ځوانې (ب) بوډاوالے (ج) مرګ

(۴) پۀ دې سورت کښې د جهنم کوم نوم بيان شوے دے؟

(الف) اَلْجَحِيم (ب) اَلْقَارِعَة (ج) اَلحَاقّة

(۵) پۀ دې سورت کښې د کومو خلقو ذکر دے؟

(الف) د الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰى پۀ لاره کښې د خرچ کولو والا (ب) د مال سره ډير محبت والا (ج) مخکښې قامونه

سوال ۲ دلاندې ورکړلے شوو الفاظ مطابق ددېنه د متعلقه آياتونو نمبرې اوليکئ۔

| | |
|---|---|
| د زيات مال خواهش | |
| دوزخ لېدل | |
| د نعمتونو پۀ باره کښې | |
| د قبرونو پورې رسيدل | |
| يقيني علم حاصلېدل | |

وال ۳ د لاندي ليکلي شووسوالونومختصرجوابونه ورکړئ:

. پهٔ سورت کښي د انسان د آخرت نه د غفلت څه وجه بيان شوي ده.؟

. پهٔ انسانانوباندي به د قيامت اصل حقيقت کله واضحه شي؟

. پهٔ دي سورت کښي د ايمان اويقين د کومودوو ۲ درجوبيان دے؟

. پهٔ دي سورت کښي د نعمتونوپهٔ باره کښي څه حقيقت واضحه شوےدے؟

. د دنيا د محبت نه د بچيدلوڅه ذريعه ده؟



کورنۍ هله زله

۱- د قبرمتعلق يودوه حديثونه مبارکه اوليکئ.

۲- پهٔ قبر کښې د پوښتني والا ۳سوالونه معلوم کړئ اوئې ليکئ.

۳ یوفهرست جوړکړئ چې مونږه پهٔ دنیاکښې د کوموشیزونوسره محبت کوو .




د استادلاس لیک سره دتاریخ: ________

د مورپلارلاس لیک سره د تاریخ: ________

# سُوْرَةُ الْعَصْر

سبق : ۳۳ (سورت نمبر: ۱۰۳، ټولي رکوعګاني: ۱، ټول آياتونه: ۳)

شانِ نزول او پيژندګلو: دا سورت په حضرت نبي کريم ﷺ باندې د مکي زندګۍ په منځني دور کښې نازل شوې دې د حضرت نبي کريم ﷺ صحابه کِرام رضی الله عنهم به چې کله د يوبل سره ملاقات وشو، نود يوبل نه به ترهغه وخته پورې نه جدا کښېدل ترڅو پورې چې به ئې دا سورت نه وولوستلے . (طبراني)

ددې سورت د شان په باره کښې امام شافعي رحمه الله فرمائي که چرته خلق صرف په دې سورت کښې سوچ اوکړي ،نو دا به ورله د هدايت دپاره کافي شي د قرآنِ حکيم د ټولونه وړوکي دري سورتونه دي يعني سُوْرَةَ العَصر، سُوْرَةَ الکَوثَر، سُوْرَةَ النّصر . دا ټول په دري ۳ دري ۳ آياتونو باندې مشتمل دي د سُوْرَةَ العصر په شروع کښې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی قَسم ذکر کړې دې په خبره کښې زور پيدا کول اهميت بيانول او د ګواه جوړيدلو دپاره قسم خوړلے شي په تيزۍ سره د تيري شوي زماني قَسم بيانې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی فرمائي چې ټول انسانان په تاوان کښې دي . ددې نقصان نه صرف هغه کسان بچ دي چې ايمان ئې راوړې وي، نيک عملونه کوي، خپل منځ کښې يوبل ته د حق خبري کوي په مصيبتونو باندې صبر کوي او په نکۍ باندې ټينګ وي.

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ
زۀ پناه غواړم په الله سره د شيطان رټلي شوي نه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ○
خاص د الله په نوم سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکښې دی

وَالْعَصْرِ ۙ۰۰۱ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِيْ خُسْرٍ ۙ۰۰۲ اِلَّا الَّذِيْنَ
قسم دی په (تيزۍ سره تيره شوې) زمانه۔ چې بېشکه يقينًا انسان په زيان (او تاوان) کښې دی غير د هغو کسانو نه
اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ ۙ۱ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ۰۰۳
چې ايمان ئې راوړی دی او نيك عملونه ئې کړې دي او يو بل ته ئې د حق (دين) وصيت کړی دی، او يو بل ته ئې د صبر وصيت کړی دی۔

## اهمې نکتې

# دعلم او عمل خبرې

۱ - زمونږه ژوندډيرپۀ تيزئ سره تيرېږي. (سُوْرَةُ العَصر،آيت: ۱)

۲ - وخت د انسان ډيرقيمتي دولت دے. (سُوْرَةُ العَصر،آيت: ۱)

۳ - مونږله د وخت قدرکول پکاردي اودا پۀ فضول کارونوکښې ضائع نه کړو. (سُوْرَةُ العَصر،آيات: ۲،۱)

۴ - د وخت ضائع کونکي پۀ دنيااوآخرت کښې ناکام دي. (سُوْرَةُ العَصر،آيات: ۲،۱)

۵ - دآخرت د نقصان نه د بچيدلودپاره ايمان،نيک عمل،د حق بيان اوپۀ مشکلاتوباندې صبرکول ضروري دي. (سُوْرَةُ العَصر،آيت: ۳)

۶ - که چرته پۀ يوکس کښې ريشتوني ايمان موجودوي،نودد ې عمل هم نيک وي. (سُوْرَةُ العَصر،آيت: ۳)

۷ - د آخرت د نقصان نه د بچيدلودپاره د انسان پۀ خپله نيک کښېدل کافي نه دي. (سُوْرَةُ العَصر،آيت: ۳)

۸ - د حق  خبرې پۀ دعوت ورکولوباندې مشکلات خامخا راځي. (سُوْرَةُ العَصر،آيت: ۳)

۹ - مونږله پۀ مشکلاتوکښې د همت بيالولوپۀ ځائے صبرکول پکاردي. (سُوْرَةُ العَصر،آيت: ۳)

۱۰ - نورولره د جهنم د اورنه دبچيدلودپاره د حق خبرې دعوت اوتبليغ پۀ هرمسلمان باندې لازم دے. (سُوْرَةُ العَصر،آيت: ۳)

## ځان پرې پوهه کړئ اوحل ئې کړئ

**سوال ۱**: پۀ صحيح جواب باندې صحيح نشان (✓) ولګوئ:

(۱) پۀ دې سورت کښې د چاه قَسم ذکرشوے دے؟

(الف) قيامت    (ب) قرآنِ حکيم    (ج) زمانه

(۲) پۀ دې سورت کښې د نقصان نه څه شے مراد دے؟

الف) د دنیانقصان ب) د دنیااوآخرت نقصان ج) د زان اومال نقصان

**۳)** پهٔ آخرت کښې د نقصان نه د بچیدلوڅومره شرطونه دي ؟

الف) څلور۴ ب) دري۳ ج) دوه۲

**۴)** د ریښتوني ایمان درجه څه ده؟

الف) ښه کور ب) ښه عملونه ج) ښې جامې

**۵)** ددې سورت پهٔ رڼړا کښې مونږله د حق نصیحت اود صبرتلقین څرنګه کول پکاردې؟

الف) ځانله ځانله ب) کله کله ج)پهٔ اتفاق کول

**سوال ۲** دلاندې ورکړلےشووالفاظو مطابق ددېنه د متعلقه آیاتونونمبري اولیکئ۔

| | |
|---|---|
| آیت نمبر۱ | ټول انسانان پهٔ تاوان کښې دي |
| آیت نمبر۲ | ایمان ،نیک عمل حق، اود صبرنصیحت |
| آیت نمبر۳ | پهٔ تیزی، سره تېریدونکې زمانه |

ال ۳: د لاندې لیکلي شوو سوالونو مختصرجوابونه ورکړئ:

.قسم ولې خوړلے شي؟

.الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د ټولو انسانانو دپاره کومه خبره بیان کړې ده؟

.د آخرت د نقصان نه د بچیدلو دپاره کوم امورضروري دي؟

.د ایمان اونیک عمل سره مونږته زیاتي د کومو خبروحکم شوے دے؟

.صبرچاته وایي؟



کورنۍ هله زله

.د نجات دپاره ضروري څلوروکارونولره په ښه خوشخطۍ سره په چاټ باندې اولیکئ اورنګ ئي کړئ۔

.د صحابه کِرامو رضی الله عنهم د سیرت دوه مثالونه اولیکئ چې هغوئ د نیکئ په لاره باندې د روانومشکلاتومقابله کړې وه۔

۳- پۀ خپله کافۍ کښې لاندې ليکلي شوي سوالونه اوليکئ د خپلو دوستانونه انټروي واخلئ.

| سوالونه | جوابونه |
|---|---|
| ۱ .خپـل فـارغ وختونـه تاسـو څرنګه اسـتعمالوئ؟ | |
| ۲ .آياتاسـود خپـل جيـب پـۀ خرچـه بانـدې د يوغريـب مـدد کوئ؟ | |
| ۳ .آياتاسـو خپـل ګاونـډي پـۀ خپلـه خـه خوشـحالۍ کښـې شـريک کـوئ؟ | |
| ۴ .آياتاسوخپلي جامي اوپيزارچي استعمال شـوي نـۀ وي يوضـرورت منـد تـه ورکـوئ؟ | |

| | |
|---|---|
| ۵ ـ پـهٔ تيره شـوي هفتـه کښـې تاسـوخومره دوسـتانواوخپلوانوته د نيکـۍ دعـوت ورکـــــــــــــــــــــــــــــــړےدے؟ | |

د استادلاس ليک سره دتاريخ: ــــــــــ . .                د موروپلارلاس ليک سره د تاريخ: ـــــــــــــ .

# سُوۡرَةُ الۡهُمَزَة

سبق: ۳۴

(سورت نمبر: ۱۰۴، ټولي رکوعګاني: ۱، ټول آياتونه: ۹)

شانِ نزول اوپيژندګلو: دا سورت پهٔ حضرت نبي کريم ﷺ باندې د مکي ژوندپهٔ درميانه دورکښې نازل شوےدےپهٔ دې سورت کښې د کافرانود مکي د رويّي ذکرشوےدےد آخرت نه د غافل اود دنياد محبت کونکي انسان حالت پکښې بيان شوےدےداسې کس د نوروعيبونه ښکاره کوي اومخامخ هم اعتراض کوي د امال شميري اوجمعه کوي اود مال نه اميدونه کوي دا سې کس به الله سُبۡحَانَهُ وَتَعَالٰی پهٔ اورکښې اوغورځوي داسې اورچې زړهٔ ته به رسيږي .

اَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ
زهٔ پناه غواړم پهٔ الله سره د شيطان رټلي شوي نه

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ○
خاص د الله پهٔ نوم سره (شروع کوم) چې ډېرزيات مهربان، بې حده رحم کوونکې دی

وَيۡلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةِۣ ۰۰۱ الَّذِيۡ جَمَعَ مَالًا
هلاکت دی د هر هغه کس دپاره چې (مخامخ) عيب لګونکےوي (او پيشې شاه) عيب راوستونکےوي هغه چې مال ئې جمع کړی دی
وَّعَدَّدَهٗ ۰۰۲ يَحۡسَبُ اَنَّ مَالَهٗۤ اَخۡلَدَهٗ ۰۰۳
او دغه ئې بيا بيا شميرلې (او ذخيره کړی) دی دی خيال کوي چې بېشکه د دهٔ مال به دی تل ژوندی وساتي؟
كَلَّا لَيُنۡۢبَذَنَّ فِي الۡحُطَمَةِ ۰۰۴
(داسې) هيڅکله نشي کېدی، دی به خامخا ضرورپهٔ حطمه (ماتوونکي او سوځوونکي دوزخ) کې وغورځول شي

وَمَـــــــــــــا اَدْرٰىـــــــــــــــكَ مَـــــــــــــــــا الْحُطَمَــــــــــــــةُ۝۰۰۵ۭ

او تــــــــه څــــه شـــي پـــوه کـــړي چـــي مـــاتوونکي او ســـوځوونکي څــه شـــي دی؟

نَـــارُ اللّٰهِ الْمُوْقَــــدَةُ۝۰۰۶ۙ الَّتِـــيْ تَطَّلِعُعَلَـــى الْاَفْـــــِٕدَةِ۝۰۰۷ۭ اِنَّهَـــا عَلَـــيْهِمْ مُّؤْصَـــدَةٌ۝۰۰۸ۙ

(دا) د الله بل کړی شوی اور دی. هغه چي په زړونو راخېژي (او غالب کېږي) بېشکه دغه (اور) به پۀ دوی باندي (د هر اړخه) رابند کړی شوی وي

فِـــــيْ عَمَـــــدٍ مُّمَـــــــدَّدَةٍ۝۰۰۹ۧ

پـــه اوږدو (رابنـــــکلی شـــویو) ســـتنو کـــي

## دعلم او عمل خبري

۱ـ مونږلره د نورو عیبونه راويستل نه دي پکار ـ (سُوْرَةِ الهمزة ،آيت: ۱)

۲ـ مونږلره د چاه پۀ بدی باندي مخامخ اعتراض نه دي کول پکار ـ (سُوْرَةِ الهمزة ،آيت: ۱)

۳ـ مونږلره د نورو پۀ زائے باندي خپل عیبونه تلاش کول پکاردي د خپل زان اصلاح کول پکاردي ـ (سُوْرَةِ الهمزة ،آيت: ۱)

۴ـ مونږ لره د نورو ذکر پۀ ښو الفاظو سره کول پکاردي ـ (سُوْرَةِ الهمزة ،آيت: ۱)

۵. مونږلره د نوروخلقوسره په ښواخلاق سره پېښېدل پکاردي. (سُوْرَةَ الهمزة ،آيت: ۱)

۶. په نوروعیبونه لګول ، اعتراضونه کول مال شمیرل د آخرت نه د غافل انسان نشاني دي. (سُوْرَةَ الهمزة ،آيات: ۱نه۴)

۷. الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د مال سره محبت کولوواﻻ نه ښوښه وي. (سُوْرَةَ الهمزة ،آيات: ۲نه تر۴)

۸. د انسان شرافت د مال اودولت په ځائے د ښواخلاق اوکردارد وجې نه وي. (سُوْرَةَ الهمزة ،آيت: ۳)

۹. د دوزخ اوربل کړےشوےدےچې ډیرسخت دے. (سُوْرَةَ الهمزة ،آيت: ۲)

۱۰. د آخرےت نه غفلت اود مال سره د محبت انجام د دوزخ سخت بل کړلےشوےاوردے. (سُوْرَةَ الهمزة ،آيت: ۷نه تر۹)

## ځان پرې پوهه کړئ اوحل ئې کړئ

سوال ۱: په صحیح جواب باندې صحیح نشان (✓) ولګوئ:

(۱) د وَيْلٌ څه معنیٰ ده؟

(الف) غیبت (ب) زیرے (ج) هلاکت

(۲) د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی اورترکومې رسیږي؟

(الف) مخونه (ب) زړونه (ج) د ماغ

(۳) د حُطَمَة نه څه مراد ده؟

(الف) د جهنم ګرم سورے (ب) د جهنم خوټکېنېدلې اوبه (ج) بل کړلےشوےاور

(۴) په دې سورت د کوم کس ذکردے؟

(الف) نیک (ب) د آخرت نه غافل (ج) د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی محبوب

(۵) په دې سورت کښې د اوګدوستنونه څه شےمراددې؟

(الف) د دوزخ کنده (ب) د جهنم اور (ج) د جهنم ابادې(عمارت)

**سوال ۲ دلاندې ورکړلے شوو الفاظو مطابق ددېنه د متعلقه آياتونو نمبرې اوليکئ.**

| | |
|---|---|
| د اوګدو اوګدو ستنو والا اور | |
| زړونو ته رسيدلو والا اور | |
| د عيب لټولو او مخامخ اعتراض کولو والا | |
| د مال جمعه کونکے | |
| د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ بل کړلے شوے اور کړلے شوے | |

**سوال ۳: د لاندې ليکلې شوو سوالونو مختصر جوابونه ورکړئ:**

۱. په دې سورت کښې د انسان د کومو بديانو ذکر دے ؟

---

۲- د دوزخ د اورکوم کيفيات بيان شوي دي ؟

---

---

۳- په دې سورت کښې د مال په باره کښې د انسان څه طرزِ عمل بيان شوے دے ؟

---

---

۴- د مال د محبت کولو نه څه نتيجه راوځي ؟

۵- د جهنم اور ترکومي پورې رسېږي ؟



## کورنۍ هله زله

. د اور منظرجوړکړئ د هغه بدیانونشاندهي وکړئ چې دده هیبتناکه نتیجه د دوزخ اوربنودلي ده.

۲. د مال مینه به څرنګه ختمه شي دري۳اولیکئ.

. پهٔخپلوغلطیانوباندې بهٔد نورونه معافي څرنګه غوښتلے شي؟د خپلودوستانوسره یوزائے د لاندې ورکړلې شوي مثال مشق وکړئ.

معافي به څرنګه غواړې؟

زهٔ شرمنده یم اوستاسونه معافي غواړم/دامنم چې
ماتاسوته تکلیف رسولے دے. برائےمهرباني
تاسومامعاف کړئ. زهٔ به آئنده داسې نهٔ کوم. انشاءالله

د استادلاس ليک سره دتاريخ:___________ . . . د مورپلارلاس ليک سره د تاريخ :___________ . .

# سبق: ۲ قصه د حضرت ابراهيم (عليه السلام)

## د حضرت ابراهيم (عليه السلام) مقام اومرتبه

حضرت ابراهيم (عليه السلام) د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی عظيم نبي وو، الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی ديته د ماشوموالي نه ددۀ د شان موافق کامل بصيرت اوهدايت ورکړےوو، الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د حضرت ابراهيم (عليه السلام) نه لوي لوي امتحانونه واخستل او ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام پۀ هرامتحان کښې کامياب شو، حضرت ابراهيم (عليه السلام) ته الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دري ۳ خصوصي نسبتونه ورکړي وو الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی حضرت ابراهيم (عليه السلام) لره خپل دوست يعني خليل الله جوړکړو حضرت ابراهيم (عليه السلام) ئې د ټولو انسانانو لارښود يعني د امام الناس مقام ورکړواو د حضرت ابراهيم (عليه السلام) نه روسته چې څومره انبياءِ کِروم عَلَيْهِم السَّلَام دنياته راغلي دي دا ټول د حضرت ابراهم (عليه السلام) د اولاد نه دي ددې وجې نه د حضرت ابراهيم (عليه السلام) يواعزاز (ابوالانبياء) هم دے.

## ۱. د حضرت ابراهيم (عليه السلام) آزرته د توحيد دعوت

حضرت ابراهيم (عليه السلام) د يو الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د محبت کولووالا اود بُتانونه د نفرت کولووالا وو ـ د حضرت ابراهيم (عليه السلام) سخت کوشش ووچې د خپل کوروالا د بُتانو دعبادت نه منعه کړم او دوئ دالله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی عبادت اړخ ته مائله کړم ددې وجې نه حضرت ابراهيم (عليه السلام) د ټولونه مخکښې اول د خپل کورنه د حق د دعوت شروع اوکړله آزرته ئې د توحيد دعوت ورکړوچې هغه بُت جوړکړےوواود هغه تعظيم به ئې کولود مفسرينود يورائے مطابق آزرد حضرت ابراهيم (عليه السلام) د پلارنوم ووځني مؤورِّخين ليکي چې د حضرت ابراهيم (عليه السلام) د پلارنوم تارخ وواود هغه لقب آزروو چې کله د مفسِّرين ديوجماعت مطابق د حضرت ابراهيم (عليه السلام) د پلارنوم تارخ شو، نودا د الله د توحيد قائل وواود تره نوم ئې آزروو چې پۀ شرک کښې مبتلاوواوتره ته پۀ عربۍ محاوره کښې پلارويل عام دي ـ حضرت ابراهيم (عليه السلام) آزرپوهه کړوچې نۀ خودا بُت زمونږ خبره

اوریدلے شي اونۀ زمونږد آوازجواب راکولے شي نۀ مونږته فائده رسولے شي اونۀ زمونږنه نقصان دفعه کولے شي مونږلره صرف د یو الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی عبادت کول پکاردي آزر د حضرت ابراهیم (عليه السلام) خبره نۀ منله او ابراهیم (عليه السلام) ته ئې د رجم (یعني پۀ کاڼوو ژل) کولو دهمکي ورکړه اوبالآخرئې د کورنه ویستلو حضرت ابراهیم (عليه السلام) د آزرسره وعده اوکړه چې زۀ به ستاد پاره د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی نه دعاغواړم لیکن چې کله پۀ حضرت ابراهیم (عليه السلام) باندې دا خبره واضحه شوه چې آزرد الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دشمن دے اود شرک پرېښودلوته پۀ هیڅ صورت تیارنۀ دے،نو حضرت ابراهیم (عليه السلام) د آزرسره د تعلق ختمولـــــــــــــــــــــــــــــــو اعلان وکـــــــــــــــــــــــــــــــړو .

## ۲ . د حضـــــــرت ابـــــــراهیم (عليه السلام) خپـــــــل قـــــــام تـــــــه د توحیـــــــد دعـــــــوت

د حضرت ابراهیم (عليه السلام) قام مشرک وود بُتانوسره به ئې د لمرسپوږمۍ اوستوروهم عبادت کولو حضرت ابراهیم (عليه السلام) ددوئ پۀ حرکتونوباندې فکرمندۀو حضرت ابراهیم (عليه السلام) اراده اوکړله چې د خپل قام د دروغود معبودانوحقیقت به خامخا ښکاره کوم اود حقیقي معبودالله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی پیژندل به ورته خامخا کوم یو شپه حضرت ابراهیم (عليه السلام) د قام د پوهې دپاره یوروښانه ستورےته وکتل او وې فرمایېل چې آیادازمارب دے؟ لګ روسته ستورے پټ شو،نو حضرت ابراهیم (عليه السلام) اوفرمائل چې زۀ د پټیدونکوسره محبت نه کوم لګ روسته سپوږمۍ راوختله ،نو حضرت ابراهیم (عليه السلام) قام ته اوفرمائل چې آیادا سپوږمۍ زمارب دے ؟ لګ روسته پټه شوه حضرت ابراهیم (عليه السلام) اوفرمایېل که چرته زمارب ماته هدایت نه وے کړے ،نوزۀ به د خطا روانونه وے،بیاچې کله لمر راوختلو،نو حضرت ابراهیم (عليه السلام) قام پوهه کولوچې آیادا لمرزمارب دے؟چې د ټولونه غټ دے لیکن چې کله لمرپریوتلو،نو حضرت ابراهیم (عليه السلام) قام ته واضحه کړله چې دا ستوري سپوږمۍ اولمررب نه شي کېدلے رب هغه دےچې هغه دا اوټول کائنات جوړکړےدےدې وجې نه زۀ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی خپل رب اوخالق منم د هرقِسم شرک نه مخ اړوم صرف هغې اړخ ته خپل مخ ګرزوم اوزۀ د مشرکانو نه ،نۀ یم

## ۳ ـــــــ د حضـــــــرت ابـــــــراهیم (عليه السلام) بتـــــــانولره مـــــــاتول

د حضرت ابراهیم (عليه السلام) قام د بتانوعبادت هم کولوهغوئ د بتانو یوه غټه بت خانه جوړکړې وه چې پۀ دې کښې به ډېر بتان پراته ؤوقام به پۀ ډېراحترام سره ددې بتانوعبادت کولویوه ورځ ټول قام د جشن مناوولودپاره د ښارنه بهر لاړل ،نو حضرت ابراهیم (عليه السلام) پۀ قام باندې د بتانود بےوسۍ ښکاره کولو دپاره یوزبردست تدبیراوکړو حضرت ابراهیم (عليه السلام)

يو تبرګے واخستلو او بُت خاني ته لاړلو ، ابراهيم عَلَيهِ السَّلَام چې وکتل چې د بتانو مخي ته د خوراک څښاک څيزونه پراته دي،نو حضرت ابراهيم (عليه السلام) بُتان مخاطب کړل او ورته وي فرمايېل چې تاسو ولي خوراک نۀ کوئ؟او تاسو خبرې ولي نۀ کوئ؟ بيا حضرت ابراهيم (عليه السلام) تبرګے رواخستلو او ټولونه چې کوم غټ بُت وو هغه ئې پرېښوده باقي ټول بُتان ئې مات کړل ـ حضرت ابراهيم (عليه السلام) دغه بلکل روغ سلامت پرېښودلو او تبرګے ئې هم د هغه پۀ اوګه کښېښودلو چې کله قام د جشن نه واپس شو او دوئ د خپلو بُتانو حالت وليدلو ،نو دوئ پۀ غوصي سره تپوس اوکړو چې چا زمونږ بُتانو سره دا سلوک کړے دے؟خلقو وويل چې يو ځوان دے چې هغه ته ابراهيم ابراهيم وائي هغه زمونږ پۀ بُتانو پسي خبري کوي خامخا دا کار هغۀ کړے دے هغو حضرت ابراهيم (عليه السلام) د خلقو مخي ته راوستلو او تپوس ئې ترينه اوکړو چې آيا تا زمونږ بُتانو سره دا حال کړے دے؟ حضرت ابراهيم (عليه السلام) دهغوئ د شرمولو دپاره وويل چې دي غټ بُت دا کار کړے دے دي پۀ اوګه باندې تبرګے هم دے يا د دې بُتانو نه تپوس وکړئ چې د دې سره دا کار چا کړے دے ؟قام وويل چې دا بُت خو خبرې نۀ شې کولے حضرت ابراهيم (عليه السلام) د دې موقع پۀ انتظار کښې وو حضرت ابراهيم (عليه السلام) او فرمائل چې افسوس دے پۀ تاسو باندي او پۀ دې بُتانو چې تاسو د دې عبادت کوئ چې نۀ خبري کولے شي او نۀ نقصان رسولے شي قام ته د بُتانو بےوسئ احساس خو شو ليکن دوئ بيا هم دا خبره طے کړه چې د خپلو بُتانو طرفداري به کوي او حضرت ابراهيم (عليه السلام) ته به سخته سزا ورکوي ـ (معاذالله)

## ۴ ـ حضرت ابراهيم (عليه السلام) د نمرود پۀ دربار کښې

نمرود پۀ دې وخت کښې د عراق بادشاه وو او خپل زان ته به ئې خدائي ويلو خلقو به دۀ عبادت کولو چې کله دۀ ته معلومه شوه چې حضرت ابراهيم (عليه السلام) دا خدائي نۀ مني ،نو حضرت ابراهيم (عليه السلام) ئې د پلار سره دربار ته راوغوښتو او تپوس ئې تري اوکړو چې ستا اِله څوک دے ؟حضرت ابراهيم (عليه السلام) پۀ جواب کښې اوفرمايېل چې الله سُبۡحَانَهُ وَتَعَالٰی چې ژوندي کول اومړه کول کوي،نمرود اوويېل چې دا خوزۀ هم کوم پۀ دوئ کښې چې چا ته د مرګ سزا اوروکي شوي وه ،نو هغه ئې پرېښودو او يو بے ګناه کس ئې مړکړو چې کله حضرت ابراهيم (عليه السلام) دا معامله وليدله ،نو وي فرمايېل چې زما رب هغه دے چې لمر مشرق نه راخيژوي که ته اِله ئې نو د مغرب نه ئې راوخيژوه پۀ دې باندې کافر حيران او فريشانه شو او خوله ئې بنده شوه ـ

## ۵ ـ حضرت ابراهيم (عليه السلام) او د نمرود بادشاه اور

د نمرود پۀ حکم باندې د حضرت ابراهيم (عليه السلام) د سزا دپاره يو ډېر لوي اور بل کړے شو او چې کله د اور لمبي ډېري اوچتي شوي ،نو دوئ حضرت ابراهيم (عليه السلام) پۀ دې اور کښې اوغورزولو د بُت پرستو دا خيال وو چې حضرت ابراهيم (عليه السلام) به پۀ

ځولمحوکښې اوسوزولےشي الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی اورته حکم اوکړوچې اےاوره!يخ شه اوپهٔ **حضرت ابراهيم** (عليه السلام) باندې سلامتی والا شه بيادغه اورپهٔ **حضرت ابراهيم** (عليه السلام) باندې د سلامتی والا شوا والله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی **حضرت ابراهيم** (عليه السلام) ددې تکليف نه محفوظ کړو .

## ٦ .د حضرت ابراهيم (عليه السلام) هجرت

چې کله **حضرت ابراهيم** (عليه السلام) دقام ضداوپهٔ کفرباندې ټينګيدل وليدل ،نود الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د رضادپاره ئې شام وفلسطين اومصرارخ ته د هجرت اراده وکړه د **حضرت ابراهيم** (عليه السلام) سره د **حضرت ابراهيم** (عليه السلام) بي بي حضرت ساره رضی الله عنها اود **حضرت ابراهيم** (عليه السلام) وراره **حضرت لوط** (عليه السلام) هم ؤو .د **حضرت لوط** (عليه السلام) د پلارنوم هاران ؤو الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی **حضرت لوط** (عليه السلام) د اردن علاقوعَموره اوسَدوم ارخ ته رسول لېږلےوو چې کله **حضرت ابراهيم** (عليه السلام) مصرته ورسيلو ،نوهلته د مصردباشاه لور د حضرت هاجره رضی الله عنها سره د **حضرت ابراهيم** (عليه السلام) واده اوشو .

## ٧ .د حضرت ابراهيم (عليه السلام) پهٔ کورکښې د حضرت اسماعيل (عليه السلام) پيدائش اود الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د ارخه امتحان

الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی **حضرت ابراهيم** (عليه السلام) ته پهٔ بوډاوالي کښې **حضرت اسماعيل** (عليه السلام) ورکړودا د **حضرت ابراهيم** (عليه السلام) اولنےځوي وو د **حضرت ابراهيم** (عليه السلام) د **حضرت اسماعيل** (عليه السلام) سره ډيرمينه اومحبت وو .الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی پهٔ **حضرت ابراهيم** (عليه السلام) باندې امتحان کولو اوحکم ئې ورته وکړوچې خپله بي بي حضرت هاجره رضی الله عنها اوخپل ماشوم بچے **حضرت اسماعيل** (عليه السلام) پهٔ يوبےفصله اوشاړه ځمکه يعني پهٔ مکه کښې پريږده **حضرت ابراهيم** (عليه السلام) د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د حکم تعبداري اوکړه اوخپله بي بي اوبچےئې پهٔ مکه مکرمه خانه کعبه کښې پرېښودلو **حضرت ابراهيم** (عليه السلام) **حضرت هاجره رضی الله عنها** ته څه لګي کهجوري اواوبه ورکړي اوواپس شو حضرت هاجره رضی الله عنهاپهٔ **حضرت ابراهيم** (عليه السلام) پسې روسته راغله اوورته وي ويل چې(تاسو) مونږدلته پهٔ دې کنده کښې چاته پريږدئ پهٔ کنده کښې نه څوک اوسيږي اونهٔ څه د خوراک څښکاک څيزشته حضرت هاجره رضی الله عنهادا سوال څوځله اوکړوچې پهٔ دې باندې **حضرت ابراهيم** (عليه السلام) خاموش وو . حضرت هاجره رضی الله عنهاتپوس وکړوچې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی درته دا حکم کړےدے ؟ **حضرت ابراهيم** (عليه السلام) اوفرمائل آو حضرت هاجره رضی الله عنها اوفرمائل چې بياصحيح ده الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی به مونږه نهٔ ضائع کوي اوواپس شو .

## ۸ .د عظیم بچي دپاره د عظیمې مور بې قراره کېدل

زرزراوبه اوکهجوري ختمي شوي حضرت اسماعيل (عليه السلام) د لوږي اوتندي نه بې ارامه ؤو حضرت هاجره رضی الله عنها بې قراره وه کله به د صفا غرته ختله اود لري پوري به ئي کتل چې شايد اوبه ياڅه قافله په نظراشي بيامخي موجود په دويم غرباندې به ختله اود دواړوغرونوپه منځ کښي به ئي منډي وهلي ددې دپاره چې حضرت اسماعيل (عليه السلام) ئي ډېرد نظرنه اونه اوځي دغه رنګي ددې غرونوپه منځ کښي اووه چکره ولږول الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی ته دا عمل دومره ښوښ شوچې دا د حج اوعمري رکن اوګرزيدلودې عمل ته سعی وائي .

## ۹ .د زم زم اوبه اود مکې د ښارآبادي

الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی په دغه ځاے کښي نزدې چې حضرت اسماعيل (عليه السلام) پروت وود اوبوچينه راونه کړه حضرت هاجره رضی الله عنها چې اوبه وليدلي ،نوډېره خوشحاله شوه اوپه دواړه لاسونوسره ئي اوبه بندولي اوفرمائل زم زم يعني اودريږه ،اودريږه .څه زمانه روسته يوي قبيلي بَنُوجُرْهُم اوبه وليدلي دغلته حصاره شوه اودغه رنګي د مکي ښارآبادشو

## ۱۰ .عظيم پلاراود بچي د ټولونه لويه قرباني

حضرت ابراهيم (عليه السلام) به کله کله د ملاقات دپاره مکي ته تشريف راوړلو چې کله حضرت اسماعيل (عليه السلام) غټ شواوپه کارونوکښي د خپل پلارسره دلاس د ښکنته کولوشو ،نوالله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی په حضرت ابراهيم (عليه السلام) باندې يوغټ امتحان اوکړو ،حضرت ابراهيم (عليه السلام) خوب ويني چې خپل يوبچے حضرت اسماعيل (عليه السلام) حلالوم د انبياءکِرام عَلَيْهِمِ السَّلَام خوب ريشتوني وي ،نو حضرت ابراهيم (عليه السلام) دا خوب حضرت اسماعيل (عليه السلام) ته بيان کړو اوتپوس ئي تري اوکړوچې ستاڅه خيال دے؟حضرت اسماعيل (عليه السلام) جواب ورکړوپلاره! چې د کومي خبري تاته حکم شوے دے په هغه باندې عمل اوکړه تاسوبه ماان شاءالله د صبرکونکونه بيامومې دواړه پلاراوزوي د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی حکم پوره کولوته تيارشو حضرت ابراهيم (عليه السلام) حضرت اسماعيل (عليه السلام) په تندي باندې څملولواوقرباني کولووالا شوچې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی آوزاوکړواے ابراهيم!تاخپل خوب ريشتوني کړود حضرت اسماعيل (عليه السلام) په ځاے يوګډ ددې په فديه کښي قربان شودا يولوي امتحان ووچې په ديکښي حضرت ابراهيم (عليه السلام) کامياب شومونږددې واقعه په يادکښي هرکال غټ اخترمناوه ؤواوقرباني کؤو .د حضرت ابراهيم (عليه السلام) او حضرت اسماعيل (عليه السلام) د خانه کعبې تعميرکولو په ځمکه باندې خانه کعبه اول کوردے چې د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د عبادت دپاره جوړشوےدے د حضرت نوح (عليه السلام) په قام

باندې د طوفان نه روسته د خانه کعبې صرف بنيادونه پاتې شوي ؤو ،حضرت ابراهيم (عليه السلام) او حضرت اسماعيل (عليه السلام) په دې بنيادونو باندې خانه کعبه دويم ځل جوړه کړه حضرت اسماعيل (عليه السلام) به د نزدې غرونو نه ګټې اوچتولې او حضرت ابراهيم (عليه السلام) به ددې ګټو نه د خانه کعبې آبادې کوله ددې سره سره دواړو د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى نه دعاغوښتله چې اے الله زمونږه دا کارقبول کړه بېشکه ته ده رخه اوريدلو والا اوپوهيدلو والا ئې اے الله !مونږه اوزمونږ د اولادنه يوجماعت خپل تعبدارجوړکړه اومونږته د خپل عبادت طريقې اوښايه اوپه مونږباندې (د خپل رحمت نه)توجّه اوکړه بېشکه ته ډېرتوبه قبلونکےئې اوبے حده رحمکولو والا ئې . ، (سُورَةَ البقره ۲،آيت:۱۲۸)

## ۱۲ د حج اواز

الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى ته حکم اوکړوچې زماسره هيڅ څوک مه شريک کوۀ زماکور د طواف کونکورکوع اوسجده کولو والا دپاره پاک صفاکړۀ زياتې دا هم اوېيل چې خلق د حج دپاره رااوبله ،نو حضرت ابراهيم (عليه السلام) په جبلِ ابي قبيس باندې اودريدلو د حج دپاره ئې اعلان وکړو ،نو د حضرت ابراهيم (عليه السلام) دا اوازهغه خلقوهم واوريدلوچې د پلارانوپۀ ملاګانوکښې ؤويا د ميندوپۀ رحمونوکښې ؤوتردې پورې چې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى د اووۀ۷سيندود ژوروالي پورې د حضرت ابراهيم (عليه السلام) آوازاورسولو نن هم د حضرت ابراهيم (عليه السلام) ددې آوازپۀ جواب کښې د ټولې دنيانه مسلمانان هرکال د حج دپاره رازي اوچې کوموخلقود حضرت ابراهيم (عليه السلام) پۀ آوازباندې څومره لبّيک ويلےوي هغومره به حج کوي .

## ۱۳ د حضرت ابراهيم (عليه السلام) کورته د ناشناميلمنوراتلل

يوه ورځ د حضرت ابراهيم (عليه السلام) کورته ناشناميلمانه راغلل دوئ حضرت ابراهيم (عليه السلام) ته سلام اوکړو حضرت ابراهيم (عليه السلام) د سلام جواب ورکړو ،حضرت ابراهيم (عليه السلام) د ميلمنودپاره خوراک راوړولېکن حضرت ابراهيم (عليه السلام) چې دا وليدلو ،نوويرېدلوچې ميلمانه خوراک اړخ ته لاس نه اوګدوي ميلمنود حضرت ابراهيم (عليه السلام) د وېرې لرې کښېدلودپاره ووېل چې مونږه انسانان نۀ يو بلکه ستاسود رب د اړخه رالېږلي شوي فرښتې يې وومونږه د حضرت لوط (عليه السلام) د قام د سزادپاره رالېږلي شوي يوددې سره ئې حضرت ابراهيم (عليه السلام) ته د يوبل ځوي حضرت اسحاق (عليه السلام) اونوسے حضرت يعقوب (عليه السلام) زيرےهم ورکړو د حضرت ابراهيم (عليه السلام) نه روسته چې څومره انبياء کرام عَلَيهم السّلَام راغلي دې ،نوهغه د حضرت ابراهيم (عليه السلام) د اولاد نه دې چې پۀ ديکښې اخري نبي حضرت سيدنامحمد مصطفىٰ (صلى الله عليه وسلم) دے چې پۀ دې باندې د نبوّت

سلسله ختمه شوي ده

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

زۀ پناه غوارم پۀ الله سره د شيطان رټلي شوي نه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ○

خاص د الله پۀ نوم سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکښې دی

وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ لِاَبِيْهِ اٰزَرَ اَتَتَّخِذُ اَصْنَامًا اٰلِهَةً ۚ اِنِّيْٓ اَرٰىكَ وَقَوْمَكَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ۰۰۷۴

او کله چې ابراهيم (عليه السلام) خپل پلار ازر ته ووېل: ايا ته بُتان معبودان نيسې؟ بېشکه زۀ تا او ستا قام پۀ ښکاره ګمراهۍ کې وينم

وَكَذٰلِكَ نُرِيْٓ اِبْرٰهِيْمَ مَلَكُوْتَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلِيَكُوْنَ مِنَ الْمُوْقِنِيْنَ ۰۰۷۵

او همدا رنګه مونږ او ښودله ابراهيم (عليه السلام) ته د اسمانونو او ځمکې بادشاهي او د دې دپاره چې هغه د يقين کوونکونه شي

فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ الَّيْلُ رَاٰ كَوْكَبًا ۚ قَالَ هٰذَا رَبِّيْ ۚ فَلَمَّآ اَفَلَ

يا کله چې پۀ هغه باندې شپه تياره شوه (، نو) يو ستورى ئې وليده، وئې ويل: دا زما رب دى؟ نو کله چې هغه پټ شو،

قَالَ لَآ اُحِبُّ الْاٰفِلِيْنَ ۰۰۷۶ فَلَمَّا رَاَ الْقَمَرَ بَازِغًا قَالَ هٰذَا رَبِّيْ ۚ

ابراهيم (عليه السلام) ووېل: زۀ پټېدونکي (غايبېدونکي) نه خوښوم ـ بيا کله چې ئې سپوږمۍ وليده، ځلېدونکې، وئې ويل: دا زما رب دى؟

فَلَمَّآ اَفَلَ قَالَ لَئِنْ لَّمْ يَهْدِنِيْ رَبِّيْ لَاَكُوْنَنَّ مِنَ الْقَوْمِ الضَّاۗلِّيْنَ ۰۰۷۷

نو کله چې هغه پرېوتله (، نو) وئې ويل: يقينًا که چېرې ما ته زما رب نېغه لار ونه ښيي (، نو) زۀ به خامخا له ګمراه خلقو نه شم

فَلَمَّا رَاَ الشَّمْسَ بَازِغَةً قَالَ هٰذَا رَبِّيْ هٰذَآ اَكْبَرُ ۚ فَلَمَّآ اَفَلَتْ

نو کله چې هغه لمر وليدلو، ځلېدونکې، وئې ويل: آيا دا زما رب دى؟ دا د ټولو لوى دى، نو کله چې هغه پرېوتله،

قَالَ يٰقَوْمِ اِنِّيْ بَرِيْۗءٌ مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ ۰۰۷۸ اِنِّيْ وَجَّهْتُ وَجْهِيَ

ابراهيم (عليه السلام) ووېل: اى زما قامه! بېشکه زۀ بېزاره يم د هغه څه نه چې تاسو ئې شريکان جوړوئ بېشکه ما اړولى دى خپل مخ

لِلَّذِيْ فَطَرَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ حَنِيْفًا وَّمَآ اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ۚ ۰۰۷۹ وَحَاۗجَّهٗ قَوْمُهٗ ۭ

هغه ذات ته چې اسمانونه او ځمکه ئې پيدا کړي دي، يو اځې پۀ حق پسې تلونکى يم او نه يم د مشرکانو نه او دَ هغه سره خپل قام جګړه وکړه،

قَالَ اَتُحَاۗجُّوْۗنِّيْ فِي اللّٰهِ وَقَدْ هَدٰىنِ ۭ وَلَآ اَخَافُ

ابراهيم (عليه السلام) و ويل: ايا تاسو زما سره د الله پۀ باره کې جګړه کوئ، حال دا چې هغه ما ته نېغه لار راښودلې ده، او زۀ د هغو شيانو نه نۀ وېرېږم

مَا تُشْرِكُوْنَ بِهٖۤ اِلَّاۤ اَنْ يَّشَآءَ رَبِّيْ شَيْـًٔا ؕ وَسِعَ رَبِّيْ كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا ؕ
چې تاسو ئې د هغه (الله) سره شريکان جوړوئ، مګر دا چې زما رب څه شی وغواړي، زما رب د علم په لحاظ سره هر شی راګېر کړی دی،
اَفَلَا تَتَذَكَّرُوْنَ ۰۰۸۰ وَكَيْفَ اَخَافُ مَاۤ اَشْرَكْتُمْ وَلَا تَخَافُوْنَ
ايا نو ولې تاسو نصيحت نه منئ او زهٔ د هغو څيزونو نه څنګه ووېرېږم چې تاسو (د الله سره) شريکان کړي دي، حال دا چې تاسو د دې نه نهٔ وېرېږئ
اَنَّكُمْ اَشْرَكْتُمْ بِاللّٰهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ عَلَيْكُمْ سُلْطٰنًا ؕ
چې بېشکه تاسو د الله سره هغه شی شريك کړی دی چې د هغه په باره کې ئې په تاسو باندې هېڅ دليل نه دی نازل کړی،
فَاَيُّ الْفَرِيْقَيْنِ اَحَقُّ بِالْاَمْنِ ۚ
نو په دواړو ډلو کې کومه يوه د امن (د عذاب نه د بچ کېدو) زيات حقداره ده؟
اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۰۰۸۱ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَمْ يَلْبِسُوْۤا اِيْمَانَهُمْ بِظُلْمٍ اُول
که چېرې تاسو پوهېږئ هغه کسان چې ايمان ئې راوړی دی او د خپل ايمان سره ئې ظلم نه دی ګډ کړی
ئِكَ لَهُمُ الْاَمْنُ
نو دغه کسان دي چې د همدوی د پاره (د عذاب نه) امن (بچاو) دی
وَهُمْ مُّهْتَدُوْنَ ۰۰۸۲ وَتِلْكَ حُجَّتُنَاۤ اٰتَيْنٰهَاۤ اِبْرٰهِيْمَ عَلٰى قَوْمِهٖ ؕ
او دغه کسان هدايت موندونکي دي او دا زمونږ دليل دی چې هغه مونږه ابراهيم (عَلَيْهِ السَّلَام) ته ورکړی وو د هغه د قام په مقابله کې،
نَرْفَعُ دَرَجٰتٍ مَّنْ نَّشَآءُ ؕ اِنَّ رَبَّكَ حَكِيْمٌ عَلِيْمٌ ۰۰۸۳
مونږ درجې اوچتوو چا لره چې مونږ وغواړو، بېشکه ستا رب، ښه حکمت والا، ښه پوه دی

## د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام مقام او مرتبه (سُوْرَةَ الانعام ۲، آيات: ۸۴ نه تر ۹۰)

وَوَهَبْنَا لَهٗۤ اِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ ؕ كُلًّا هَدَيْنَا ۚ
او مونږ هغه ته اسحٰق (عليه السلام) او يعقوب (عليه السلام) ورکړو، مونږ هر يو ته هدايت کړی وو،
وَنُوْحًا هَدَيْنَا مِنْ قَبْلُ وَمِنْ ذُرِّيَّتِهٖ
او د دهٔ نه مخکې نوح (عليه السلام) ته مونږ هدايت کړی و او د هغه په اولاد کې
دَاوٗدَ وَسُلَيْمٰنَ وَاَيُّوْبَ وَيُوْسُفَ وَمُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ؕ
داود (عليه السلام) او سليمان، (عليه السلام) او ايوب (عليه السلام) او يوسف (عليه السلام) او موسٰی (عليه السلام) او هارون (عليه السلام) ته (هم
وَكَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ۰۰۸۴ وَزَكَرِيَّا وَيَحْيٰى وَعِيْسٰى وَاِلْيَاسَ ؕ
او همدارنګه مونږ نېکي کوونکو ته بدله ورکوو او هدايت کړی و مونږ) زکريا (عليه السلام)، او يحيٰی (عليه السلام) او عيسٰی (عليه السلام) او الياس (عليه السلام) ته،)
كُلٌّ مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ۰۰۸۵ وَاِسْمٰعِيْلَ وَالْيَسَعَ وَيُوْنُسَ وَلُوْطًا ؕ
(دوی) هر يو د صالحانو نه دي وَ اِسْمٰعِيْلَ (عليه السلام) او الْيَسَعَ (عليه السلام) او يُوْنُسَ (عليه السلام) او لُوْطًا (عليه السلام) ؕ
وَكُلًّا فَضَّلْنَا عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ۰۰۸۶ وَمِنْ اٰبَآئِهِمْ
او (دوی) هر يو مونږه په ټولو مخلوقاتو باندې غوره کړي دي او (فضيلت مو ورکړی و) د دوی په پلرونو کې څېنو ته او

## اَهمي نُكتي

وَذُرِّيّٰتِهِمْ وَاِخْوَانِهِمْ ۚ وَاجْتَ ... ـهُمْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۰۰۸۷

د دوى پـهٔ اولاد كي او د دوى پـهٔ وروڼو كې ( ... كړي وو او مونږ هغوى ته د نېغې لارې هدايت كړى و

ذٰلِكَ هُدَى اللّٰهِ يَهْدِيْ بِـ ... مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ؕ

دغه د الله هدايت دى، پـهٔ دې سره هدايت كوي پـهٔ خپلو بنده ګانو كې چا ته چې وغواړي

وَلَوْ اَشْرَكُوْا لَحَبِطَ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۰۰۸۸

او كه چېرې دوى شرك كړى وَى (، نو) خامخا به د دوى نه ضايع شوي وو هغه عملونه چې دوى كول

أُولَٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ ۚ فَاِنْ يَّكْفُرْ بِهَا هٰٓؤُلَآءِ

دا هغه کسان دي چې دوی ته مونږ کتاب او حکم او نبوت ورکړی و، نو که دا خلق پهٔ دې سره کفر وکړي،

فَقَدْ وَكَّلْنَا بِهَا قَوْمًا لَّيْسُوْا بِهَا بِكٰفِرِيْنَ ٠٠٨٩

نو يقينًا مونږ د دې دپاره داسې خلق مقرر کړي دي چې پهٔ دې سره کفر کوونکی نه دي

أُولَٰٓئِكَ الَّذِيْنَ هَدَى اللّٰهُ فَبِهُدٰىهُمُ اقْتَدِهْ ۗ

دا هغه کسان دي چې الله ورته هدايت کړی دی، نو تهٔ د دوی د طريقې اتباع کوه،

قُلْ لَّآ اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا ۗ اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٰى لِلْعٰلَمِيْنَ ٠٠٩٠

تهٔ ووايه: زهٔ ستاسو نه پهٔ دې (تبليغ) باندې مزدوري نهٔ غواړم، نهٔ دی دا مګر د ټولو مخلوقاتو دپاره نصيحت

## دحضرت ابراهيم(عليه السلام) آزر اوخپل قوم ته د توحيد دعوت(سورة الشعراء۲۶،آيات: ۶۹نه تر۷۷)

وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَاَ اِبْرٰهِيْمَ ٠٠٦٩ اِذْ قَالَ لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖ مَا تَعْبُدُوْنَ ٠٠٧٠

او تاسو (صلی الله عليه وسلم) ولوله دوی ته د ابراهيم(عليه السلام) خبر (قصه) کله چې هغه خپل پلار او خپل قام ته وويل: تاسو د څه څيز عبادت کوئ

قَالُوْا نَعْبُدُ اَصْنَامًا فَنَظَلُّ لَهَا عٰكِفِيْنَ ٠٠٧١ قَالَ

هغوی وويل: مونږ د بُتانو عبادت کوو، پس همېشه به دوی ته پهٔ عبادت قايم اوسو-ابراهيم (عليه السلام) وويل:

هَلْ يَسْمَعُوْنَكُمْ اِذْ تَدْعُوْنَ ٠٠٧٢ اَوْ يَنْفَعُوْنَكُمْ اَوْ يَضُرُّوْنَ ٠٠٧٣ قَالُوْا

ايا دوی ستاسو اوري کله چې تاسو (دوی) بلئ؟-يا تاسو ته نفع دررسوي، يا ضرر دررسوي؟ هغوی وويل:

بَلْ وَجَدْنَا اٰبَآءَنَا كَذٰلِكَ يَفْعَلُوْنَ ٠٠٧٤

بلکې مونږ خپل پلرونه موندلي دي چې همداسې به ئې کول

قَالَ اَفَرَءَيْتُمْ مَّا كُنْتُمْ تَعْبُدُوْنَ ٠٠٧٥

ابراهيم (عليه السلام) وويل: ايا تاسو (ددې په حقيقت کښې)سوچ کړےدے (او پوهه شوي يئ پهٔ) هغه چې تاسو ئې عبادت کوئ

اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمُ الْاَقْدَمُوْنَ ٠٠٧٦ فَاِنَّهُمْ عَدُوٌّ لِّيْٓ اِلَّا رَبَّ الْعٰلَمِيْنَ ٠٠٧٧

تاسو او ستاسو پخوا تېر شوي پلرونه-پس بېشکه دوی (ستاسو معبودان) زما دښمنان دي غير د رب العلمين نه

## حضرت ابراهيم(عليه السلام) د توحيد اعلان (سورة الشعراء۲۶،آيات : ۷۸نه تر۸۲)

اَلَّذِيْ خَلَقَنِيْ فَهُوَ يَهْدِيْنِ ۙ ۰۰۷۸ وَالَّذِيْ هُ ... نِ ۙ ۰۰۷۹ وَاِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِيْنِ ۙ ۰۰۸۰

## اهمي نکتي

هغه چې زه ئې پیدا کړی یم، نو هغه زما لاربنودنه کوي او هغه چې ... ا ښنباك كوي او كله چې زه ناروغه شم، نو هغه ما ته شفا راكوي

وَالَّذِيْ يُمِيْتُنِيْ ثُمَّ يُحْيِيْنِ ۙ ۰۰۸۱ وَالَّذِيْ اَطْمَعُ اَنْ يَّغْفِرَ لِيْ خَطِيْٓـَٔتِيْ يَوْمَ الدِّيْنِ ۭ ۰۰۸۲

او هغه چې ما ته به مرګ راکوي، بیا به ما ژوندی کوي او هغه چې زه طمع لرم چې هغه به ما ته زما ګناه وبخښي دبدلے پۀ ورځ

## دحضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى نه دعاګاني (سُوْرَةَ الشعراء، ۲۲ آيتونه: ۸۳ نه تر ۸۸)

رَبِّ هَبْ لِيْ حُكْمًا وَّاَلْحِقْنِيْ بِالصّٰلِحِيْنَۙ ۰۰۸۳ وَاجْعَلْ لِّيْ لِسَانَ صِدْقٍ فِي الْاٰخِرِيْنَۙ ۰۰۸۴

اى زما ربه! ما ته حکم (علم وحکمت) راکړه او ما په نېکانو کښې شامل کړه او زما دپاره د رشتياؤ وو ژبه (نېکنامي) وګرځوه په وروستنو خلقو کې

وَاجْعَلْنِيْ مِنْ وَّرَثَةِ جَنَّةِ النَّعِيْمِۙ ۰۰۸۵ وَاغْفِرْ لِاَبِيْۤ اِنَّهٗ كَانَ مِنَ الضَّآلِّيْنَۙ ۰۰۸۶

او ما وګرځوه د نعمتونو د جنت د وارثانو نه او زما پلار ته بخښنه وکړه، يقينًا هغه د ګمراهانو نه و

وَلَا تُخْزِنِيْ يَوْمَ يُبْعَثُوْنَۙ ۰۰۸۷ يَوْمَ لَا يَنْفَعُ مَالٌ وَّلَا بَنُوْنَۙ ۰۰۸۸

او ته ما مه شرموه په هغې ورځ کې چې خلق به بيا ژوندي کولى شي په هغې ورځ چې نه به مال فائده رسوي او نه زامن

## د قيامت په ورځ د تعبدارو او نافرمانو انجام (سُوْرَةَ الشعراء ۲۲، آيتونه: ۸۹ نه تر ۱۰۴)

اِلَّا مَنْ اَتَى اللّٰهَ بِقَلْبٍ سَلِيْمٍؕ ۰۰۸۹ وَاُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِيْنَۙ ۰۰۹۰

مګر هغه چا ته چې الله ته راغى په ډېر روغ زړه او جنت به (په هغې ورځ کې) ورنزدې کړى شي پرهېزګارانو ته

وَبُرِّزَتِ الْجَحِيْمُ لِلْغٰوِيْنَۙ ۰۰۹۱ وَقِيْلَ لَهُمْ اَيْنَمَا كُنْتُمْ تَعْبُدُوْنَۙ ۰۰۹۲ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِؕ ۱

او جهنم به ښه ښکاره کړى شي ګمراهانو ته او دوى ته به وويل شي: چېرته دي هغه (معبودان) چې تاسو به ئي عبادت کاو د الله نه غير،

هَلْ يَنْصُرُوْنَكُمْ اَوْ يَنْتَصِرُوْنَؕ ۰۰۹۳ فَكُبْكِبُوْا فِيْهَا هُمْ وَالْغَاوٗنَۙ ۰۰۹۴ وَجُنُوْدُ اِبْلِيْسَ

ايا دوى ستاسو مدد کوي، يا دوى بدله اخيستى شي؟ نو دا (بُتان) به په دغه (جهنم) کې نسکور وغورځول شي دوى او ګمراهان هم او د ابليس لښکرې،

اَجْمَعُوْنَؕ ۰۰۹۵ قَالُوْا وَهُمْ فِيْهَا يَخْتَصِمُوْنَۙ ۰۰۹۶ تَاللّٰهِ اِنْ كُنَّا لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍۙ ۰۰۹۷

دوى ټول دوى به وواېي، په داسې حال کې چې دوى به په دې (دوزخ) کښې ديو بل سره جګړې کوي: قسم په الله! يقينًا مونږ خامخا په ښکاره ګمراهۍ کې وو

اِذْ نُسَوِّيْكُمْ بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۰۰۹۸ وَمَاۤ اَضَلَّنَاۤ اِلَّا الْمُجْرِمُوْنَ ۰۰۹۹ فَمَا لَنَا

کله چې مونږ تاسو د رب العلمين سره برابرولئ او مونږ نه وو ګمراه کړي مګر مجرمانو (بدو مشرانو) نو نشته (اوس) زمونږ لپاره

مِنْ شَافِعِيْنَۙ ٠٠١٠٠وَلَا صَدِيْقٍ حَمِيْمٍ ٠٠١٠١فَلَوْ اَنَّ لَنَا كَرَّةً

هيڅوك شفاعت كوونكي او نۀ كوم ګرم مخلص دوست نو ارمان كه پۀ رښتيا زمونږ دپاره يو ځل (دنيا ته) واپسي وى،

فَنَكُوْنَ مِنَ الْمُؤومِنِيْنَ٠٠١٠٢اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةًؕ١وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤومِنِيْنَ٠٠١٠٣

نو چې شوي وى مونږ د مومنانو نه بېشكه پۀ دې كې خامخا لويه نښه ده او د دوى نه زيات مومنان نۀ وو

وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ۠٠٠١٠٤

او بېشكه ستا رب، خامخا همغه ډېر غالب، بې حده رحم كوونكى دى

## د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام آزرته د توحيد دعوت (سُوْرَة الانبياء ٢١، آيتونه: ٥١نه تر ٥٧)

وَلَقَدْ اٰتَيْنَآ اِبْرٰهِيْمَرُشْدَهٗ مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا بِهٖ عٰلِمِيْنَۚ ٠٠٥١

او بېشكه مونږ (ابراهيم عليه السلام) ته د هغه هدايت له دې نه مخكې وركړې و او مونږ پۀ هغه باندې پوه وو

اِذْ قَالَ لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖمَا هٰذِهِ التَّمَاثِيْلُ الَّتِيْٓ اَنْتُمْ لَهَا عٰكِفُوْنَ٠٠٥٢

كله چې وويل ابراهيم (عليه السلام) خپل پلار او خپل قام ته: دا بُتان، څه شى دى هغه چې تاسو دوى ته پۀ عبادت ټينګ ناست يئ؟

قَالُوْا وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَالَهَا عٰبِدِيْنَ٠٠٥٣قَالَ لَقَدْ كُنْتُمْ اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُووكُمْ

هغوئ ووييل: مونږ خپل پلرونه موندلي دي دوى ته عبادت كوونكي ووېل (ابراهيم عليه السلام): يقينًا تاسو او ستاسو پلرونه

فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ٠٠٥٤ قَالُوْٓا اَجِئْتَنَا بِالْحَقِّاَمْ اَنْتَ مِنَ اللّٰعِبِيْنَ٠٠٥٥

پۀ ښكاره ګمراهۍ كې يئ هغوى ووېل: ايا تا مونږ ته حق راوړى دى، يا ته د لوبو كوونكو نه يې؟

قَالَ بَلْ رَّبُّكُمْرَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِالَّذِيْ فَطَرَهُنَّ١ۖ وَاَنَا عَلٰى ذٰلِكُمْ مِّنَ الشّٰهِدِيْنَ٠٠٥٦

ووېل (ابراهيم عليه السلام): بلكې ستاسو رب د اسمانونو او ځمكې رب دى هغه (رب) چې دغه ئې پيدا كړي دي او زۀ پۀ دې باندې له ګواهانو نه يم

وَتَاللّٰهِ لَاَكِيْدَنَّ اَصْنَامَكُمْبَعْدَ اَنْ تُوَلُّوْا مُدْبِرِيْنَ٠٠٥٧

او پۀ الله قسم دى چې خامخا به زۀ ستاسو د بُتانو سره يو چال كوم وروسته د دې چې تاسو وګرځئ شاكوونكي

## ابراهيم (عليه السلام)، پۀ بُت خانه كښې (سورة الانبياء ٢١، ايات: ٥٨نه تر ٦٧)

فَجَعَلَهُمْ جُذٰذًااِلَّا كَبِيْرًا لَّهُمْ لَعَلَّهُمْ اِلَيْهِ يَرْجِعُوْنَ٠٠٥٨

نو (ابراهيم عليه السلام) دغه (بُتان) ټوټې ټوټې كړل د هغو د لوى نه غير (چې هغه ئې پرېښود)، د دې دپاره چې هغوى همده ته رجوع وكړي

قَالُوْا مَنْ فَعَلَ هٰذَابِاٰلِهَتِنَآ اِنَّهٗ لَمِنَ الظّٰلِمِيْنَ٠٠٥٩

دوى ووېل: زمونږ ده معبودانو سره دا كار چا كړى دى، بېشكه دغه كس يقينًا د ظالمانو نه دى

قَالُوْا سَمِعْنَا فَتًى يَّذْكُرُهُمْ يُقَالُ لَهٗٓ اِبْرٰهِيْمُؕ٠٠٦٠

دوى ووېل: مونږ له يو زلمي نه اورېدلي وو، چې دوى به ئې (پۀ سپكه) يادول، هغه ته ابراهيم ويلى شي

قَالُوْا فَاْتُوْا بِهٖ عَلٰى اَعْيُنِ النَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَشْهَدُوْنَ ٠٠٦١ قَالُوْا

هغوى وويل: نو هغه راولئ،د خلقو د ستركوپهٔ وړاندې د دې دپاره چې هغوى (ئې ووينې او) ګواهې وكړې وئې ويل:

ءَاَنْتَ فَعَلْتَ هٰذَا بِاٰلِهَتِنَا يٰاِبْرٰهِيْمُ ٠٠٦٢

ايا تا زمونږ ده معبودانو سره دا كار كړې دى؟ اى ابراهيمه!

قَالَ بَلْ فَعَلَهٗ ۖ كَبِيْرُهُمْ هٰذَا فَسْـَٔلُوْهُمْ اِنْ كَانُوْا يَنْطِقُوْنَ ٠٠٦٣

(ابراهيم عليه السلام وويل): بلكې دا كار كړې دى، د دوى دې مشر (لوى بُت) نو تاسو ده دوى نه پوښتنه وكړئ كه دوى خبرې كوي

فَرَجَعُوْا اِلٰى اَنْفُسِهِمْ فَقَالُوْا اِنَّكُمْ اَنْتُمُ الظّٰلِمُوْنَ ٠٠٦٤

نو دوى خپلو نفسونو ته رجوع وكړه، بيا ئې وويل: بېشكه هم تاسو ظالمان يئ

ثُمَّ نُكِسُوْا عَلٰى رُءُوْسِهِمْ ۚ لَقَدْ عَلِمْتَ مَا هٰؤُلَاۤءِ يَنْطِقُوْنَ ٠٠٦٥

بيا (شرميدلي) دوى پهٔ خپلو سرونو نسكور كړى شول (وئې ويل:) يقينًا تهٔ پوه ئې چې دا (بُتان) خبرې نشي كولى

قَالَ اَفَتَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُكُمْ شَيْـًٔا

(ابراهيم عليه السلام وويل): ايا نو تاسو عبادت كوئ ده الله نه علاوه د هغه څه چې تاسو ته هيڅ نفع نشي رسولى

وَّلَا يَضُرُّكُمْ ٠٠٦٦ اُفٍّ لَّكُمْ وَلِمَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۭ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ٠٠٦٧

او نهٔ تاسو ته ضرر رسولى شي افسوس پهٔ تاسو او پهٔ هغو چې تاسوئې عبادت كوئ تاسو ده الله نه علاوه، ايا نو تاسو عقل نهٔ لرئ؟

حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام اود نمرود بادشاه اور (سُوْرَةَ الانبياء ۲۱ آيتونه: ۶۸ نه تر ۷۳)

قَالُوْا حَرِّقُوْهُ وَانْصُرُوْا اٰلِهَتَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ فٰعِلِيْنَ ٠٠٦٨ قُلْنَا يٰنَارُ

وئې ويل: دا وسوځوئ او د خپلو معبودانو مرسته وكړئ كه چېرې تاسو (څه) كوونكي يئ. مونږ (يعنى الله) وويل: اى اوره!

كُوْنِيْ بَرْدًا وَّسَلٰمًا عَلٰۤى اِبْرٰهِيْمَ ٠٠٦٩ وَاَرَادُوْا بِهٖ كَيْدًا

يخ او سلامتيا والا شه پهٔ (ابراهيم عليه السلام) باندې او دوى ده هغه سره د ضررناك مكر كولو اراده كړې وه،

فَجَعَلْنٰهُمُ الْاَخْسَرِيْنَ ٠٠٧٠ وَنَجَّيْنٰهُ وَلُوْطًا

نو مونږه هم دوى بې حده تاوانيان وګرځول او مونږ هغه ته (ابراهيم عليه السلام) او لوط (عليه السلام) ته نجات وركړو

اِلَى الْاَرْضِ الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا لِلْعٰلَمِيْنَ ٠٠٧١

د هغې ځمكې پهٔ اړخ چې مونږ پهٔ هغې كې د عالَمونو دپاره بركت اچولى دى

وَوَهَبْنَا لَهٗۤ اِسْحٰقَ ۭ وَيَعْقُوْبَ نَافِلَةً ۭ وَكُلًّا جَعَلْنَا صٰلِحِيْنَ ٠٠٧٢

او مونږ هغه ته (يعنى ابراهيم عليه السلام) اسحق (عليه السلام) وركړو او يعقوب (عليه السلام) زياتې، او مونږه (دغه) هريو نېكان ګرځولي دي

وَجَعَلْنٰهُمْ اَىِٕمَّةً يَّهْدُوْنَ بِاَمْرِنَا وَاَوْحَيْنَاۤ اِلَيْهِمْ فِعْلَ الْخَيْرٰتِ

او مونږه هغوى داسې امامان ګرځولي وو چې زمونږ پهٔ حكم سره به ئې لار ښودنه كوله او مونږ وحي كړې وه دوئ ته دوى ته د نېكۍ كولو

وَاِقَامَ الصَّلٰوةِ وَاِيْتَاۤءَ الزَّكٰوةِ ۚ وَكَانُوْا لَنَا عٰبِدِيْنَ ٠٠٧٣

او د مــونځ قـــايمولو او د زکـــات ورکولــــو وحــــي کـــړې وه او دوی خـــاص زمـــونږ عبـــادت کــــوونکي

## دعلم او عمل خبرې

۱ - مونږ لره د ټولونه مخکښې خپلو خلقوته دعوت ورکول پکاردي۔ (سُورَۃ الانعام، آیت: ۷۴)

۲ - د شرک یو وجه الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی نهٔ پيژندل ۔ (سُورَۃ الانعام، آیتونه: ۷۶ نه تر ۷۸)

۳ - لمر سپوږمۍ، ستوري او ټول کائنات الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی پيدا کړي دي مونږه لره خالص د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی عبادت کول پکاردي۔ (سُورَۃ الانعام، آیتونه: ۷۶ نه تر ۷۹)

۴ - پهٔ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی باندې ایمان راوړل د شرک نه بچ کښيدلو والا د امن او هدايت موندلو والا دي۔ (سُورَۃ الانعام، آیت: ۸۴)

۵ - د دروغو معبودان هيڅ فائده یا نقصان نشي رسولے ټول اختيارات د حقيقي معبود الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی سره دي۔ (سُورَۃ الشعراء، آیت: ۸۳)

۶ - د شرک يو غټه وجه داده چې د خپل کافرپلارنيکه پهٔ غلطو عقيدو کښې د هغوئ پيروي کول دي ۔ (سُورَۃ الشعراء، آیت: ۷۴)

۷ - الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی مونږه پيدا کړي وو هغه حقيقي او مستقل مونږته هدايت کړے دے او هغه پهٔ مونږ باندې خوراک کوي۔ (سُورَۃ الشعراء، آیتونه: ۷۸ نه تر ۷۹)

۸ - الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی حقيقي او مستقل ونږته پهٔ بيمارۍ کښې شفاء راکوي۔ (سُورَۃ الشعراء، آیت: ۸۰)

۹ - الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی زمونږ ګناهونو معاف کولو والا دے۔ (سُورَۃ الشعراء، آیت: ۸۲)

۱۰- د قیامت پهٔ ورځ به د کافرانو د پاره نهٔ څوک سفارشي وي او نهٔ څوک دوست پکار راځي۔ (سُوْرَةُ الشعراء، آیتونه: ۱۰۰ نه تر ۱۰۱)

## ځان پرې پوهه کړئ او حل ئې کړئ

**سوال ۱:** پهٔ صحیح جواب باندې صحیح نشان (✓) ولګوئ:

(۱) د حضرت ابراهیم (علیه السلام) قام به د چاه عبادت کولو؟

(الف) ځمکه، اسمان، اوغرونه (ب) لمر، سپوږمۍ، اوستوري (ج) پیران، فرښتي او روحونه

(۲) حضرت ابراهم (علیه السلام) کوم بادشاه ته د توحید دعوت ورکړے ؤوو؟

(الف) ذوالقرنین (ب) فرعون (ج) نمرود

(۳) چاه د ټولونه مخکښې د صفا او مروه پهٔ منځ کښې اووهٔ ۷ چکره لګولي دي؟

(الف) حضرت ساره رضی الله عنها (ب) حضرت هاجره رضی الله عنها (ج) حضرت مریم رضی الله عنها

(۴) د حضرت ابراهیم (علیه السلام) پهٔ کور کښې څوک ناشنا میلمانه راغلل؟

(الف) فرښتي (پیران) (ج) د مکي خلق

(۵) حضرت ابراهیم (علیه السلام) د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی پهٔ حکم باندې حضرت هاجره رضی الله عنها او حضرت اسماعیل (علیه السلام) چیرته پرېښول؟

(الف) فلسطین (ب) عراق (ج) مکّه

**سوال ۲:** د لاندې ورکړلے شوو جملو سره پهٔ جوړو شوو خانو کښې د قصي د ترتیب پهٔ لحاظ سره نمبري ورکړئ۔

۱ ـ حضرت ابراهيم (عليه السلام) د خپل قام د پوهه کولو د پاره بُتان مات کړل .

۲ ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی حضرت ابراهيم (عليه السلام) ته حکم اوکړو چې هغه حضرت اسماعيل (عليه السلام) قربان کړي .

۳ ـ حضرت ابراهيم (عليه السلام) د خپلې بي بي اونوسي سره شام فلسطين او مصر اړخ ته هجرت وکړو .

۴ ـ د حضرت ابراهيم (عليه السلام) کورته فرښتې په انساني شکل کښې د حضرت اسحاق (عليه السلام) د پيدائش د زيري د پاره راغلې وې .

۵ ـ آزر حضرت ابراهيم (عليه السلام) د بُتانو په عبادت نۀ کولو د کور نه ويستلو .

۶ ـ حضرت ابراهيم (عليه السلام) د خانه کعبې حج کولو د پاره خلقو ته دعوت ورکړو .

۷ ـ حضرت ابراهيم (عليه السلام) ته الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د حضرت اسماعيل (عليه السلام) پشان تعبدارځوي ورکړے ؤووو .

۸ ـ حضرت ابراهيم (عليه السلام) آزرته د توحيد دعوت ورکړے ؤوو .

۹ ـ حضرت ابراهيم (عليه السلام) قام اورته غورزولے ؤوو .

۱۰ ـ حضرت ابراهيم (عليه السلام) او حضرت اسماعيل (عليه السلام) په شريکه د اول نه په دغه بنياد ونو باندې خانه کعبه جوړه کړله .

سوال ۳: د لاندې ليکلي شوو سوالونو مختصر جوابونه ورکړئ:

۱ ـ مونږ لره د دعوت د کار شروع د کوم ځاے نه کول پکار دي؟

۲ ـ د حضرت ابراهيم (عليه السلام) په اور کښې د غورزيدلو څه نتيجه راووتله؟

۳ ـ حضرت ابراهيم (عليه السلام) بُتان ولې مات کړل ؟

۴- حضرت ابراهیم (علیه السلام) څنګه خوب لیدلےؤوو؟

۵- حضرت ابراهیم (علیه السلام) ته څه لقبونه ورکړےشوي ؤو؟

۱. سُوۡرَۃ ابراهیم۱۴،آیاتونه: ۴۰،او ۴۱کښې د حضرت ابراهیم (علیه السلام) د دعاترجمه پۀ خوشخطئ سره پۀ چاټ باندې اولیکئ اوزبـــــــــــاني یــــــــــــاد کــــــــــــړئ.

۲. د حضـرت ابـراهیم (علیه السلام) سـره متعلـق مختلـف مقامـات مثلًـا د مکـي ښـار، خانه کعبـه، مقامِ ابـراهیم (علیه السلام) منـیٰ اوجمراتوتصــــــــویرونه تــــــــلاش کــــــــړئ پــــــــۀ چاټــــــــب انــــــدې ولګــــــــوئ.

۳. پۀ لاندې ورکړےشووتصویرونوکښې چې د کوموعملونوتعلق د حضرت ابراهیم (علیه السلام) سره دےدغـه لـره رنګ ورکړئ اوواضــــــــــــح ئــــــــــــې کــــــــــــړئ.




د استادلاس لیک سره دتاریخ :________ . . د مورپلارلاس لیک سره د تاریخ:____________ . . .

د حضرت ابراهیم (عليه السلام) "او"نه"القدس"هجرت

د حضرت هاجره رضی الله عنها سره "**الخلیل**"نه"مکه "روانیدل


حضرت ابراہیم علیہ السلام کی حیات مبارکہ کا خاکہ
جزیرہ نمائے عرب
بحر القلزم (الاحمر)
خلیج عرب
فارس
دریائے دجلہ
دریائے فرات
بابل
حران
حلب
دمشق
مصر
قبرص


موسیٰ علیه السلام
مصر نه مدين او مدين نه مصر
عبور بحيره، تيه، طور، موآب
بحيرهٔ روم (بحر متوسط)
اردن
فلسطين
عرب
جلعاد
مدين
خليج سويس (سويز)

# سبق: ۳ قصّه حضرت موسیٰ (اوّله حصّه)

## دَ حضرت موسٰی (عَلَيْهِ السَّلَام) دَ ژوند اولنے دور: دَ پیدائش نه مخکښې دَ مَدیَن پورې

الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی پۀ بنی اسرایېل کښې ډېر انبیاء کِرام عَلَيْهِم السّلَام لیږلي ؤوو دَ هغوی نه یو عظیم رسول حضرت موسٰی (عَلَيْهِ السَّلَام) هم ؤوو . پۀ قرآنِ حکیم کښې دَ حضرت نبی کریم ﷺ نه روسته دَ حضرت موسی (عَلَيْهِ السَّلَام) ذکرپۀ ټولو انبیاء کِرام کښې زیات راغلے دے .دَ حضرت موسٰی (عَلَيْهِ السَّلَام) تعلّق دَ بنی اسرایېل سره ؤوو۔دَ حضرت ابراهیم (عَلَيْهِ السَّلَام) دَ نوسي حضرت یعقوب (عَلَيْهِ السَّلَام) لقب''اسرایېل،، وو(چې ددې مطلب دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی بنده).الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی حضرت یعقوب (عَلَيْهِ السَّلَام) لره دولس۱۲ ځامن ورکړي ؤوو.ددې دولسو ځامنونه دولس قبیلي جوړې شوې چې دیته بنی اسرایېل وایي .بنی اسرایېل دَ فلسطین اوسیدونکښې ؤوو .دادَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی محبوب قام ؤوو چې پدوئ باندې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی بے شمیره احسانات کړې ؤوو . لیکن بنی اسرایېلو نافرماني اوناشکري وکړله .

## ۱ . دَبنی اسرایېلوپۀ مصر کښې داخلیدل اودَ فرعون پۀ بنی اسرایېلو باندې ظلم اوستم

دَ حضرت یعقوب (عَلَيْهِ السَّلَام) پۀ دولسو ځامنوکښې یو حضرت یوسف (عَلَيْهِ السَّلَام) هم ؤوو .چې هغه ته الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی پۀ مصر کښې یو لوي مقام ورکړےؤوو .حضرت یوسف (عَلَيْهِ السَّلَام) خپل پلار ،ورونواوټول کوروالامصر ته راؤوبلل .دغه رنګې بنی اسرایېل دَ شام ښار کنعان یا دَ فلسطین نه مصر ته راغلل اوآباد شو .بنی اسرایېل پۀ مصر کښې څوکالوپورې پۀ عیش اوآرام سره حکومت کولو .دَ حضرت یوسف (عَلَيْهِ السَّلَام) دَ انتقال نه څوکاله روسته دَ مصراوسیدونکو قبطیانوبغاوت وکړواوفرعون یې بادشاه جوړکړو اوبنی اسرایېل یې غلامان جوړ کړل . فرعون پۀ دې مظلوم قام باندې ظلم وکړلواوددوئ نه یې دَ ځناورو پشان کار اخستلو .فرعون نجومیانو خبرکړوچې پۀ بنی اسرایېلو کښې به یو هلک پیداکښیږي چې ددې بادشاهت به ختموي.ددې وجې نه فرعون دَ بنی اسرایېلو هلکان وژل اودَ جینکو دَ ژوندي پرېښولو حکم یې وکړلو.الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی بنی اسرایېل دَ فرعون دَ ظلم او ستم نه دَ آزاد ولودپاره حضرت موسٰی (عَلَيْهِ السَّلَام) رسول راولیږلو .

## ۲۔ دَ حضرت موسٰی (علیه السلام) پیدائش اودَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ اړخه دَ هغه د حفاظت انتظام

دَ حضرت موسٰی (علیه السلام) پۀ پیدائش سره دَ حضرت موسٰی (علیه السلام) مور فکرمنده وه چې دا بچے به فرعون مړکړي ۔ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ هغې پۀ زړۀ کښې دا خبره واچوله چې پۀ یو صندوق کښې بچے واچوه وه او دریاب ته یې وغورزوه او هغې ته یې تسلِّي ورکړه چې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی به حضرت موسٰی (علیه السلام) واپس دیته رارسوي ۔ دَ هغۀ مور داسې وکړل ۔صندوق حضرت موسٰی (علیه السلام) لره واخستلو او دَ دریاب پۀ چپو کښې لامبو وهله او دَ موسٰی مشره خور دَ دریاب پۀ غاړه باندې پۀ صندوق پسې روسته روسته روانه وه ۔

## حضرت موسٰی (علیه السلام) دَ فرعون پۀ محل کښې

چې کله صندوق حضرت موسٰی (علیه السلام) راخستے پۀ دریاب کښېښې لامبو وهله مود َفرعون د محل مخې ته ورسیدلو ،نو دَ فرعون خلقو دا رواخستلو او دَ فرعون او دَ ملکه (دَ بادشاه بي بي) مخې ته یې پېښ کړلو ۔ چې کله صندوق کولاو شونودننه یو ډیر خائسته هلک یې ولیدلو ۔ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ حضرت موسٰی (علیه السلام) محبُت دَ مَلکه آسیه سلام علیها پۀ زړۀ کښې اچولے ؤوو ۔ ملکه فرعون ته وویل چې مونږبه دا پۀ خپل ځوي سره ونیسو ۔ فرعون دَ مَلکه خبره ومنله ۔ فرعون دَ حضرت موسٰی (علیه السلام) دَ وژلونه واپس شو ۔ دَ حضرت موسٰی (علیه السلام) دَ پیو ورکولو دپاره څه دایيګاني راوبللې شوي لیکن حضرت موسٰی (علیه السلام) دَ هیچاشوده (پی) نه څکل ۔ دَ حضرت موسٰی (علیه السلام) خور چې کله دا حال ولیدلو ،نو هغې خواست وکړو چې څه داسې یوه ښځه پیژنم چې دې بچي له به پئ ورکړي ملکه آسیه ته دَ بچي پۀ باره کښې ډیرفکرؤوو ،نو دَ حضرت موسٰی (علیه السلام) دَ خور درخواست یې قبول کړو دَ حضرت موسٰی (علیه السلام) خور دَ خپلې مورسره محل ته راغله چې کله دَ حضرت موسٰی (علیه السلام) مورهغه ته پئ څکول شروع کړل ،نو حضرت موسٰی (علیه السلام) پئ رودل شروع کړل دا یې چې ولیدل ،نو دَ ملکه اطمنان وشو دغه رنګې دَ حضرت موسٰی (علیه السلام) مور دَ حضرت موسٰی (علیه السلام) پۀ پیوو (شودو) ورکولو باندې مقررشوي وه دغه رنګې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی حضرت موسٰی (علیه السلام) د خپلې مورغیګ ته دوباره واپس کړواوده حضرت موسٰی (علیه السلام) ده پرورش اهتمام ئې وکړلوبیا حضرت موسٰی (علیه السلام) ځوان شو ۔

## ۴ ده حضرت موسٰی (علیه السلام) د لاسه ده قبطي هلاکت

یوه ورځ حضرت موسٰی (علیه السلام) ښارته راغلې ،نوویلدلوچې دوه کسانو پۀ خپل منځ کښې جنګ کولود یوتعلق د حضرت

موسٰی (عَلَيْهِ السَّلَام) ده قام يعني بنی اسرايېلو سره ؤوواو دويم قبطي يعني ده فرعون ده قام سره ؤوواسريېلی حضرت موسٰی (عَلَيْهِ السَّلَام) تـه ده مـددكولـودپاره آوازكولـو  حضرت موسٰی (عَلَيْهِ السَّلَام) قبطي يوسوک اووهلو ،نوهغه هلاک شو ،ده حضرت موسٰی (عَلَيْهِ السَّلَام) اراده دهغه ده وژلونه وه  .پۀ دې کار باندې حضرت موسٰی (عَلَيْهِ السَّلَام) ده الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی نه فورًا معافي وغوښتله د قبطي هلاکت پۀ داسي وخت کښي وشوچي کله ټول خلقوارام کولوددې وجې نه خلقو تـه پتـه هم نـه وه چي قبطي چاه وژلےسباله چې کله موسٰی (عَلَيْهِ السَّلَام) ښارته راغلے ،نود اسرايېلي دوباره ده يوبل قبطي سره جنګ ؤوو .پۀ دې باندې حضرت موسٰی (عَلَيْهِ السَّلَام) اسرايېلۍ تـه اويېل چې تـه ګمراه يې اوددغـه قبطي اړخ تـه مخکښي شـودَ حضرت موسٰی (عَلَيْهِ السَّلَام) خبره چې اسرايېلي واوريدله اسرايېلی ويرېدلواوپوهه شوچي حضرت موسٰی (عَلَيْهِ السَّلَام) ددې خلاف کاروايي کوي ددې وجې نـه هغـه اويېل چې آياتاسو اوس ماله هم هلاک کول غواړۍ لکه څرنګه چې تاسوپرون يوقبطی هلاک کړےؤوو؟ دغه رنګې داخبره پۀ ښارکښي خوره شوه زريوکس منډې کړي ده حضرت موسٰی (عَلَيْهِ السَّلَام) خواته راغلےاوورته يې اويېل چې فرعون اوده هغه قام سرداران ستاده قتل تيارے کوي لِهٰذاتاسوددې ځاےنه فوراًوځۍ،نو حضرت موسٰی (عَلَيْهِ السَّلَام) ده مصر نه يوي لرې علاقې ته تشـــــريف ويـــــــوړو

## ۱۔ د فرعون پۀ بنی اسرايېلو باندې ظلم اوستم (سُوۡرَةُ القصص۲۸،آيتونه: ۱تا ۶)

اَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ
زۀ پناه غواړم پۀ الله سره د شيطان رټلي شوي نه

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ○
خاص د الله پۀ نوم سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکښی دی

طٰسٓمّٓ ۰۰۱ تِلۡكَ اٰيٰتُ الۡكِتٰبِ الۡمُبِيۡنِ ۰۰۲ نَتۡلُوۡا عَلَيۡكَ مِنۡ نَّبَاِ مُوۡسٰى وَفِرۡعَوۡنَ بِالۡحَقِّ
طٰسٓمّٓ۔ دا د څرګند کتاب ايتونه دي مونږ تا ته لولو د موسٰی (عَلَيْهِ السَّلَام) اود فرعون له خبرونو نه پۀ حقه سره
لِقَوۡمٍ يُّؤۡمِنُوۡنَ ۰۰۳ اِنَّ فِرۡعَوۡنَ عَلَا فِى الۡاَرۡضِ وَجَعَلَ اَهۡلَهَا شِيَعًا
د هغه قام دپاره چې ايمان راوړي۔بېشکه فرعون پۀ ځمکه کې لويي راخيستې وه او د دې اوسېدونکې ئې پۀ ډلو ډلو تقسيم کړي ؤو
يَّسۡتَضۡعِفُ طَآئِفَةً مِّنۡهُمۡ يُذَبِّحُ اَبۡنَآءَهُمۡ وَيَسۡتَحۡىٖ نِسَآءَهُمۡ ط ١
پۀ دوی کې ئې يوه ډله ډېره کمزورې کوله، د دوی زامن به ئې حلالول او د دوی لوريانې به ئې ژوندۍ پرېښودلې،
اِنَّهٗ كَانَ مِنَ الۡمُفۡسِدِيۡنَ ۰۰۴ وَنُرِيۡدُ اَنۡ نَّمُنَّ عَلَى الَّذِيۡنَ اسۡتُضۡعِفُوۡا فِى الۡاَرۡضِ

بېشكه هغه له فساد كوونكو نه وو او مونږ اراده وكړه چې احسان وكړو پۀ هغو كسانو چې پۀ ځمكه كې ډېر كمزوري كړى شوي دي

وَنَجْعَلَهُمْ اَىِٕمَّةً وَّنَجْعَلَهُمُ الْوٰرِثِيْنَۙ ٠٠٥ وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِي الْاَرْضِ

او چې دوى امامان وګرځوو او چې مونږ دوى (د فرعون د ملك او مال) وارثان وګرځوو او چې مونږ دوى ته پۀ ځمكه كې اختيار وركړو

وَنُرِيَ فِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ وَجُنُوْدَهُمَا مِنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَحْذَرُوْنَ ٠٠٦

او چې فرعون او هامان او د دواړو لښكرو ته ده دغو (كمزوروبني اسرائيلو) نه هغه شى وښيو چې دوى به ترې وېرېدل

**٢ ـ ده حضرت موسىٰ عَلَيۡهِ السَّلَام ولادت او د اللّٰه سُبۡحَانَهٗ وَتَعَالٰى د اړخ نه د هغه د حفاظت انتظامات (سُوۡرَةَ القصص ٢٨، آيت: ٧)**

وَاَوْحَيْنَاۤ اِلٰۤى اُمِّ مُوْسٰۤى اَنْ اَرْضِعِيْهِ ۚ فَاِذَا خِفْتِ عَلَيْهِ

او مونږ د موسىٰ (عليه السلام) مور ته وحې وكړه چې تۀ دۀ ته تى وركوه، نو كله چې پۀ دۀ ووېرېدلې،

فَاَلْقِيْهِ فِي الْيَمِّ وَلَا تَخَافِيْ وَلَا تَحْزَنِيْ ۚ اِنَّا رَآدُّوْهُ اِلَيْكِ

، نو دا پۀ سيند كې وغورځوه او مه وېرېږه او غم مه كوه، بېشكه دا مونږ ستا اړخ ته بېرته راوستونكي يو

وَجَاعِلُوْهُ مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ٠٠٧

او مونږ دا ده رسولانو نه ګرځوونكي يو

## اَهمې نُكتې

**٣ ــ حضرت موسٰى عَلَيْهِ السَّلَام د فرعون په محل کښې (سُوْرَةَ القصص ٢٨، آيتونه: ٧نه تر ١**

فَالْتَقَطَهٗ اٰلُ فِرْعَوْنَ لِيَكُوْنَ لَهُمْ عَدُوًّا وَّحَزَنًا ؕ اِنَّ فِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ وَجُنُوْدَهُمَا

نو دى فرعون کورو الوروا خستو (او او چتئي کړو) د دې د پاره چي (په اعتبار د انجام) د دوى د پاره دښمن او غم شي، بيشکه فرعون او هامان او د دوا ړو لښکري

كَانُوْا خٰطِـِٕيْنَ ۰۰۸ وَقَالَتِ امْرَاَتُ فِرْعَوْنَ قُرَّتُ عَيْنٍ لِّيْ وَلَكَ ؕ لَا تَقْتُلُوْهُ ۖ

(دوى ټول غټ) خطا کوونکي وو او د فرعون ښځي (حضرت آسيه بى بى) وويل: (دا هلك) زما او ستا د سترګو يخوالى دى، تاسو دا مه وژنئ

عَسٰـــى اَنْ يَّنْفَعَنَـــااَوْ نَتَّخِـــذَهٗ وَلَـــدًا وَّ هُـــمْ لَا يَشْـــعُرُوْنَ٠٠٩وَاَصْـــبَحَ فُــؤوواد اُمِّ مُوْسٰـــى فٰرِغًـــا١ؕ

اميد دی چي دا به مونږ ته نفع راورسوي، يا به دا مونږ زوی ونيسو ،په دې حال کښې چي دا خلق نه پوهېدل او د موسٰی (عليه السلام) د مور زړۀ (د صبره) بېخي خالي شو ،

اِنْ كَـــادَتْ لَتُبْـــدِيْ بِهٖلَـــوْلَا اَنْ رَّبَطْنَـــا عَلٰـــى قَلْبِهَـــالِتَكُوْنَ مِـــنَ الْمُــؤوومِنِيْنَ٠٠١٠

بېشکه هغه قريب وه چي خامخا د ده اظهار وکړي که چېري مونږ د هغې زړۀ مضبوط کړی نۀ وی، د دې دپاره چي ده باور کوونکو نه شي

وَقَالَـــتْ لِاُخْتِـــهٖ قُصِّـــيْهِ١ فَبَصُـــرَتْ بِـــهٖ عَـــنْ جُنُبٍـــوَّهُمْ لَا يَشْـــعُرُوْنَ٠٠١١

او د موسٰی (عليه السلام) مور د موسٰی (عليه السلام) خور ته وويل: د ده (موسٰی (عليه السلام)) پسې روسته روسته ځه، نو هغې به ده ته د لرې نه کتل، په دې حال کښې چي دوی بلکل نۀ پوهېدل

وَحَرَّمْنَـــا عَلَيْـــهِ الْمَرَاضِـــعَ مِـــنْ قَبْـــلُ فَقَالَـــتْ هَـــلْ اَدُلُّكُـــمْ عَلٰـــى اَهْـــلِ بَيْـــتٍ

او مونږ په ده (موسٰی (عليه السلام)) باندې دايېګاني بندې کړې وې، له مخکښې نه، نو هغې (د موسٰی (عليه السلام) خور) وويل: ايا زۀ تاسو ته وښيم داسې کورنی ،

يَّكْفُلُوْنَـــهٗ لَكُمْـــوَهُمْ لَـــهٗ نٰصِـــحُوْنَ٠٠١٢فَرَدَدْنٰـــهُ اِلٰـــى اُمِّـــهٖ

چي ستاسو دپاره د ده (بچي) کفالت (او ساتنه) وکړي، په داسې حال کې چي هغوی به د دۀ سره ښېګڼه کوونکي وي؟ نو مونږ هغه (يعني موسٰی (عليه السلام)) خپلې مور ته بېرته راوستو،

كَـــيْ تَقَـــرَّ عَيْنُهَـــاوَلَا تَحْـــزَنَ وَلِـــتَعْلَمَ اَنَّ وَعْـــدَ اللّٰهِ حَقٌّـــوَّلٰكِنَّ اَكْثَـــرَهُمْ لَا يَعْلَمُـــوْنَ٠٠١٣

د دې دپاره چي د هغې سترګې يخې شي او غمونۀ کړي او د دې دپاره چي پوه شي چي بېشکه د الله وعده حقه ده او لېکن د دوی زيات ره خلق نه پوهېږي

**۴ ــ د حضرت موسٰی عَلَيْـهِ السَّـلَام د لاس نـه د يـو قبطـي هلاکـت (سُـوْرَةَ القَصـص ۲۸، آيتونـه: ۱۴ نـه تـر ۲۱)**

وَلَمَّـــا بَلَـــغَ اَشُـــدَّهٗ وَاسْـــتَوٰى اٰتَيْنٰـــهُ حُكْمًـــا وَّعِلْمًـــا١ؕوَكَـــذٰلِكَ نَجْـــزِي الْمُحْسِـــنِيْنَ٠٠١٤

او کله چي (موسٰی (عليه السلام)) خپل زور (ځوانی) ته ورسېده، او ښه برابر شه، (نو مونږ هغه ته حکمت (نبوت) او پوهه ورکړه او همداسې مونږ نېکي کوونکو ته بدله ورکوو -

وَدَخَـــلَ الْمَدِيْنَـــةَ عَلٰـــى حِـــيْنِ غَفْلَـــةٍ مِّـــنْ اَهْلِهَـــا فَوَجَـــدَ فِيْهَـــا رَجُلَـــيْنِ يَقْتَـــتِلٰنِ١ٞ

او (موسٰی (عليه السلام)) (دې ښار ته) داخل شو د هغه (ښار) د اوسېدونکو د غفلت (خوب) په وخت کښې، نو دۀ موندل په هغه کې دوه سړي چي د يو بل سره په جنګ وو ،

هٰـــذَا مِـــنْ شِـــيْعَتِهٖ وَهٰـــذَا مِـــنْ عَـــدُوِّهٖ١ۚ فَاسْـــتَغَاثَهُ الَّـــذِيْ مِـــنْ شِـــيْعَتِهٖ

دا يو د دۀ له ډلې (بنی اسرائيلو) نه وو او دا بل د دۀ د دښمنانو نه وو۔ نو ، هغه کس چي د دۀ د ډلې نه و ، د ده نه ئې مرسته وغوښته ،

عَلَـــى الَّـــذِيْ مِـــنْ عَـــدُوِّهٖ١ۙفَـــوَكَزَهٗ مُوْسٰـــى فَقَضٰـــى عَلَيْـــهِ١ٞۗقَـــالَ هٰـــذَا مِـــنْ عَمَـــلِ الشَّـــيْطٰنِ١ؕ

د هغه کس په خلاف چي د ده د دښمنانو نه وو۔ نو موسٰی (عليه السلام) هغه په سوک وواهه، نو هغه ئې قتل کړو ، موسٰی (عليه السلام) وويل: دا د شيطان د کار نه دی

اِنَّـــهٗ عَـــدُوٌّ مُّضِـــلٌّ مُّبِـــيْنٌ٠٠١٥ قَـــالَ رَبِّ اِنِّـــيْ ظَلَمْـــتُ نَفْسِـــيْ

، بېشکه هغه ښکاره ګمراه کوونکی دښمن دی موسٰی (عليه السلام) وويل: ای زما ربه! بېشکه ما په ځان خپل ظلم کړی دی،

فَـــاغْفِرْ لِـــيْ فَغَفَـــرَ لَـــهٗ١ؕاِنَّـــهٗ هُوَالْغَفُـــوْرُ الـــرَّحِيْمُ٠٠١٦

نو تهٔ ما ته بخښنه وکړې، نو هغه ورته بخښنه وکړه، بېشکه هغه، هم هغه ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی

قَالَ رَبِّ بِمَآ اَنْعَمْتَ عَلَيَّ فَلَنْ اَكُوْنَ ظَهِيْرًا لِّلْمُجْرِمِيْنَ ٠٠١٧

موسٰی (عليه السلام) وویل: ای زما ربه! په سبب د هغه انعام چې تا پهٔ ما وکړو، نو زهٔ به هېچرې د مجرمانو مددګار نشم

فَاَصْبَحَ فِي الْمَدِيْنَةِ خَآئِفًا يَّتَرَقَّبُ فَاِذَا الَّذِي اسْتَنْصَرَهٗ بِالْاَمْسِ

نو سبا کړو موسٰی (عليه السلام) پهٔ ښار کې، پهٔ داسې حال کې چې وېرېدونکی و، (او) انتظار ئې کاوه، نو ناڅاپهٔ هغه کس چې پرون ئې د دهٔ نه مدد غوښتی و،

يَسْتَصْرِخُهٗ ۚ قَالَ لَهٗ مُوْسٰۤى اِنَّكَ لَغَوِيٌّ مُّبِيْنٌ ٠٠١٨ فَلَمَّآ اَنْ اَرَادَ

د دهٔ نه غوښته، موسٰی (عليه السلام) دهٔ ته وویل: بېشکه تهٔ خامخا ښکاره ګمراه ئې نو کله چې موسٰی (عليه السلام) اراده وکړه

اَنْ يَّبْطِشَ بِالَّذِيْ هُوَ عَدُوٌّ لَّهُمَا ۙ قَالَ يٰمُوْسٰۤى اَتُرِيْدُ اَنْ تَقْتُلَنِيْ

چې هغه کس ونیسي چې هغه د دوی دواړو دښمن دی، هغه وویل: ای موسٰی (عليه السلام)! آیا تهٔ غواړې چې ما (هم) قتل کړې،

كَمَا قَتَلْتَ نَفْسًۢا بِالْاَمْسِ ۖ اِنْ تُرِيْدُ اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَ جَبَّارًا فِي الْاَرْضِ

لکه پرون چې دې یو کس وژلی و، تهٔ نهٔ غواړې مګر دا چې پهٔ ځمکه کې زورور شې

وَمَا تُرِيْدُ اَنْ تَكُوْنَ مِنَ الْمُصْلِحِيْنَ ٠٠١٩ وَجَآءَ رَجُلٌ مِّنْ اَقْصَا الْمَدِيْنَةِ يَسْعٰى ۫

او تهٔ نهٔ غواړې چې تهٔ د اصلاح کوونکو نه شې او د ښار تر ټولو لرې غاړې نه یو سړی راغی چې منډې ئې راوهلې،

قَالَ يٰمُوْسٰۤى اِنَّ الْمَلَاَ يَاْتَمِرُوْنَ بِكَ لِيَقْتُلُوْكَ فَاخْرُجْ

هغهٔ وویل: ای موسٰی بېشکه چې مشران ستا پهٔ باره کې مشورې کوي، د دې دپاره چې تا قتل کړي، نو تهٔ وځه!

اِنِّيْ لَكَ مِنَ النّٰصِحِيْنَ ٠٠٢٠ فَخَرَجَ مِنْهَا خَآئِفًا يَّتَرَقَّبُ ۫

بېشکه زهٔ ستا د خیر غوښتونکو نه یم نو موسٰی (عليه السلام) د دغه (ښار) نه ووت، پهٔ دې حال کې چې وېرېدونکی ؤو (او) انتظار ئې کاوه،

قَالَ رَبِّ نَجِّنِيْ مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ٠٠٢١

موسٰی (عليه السلام) وویل: ای زما ربه! تهٔ ما ته د ظالم قام نه نجات راکړېس

# د علم او عمل خبري

۱ ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دفساد کولو والا او ګناهګاران نهٔ ښوښوي ـ (سُوْرَة القصص۲۸ ،آیت:۸ ،۴)

۲ ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د مظلومانو مدد کوي ـ (سُوْرَة القصص۲۸ ،آیت:۷)

۳ ـ پهٔ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی باندې بهروسه کولو والا باندې به نهٔ ویره وي او نهٔ غم ـ (سُوْرَة القصص۲۸ ،آیت:۷)

۴ ـ د چاحفاظت چې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی کوي ،نو هغه ته څوک نقصان نهٔ شي رسولے ـ (سُوْرَة القصس۲۸ ،آیتونه:۹ ،۷)

۵ ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی خپله وعده پوره کوي ـ (سُوْرَة القصص،آیت:۱۳)

۶ ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی خپل نیکانو بندګانو ته حکمت او علم ورکوي ـ (سُوْرَة القصص،آیت:۱۴)

۷ ـ مونږه د مجرمانو خلاف د مظلومانو سره ئې وو ـ (سُوْرَة القصص،آیتونه:۱۷ ،۱۵)

۸ ـ انبیاءِ کرام عَلَيهِمِ السَّلَام د معصوم کښېدلو باوجودهم کثرت استغفار کولو ،نو پهٔ خطا کولو باندې مونږ له هم د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی معافي غوښتل پکاردي ـ (سُوْرَة القصص،آیت:۱۲)

۹ ـ نادان دوست د دشمن نه غټ نقصان رسونکے وي ـ (سُوْرَة القصص،آیت:۱۹)

۱۰ ـ مونږه له پهٔ مشکل حالاتو کښې د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی نه دعا او مدد غوښتل پکاردي ځکه هغه حقیقي او مستقل مدد کولو والا او دعا قبلولو والا دے ـ (سُوْرَة القصص،آیت:۲۱)

## ځان پرې پوهه کړئ او حل یې کړئ

سوال ۱: پهٔ صحیح جواب باندې صحیح نښه (✓) ولګوئ:

(۱) د حضرت موسٰی (عَلَيْهِ السَّلَامُ) تعلق د کوم قام سره ؤو؟

(الف) بنی اسرایيل (ب) بنی اسماعیل (عَلَيْهِ السَّلَامُ) (ج) بنی هاشم

(۲) د چالقب اسرایيل ؤو؟

(الف) حضرت ابراهيم (عليه السلام)  (ب) حضرت موسٰی (عليه السلام)  (ج) حضرت شعيب (عليه السلام)

(۳) بنی اسرايېل د کوم ځاے نه راغلل چې پۀ مصر کښې آباد شو؟

(الف) شام  (ب) مَدیَن  (ج) ايران

(۴) د مصراوسېدونکو خلقوځوک بادشاه جوړکړو ؟

(الف) نمرود  (ب) جالوت  (ج) فرعون

۵ . د قبطي تعلق د کوم قام سره ؤو ـ؟

(الف) نمرود  (ب) فرعون  (ج)  قارون

سوال ۲ د لاندې ورکړے شوو جملو سره پۀ جوړو شوو خانو کښې د قصّې د ترتيب پۀ لحاظ سره نمبرورکړئ۔

- د حضرت موسٰی (عليه السلام) سره د محبت د وجې نه د فرعون بي بي د حضرت موسٰی (عليه السلام) د بچي د جوړولوفيصله وکړله ۔
- حضرت موسٰی (عليه السلام) د مصر نه تشريف مَدیَن ته تشريف ويوړلو ۔
- د حضرت يوسف (عليه السلام) د وفات نه روسته فرعون بنی اسرايېل غلامان جوړکړل۔
- حضرت موسٰی (عليه السلام) پۀ ښارکښې يوقبطي او بنی اسرايېلی پۀ خپل منځ کښې پۀ جنګ کولو وموندلو ۔
- حضرت موسٰی (عليه السلام) لره خپلي مورپۀ يوصندوق کښې  کيخودلوپۀ درياب کښې واچولو ۔
- حضرت يوسف (عليه السلام) بنی اسرايېل د شام د ښارکنعان نه مصرته راوبلل۔
- اللہ سُبْحَانَہٗ وَتَعَالٰی حضرت موسٰی (عليه السلام) لره د هغه مور ته دوباره راورسولواود هغه د فروَرش اهتمام يي وکړلو ۔
- د حضرت موسٰی (عليه السلام) د لاس نه يوقبطي مړشولو ۔

- فرعون به د بنی اسرايیلو پېدا کېښېدنکي هلکان وژل.
- فرعون اود هغه د قام سردارانود حضرت موسىٰ (عَلَيْهِ السَّلَامُ) د قتلولو اراده وکړه.

**سوال۳:** د لاندې ليکلي شوو وسوالاتو جوابات ورکړئ:

۱- بنی اسرايېل څوک ؤو؟

---

---

۲- فرعون د بنی اسرائيلو هلکان ولي وژل؟

---

---

۳ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى د حضرت موسىٰ (عَلَيْهِ السَّلَامُ) د بچکښېدلو دپاره څه تدبير دهغه دمورپهٔ زړهٔ کښي واچولو؟

---

۴ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى حضرت موسىٰ (عَلَيْهِ السَّلَامُ) لره دوباره خپلي مورته څه رنګه ورسولو؟

---

---

۵ حضرت موسىٰ (عَلَيْهِ السَّلَامُ) ولي مصرپرېښودلو اومدين ته لاړو؟

---

---



## کورنۍ هله زله، کار

١ ـ په بنی اسرائیلو کښې د راغلو یو پنځوو انبیاءِ کرامو عَلَیْهِم السَّلَام نومونه ولیکئ۔

---

---

٢- ـ په بنی اسرائیلو کښې په رالیږلو شوؤ رسولانو باندې د نازل شوي کتابونو نه د یودري ؤونومونه ولیکئ۔

---

---

٣ د لاندې مقاماتونه د حضرت موسٰی (عَلَیْهِ السَّلَام) سره متعلق مقاماتونه د نشاندهي کرښه راکاږئ۔




ستاد لاس لیک سره د تاریخ: ـــــــــ۔ ۔ ۔      د استاد لاس لیک سره د تاریخ: ۔ـــــــــــــ۔

# سبق:۴ حضرت موسیٰ (علیه السلام) (دويمه حصّه )

## د حضرت موسیٰ (علیه السلام) د ژوند دويم دور: د مَدين د صحرائے سينا دهجرته پوري

## ۱. حضرت موسیٰ (علیه السلام) پهٔ مَدين کښې

حضرت موسیٰ (علیه السلام) د مَدين يو کوهي ته ورسيدلو، نو ويي کتل چې خلق خپلې بزې اوبه کوي .دې وکتل چې دوه جنکۍ خپلې بزې منعه کوي جدا ولاړې دي .پهٔ معلومات سره يې پته ولږوله چې ددې جنکو پلار بوډا دے او دوئ انتظار کوي چې اول ټول خلق خپل څاروي اوبه کړي، نو بيا به پهٔ خپلو څاروو اوبه وڅښکؤو .حضرت موسیٰ (علیه السلام) ددغه کوهي نه اوبه راويستلې او ددوئ پهٔ بزو باندې يې وڅکلې او بياد يوې ونې د سيورې دلاندې کيناستلو .پهٔ دې ښار کښې حضرت موسیٰ (علیه السلام) اجنبي مسافرؤو دلته يې نهٔ څه کورؤو، نهٔ يې خپلوان نهٔ مال اونهٔ د خوراک څښکاک دپار ه څه شے ليکن ددې باوجود حضرت موسیٰ (علیه السلام) نهٔ ويرېدلو .حضرت موسیٰ (علیه السلام) د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی نه دعا وغوښتله چې '' اے زما ربه !تهٔ چې ماته څه خير راکوي ، نو زهٔ ورته محتاجه يم،، . الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د هغه دعا قبوله کړله او د جنکو د پلار او کورو الاپهٔ واسطه سره د حضرت موسیٰ (علیه السلام) ټول ضرورتونه پوره کړے شو .

## ۲. پهٔ مَدين کښې پهٔ حضرت موسیٰ (علیه السلام) باندې ورکړې

لګ شان روسته د دغه جنکونه يوه د حضرت موسیٰ (علیه السلام) خواته راغله او وې ويل چې زمونږ پلار تاسو بلي چې تاسو ګډو بزو ته کومي اوبه ورکړې وې چې دهغې مزدورې درکړي دهغې دپلار خواته ورسيدلو او هغه ته ئې ټول حال واورولو .هغهٔ له تسلّي ورکړه چې تاسو مه ويرېږئ .تاسو د ظالمانو نه خلاصون اوموندلو ددې جنکونه يوې وويل چې پلاره !داپهٔ مزدورۍ باندې اونيسه څکه دا طاقتور او امانتدار دے .مشر حضرت موسیٰ (علیه السلام) وويل که تاسو زما اته کاله کار کوئ ياپهٔ خپله خوښه لس کاله پوره کوي نو زهٔ به تاسو ته يوه د دوو لوريانو پهٔ نکاح باندې درکړم حضرت موسیٰ (علیه السلام) دهغه خبره او منله او دلس کاله پورې دهغه سره ؤو .

## ۳. د حضرت موسیٰ (علیه السلام) مصر ته واپسي او د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی سره خبرې کول

د لس (۱۰) کاله پهٔ مَدين کښې د اوسيدلو نه بعد حضرت موسیٰ (علیه السلام) خپل کورو الا مصر اړخ ته روان کړل .پهٔ لاره کښې د

شپې پۀ وخت پۀ صحراباندې پۀ سخته یخنۍ کښې تیرېدل ؤو حضرت موسٰی (علیه السلام) د کوهِ طور د اړخ نه اورولیدلو حضرت موسٰی (علیه السلام) خپل کوروالاته وفرمايېل چې تاسودلته ودرېږئ !مااورولیدلوزۀ زمه او د هغه ځائے نه د لاس دتودولودپاره څه انګار سکروټه راوړم یا د لارې څه خبرمعلوموم‌ه ،چې کله حضرت موسٰی (علیه السلام) هلته ورسيدلو ،نو الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی حضرت موسٰی (علیه السلام) ته یوډېرغټ سعادت ورکړو یعني الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د حضرت موسٰی (علیه السلام) سره خبرې وکړلې ددې وجې نه حضرت موسٰی (علیه السلام) ته کلیم الله (یعني د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی سره خبرې کونکے) هم وايي، الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی وفرمايېل چې" بیشکه زۀ ستارب یم ، بس ته خپل پیزار اوباسه بیشکه ته پۀ یومقدّسه وادی طوٰی کښې یې،، .

## ۴ د حضرت موسٰی (علیه السلام) معجزات

الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د حضرت موسٰی (علیه السلام) نه تپوس وکړوچې پۀ ښي لاس کښې د ے څه شے دې؟ حضرت موسٰی (علیه السلام) عرض وکړوچې دازما امسا ده چې پۀ دې باندې زۀ تکیالګوم خپلوبزوته پرې پاڼې راڅنډمه اوزمادپاره پۀ دېکښې نورې ډېرې فائدې هم دي الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی وفرمايېل چې دا ښکته وغرزوه چې کله حضرت موسٰی (علیه السلام) امساپۀ ځمکه باندې وغورزوله د هغې نه مارجوړشو اومنډې وهلې اونزدې وه چې حضرت موسٰی (علیه السلام) ستونشوےوے اومنډه یې کړے وے الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی حکم وکړوچې دا ونیسه دابه خپل اصلي حالت ته ستون شي بیاالله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی وفرمايېل چې خپل لاس دې تخرګ ته اومنډه ،نوهغه تک سپین چمکداررااووتلو دغه رنګې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی حضرت موسٰی (علیه السلام) ته دوه ۲معجزې ورکړې اوحکم یې ورته وکړوچې د فرعون خواته لاړشه چې هغه سرکشي کړې ده اوهغه ته پۀ نرمۍ سره دعوت ورکړه حضرت موسٰی (علیه السلام) د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی نه دعا وغوښتله اود مشروروړ حضرت هارون (علیه السلام) دپاره یې دعا وغوښتله چې هغه ته هم زماد مددپاره نبوّت ورکړې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دغه قبوله کړه .

## 5 .حضرت موسٰی (علیه السلام) د فرعون پۀ درباركښې

حضرت موسٰی (علیه السلام) او حضرت هارون (علیه السلام) د فرعون دربارته ورسیدل هغه ته یې وفرمايېل چې مونږستاد رب رالېږلي شوي رسولان یوپۀ بنی اسرایېلوباندې ظلم اوستم بند که اودوئ آزاد که زمونږه سره یې ولیږه حضرت موسٰی (علیه السلام) هغه ته د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی ورکړےشوي معجزات وښودل فرعون د معجزاتونه انکاروکړواوپۀ حضرت موسٰی (علیه السلام) باندې یې د جادوګر الزام ولږولواود خپلو جادوګرومقابلې ته یې دعوت ورکړو ددوئ د مقابلې دپاره یې د قامي اخترورځ مقررکړله ددې دپاره چې ټول حاضرشي اود ټولومخامخ مقابله وشي د معجزاتوپۀ لیدلوباندې هم فرعون ایمان رانۀ وړو اوپۀ خپل

ضدباندې قائم ؤو ،نو دفرعون د آل نه یو ایمان والاکس پۀ ډک دربارکښې د حضرت موسٰی (علیه السلام) ملګرتوب وکړو او فرعون اود هغـه د قـام سـرداران ئـې د سرکشـۍ دغلطـې نتیجـې نـه ویـرول اود ایمـان راوړلـو دعـوت ئـې ورکولـو .

## ۶ .د حضـــرت موسٰـــی (علیه السلام) د جادوګروســـره مقابلـــه اود حضـــرت موسٰـــی (علیه السلام) فتحـــه

فرعون د ټول ملک نه ماهره جادوګران راجمعه کړل هغوئ ته یې د انعاماتولالچ ورکړو اود حضرت موسٰی (علیه السلام) د مقابلې دپاره ئې میدان ته ولیږل چې کله مخامخ شو ، نوجادوګرو حضرت موسٰی (علیه السلام) تـه وویـل چې اے موسٰی!اول تاسو شروع کوئ که مونږ خپل جادوپېښ کړو؟ حضرت موسٰی (علیه السلام) ورته وویل چې اول تاسوخپل جادوپېښ کړئ جادوګروخپلې رسۍ اوامساګانې پۀ ځمکه باندې وغورزولې ،نوخلقوته پۀ نظر داسې راتلل چې منډې وهې لکـه د مـارانو الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی حضرت موسٰی (علیه السلام) تـه د خپلې امسـاپۀ ځمکـه بانـدې د غـورزولـوحکم وکـړو ، نوامسـا یـوه غټـه اژدهـاجوړه شـوه چـې د جادوګروټول جوړشوي د دروغوځیزونه ئې وخوړل جادوګروچې کله دامعجزه ولیدلـه ،نوټـول جادوګربے اختیـاره پـۀ سجده بانــــدې پریوتـــل اومســـلمانان شـــوخلقوچې داهرڅـــه ولیـــدل ،نـــوحیران شـــو .

## ۷ .فرعـــون ایمــــان والاتـــه دهمکـــې اود ایمـــان والاثابـــت قـــدمي (مظبوطيـــدل)

فرعون سخت غوصّه ؤو اوجادوګروته ئې وویل چې تاسوزما د اجازت نه بغیرایمان راوړو؟ دې دا الزام لګولوچې حضرت موسٰی (علیه السلام) ددې جادوګرومشردے چې دوئ ټولوتـه یې جـادوزده کـړےدے( معـاذالله) اودوي ټولوداچل جوړکړےدے فرعون جادوګروته دهمکې ورکړه چې زۀ به ستاسوښپې اولاسونه ادل بدل پریکړم اوتاسوټول به پۀ سولۍ باندې زوړند کړم مګرداټول پۀ ایمان باندې مظبوط ؤودوئ فرعون ته پۀ جواب کښې وویـل تـه چې څه غـواړې هغه وکه مونږپـۀ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَـــالٰی بانـــدې د ایمـــان نـــه واپـــس کښـــېدلو والانۀ ئـــې ؤو .

## ۸ .پـــــــــۀ فرعونیانوبانـــــــــدې اووۀ عذابونـــــــــه

فرعون اوآلِ فرعون پۀ حضرت موسٰی (علیه السلام) او حضرت هـارون (علیه السلام) بانـدې ایمان نۀ راوړو ددوئ پـۀ مسلسل انکاراوپـۀ کفرباندې د کلکښېدلوپۀ وجه پـۀ دوئ باندې څوعذابونـه رالیږلې شوي ؤوپـۀ دوئ باندې قحط د میووکمیدل طوفان ،ملخان ،سپږئ(کټمل) چیندخان اود وینې عذاب رالیږلےشوےؤوددې دپاره چې دوئ نصیحت حاصل کړي مګردې خلقوبه د ایمان راوړلووعده کوله اود عذاب پۀ ختمیدلوباندې به یې خپلې وعدې ماتولې دغـه رنګې دوئ مسلسل وعده خلافي کوله.

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ
زۀ پناه غواړم پۀ الله سره د شیطان رټلي شوي نه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ○
خاص د الله پۀ نوم سره (شروع کوم) چې ډېر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکښی دی

وَلَمَّا تَوَجَّهَ تِلْقَآءَ مَدْيَنَ قَالَ عَسٰى رَبِّيْٓ اَنْ يَّهْدِيَنِيْ سَوَآءَ السَّبِيْلِ٠٠٢٢

او کله چې موسٰی (عَلَیْهِ السَّلَامُ) د مدین پۀ اړخ مخه کړه، (نو) وئې ویل: امید دی چې زما رب به ما ته راوښيي نېغه لار

وَلَمَّا وَرَدَ مَآءَ مَدْيَنَ وَجَدَ عَلَيْهِ اُمَّةً مِّنَ النَّاسِ يَسْقُوْنَ۫ۙ وَوَجَدَ مِنْ دُوْنِهِمُ امْرَاَتَيْنِ

او کله چې د مَدین کوهي ته ورسېده، نو د هغه (کوهي) پۀ خوا کې ئې د خلقو یو ډله وموندله چې اوبه ئې ورکولې او د هغوی نه ئې رابېرته دوه ښځې ومندلې

تَذُوْدٰنِۚ قَالَ مَا خَطْبُكُمَا ۭ قَالَتَا

(چې خپل څاروي ئې رامنع کول، موسٰی (عَلَیْهِ السَّلَامُ) وویل: ستاسو څه حال دے؟ هغوی وویل:

لَا نَسْقِيْ حَتّٰى يُصْدِرَ الرِّعَآءُ ٚ وَاَبُوْنَا شَيْخٌ كَبِيْرٌ٠٠٢٣

مونږ (څارویو ته) اوبه نۀ ورکوو تر هغه پورې چې شپونکي بېرته (سره دَ ماله) لاړ شي او زمونږ پلار ډېر زیات بوډا دی

فَسَقٰى لَهُمَا ثُمَّ تَوَلّٰٓى اِلَى الظِّلِّ فَقَالَ رَبِّ

نو موسٰی (عَلَیْهِ السَّلَامُ) (د) هغو (کنډك) ته اوبه ورکړې، بیا سیوري ته وګرځېده، نو وئې ویل: ای زما ربه!

اِنِّيْ لِمَآ اَنْزَلْتَ اِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيْرٌ٠٠٢٤

بېشکه زۀ هر هغه خیز ته چې تۀ ئې ما ته رالېږې د خیر (او برکت) نه؛ محتاج یم

٢ پۀ مَدیَن کښې پۀ حضرت موسٰی (عَلَیْهِ السَّلَامُ) باندې د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی انعامونه (سُوْرَةَ القصص ٢٨، آیتونه: ٢٥ نه تر ٢٨)

فَجَآءَتْهُ اِحْدٰىهُمَا تَمْشِيْ عَلَى اسْتِحْيَآءٍ ۡ قَالَتْ

نو پۀ دغو دواړو کې یوه دۀ ته راغله چې پۀ ډېرې حیا سره راروانه وه، وئې ویل:

اِنَّ اَبِيْ يَدْعُوْكَ لِيَجْزِيَكَ اَجْرَ مَا سَقَيْتَ لَنَا ۭ فَلَمَّا جَآءَهٗ

بېشکه زما پلار تا غواړي، د دې د پاره چې تا ته اجر (حق) درکړي د هغه عمل چې تا مونږ ته (زمونږ څاروي) اوبه کړي ؤوو، نو کله چې موسٰی (عَلَیْهِ السَّلَامُ) دۀ ته راغی

وَقَصَّ عَلَيْهِ الْقَصَصَ ۙ قَالَ لَا تَخَفْ ۫ نَجَوْتَ مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ٠٠٢٥

او دۀ ته ئې (خپله) قصه بیان کړه، وئې ویل: ته مه وېرېږه (اوس) ته د ظالم قام نه خلاص شوی ئې

قَالَتْ اِحْدٰىهُمَا يٰٓاَبَتِ اسْتَاْجِرْهُ ۡ اِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَاْجَرْتَ

پۀ دواړو کې یوې وویل: ای زما پلار جانه! ته دا مزدور ونیسه، بېشکه د ټولو غوره پۀ هغه چا کې چې ته ئې مزدور نیسې،

الْقَوِيُّ الْاَمِيْنُ٠٠٢٦ قَالَ اِنِّيْٓ اُرِيْدُ اَنْ اُنْكِحَكَ اِحْدَى ابْنَتَيَّ هٰتَيْنِ

هغه دی چې ښه قوتناك او امانتګر وي(دجينكوپلار) وويل: بېشكه زۀ غواړم چې پۀ نكاح دركړم پۀ خپلو دغو دوه لوڼو كې يوه تا ته

عَلٰى اَنْ تَاْجُرَنِيْ ثَمٰنِيَ حِجَجٍ ۚ فَاِنْ اَتْمَمْتَ عَشْرًا فَمِنْ عِنْدِكَ ۚ

پۀ دې شرط چې ته به اته كاله زما مزدوري كوې، نو كه تا لس كاله پوره كړل، نو ستا د اړخه به (احسان) وي،

وَمَآ اُرِيْدُ اَنْ اَشُقَّ عَلَيْكَ ؕ سَتَجِدُنِيْٓ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ٠٠٢٧

او زۀ پۀ تا باندې مشقت اچول نه غواړم، زر ده چې ته به ما د نېكانو نه ومومې، كه الله وغواړي (ان شاء الله)

قَالَ ذٰلِكَ بَيْنِيْ وَبَيْنَكَ ؕ اَيَّمَا الْاَجَلَيْنِ قَضَيْتُ

موسٰى (عليه السلام) وويل: دا دی (عهد مقرر) زما پۀ مېنځ كې او ستا پۀ مېنځ كې، پۀ دغو دواړو نېټو كې چې كومه ما پوره كړه،

فَلَا عُدْوَانَ عَلَيَّ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى مَا نَقُوْلُ وَكِيْلٌ ٠٠٢٨

نو پۀ ما به (نور) هېڅ زياتی نه وي، او څه چې مونږ وايو، الله پۀ دې ګواه دی

٣ .د حضرت موسٰى عَلَيْهِ السَّلَام د مصر نه واپسي او پۀ صحرا كښې د الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰى سره خبرې اترې (سُوْرَةُ طٰهٰ ٢٠، آيتونه ٩ نه تر ١٢)

وَهَلْ اَتٰىكَ حَدِيْثُ مُوْسٰى ۘ ٠٠٩ اِذْ رَاٰ نَارًا فَقَالَ لِاَهْلِهِ امْكُثُوْٓا

او ايا تا ته د موسٰى (عليه السلام) قصه (خبره) راغلې ده؟ كله چې دۀ اور وليده، نو خپل اهل ته ئې ويل: تاسو (دلته) ايسار شئ،

اِنِّيْٓ اٰنَسْتُ نَارًا لَّعَلِّيْٓ اٰتِيْكُمْ مِّنْهَا بِقَبَسٍ اَوْ اَجِدُ عَلَى النَّارِ هُدًى ٠٠١٠

بېشكه ما اور وليدۀ، كېدی شي چې زۀ د هغه نه تاسو ته لګولې (بله) لمبه راوړم، يا به پۀ اور باندې څه لار ښودونه (لار ښود) ومومم

فَلَمَّآ اَتٰىهَا نُوْدِيَ يٰمُوْسٰى ؕ ٠٠١١ اِنِّيْٓ اَنَا رَبُّكَ فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ ۚ

نو كله چې دې دغه (اور) ته راغی، دۀ ته اواز وكړی شو چې ای موسٰى! بېشكه زۀ چې يم، زۀ ستا رب يم، نو ته خپلې پڼې وباسه،

اِنَّكَ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى ؕ ٠٠١٢ وَاَنَا اخْتَرْتُكَ فَاسْتَمِعْ لِمَا يُوْحٰى ٠٠١٣

بېشكه ته پۀ مقدسه (سپېڅلې) وادی (دره) طُوٰى كې ئې او ما غوره كړی يې، نو ته هغه څه ته ښه غوږ شه چې وحي كولی شي

اِنَّنِيْٓ اَنَا اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدْنِيْ ۙ وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ لِذِكْرِيْ ٠٠١٤

بېشكه زۀ چې يم، زۀ الله يم، نشته دی هېڅ لايق د عبادت مګر همدا زۀ يم، نو ته زما عبادت كوه، او زما د يادولو دپاره مونځ قايموه

اِنَّ السَّاعَةَ اٰتِيَةٌ اَكَادُ اُخْفِيْهَا

بېشكه قيامت راتلونكی دی، زۀ غواړم چې دغه (قيامت) پټ وساتم،

لِتُجْزٰى كُلُّ نَفْسٍۢ بِمَا تَسْعٰى ٠٠١٥

د دې دپاره چې بدله وركړی شي هر نفس ته د هغو عملونو پۀ سبب چې دی ئې كوي

فَلَا يَصُدَّنَّكَ عَنْهَا مَنْ لَّا يُؤْمِنُ بِهَا

نو تا دې دا (كس) هيڅكله بند نه كړي د دغه (قيامت) نه هغه څوك چې پۀ ده (قيامت) ايمان نه راوړي

وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ فَتَرْدٰى ٠٠١٦

## او هغه د خپل خواهش پیروي کوي ، ګڼي نو ته به هلاك شي

### اَهمي نَکتي

## د حضرت موسٰی (عَلَیۡهِ السَّلَامُ) د مصرنه واپسي اوپهٔ صحراکښې د الله سُبۡحَانَهُ وَتَعَالٰی سره خبرې اترې

## (سُوۡرَةُالشعراء ۲۶، آيتونه: ۱۰ نه تر ۱۵)

وَاِذْ نَادٰی رَبُّكَ مُوْسٰۤی اَنِ ائْتِ الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَۙ ۰۰۱۰

او (ياد کړه) هغه وخت چې ستا رب موسٰی (عَلَیۡهِ السَّلَامُ) ته اواز وکړو داسې چې ته هغه قام ته ورشه چې ظالمان دي

قَوْمَ فِرْعَوْنَ١ؕ اَلَا يَتَّقُوْنَ ۰۰۱۱

(يعنی) چې د فرعون قام دی، ايا دوی نهٔ وېرېږي؟ (د الله نه)!

قَالَ رَبِّ اِنِّيْۤ اَخَافُ اَنْ يُّكَذِّبُوْنِؕ ۰۰۱۲ وَيَضِيْقُ صَدْرِيْ وَلَا يَنْطَلِقُ لِسَانِيْ

موسٰی (عَلَیۡهِ السَّلَامُ) ووېيل: ای زما ربه! بېشکه زهٔ د دې نه وېرېږم چې دوی به زما تکذيب وکړي او (بل) زما سينه تنګېږي او (بل) زما ژبه (ښهٔ) نه چلېږي،

فَاَرْسِلْ اِلٰى هٰرُوْنَ ۰۰۱۳ وَلَهُمْ عَلَيَّ ذَنْۢبٌ فَاَخَافُ اَنْ يَّقْتُلُوْنِۚ ۰۰۱۴

نو ته هارون (عَلَیۡهِ السَّلَامُ) ته پېغام ولېږه او (بل دا چې) د هغوی دپاره زما په خلاف (د قتل دعوٰی) الزام هم دے، نو زهٔ د دې نه وېرېږم چې دوی به ما قتل کړي

قَالَ كَلَّا١ۚ فَاذْهَبَا بِاٰيٰتِنَاۤ اِنَّا مَعَكُمْ مُّسْتَمِعُوْنَ ۰۰۱۵

(الله) وفرمايل: داسې نشي کېدی، نو تاسو دواړه زما په ښکاره معجزو سره لاړ شئ، بېشکه مونږه ستاسو سره يو، اورېدونکي يو

## د حضرت (عَلَیۡهِ السَّلَامُ) د مصرنه واپسي اوپهٔ صحراکښې د الله سُبۡحَانَهُ وَتَعَالٰی سره خبرې اترې (سُوۡرَةُ القصص ۲۸، آيتونه: ۲۸ نه تر ۳۰)

فَلَمَّا قَضٰى مُوْسَى الْاَجَلَ وَسَارَ بِاَهْلِهٖۤ اٰنَسَ مِنْ جَانِبِ الطُّوْرِ نَارًا١ۚ

نو کله چې موسٰی (عَلَیۡهِ السَّلَامُ) نېټه پوره کړه او د خپل اهل سره روان شو (، نو) د طور د اړخه ئې اور وليده،

قَالَ لِاَهْلِهِ امْكُثُوْۤا اِنِّيْۤ اٰنَسْتُ نَارًا لَّعَلِّيْۤ اٰتِيْكُمْ مِّنْهَا بِخَبَرٍ

خپل اهل ته موسٰی (عَلَیۡهِ السَّلَامُ) ووېيل: تاسو ايسار شئ، بېشکه ما اور وليده، کېدی شي چې زهٔ تاسو ته د هغه نه څه خبر،

اَوْ جَذْوَةٍ مِّنَ النَّارِ لَعَلَّكُمْ تَصْطَلُوْنَ ۰۰۲۹ فَلَمَّاۤ اَتٰىهَا نُوْدِيَ مِنْ شَاطِئِ الْوَادِ الْاَيْمَنِ

يا د اور سکروټه (شغله) راوړم، د دې دپاره چې تاسو (پرې) تاوده شئ نو کله چې دغه (اور) ته راغی د ناوپهٔ ښي اړخ کښې

فِي الْبُقْعَةِ الْمُبٰرَكَةِ مِنَ الشَّجَرَةِ اَنْ يّٰمُوْسٰۤى اِنِّيْۤ اَنَا اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَۙ ۰۰۳۰

(، نو) پهٔ مبارکه ټوټه (قطعه) کښې د ونې نه ورته اواز وکړی شو داسې چې ای موسٰی! بېشکه همدا زهٔ الله رب د ټول جهانونو يم

## ۴ ـ د حضرت موسٰی (عَلَیۡهِ السَّلَامُ) د مصرنه واپسي اوپهٔ صحراکښې د الله سُبۡحَانَهُ وَتَعَالٰی سره خبرې اترې (سُوۡرَةُ طٰهٰ ۲۰، آيتونه: ۱۷ نه تر ۲۴)

وَمَا تِلْكَ بِيَمِيْنِكَ يٰمُوْسٰى ٠٠١٧ قَالَ هِيَ عَصَايَ اَتَوَكَّؤُا عَلَيْهَا

او (الله تپوس وکړو) اى موسٰى! ستاپهٔ ښي لاس کې څه شى دى؟ موسٰى (عليه السلام) وويل: دا زما امسا ده پهٔ دې زهٔ تکيه لګوم،

وَلِيَ فِيْهَا مَاٰرِبُ اُخْرٰى ٠٠١٨ قَالَ وَاَهُشُّ بِهَا عَلٰى غَنَمِيْ

اوپهٔ دې سره زهٔ خپلو ګډو (بيزو) ته پاڼې ښندوهم، او زما دپاره پهٔ دې کې نور حاجتونه (او فايدې) هم دې (الله) وويل:

اَلْقِهَا يٰمُوْسٰى ٠٠١٩ فَاَلْقٰهَا فَاِذَا هِيَ حَيَّةٌ تَسْعٰى ٠٠٢٠ قَالَ خُذْهَا وَلَا تَخَفْ

اى موسٰى! ته دا وغورځوه نو هٔ دغه وغورځوله، نو ناڅاپهٔ دغه (امسا) مار شو، منډې ئې وهلې (الله) وويل: ته دا راونيسه، او ته مه ويرېږه،

سَنُعِيْدُهَا سِيْرَتَهَا الْاُوْلٰى ٠٠٢١ وَاضْمُمْ يَدَكَ اِلٰى جَنَاحِكَ تَخْرُجْ بَيْضَآءَ مِنْ غَيْرِ سُوْٓءٍ

زر به مونږ دا خپل ړومبني شکل ته راوګرځوو او ته خپل لاس خپل تخرګ ته پيوست کړه، دا به راووځي، چې تک سپين به وي، بې د عيب (او بيمارى) نه،

اٰيَةً اُخْرٰى ٠٠٢٢ لِنُرِيَكَ مِنْ اٰيٰتِنَا الْكُبْرٰى ٠٠٢٣

پهٔ داسې حال کې چې دا بله نښه (او معجزه) ده د دې دپاره چې مونږ تا ته د خپلو دټولو لويو نښو نه (څه) وښيو

اِذْهَبْ اِلٰى فِرْعَوْنَ اِنَّهٗ طَغٰى ٠٠٢٤

ته فرعون ته لاړ شه، بېشکه دهٔ سرکشي شروع کړې ده

د حضرت موسٰى عَلَيْهِ السَّلَام معجزات (سُوْرَةُ الْقَصَص ٢٨، آيتونه: ٣١ نه تر ٣٥)

وَاَنْ اَلْقِ عَصَاكَ فَلَمَّا رَاٰهَا تَهْتَزُّ

او (الله وويل) داسې چې خپله امسا وغورځوه، نو کله چې ئې هغه وليدله چې حرکت کوي،

كَاَنَّهَا جَآنٌّ وَّلّٰى مُدْبِرًا

ګوياکښې نرى منګرى مار دى، (نو) مخ ئې واړوه پهٔ دې حال کې چې شاکوونکى (تښتېدونکى) و،

وَّلَمْ يُعَقِّبْ يٰمُوْسٰٓى اَقْبِلْ وَلَا تَخَفْ اِنَّكَ مِنَ الْاٰمِنِيْنَ ٠٠٣١

او بېرته را ونهٔ ګرځېده، اى موسٰى! مخ راواړوه او مه ويرېږه: بېشکه تهٔ د (امان) موندونکو نه يې

اُسْلُكْ يَدَكَ فِيْ جَيْبِكَ تَخْرُجْ بَيْضَآءَ مِنْ غَيْرِ سُوْٓءٍ وَّاضْمُمْ اِلَيْكَ جَنَاحَكَ مِنَ الرَّهْبِ

تهٔ خپل لاس پهٔ خپل ګرېوان کې ننباسه، راوبه وځي، پهٔ داسې حال کې چې بې د کوم عيبه به تک سپين وي او ته خپل مټ خپل ځان ته راپيوست کړه، د وېرې د وجې نه،

فَذٰنِكَ بُرْهَانٰنِ مِنْ رَّبِّكَ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ىِٕهٖ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ٠٠٣٢

نو دغه دواړه دليلونه دي ستا د رب د اړخه فرعون او د هغه سردارانو ته، بېشکه چې دوى نافرمان خلق دي

قَالَ رَبِّ اِنِّيْ قَتَلْتُ مِنْهُمْ نَفْسًا فَاَخَافُ اَنْ يَّقْتُلُوْنِ ٠٠٣٣

موسٰى (عليه السلام) وويل: اى زما ربه! بېشکه ما ده دوى نه يو کس وژلى دى، نو زهٔ وېرېږم چې دوى به ما ووژني

وَاَخِيْ هٰرُوْنُهُوَ اَفْصَحُ مِنِّيْ لِسَانًافَاَرْسِلْهُ مَعِيَ رِدْاً

او زما ورور هارون (عليه السلام) چي دی، هغه زما نه پۀ ژبه کي ډېر فصيح دی، نو تۀ هغه زما سره مددګار ولېږه

يُّصَدِّقُنِيْٓ ۡاِنِّيْ اَخَافُ اَنْ يُّكَذِّبُوْنِ٠٠٣٤قَالَ سَنَشُدُّ عَضُدَكَ

چي زما تصديق کوي، بېشکه زۀ وېرېږم د دې نه چي دوی به زما تکذيب وکړي الله وويل: زر به مونږ مضبوط کړو ستا مټ

بِاَخِيْكَ وَنَجْعَلُ لَكُمَا سُلْطٰنًا فَلَا يَصِلُوْنَ اِلَيْكُمَاۚ ۡبِاٰيٰتِنَاۚ ۡ

پۀ خپل ورور سره او تاسو دواړه به غلبه وګرځوو، نو دوی به تاسو ته نشي دررسېدلی، زمونږ د نښو پۀ وجه.

اَنْتُمَا وَمَنِ اتَّبَعَكُمَا الْغٰلِبُوْنَ٠٠٣٥

تاسو دواړه او څوک چي ستاسو تابعداري کوي هم تاسو (ټول) به غالب وئ

## د حضرت موسٰی (عليه السلام) د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی نه دعا او د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی پۀ هغه باندي نعمتونه (سُوْرَة طٰه ۲۰، آيتونه: ۲۵ نه تر ۴۲)

قَالَ رَبِّ اشْرَحْ لِيْ صَدْرِيْ٠٠٢٥وَيَسِّرْ لِيْٓ اَمْرِيْ٠٠٢٦وَاحْلُلْ عُقْدَةً

(موسٰی (عليه السلام)) وويل: ای زما ربه! ته ما لره زما سينه (خلاصه) پرانيځه او ما ته زما کار اسان کړه او پرانيځه غوټه

مِّنْ لِّسَانِيْ٠٠٢٧يَفْقَهُوْا قَوْلِيْ٠٠٢٨وَاجْعَلْ لِّيْ وَزِيْرًامِّنْ اَهْلِيْ٠٠٢٩

زما د ژبي نه چي دوی زما پۀ خبره پوهه شي او زما دپاره يو وزير (مددګار) وټاکه زما د اهل نه

هٰرُوْنَ اَخِيْ٠٠٣٠اشْدُدْ بِهٖٓ اَزْرِيْ٠٠٣١وَاَشْرِكْهُ فِيْٓ اَمْرِيْ٠٠٣٢

هارون، (عليه السلام) چي زما ورور دی پۀ ده سره ته زما ملا قوي کړه او دی زما پۀ کار کي شريک کړه

كَيْ نُسَبِّحَكَ كَثِيْرًا٠٠٣٣وَّنَذْكُرَكَ كَثِيْرًا٠٠٣٤اِنَّكَ كُنْتَ بِنَا بَصِيْرًا٠٠٣٥

(يعني) د دې دپاره چي مونږ ستا ډېره پاکي بيان کو او ستا ډېر ذکر وکړو بېشکه هم تۀ زمونږ حال ښه ليدونکی يې

قَالَ قَدْ اُوْتِيْتَ سُؤْلَكَ يٰمُوْسٰى٠٠٣٦وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلَيْكَ مَرَّةً اُخْرٰٓى٠٠٣٧

(الله) وويل: ای موسٰی! يقينًا تا ته ستا سوال درکړی شو او بېشکه مونږ پۀ تا باندي احسان کړی وويو ځل بل

اِذْ اَوْحَيْنَآ اِلٰٓى اُمِّكَ مَا يُوْحٰٓى٠٠٣٨اَنِ اقْذِفِيْهِ فِي التَّابُوْتِ

کله چي مونږ الهام وکړو ستا مور ته هغه چي (تا ته او س) وحي کولی شي چي تۀ (ای مورې د موسٰی (عليه السلام)) دا (موسٰی (عليه السلام)) پۀ تابوت (صندوق) کي واچوه،

فَاقْذِفِيْهِ فِي الْيَمِّ فَلْيُلْقِهِ الْيَمُّ بِالسَّاحِلِ يَاْخُذْهُ عَدُوٌّ لِّيْ وَعَدُوٌّ لَّهٗ ۡ

بيا دغه (صندوق) پۀ سيند کي وغورځوه، نو دغه (صندوق) لره دې سيند پۀ ساحل کي وغورځوي، چي دغه (موسٰی) لره ونيسي زما دښمن او د دۀ دښمن

وَاَلْقَيْتُ عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِّنِّيْ ۡوَلِتُصْنَعَ عَلٰى عَيْنِيْ٠٠٣٩

او ما اچولی و په تا باندې د خپل اړخه محبت ، او د دې دپاره ستا تربيت زما د سترګو په وړاندې وشي

إِذْ تَمْشِي أُخْتُكَ فَتَقُولُ

کله چې ستا خور (په تا پسې) روانه وه (ته ئې ولیدې چې د هیچا تی (پی) نه اخلي) نو دې ویل: (د فرعون کورو الوته)

هَلْ اَدُلُّكُمْ عَلٰى مَنْ يَّكْفُلُهٗ١

ایا زۀ تاسو ته ونښیم هغه څوك چې د دۀ کفالت (او تربیت) به کوي.

فَرَجَعْنٰكَ اِلٰى اُمِّكَ كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَاوَلَا تَحْزَنَ١

نو ته مونږ خپلې مور ته بېرته راوستې، د دې دپاره چې د هغې سترګې یخې شي او غمژنه نشي

وَقَتَلْتَ نَفْسًا فَنَجَّيْنٰكَ مِنَ الْغَمِّ وَفَتَنّٰكَ فُتُوْنًا١

او تا يو کس مړ کړی وو، نو ته مونږ د غم نه خلاص کړې. او ته مونږ په قسما قسم امتحانونو سره وازمايلې،

فَلَبِثْتَ سِنِيْنَ فِيْٓ اَهْلِ مَدْيَنَ١ ثُمَّ جِئْتَ عَلٰى قَدَرٍ يّٰمُوْسٰى ٠٠٤٠

نو تا څو کاله په اهل مدين کې تېر کړل، بيا ته (زما) په وخت مقرر سره راغلې، ای موسٰی!

وَاصْطَنَعْتُكَ لِنَفْسِيْ٠٠٤١ اِذْهَبْ اَنْتَ وَاَخُوْكَ بِاٰيٰتِيْ وَلَا تَنِيَا فِيْ ذِكْرِيْ٠٠٤٢

او ته ما د خپل ځان دپاره خاص کړې ئې ته لاړ شه او ستا ورور دې هم، زما په معجزو (نښانو) سره او تاسو دواړه زما په ذکر (یاد) کې سستي مه کوئ

## اهمې نکتې

اِذْهَبَا اِلٰى فِرْعَوْنَاِنَّهٗ طَغٰى ۚ۝٠٠٤٣فَقُوْلَا لَهٗ قَوْلًا لَّيِّنًا

تاسو دواړه فرعون ته لاړ شئ، بېشکه هغه باغي شوی دی نو تاسو هغه ته ډېره نرمه خبره وکړئ،

لَّعَلَّهٗ يَتَذَكَّرُ اَوْ يَخْشٰى٠٠٤٤قَالَا رَبَّنَآ اِنَّنَا نَخَافُ اَنْ يَّفْرُطَ عَلَيْنَآ

کېديشي چې دی پند واخلي، يا ووېرېږي ـ دواړو وويل: ای زمونږه ربه! بېشکه مونږ د دې نه وېرېږو چې دی به زمونږ سره زياتی وکړي،

اَوْ اَنْ يَّطْغٰى٠٠٤٥قَالَ لَا تَخَافَآ اِنَّنِيْ مَعَكُمَآ اَسْمَعُ وَاَرٰى٠٠٤٦

يا به سرکشي شروع کړي (الله) وويل: تاسو مه وېرېږئ، بېشکه زهٔ تاسو سره يم، زهٔ اورم او زهٔ وينم

حضرت موسٰى عَلَيْهِ السَّلَام د فرعون پهٔ درباركښې (سُوْرَةَ الاعراف۷،آيتونه۱۰۳نه تر۱۱۲)

ثُمَّ بَعَثْنَا مِنْۢ بَعْدِهِمْ مُّوْسٰى بِاٰيٰتِنَآ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهٖ

بيا وليږه مونږ وروسته د دوی نه موسٰى (عليه السلام) د خپلو ايتونو (معجزو) سره،فرعون او د هغه سردارانو ته

فَظَلَمُوْا بِهَا ۚ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِيْنَ٠٠١٠٣وَقَالَ مُوْسٰى يٰفِرْعَوْنُ

نو هغوی پهٔ دې (ايتونو) سره ظلم وکړو، نو تهٔ وګوره د ورانکارو انجام څنګه شو؟ او موسٰى (عليه السلام) وويل: ای فرعونه!

اِنِّيْ رَسُوْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۙ٠٠١٠٤حَقِيْقٌ عَلٰٓى اَنْ لَّآ اَقُوْلَ عَلَى اللّٰهِ اِلَّا الْحَقَّ ۭ

بېشکه زهٔ رسول يم د ټول مخلوق درب د اړخه پهٔ مالازمه ده چې نهٔ وايم پهٔ الله مګر حقه خبره،

قَدْ جِئْتُكُمْ بِبَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ فَاَرْسِلْ مَعِيَ بَنِيْٓ اِسْرَاۗءِيْلَ ۭ٠٠١٠٥

يقينًا ما تاسو ته د خپل رب د اړخه ښکاره معجزه راوړې ده، نو تهٔ زما سره بني اسرائيل خوشې کړه (وليږه)

قَالَ اِنْ كُنْتَ جِئْتَ بِاٰيَةٍ فَاْتِ بِهَآ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ٠٠١٠٦

وويل (فرعون) که چېرې تا کومه نښه راوړې وي، نو هغه راوړاندې کړه، که چېرې ته ده رښتينو نه يې

فَاَلْقٰى عَصَاهُ فَاِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُّبِيْنٌ ښ۝٠٠١٠٧وَّنَزَعَ يَدَهٗ

نو موسٰى (عليه السلام) خپله اَمسا وغورځوله، نو ناڅاپهٔ هغه ښکاره اژدها وه او خپل لاس ئې راوښکه،

فَاِذَا هِيَ بَيْضَاۗءُ لِلنّٰظِرِيْنَ ۧ٠٠١٠٨قَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِ فِرْعَوْنَ اِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ عَلِيْمٌ ۙ٠٠١٠٩

نو ناڅاپهٔ هغه تک سپين و د کتونکو دپاره ـ د فرعون د قام مشرانو وويل: بېشکه دا خامخا ډېر پوهه جادوګر دی

يُّرِيْدُ اَنْ يُّخْرِجَكُمْ مِّنْ اَرْضِكُمْ ۚ فَمَاذَا تَاْمُرُوْنَ٠٠١١٠ قَالُوْٓا اَرْجِهْ وَاَخَاهُ

دا غواړي چې وباسي تاسو د خپلې ځمکې نه ، نو تاسو څه حکم کوئ (خلقو) وويل: تهٔ دهٔ ته او د دهٔ وورور ته مهلت ورکړه

وَاَرْسِلْ فِي الْمَدَاۗىِٕنِ حٰشِرِيْنَ ۙ٠٠١١١ يَاْتُوْكَ بِكُلِّ سٰحِرٍ عَلِيْمٍ٠٠١١٢

اوپـۀ ښــارونو کښـــې راټولوونکښـــې ولیـــږه چـــې راولـــې تـــا تـــه هـــر ښـۀ پوهـــه جـــادوګر

## حضــرت موســیٰ د فرعـــون پــۀ دربـــار کښـــې (ســـورة طٰہٰ ۲۰،اۤیـــات:۴۷نـــه تـــر ۵۶)

فَاْتِيٰـــــهُ فَقُـــــوْلَا اِنَّـــــا رَسُـــــوْلَا رَبِّـــــكَ فَاَرْسِـــــلْ مَعَنَـــــا بَنِـــــيْٓ اِسْــــرَآءِيْلَ۬ۙ

(الله وفرمایيل)نو تاسو دۀ ته ورشئ، پس (ورته) ووايئ چې بېشکه مونږ ستا د رب استاذي يو ، نو تۀ زمونږ سره بني اسرائيل خوشې کړه،

وَلَا تُعَـــــذِّبْهُمْؕ ۬قَـــــدْ جِئْنٰـــــكَ بِاٰيَـــــةٍ مِّـــــنْ رَّبِّـــــكَؕ ۬وَالسَّـــــلٰمُ عَلٰـــــى

او تـۀ دوی مـه پـۀ عذابوه،پـۀ تحقيق مـونږ تـا تـه ستـا د رب د معجزې سره راغلـي يـو ، او (د عـذاب نـه) سلامتي ده

مَـــــنِ اتَّبَـــــعَ الْهُـــــدٰى۰۰۴۷اِنَّـــــا قَـــــدْ اُوْحِـــــيَ اِلَيْنَـــــاۤ

د هغـه چـا دپـاره چـې د هـدايت تابعـداري وکـړي بېشـکه مـونږ چـې يـو ، يقينًـا مـونږ تـه وحـي کـړی شـوي ده

اَنَّ الْعَـــــذَابَ عَلٰى مَـــــنْ كَـــــذَّبَ وَتَـــــوَلّٰى۰۰۴۸ قَـــــالَ

چـې بېشـکه عـذاب پـۀ هغـه چـا دی چـې (د رسـولانو) تکـذيب کـوي او (د اسـلامه) مـخ ګرځـوي(فرعـون) ووېـل:

فَمَـــــنْ رَّبُّكُمَـــــا يٰمُوْسٰـــــى۰۰۴۹قَـــــالَ رَبُّنَـــــا الَّـــــذِيْۤ

ای موســـی (عَلَيْهِ السَّلَامُ) ستاســـو د دواړو رب خـــوك دی؟ موسٰــــی (عَلَيْهِ السَّلَامُ) ووېـــل: زمـــونږ رب هغــــه ذات دی

اَعْطٰـــــى كُـــــلَّ شَـــــيْءٍ خَلْقَـــــهٗ ثُـــــمَّ هَـــــدٰى۰۰۵۰

چـــې هـــر شـــې تـــه ئـــې د دۀ (موافـــق) شـــکل ورکـــړی دی، بيـــا ئـــې لار ښـــودلې ده

قَـــــالَ فَمَـــــا بَـــــالُ الْقُـــــرُوْنِ الْاُوْلٰـــــى۰۰۵۱قَـــــالَ عِلْمُهَـــــا عِنْـــــدَ رَبِّـــــيْ فِـــــيْ كِتٰـــــبٍ١ۚ

فرعون ووېل: د ړومبنو زمانو د خلقو څه حال دی؟ موسٰی (عَلَيْهِ السَّلَامُ) ووېل: د هغو علم زما د رب سره دی پۀ يو کتاب کښې،

لَا يَضِـــلُّ رَبِّـــيْ وَلَا يَنْسَـــىؗ۰۰۵۲الَّـــذِيْ جَعَـــلَ لَكُـــمُ الْاَرْضَ مَهْدًاوَّسَـــلَكَ لَكُـــمْ فِيْهَـــا سُـــبُلًا

زما د رب نه څه ورکيږي او نۀ ترې هېريږي هغه ذات چې تاسو دپاره ئې ځمکه فرش ګرځولې ده او تاسو دپاره ئې پۀ دې کښې لارې چلولې دي

وَّاَنْـــزَلَ مِـــنَ السَّـــمَآءِ مَـــآءًؕ ۬فَاَخْرَجْنَـــا بِـــهٖۤ اَزْوَاجًـــا مِّـــنْ نَّبَـــاتٍ شَـــتّٰى۰۰۵۳كُلُـــوْا وَارْعَـــوْا اَنْعَـــامَكُمْؕ ۬

او د بره نه ئې اوبه راورولې دي، پس پۀ دغو (اوبو) سره مونږ را ايستلي دي بېلا بېل (او) قسما قسم زرغوني تاسو ئې خورئ او خپل څاروي (پۀ کښې) څروئ،

اِنَّ فِـــيْ ذٰلِـــكَ لَاٰيٰـــتٍ لِّاُولِـــي النُّهٰـــى۠۰۰۵۴مِنْهَـــا خَلَقْنٰكُمْوَفِيْهَـــا نُعِيْـــدُكُمْ

بېشکه پۀ دغو (شيانو) کې د عقل والاو دپاره يقينًا ډېرې نښې دي د هم دې (ځمکې) نه مونږ تاسو پيدا کړي يئ او پۀ هم دې کښې به مونږ تاسو ننه باسو،

وَمِنْهَـــا نُخْـــرِجُكُمْ تَـــارَةً اُخْـــرٰى۰۰۵۵ وَلَقَـــدْ اَرَيْنٰهُ اٰيٰتِنَـــا كُلَّهَافَكَـــذَّبَ وَاَبٰـــى۰۰۵۶

او بل ځل به مونږ تاسو راوباسو او بېشکه مونږ (فرعون) ته خپلې ټولې نښې (او معجزې) وروښوولې، نو ده تکذيب وکړو او انکار ئې وکړو

## پۀ دربـار کښـې د حضـرت موسٰـی عَلَيْـهِ السَّـلَام اود فرعـون مزيـد اړي خبـرې -(سُوْرَةُ الشـعراء ۲۶،آيتونـه:۱۲نـه تـر ۳۷)

فَاْتِيَـــا فِرْعَوْنَفَقُـــوْلَا اِنَّـــا رَسُـــوْلُ رَبِّ الْعٰلَمِـــيْنَۙ۰۰۱۶ اَنْ اَرْسِـــلْ مَعَنَـــا بَنِـــيْٓ اِسْـــرَآءِيْلَؕ۰۰۱۷

نو تاسو دواړه فرعون ته ورشئ، نو (ورته) ووايئ: بېشکه مونږ د ټولو جهانونو رب استازي يو پۀ دې خبره چې تۀ زمونږ سره بني اسرائيل خوشې کړه

قَـــالَ اَلَـــمْ نُرَبِّـــكَ فِيْنَـــا وَلِيْـــدًاوَّلَبِثْتَ فِيْنَـــا مِـــنْ عُمُـــرِكَ سِـــنِيْنَۙ۰۰۱۸

(فرعون ووېل: ايا مونږ پۀ خپل کور کښې ستا پالنه نه وه کړې،پۀ داسې حال کښې چې تۀ بچی وې او تا پۀ مونږ کښې د خپل عمر څو کاله تېر کړي وو

وَفَعَلْتَ فَعْلَتَكَ الَّتِيْ فَعَلْتَ وَاَنْتَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ٠٠١٩

او تا خپل هغه کار کړی وو چې تا کړی و، پهٔ دې حال کښې چې تهٔ دس ناشکرو نه ئې

قَالَ فَعَلْتُهَآ اِذًا وَّاَنَا مِنَ الضَّآلِّيْنَ ٠٠٢٠

موسٰی (عليه السلام) ووېل: ما دغه کار پهٔ هغه وخت کښې کړی و چې زهٔ د ناپوهانو نه وم

فَفَرَرْتُ مِنْكُمْ لَمَّا خِفْتُكُمْ فَوَهَبَ لِيْ رَبِّيْ حُكْمًا وَّجَعَلَنِيْ مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ٠٠٢١

نو کله چې زهٔ ستاسو وویرېدم (نو) ستاسو نه وتښتېدم، بیا ما ته زما رب حکم (او علم) راکړو او زهٔ ئې له رسولانو نه وګرځولم

وَتِلْكَ نِعْمَةٌ تَمُنُّهَا عَلَيَّ اَنْ عَبَّدْتَّ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ٠٠٢٢ قَالَ فِرْعَوْنُ وَمَا رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ٠٠٢٣

او دغه داسې احسان دی چې ته ئې پهٔ ما زباتې (هغه) دا دی چې تا بني اسرائیل غلامان ګرځولي وو فرعون ووېل: او دټولو جهانونو رب څوک دی؟

قَالَ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۭ اِنْ كُنْتُمْ مُّوْقِنِيْنَ ٠٠٢٤ قَالَ

موسٰی (عليه السلام) ووېل: رب دی د اسمانونو او ځمکې او د هغه څه چې د دې دواړو پهٔ مینځ کښې دي، که تاسو یقین کوونکښي یئ (فرعون) ووېل:

لِمَنْ حَوْلَهٗٓ اَلَا تَسْتَمِعُوْنَ ٠٠٢٥ قَالَ رَبُّكُمْ وَرَبُّ اٰبَاۗىِٕكُمُ الْاَوَّلِيْنَ ٠٠٢٦

هغه خپلو ګېر چاپېره خلقو ته ایا تاسو نه اورئ؟ موسٰی (عليه السلام) ووېل: (چې رب العٰلمین) ستاسو رب دی او ستاسو د مخکینو پلرونو رب دی

قَالَ اِنَّ رَسُوْلَكُمُ الَّذِيْٓ اُرْسِلَ اِلَيْكُمْ لَمَجْنُوْنٌ ٠٠٢٧ قَالَ رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ

فرعون ووېل: بېشکه ستاسو دغه رسول چې تاسو ته رالیږل شوی دی، یقینًا لېونی دی (موسٰی (عليه السلام) ووېل: (هغه) د مشرق او مغرب رب دی

وَمَا بَيْنَهُمَا ۭ اِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُوْنَ ٠٠٢٨ قَالَ لَىِٕنِ اتَّخَذْتَ اِلٰــهًا غَيْرِيْ

او څه چې د دې دواړو پهٔ مینځ کې دي، که تاسو د عقل نه کار اخلئ (فرعون موسٰی (عليه السلام) ته) ووېل: قسم دی که تا زما نه غیر بل معبود ونیوه

لَاَجْعَلَنَّكَ مِنَ الْمَسْجُوْنِيْنَ ٠٠٢٩ قَالَ اَوَلَوْ جِئْتُكَ بِشَيْءٍ مُّبِيْنٍ ٠٠٣٠

نو زهٔ به تا د جیلیانو نه وګرځوم (موسٰی (عليه السلام)) ووېل: آیا اګر که زهٔ تا ته یو ښکاره څرګندوونکښی شی (دلیل) راوړم؟

قَالَ فَاْتِ بِهٖٓ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ٠٠٣١ فَاَلْقٰى عَصَاهُ فَاِذَا هِىَ ثُعْبَانٌ مُّبِيْنٌ ٠٠٣٢

(فرعون) ووېل: نو تهٔ هغه راوړه که تهٔ د رښتینو نه ئې نو (موسٰی (عليه السلام)) خپله امسا وغورځوله، نو ناڅاپهٔ هغه وه ښکاره ښامار

وَّنَزَعَ يَدَهٗ فَاِذَا هِيَ بَيْضَاۗءُ لِلنّٰظِرِيْنَ ٠٠٣٣ قَالَ لِلْمَلَاِ حَوْلَهٗٓ

او خپل لاس ئې راوایست، نو ناڅاپهٔ هغه د کتونکو دپاره تک سپین وو فرعون خپلو چاپېره سردارانو ته ووېل:

اِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ عَلِيْمٌ ٠٠٣٤ يُّرِيْدُ اَنْ يُّخْرِجَكُمْ مِّنْ اَرْضِكُمْ بِسِحْرِهٖ ڰ فَمَاذَا تَاْمُرُوْنَ ٠٠٣٥ قَالُوْٓا

بېشکه دا یقینًا ډېر پوهه جادوګر دی دا غواړي چې تاسو د خپلې ځمکې نه وباسي پهٔ خپل جادو سره، نو تاسو د څه مشوره راکوئ؟ هغوی ووېل:

اَرْجِهْ وَاَخَاهُ وَابْعَثْ فِي الْمَدَاۗىِٕنِ حٰشِرِيْنَ ٠٠٣٦ يَاْتُوْكَ بِكُلِّ سَحَّارٍ عَلِيْمٍ ٠٠٣٧

ته دے او د دهٔ ورور ته مهلت ورکړه او پهٔ ټولو ښارونو کښې (دجادوګرو) راټولوونکي ولېږه چې تا ته هر ښه پوهه، غټ جادوګر راولي

## اَهمې نُکتې

**حضرت موسٰی عَلَيْه السّلَام دفرعون پهٔ دربار کښې (سُوْرَةَ القصص۲۸،آيتونه: ۳۶تا۳۷)**

فَلَمَّا جَآءَهُمْ مُّوْسٰى بِاٰيٰتِنَا بَيِّنٰتٍ قَالُوْا مَا هٰذَاۤ اِلَّا سِحْرٌ مُّفْتَرًى

نو کله چې راغی دوی ته موسٰی (عَلَيْهِ السَّلَامُ) زمونږ پهٔ ښکاره معجزو سره ، دوی وویل: نهٔ دی دا مګر جادو (سحر)، چې پهٔ دروغو سره جوړ کړی شوی دی

وَّمَا سَمِعْنَا بِهٰذَا فِيْۤ اٰبَآئِنَا الْاَوَّلِيْنَ۰۰۳۶ وَقَالَ مُوْسٰى رَبِّيْۤ اَعْلَمُ

او مونږ دا خبره نهٔ ده اوریدلي پهٔ خپلو پلرونو پخوانو کې او موسٰی (عَلَيْهِ السَّلَامُ) وویل: زما رب ښه عالم دی

بِمَنْ جَآءَ بِالْهُدٰى مِنْ عِنْدِهٖ وَمَنْ تَكُوْنُ لَهٗ عَاقِبَةُ الدَّارِ ؕ

پهٔ هغه چا چې د هغه دا ړخه پهٔ هدايت سره راغلی دی او پهٔ هغه چا چې د هغه دپاره به د آخرت ښهٔ انجام وي،

اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ۰۰۳۷

بيشکه شان دا دی چې ظالمان به بری نه مومي۔

**۶- د حضرت موسٰی عَلَيْهِ السّلَام د جادوګروسره مقابله او د حضرت موسٰی عَلَيْهِ السّلَام فتحه (سُوْرَةَ الاعراف۷،آيتونه: ۱۱۳ نه تر ۱۲۲)**

وَجَآءَ السَّحَرَةُ فِرْعَوْنَقَالُوْٓا اِنَّ لَنَا لَاَجْرًا اِنْ كُنَّا نَحْنُ الْغٰلِبِيْنَ٠٠١١٣

او جادوګر دفرعون خواته راغلل، وئې ويل: بېشكه زمونږ دپاره به خامخا انعام وي كه چېرې مونږه غلبه موندونكي شو

قَالَ نَعَمْ وَاِنَّكُمْ لَمِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ٠٠١١٤ قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى اِمَّآ اَنْ تُلْقِيَ

(فرعون) وويل: هو! يقينًا خامخا تاسو به د مقربينو نه يئ)(جادوګرو) وويل: اى موسىٰ (عليه السلام)! يا تۀ (امسا) وغورځوه

وَاِمَّآ اَنْ نَّكُوْنَ نَحْنُ الْمُلْقِيْنَ٠٠١١٥

او يا به همدا مونږ (خپلو رسيو او امساګانو لره) غورځوونكي يو

قَالَ اَلْقُوْا ۚ فَلَمَّآ اَلْقَوْا سَحَرُوْٓا اَعْيُنَ النَّاسِوَاسْتَرْهَبُوْهُمْ

موسىٰ (عليه السلام) وويل: تاسو ئې وغورځوئ، نو كله چې هغوى وغورځولې (، نو) د خلقو پۀ سترګو ئې جادو وكړو او هغوى ئې ښه ووېرول

وَجَآءُوْ بِسِحْرٍ عَظِيْمٍ٠٠١١٦وَاَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓىاَنْ اَلْقِ عَصَاكَ ۚ فَاِذَا هِيَ تَلْقَفُ

او ډېر لوى جادو ئې وكړو او مونږ موسىٰ (عليه السلام) ته وحې وكړه چې خپله امسا وغورځوه، نو ناڅاپۀ هغې هغه څه زر تېرول

مَا يَاْفِكُوْنَ٠٠١١٧فَوَقَعَ الْحَقُّوَبَطَلَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ٠٠١١٨ فَغُلِبُوْا هُنَالِكَ

چې هغوى به جوړول نو حق ثابت شو او باطل شول هغه څه چې هغوى به كول نو دوى (ساحران)پۀ دغه ځاى كښې مغلوب شول

وَانْقَلَبُوْا صٰغِرِيْنَ٠٠١١٩وَاُلْقِيَ السَّحَرَةُ سٰجِدِيْنَ٠٠١٢٠ قَالُوْٓا اٰمَنَّا

او دوى ذليله سپك وګرځېدل او (جادوګر) وغورځول شول،پۀ دې حال كې چې سجده كوونكي وو جادوګرو وويل:

بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ٠٠١٢١رَبِّ مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ٠٠١٢٢

مونږ د تمامو جهانونو پۀ رب ايمان راوړے د موسىٰ (عليه السلام) او د هارون (عليه السلام) پۀ رب

## د حضرت موسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام د جادوګرو سره مقابله او د حضرت موسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام فتحه (سُوْرَة ٢٠ طٰهٰ،آيتونه: ٥٧ نه تر ٧٠)

قَالَ اَجِئْتَنَا لِتُخْرِجَنَا مِنْ اَرْضِنَابِسِحْرِكَ يٰمُوْسٰى٠٠٥٧

وويل: (فرعون) ايا تۀ مونږ ته راغلى ئې اى موسىٰ (عليه السلام)؟، د دې دپاره چې تۀ مونږ د خپلې ځمكې نه وباسې پۀ خپل سحر (جادو) سره ؟

فَلَنَاْتِيَنَّكَ بِسِحْرٍ مِّثْلِهٖ فَاجْعَلْ بَيْنَنَا وَبَيْنَكَ مَوْعِدًا

نو مونږ به خامخا ضرور تا ته د دغه (جادو)پۀ مثل جادو راوړو، نو تۀ زمونږ پۀ مينځ كښې او پۀ خپل مينځ كښې يو وخت مقرر كړه

لَّا نُخْلِفُهٗ نَحْنُ وَلَآ اَنْتَ مَكَانًا سُوًى٠٠٥٨ قَالَ مَوْعِدُكُمْ يَوْمُ الزِّيْنَةِ

چې نۀ به مونږ د هغې مخالفت كوو او نۀ تۀ (مقابله به پۀ داسې ځاى چې (هوار) وي موسىٰ (عليه السلام) وويل: ستاسو د وعدې وخت د زينت (او جشن) ورځ ده

وَاَنْ يُّحْشَرَ النَّاسُ ضُحًى٠٠٥٩ فَتَوَلّٰى فِرْعَوْنُ فَجَمَعَ كَيْدَهٗ ثُمَّ اَتٰى٠٠٦٠

او دا چې خلق دې د څاښت پۀ وخت كښې راجمع كړى شي نو فرعون (د خپل ځاے) وګرځېده، نو خپل مكر (او چل) ئې راجمع كړو، بيا (د مقابلې دپاره) راغى

قَالَ لَهُمْ مُّوْسٰى وَيْلَكُمْ لَا تَفْتَرُوْا عَلَى اللّٰهِ كَذِبًافَيُسْحِتَكُمْ بِعَذَابٍ ۚ

موسىٰ (عليه السلام) جادوګرو ته) وويل: پۀ تاسو افسوس دے! پۀ الله باندې دروغ مه جوړوئ) نو هغه به تاسو پۀ عذاب سره هلاك كړي،

وَقَدْ خَابَمَنِ افْتَرٰى٠٠٦١فَتَنَازَعُوْٓا اَمْرَهُمْ بَيْنَهُمْ

او پۀ تحقيق نا اميده (او نامراد شو هغه كس چې (پۀ الله) ئې دروغ وتړل نو دغو (جادوګرو)پۀ خپل كار كښې پۀ خپل مينځ كښې جګړه وكړه

وَاَسَرُّوا النَّجْوٰى ٠٠٦٢

او دغه پټه مشوره ئي پټه وساتله

قَالُوْٓا اِنْ هٰذٰنِ لَسٰحِرٰنِ يُرِيْدٰنِ اَنْ يُّخْرِجٰكُمْ مِّنْ اَرْضِكُمْ بِسِحْرِهِمَا

دوی وويل: بېشکه چې دا دواړه خامخا ساحران (جادوګر) دي، دوی دواړه غواړي چې تاسو وباسي د خپلې ځمکې (خاورې) نه پۀ خپل سحر (جادو) سره

وَيَذْهَبَا بِطَرِيْقَتِكُمُ الْمُثْلٰى ٠٠٦٣ فَاَجْمِعُوْا كَيْدَكُمْ ثُمَّ ائْتُوْا صَفًّا ۚ وَقَدْ اَفْلَحَ الْيَوْمَ

او ستاسو ډېر غوره لار (د دين) ختمه کړي نو تاسو خپل ټول چل مکر راجمع کړئ، بيا تاسو (ميدان ته) راشئ صف صف، او يقينًا نن ورځ کامياب دی

مَنِ اسْتَعْلٰى ٠٠٦٤ قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى اِمَّآ اَنْ تُلْقِيَ وَاِمَّآ اَنْ نَّكُوْنَ اَوَّلَ مَنْ اَلْقٰى ٠٠٦٥

هغه څوك چې غالب شو جادوګرو وويل: ای موسٰی (عليه السلام)! يا به تۀ (امسا) غورځوې، يا به مونږ شو اول د هغه چا چې (امسا) غورځوي

قَالَ بَلْ اَلْقُوْا ۚ

موسٰی (عليه السلام) وويل: بلکې تاسو وغورځوئ،

فَاِذَا حِبَالُهُمْ وَعِصِيُّهُمْ يُخَيَّلُ اِلَيْهِ مِنْ سِحْرِهِمْ اَنَّهَا تَسْعٰى ٠٠٦٦

نو ناڅاپه د دوی رسۍ او د دوی امساګانې د دوی د سحر په وجه د ده (موسٰی (عليه السلام)) خيال ته داسې راوستی شوې چې په رښتيا دغه منډې وهي

فَاَوْجَسَ فِيْ نَفْسِهٖ خِيْفَةً مُّوْسٰى ٠٠٦٧ قُلْنَا لَا تَخَفْ اِنَّكَ اَنْتَ الْاَعْلٰى ٠٠٦٨

نو موسٰی (عليه السلام) په خپل نفس (زړۀ) کې لګه وېره ومونده مونږه وويل: تۀ مه وېرېږه، بېشکه هم تۀ به غالب يې

وَاَلْقِ مَا فِيْ يَمِيْنِكَ تَلْقَفْ مَا صَنَعُوْا ۭ

او ته هغه (امسا پۀ ځمکه) وغورځوه چې ستا پۀ ښي لاس کې ده، چې هغه څه تېر کړي چې دغو جوړ کړي دي،

اِنَّمَا صَنَعُوْا كَيْدُ سٰحِرٍ ۭ وَلَا يُفْلِحُ السَّاحِرُ حَيْثُ اَتٰى ٠٠٦٩

بېشکه هغه شی چې دوی تيار کړی دی (دا) د جادوګر چل مکر دی، او جادوګر بری نه مومي هر چېرته چې راشي

فَاُلْقِيَ السَّحَرَةُ سُجَّدًا قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِرَبِّ هٰرُوْنَ وَمُوْسٰى ٠٠٧٠

نو ساحران وغورځولی شول، سجده کوونکي، وئې ويل: مونږ د هارون (عليه السلام) او موسٰی (عليه السلام) پۀ رب ايمان راوړ-

**د حضرت موسٰی (عليه السلام) د جادوګرو سره مقابله او د حضرت موسٰی (عليه السلام) فتحه (سُوْرَة ٢٠ الشعراء ٢٦ ،آيتونه: ٣٨ نه تر ٤٨)**

فَجُمِعَ السَّحَرَةُ لِمِيْقَاتِ يَوْمٍ مَّعْلُوْمٍ ۙ ٠٠٣٨ وَّقِيْلَ لِلنَّاسِ

نو جادوګر راجمع کړی شول د معلومې ورځې مقرر وخت ته او خلقو ته وويل شول

هَلْ اَنْتُمْ مُّجْتَمِعُوْنَ ۙ ٠٠٣٩ لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ السَّحَرَةَ اِنْ كَانُوْا هُمُ الْغٰلِبِيْنَ ٠٠٤٠

چې آيا تاسو راجمع کېدونکي يئ؟ کېدی شي چې مونږ د جادوګرو پيروي وکړو که هم دوی چېرته غالبه شو

فَلَمَّا جَاۗءَ السَّحَرَةُ قَالُوْا لِفِرْعَوْنَ اَىِٕنَّ لَنَا لَاَجْرًا اِنْ كُنَّا نَحْنُ الْغٰلِبِيْنَ ٠٠٤١

نو کله چې جادوګر راغلل، (نو) فرعون ته ئې وويل: آيا يقينًا زمونږ دپاره واقعي به اجر وي که چېرته مونږ غالبه شو؟

قَالَ نَعَمْ وَاِنَّكُمْ اِذًا لَّمِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ ٠٠٤٢

فرعون وويل: هو، او بېشکه تاسو به پۀ دغه وخت کښې خامخا د نزديکانو نه يئ!

قَالَ لَهُمْ مُّوْسٰى اَلْقُوْا مَا اَنْتُمْ مُّلْقُوْنَ ۰۰۴۳

دوی ته موسٰی(عليه السلام) وويل: تاسو هغه څه وغورځوئ چې تاسو ئې غورځوونکي يئ

فَاَلْقَوْا حِبَالَهُمْ وَعِصِيَّهُمْ وَقَالُوْا بِعِزَّةِ فِرْعَوْنَ اِنَّا لَنَحْنُ الْغٰلِبُوْنَ ۰۰۴۴

نو هغوی خپلې رسۍ او امساګانې (په ځمکه) وغورځولې او وئې ويل: د فرعون په عزت قسم، بېشکه مونږ، خامخا مونږ غالب يو

فَاَلْقٰى مُوْسٰى عَصَاهُ فَاِذَا هِيَ تَلْقَفُ مَا يَاْفِكُوْنَ ۰۰۴۵

نو موسٰی(عليه السلام) خپله امسا وغورځوله، نو ناڅاپه هغې هغه څه زر تېرول چې دوی په دروغه جوړ کړي وو

فَاُلْقِيَ السَّحَرَةُ سٰجِدِيْنَ ۰۰۴۶

نو جادوګر وغورځول شول (پړمخې)، چې سجده کوونکي وو

قَالُوْا اٰمَنَّا بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۰۰۴۷ رَبِّ مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ۰۰۴۸

جادوګرو وويل: مونږ په رب د ټولو جوجهانونو ايمان راوړو چې د موسٰی(عليه السلام) او هارون(عليه السلام) رب دی

د فرعون ايمان والاته دهمکي اود ايمان والامظبوطوالې (سُوْرَةُ الاعراف ۷، آيتونه: ۱۲۳ نه تر ۱۲۹)

قَالَ فِرْعَوْنُ اٰمَنْتُمْ بِهٖ قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ لَكُمْ ۚ اِنَّ هٰذَا لَمَكْرٌ

فرعون وويل: تاسو په ده ايمان راوړو مخکښې د دې نه چې زۀ تاسو ته اجازت درکړم، بېشکه دا خامخا يو مکر (سازش) دی

مَّكَرْتُمُوْهُ فِي الْمَدِيْنَةِ لِتُخْرِجُوْا مِنْهَاۤ اَهْلَهَا ۚ فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۰۰۱۲۳

چې تاسو په دې ښار کې (دا) مکر کړی دی، د دې دپاره چې تاسو وباسئ له دې (ښار) نه د هغه اوسېدونکي، نو زر به تاسو پوه شئ

لَاُقَطِّعَنَّ اَيْدِيَكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ مِّنْ خِلَافٍ ثُمَّ لَاُصَلِّبَنَّكُمْ اَجْمَعِيْنَ ۰۰۱۲۴

خامخا به زۀ غوڅ کړم ستاسو لاسونه او ستاسو پښې ادلې بدلې، بيا به خامخا تاسو ټول په دار کړم

قَالُوْا اِنَّاۤ اِلٰى رَبِّنَا مُنْقَلِبُوْنَ ۰۰۱۲۵ وَمَا تَنْقِمُ مِنَّاۤ اِلَّاۤ اَنْ اٰمَنَّا

وويل (جادوګرو): بېشکه مونږ د خپل رب په اړخ بېرته ورتلونکي يو او تۀ بد نۀ ګڼرې زمونږ نه (هېڅ عمل) سوا د دې نه چې مونږ ايمان راوړی دی،

بِاٰيٰتِ رَبِّنَا لَمَّا جَآءَتْنَا ؕ رَبَّنَاۤ اَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَّتَوَفَّنَا مُسْلِمِيْنَ ۰۰۱۲۶

د خپل رب په ايتونو کله چې دا (ايتونه) مونږ ته راغلل، ای زمونږه ربه! ته په مونږ باندې صبر راتوی کړه او مونږه وفات کړه، په داسې حال کې چې مسلمانان يو

# اَهمې نُکتې

وَقَالَ الْمَلَاُمِنْ قَوْمِ فِرْعَوْنَاَتَذَرُ مُوْسٰى وَقَوْمَهٗلِيُفْسِدُوْا فِي الْاَرْضِ

او د فرعون د قام مشرانو (فرعون ته) وويل: ايا ته موسیٰ(عَلَيْهِ السَّلَامُ) او د هغه قام د دې دپاره (ازاد) پرېږدې چې په ځمکه کښې ورانی وکړي

وَيَذَرَكَ وَاٰلِهَتَكَ ؕ قَالَ سَنُقَتِّلُ اَبْنَآءَهُمْ

او تا او ستا معبودان پرېږدي، وويل (فرعون): زر به مونږ د دوی زامن ووژنو

وَنَسْتَحْيٖ نِسَآءَهُمْ ۚ وَاِنَّا فَوْقَهُمْ قٰهِرُوْنَ ٠٠١٢٧ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهِ اسْتَعِيْنُوْا بِاللّٰهِ وَاصْبِرُوْا ۚ

او د دوی ښځې (جینکۍ) به ژوندۍ پرېږدو او بېشکه مونږ د دوی د پاسه زورور یو موسیٰ(عَلَيْهِ السَّلَامُ) خپل قام ته وویل: تاسو د الله نه مدد وغواړئ او صبر کوئ،

اِنَّ الْاَرْضَ لِلّٰهِ ۙ يُوْرِثُهَا مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ؕ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ ٠٠١٢٨

بېشکه ځمکه د الله دپاره ده، په میراث کښې ورکوي دا ځمکه هغه چا ته چې ئې وغواړي په خپلو بنده ګانو او ښه انجام د پرهېزګارانو دپاره دی

قَالُوْا اُوْذِيْنَا مِنْ قَبْلِ اَنْ تَاْتِيَنَا وَمِنْۢ بَعْدِ مَا جِئْتَنَا ؕ

بني اسرائیلو) وویل: مونږ ته تکلیف رسولے شوی دی، مخکښې د دې چې ته مونږ ته راشې او وروسته د دې چې ته مونږ ته راغلې.

قَالَ عَسٰى رَبُّكُمْ اَنْ يُّهْلِكَ عَدُوَّكُمْ وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِي الْاَرْضِ

(موسیٰ(عَلَيْهِ السَّلَامُ)) وویل: امید دی چې ستاسو رب به ستاسو دښمن هلاك کړي او تاسو به په ځمکه کښې خلیفګان (ځای ناستي) جوړ کړي،

فَيَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُوْنَ ٠٠١٢٩

بیا به هغه ګوري چې تاسو څنګه عمل کوئ؟

د فرعون ایمان والاته دهمکي اود ایمان والامظبوطوالے (سُوْرَةَ طٰهٰ ۲۰، آیتونه: ۷۱نه تر ۷۲)

قَالَ اٰمَنْتُمْ لَهٗ قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ لَكُمْ ۚ اِنَّهٗ لَكَبِيْرُكُمُ

وویل (فرعون) چې تاسو د ده تصدیق وکړو مخکښې د دې چې زهٔ تاسو ته اجازت درکړم، بېشکه دی یقیناً ستاسو هغه مشر دی

الَّذِيْ عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ ۚ فَلَاُقَطِّعَنَّ اَيْدِيَكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ مِّنْ خِلَافٍ

چې تاسو ته ئې سحر (جادو) ښودلی دی، نو زهٔ به خامخا ضرور پرې کوم ستاسو لاسونه او ستاسو پښې ادل بدل

وَّلَاُصَلِّبَنَّكُمْ فِيْ جُذُوْعِ النَّخْلِ ۡ وَلَتَعْلَمُنَّ

او زهٔ به خامخا ضرور تاسو په دار کوم د کجوروپهٔ تنو کښې او تاسو به خامخا ضرور پوهه شئ

اَيُّنَا اَشَدُّ عَذَابًا وَّاَبْقٰى ٠٠٧١

چې په مونږ کښې کوم یو د عذاب ورکولو په لحاظ ډېر سخت دی او ډېر باقی پاتې کېدونکی دی

قَالُوْا لَنْ نُّؤْثِرَكَ عَلٰى مَا جَآءَنَا مِنَ الْبَيِّنٰتِ وَالَّذِيْ فَطَرَنَا

هغوی وویل: مونږ به تا ته د سره غوروالے درنه کړو په هغه باندې چې مونږ ته راغلی دی چې ښکاره معجزې دي او هغه (الله) چې مونږ ئې پیدا کړي یو،

فَاقْضِ مَا اَنْتَ قَاضٍ ؕ اِنَّمَا تَقْضِيْ هٰذِهِ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ؕ ٠٠٧٢ اِنَّا اٰمَنَّا بِرَبِّنَا

نو ته هغه کار وکړه چې ته د هغه کوونکی یې، بېشکه ته به یواځې د دې دنیایي ژوند فیصله کولی شې بېشکه مونږ په خپل رب ایمان راوړی دی،

لِيَغْفِرَ لَنَا خَطٰيٰنَا وَمَآ اَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ مِنَ السِّحْرِ ؕ وَاللّٰهُ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى ٠٠٧٣

د دې دپاره چې هغه زمونږ خطاګانې وبخښي او هغه (جرم) چې تا مونږ په هغه مجبوره کړي وو، چې سحر دی او الله ډېر غوره او تل پاتې کېدونکی دی

اِنَّهٗ مَنْ يَّاْتِ رَبَّهٗ مُجْرِمًا فَاِنَّ لَهٗ جَهَنَّمَ ؕ

بېشکه شان دا دی هغه څوك چې خپل رب ته راشي، په دې حال کښې چې کافر وي، نو بېشکه د ده دپاره دوزخ دی،

لَا يَمُوْتُ فِيْهَا وَلَا يَحْيٰى ۰۰۷۴

دی به په ده کښې نه مري او نه به (ښه) ژوندون کوي

وَمَنْ يَّاْتِهٖ مُؤْمِنًا قَدْ عَمِلَ الصّٰلِحٰتِ فَاُولٰٓئِكَ لَهُمُ الدَّرَجٰتُ الْعُلٰى ۙ۰۰۷۵

او هغه څوك چې ده ته په داسې حال کې راشي چې مومن وي، نېك عملونه ئې کړي وي (، نو) د دوی دپاره ډېرې اوچتې درجې دي

جَنّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ

چې د تل اوسېدلو جنتونه دي چې د هغو د لاندې ولې بهېږي، چې دوئ به په هغو کښې تل ترتله وي،

وَذٰلِكَ جَزٰٓؤُا مَنْ تَزَكّٰى ۧ۰۰۷۶

دغه د هغه چا بدله ده چې ځان ئې (د شرك او کفر نه) پاك ساتلی وي

د فرعون ايمان والاته دهمکې اود ايمان والامظبوطوالے (سُوْرَةُ الشعراء ۲۶، آيتونه: ۴۹ نه تر ۵۱)

قَالَ اٰمَنْتُمْ لَهٗ قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ لَكُمْ ۚ اِنَّهٗ لَكَبِيْرُكُمُ

(فرعون) ووېل: تاسو په ده ايمان راوړ مخکې له دې نه چې زۀ تاسو ته اجازت درکړم، بېشکه دا يقينًا ستاسو هغه مشر دی

الَّذِيْ عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ ۚ فَلَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ؕ لَاُقَطِّعَنَّ اَيْدِيَكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ مِّنْ خِلَافٍ

چې تاسو ته ئې جادو ښودلی دی، نو يقينًا تاسو به زر پوه شئ، خامخا ضرور به زۀ پرې کړم ستاسو لاسونه او ستاسو پښې، ادل بدل

وَّلَاُوصَلِّبَنَّكُمْ اَجْمَعِيْنَ ۚ۰۰۴۹ قَالُوْا لَا ضَيْرَ ۫ اِنَّاۤ اِلٰى رَبِّنَا مُنْقَلِبُوْنَ ۚ۰۰۵۰

او زۀ به خامخا ضرور تاسو ټول په دار کړم هغوی ووېل: هېڅ ضرر نشته، بېشکه مونږ خپل رب ته بېرته ورتلونکي يو

اِنَّا نَطْمَعُ اَنْ يَّغْفِرَ لَنَا رَبُّنَا خَطٰيٰنَاۤ اَنْ كُنَّاۤ اَوَّلَ الْمُؤْمِنِيْنَ ۧ۰۰۵۱

بېشکه مونږ دا طمع لرو چې زمونږ رب به مونږ ته زمونږ ګناهونه وبخښي، په دې چې مونږ (په دې حاضرينو کې) اول د ايمان راوړونکو يو

په فرعونيانو باندې د الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی اووۀ ۷ عذابونه (اوره الاعراف ۷، ايتونه: ۱۳۰ نه تر ۱۳۵)

وَلَقَدْ اَخَذْنَاۤ اٰلَ فِرْعَوْنَ بِالسِّنِيْنَ وَنَقْصٍ مِّنَ الثَّمَرٰتِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُوْنَ ۰۰۱۳۰

او يقينًا مونږه فرعونيان نيولي وو په وچکالۍ سره او د مېووپه (عذاب) کم والي سره ، د دې دپاره چې دوی نصيحت حصل کښي

فَاِذَا جَآءَتْهُمُ الْحَسَنَةُ

نو کله چې به په دوی خوشحالي راغله،

قَالُوْا لَنَا هٰذِهٖ ۚ وَاِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَّطَّيَّرُوْا بِمُوْسٰى وَمَنْ مَّعَهٗ ؕ

وېل به يې: هم زمونږ دپاره دا ده او که چېرې په دوی به څه تکليف راغی، نو بدفالي به ئې په موسٰی (عَلَيْهِ السَّلَامُ) او په هغه چا چې د هغه سره وو؛ نيوله،

اَلَاۤ اِنَّمَا طٰٓئِرُهُمْ عِنْدَ اللّٰهِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۰۰۱۳۱ وَقَالُوْا

خبردار! بېشکه خبره همدا ده چې د دوی بدفالي د الله سره (مقدر) ده او لېکن د دوی زياتره نه پوهېږي او دوی به (موسٰی (عَلَيْهِ السَّلَامُ) ته) وېل:

مَهْمَا تَاْتِنَا بِهٖ مِنْ اٰيَةٍ لِّتَسْحَرَنَا بِهَا ۙ فَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِيْنَ ۰۰۱۳۲

تهٔ چې مونږ. ته هر قسمه نښه راوړې؛ د دې دپاره چې پهٔ هغې سره ته پهٔ مونږه جادو وکړې، نو مونږه پهٔ تا باندې کله هم ایمان راوړونکښې نهٔ یو

فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الطُّوْفَانَ وَالْجَرَادَ وَالْقُمَّلَ وَالضَّفَادِعَ وَالدَّمَ اٰيٰتٍ مُّفَصَّلٰتٍ ۟ فَاسْتَكْبَرُوْا

نو مونږه پهٔ دوی باندې (وارپهٔ وار) طوفان، او ملخان او سپږې او چینډخې او وینه راولېږله، چې بېلې بېلې نښې وې، بیا هم هغوی تکبر وکړو

وَكَانُوْا قَوْمًا مُّجْرِمِيْنَ ۰۰۱۳۳ وَلَمَّا وَقَعَ عَلَيْهِمُ الرِّجْزُ قَالُوْا يٰمُوْسَى ادْعُ لَنَا رَبَّكَ

او هغوی مجرم قام وو او کله چې پهٔ دوی باندې عذاب راپرېوت (، نو) وئې ویل: ای موسیٰ: ته دعا وغواړه زمونږ. دپاره د خپل رب نه

بِمَا عَهِدَ عِنْدَكَ ۚ لَىِٕنْ كَشَفْتَ عَنَّا الرِّجْزَ لَنُؤْمِنَنَّ لَكَ

پهٔ هغه څه سره چې ستا سره ئې وعده کړې ده، یقینًا که تهٔ زمونږ. نه عذاب لرې کړې، مونږ. به خامخا پهٔ تا ایمان راوړو

وَلَنُرْسِلَنَّ مَعَكَ بَنِيْٓ اِسْرَاۗءِيْلَ ۚ ۰۰۱۳۴ فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ الرِّجْزَ اِلٰٓى اَجَلٍ

او خامخا لازمًا به ستا سره بني اسرائیل ولېږو (خوشې کړو) نو کله چې به مونږ. د دوی نه عذاب لرې کړو تر هغې مودې پورې

هُمْ بٰلِغُوْهُ اِذَا هُمْ يَنْكُثُوْنَ ۰۰۱۳۵

چې دوی هغې ته رسېدونکې وو، ناڅاپه به دوی وعده ماته کړه۔

اَهمې نُکتې

## د علم او عمل خبرې

۱۔ مونځ د الله سُبْحَانَہُ وتَعَالٰی د یاد ذریعه ده۔(سُوْرَۃ طٰهٰ،آیت:۱۴)

۲۔ مونږه لره د کمزورومدد کول پکاردي۔(سُوْرَۃ القصص،آیتونه:۲۴،۲۳)

۳۔الله سُبْحَانَہُ وَتَعَالٰی د خپلوبندګانوپرورش دَ خپلودښمنانوپهٔ کور کښې هم کوي۔(سُوْرَۃ طٰهٰ آیت:۳۹،سُوْرَۃ الشعراء،آیت:۱۸)

۴۔الله سُبْحَانَہُ وَتَعَالٰی مونږلره حقیقي اومستقل د غمونونه نجات راکوي۔(سُوْرَۃ طٰهٰ،آیتونه: ۴۰)

۵۔مونږ لره د دین دعوت د سختئ پهٔ ځاےپهٔ نرمئ سره ورکول پکاردي۔(سُوْرَۃ طٰهٰ،آیت:۴۴)

۶۔الله سُبْحَانَہُ وتَعَالٰی مونږاول ځل پیدا کړي وو اود غه الله به مونږه دقیامت پهٔ ورځ دوباره ژوندي کوي۔(سُوْرَۃ طٰهٰ،آیت:۵۵)

۷۔مجرمانوته به پهٔ جهنّم کښې سخته سزامیلاویږي ددوئ به نه ژوند د خوشحالئ وي اونه مري۔(سُوْرَۃ طٰهٰ،آیت:۷۴)

۸۔مونږ لره د هرضرورت دپاره دالله سُبْحَانَہُ وَتَعَالٰی نه دعاغوښتل پکاردي ځکه هغه حقیقتاًاومستلاًمددکولووالادے۔(سُوْرَۃ القصص،آیت : ۲۴)

۹۔شرم اوحیاپهٔ انسان کښې غټ صفت دے۔(سُوْرَۃ القصص،آیت:۲۴)

۱۰۔پهٔ کارکښې د ماهرکښېدلوسره امانتداري بهترین د خدمت کولولازمي صفت دے۔(سُوْرَۃ القصص،آیت:۲۶)

## ځان پرې پوهه کړئ او حل ئې کړئ

سوال ۱ پهٔ صحیح جواب باندې صحیح نښه (✓):ولګوئ

(۱) د بهترین خد متګاراود لاس کښېنولوولایو داصفت هم کښېدل پکاردي چې دابه طاقتوروي اودویم صفت یې څه پکاردے؟

(الف) ښایسته شکل وصورت (ب) امانتداری (ج) ذهانت

۲) حضرت موسٰی (ﷺ) په مَدیَن کښې ځانله وواوددې سره هېڅ نه وولهٰذادې اول د ټولونه مخکښې اول کوم کاروکړو؟

الف) محنت مزدوري کول ب) نوکري تلاش کول ج) د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی نه دعاغوښتل

۳) حضرت موسٰی (ﷺ) په مَدیَن کښې د څوکالوپورې قیام کړے وو؟

الف) اته کاله ب) نهه کاله ج) لس کاله

۴) حضرت موسٰی (ﷺ) د کوهِ طورپهٔ غاړه څه څیزولیدلو؟

الف) اور ب) اوبه ج) کشتۍ

۵) د حضرت موسٰی (ﷺ) د دوومعجزاتونه یوه دامسانه مارجوړیدل اودویمه کومه وه؟

الف) د برګي بیمارجوړول ب) پړقیدونکے لاس ج) ړوند روغول

سوال ۲ د لاندې جملوسره پهٔ جوړوشووخانوکښې د قصّې د ترتیب پهٔ لحاظ سره نمبرورکړئ۔

۱ ۔ د مَدیَن نه مصرته پهٔ تلوکښې حضرت موسٰی (ﷺ) ته پهٔ کوهِ طورباندې اورپهٔ نظرراغلے

۲۔حضرت موسٰی (ﷺ) پهٔ مَدیَن کښې د یوکوهي خواته ورسیدلو ۔

۳۔د جنکوپلارد خپلې یوې لور نکاح د حضرت موسٰی (ﷺ) سره وکړو ۔

۴۔حضرت موسٰی (ﷺ) د جادوګروپهٔ مقابله کښې غالب راغلےاوټولوجادوګروپهٔ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی باندې ایمان راوړو ۔

۵۔حضرت موسٰی (ﷺ) چې کله کوهِ طورته وریدلو ،نوالله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دیته معجزې ورکړې۔

۶۔حضرت موسٰی (ﷺ) پهٔ مَدیَن کښې لس کاله وو ۔

۷۔پهٔ کوهي باندې شپونکي خپلې بزوته اوبه ورکولې چې دوه جنکوخپلې بزې منعه کولې اوجداولاړې وې۔

۸ ۔الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی حضرت موسٰی (ﷺ) ته معجزې ورکړې فرعون طرف ته ئې ولیږلو ۔

.حضرت موسٰی (عليه السلام) د دواړو جنګو په بزوباندې او بۀ او څکولې۔

۱۔فرعون د معجزوپۀ ليدلو حضرت موسٰی (عليه السلام) جادوګرو ګرزولو (معاذالله)۔

وال ۳ دلاندې ليکلے شوو سوالونو جوابونه ورکړئ:

.حضرت موسٰی (عليه السلام) د مَدين يو کوهي ته ورسيدلو ،نو څه ئې وليدل؟

.د مَدين نه مصرته پۀ تللو کښې د حضرت موسٰی (عليه السلام) سره څه واقعه پېښ شوه؟

.د حضرت موسٰی (عليه السلام) د جادوګروسره پۀ مقابله کښې څه نتيجه راووتله؟

.د حضرت موسٰی (عليه السلام) اود جادوګروپۀ منځ کښې د مقابلې نه روسته فرعون پۀ حضرت موسٰی (عليه السلام) باندې څه ام ولګولو؟

.فرعون ايمانو الاووته د اسلام پۀ قبلولو څه دَهمکې ورکړه؟ د علم او عمل خبرې



کورنۍ هله زله

د حضرت موسٰی (عليه السلام) دعا۔(رَبِّ اِنِّي لِمَا اَنزَلۡتَ اِلَيَّ مِنۡ خَيۡرٍ فَقِيۡر)اودې ترجمه وليکۍ اوپۀ يو خائسته چاټ ئې ولګوئ۔

.پۀ قرآنِ حکيم کښې د حضرت موسٰی (عليه السلام) يو دوه دعاګانې تلاش کړئ اود ترجمې سره ئې وليکئ او يادئې کړئ۔

۳۔دا لاندې ورکړے شوے چاټ د انبياء عَلَيۡهِمِ السّلَام د نومونو نه مکمل کړئ۔

| د پلار نوم | د ځوي نوم |
|---|---|
| حضرت ابراهيم (عليه السلام) | |
| حضرت اسحاق (عليه السلام) | |
| حضرت يعقوب (عليه السلام) | |
| حضرت زکريا (عليه السلام) | |

د استاذ لاس ليک سره د تاريخ :________ ۔ ۔ د مور پلار لاس ليک سره د تاريخ :________ ۔ ۔

## سبق:۵ قصّه حضرت موسٰى (عليه السلام) (دريمه حصّه)

## د حضرت موسٰى (عليه السلام) د ژوند دريم دور: د صحرائے سينا نه تروصال پورې

### ۱ ۔د حضرت موسٰى (عليه السلام) د بنى اسرايېلو هجرت او د فرعون ورپسې کښېدل

حضرت موسئٰ (عليه السلام) ته الله سُبۡحَانَهُ وَتَعَالٰى حکم وکړو چې د شپې شپې بنى اسرايېل د مصر نه اوباسه چې کله فرعون ته پته ولګيده ،نو هغه يو ډير لوي لښکر د ځان سره کړو او پۀ دوئ پسې روسته اووتلو اوس مخې ته سيند وو او روسته د فرعون لښکر بنى اسرايېل فريشانه شو حضرت موسٰى (عليه السلام) ته ئې وويل چې مونږه خوراګير شو فرعون به مونږ ټول مړه کښي حضرت موسٰى (عليه السلام) وويل چې زما سره زما رب دے ان شاء الله هغه به مونږ ته جلت څه لاره وښائي ۔

### ۲ ۔د سيند شليدل او د فرعون هلاکت

الله حضرت موسٰى (عليه السلام) ته حکم وکړو چې پۀ خپله امسا سره سيند اووهۀ چې کله حضرت موسٰى (عليه السلام) پۀ امسا باندې سيند اووهو ،نو سيند پۀ دوه حصو کښې تقسيم شو هره يوه برخه د يو غټ غر پشان شوه او پۀ ميدان کښې وچه لاره جوړه شوه

چې ددېنه حضرت موسیٰ (علیه السلام) د بنی اسرایېلو سره دویم اړخ صحرائے سیناته ورسیدلو چې کله د فرعون لښکر روسته پاتي شوےوود سیند ددغه وچي لاري منځ ته ورسیدلو ،نو الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی سیند برابر کړواو ټول کافران ئي ډوب کړل چې کله فرعون ډوبیدلو او خپل مرګ ئي پهٔ خپلو سترګو ولیدلو ،نو ویویېل چې '' ما ایمان راوړےدے د بنی اسرایېلو پهٔ معبود ( یعني الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی ) چې سیوا ابل څوک معبود نشته اوزهٔ د تعبدارونه یم الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی وفرمایېل چې اوس تهٔ  ایمان راوړي ؟حالانکه تامخکښې *سرکشي کولهٔ د فرعون ایمان راوړل قابلِ قبول نه دي الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د فرعون لاش محفوظ* کړواو دآئنده نسلونو دپاره دعبرت نښه جوړشوددي لاش اوس هم د مصرپهٔ عجائب ګرکښې موجود دے لیکن مونږلره دا ایمان اویقین لرل پکاردي چې د قرآنِ حکیم الفاظ حق اورشتیاکښېدل دفرعون د لاش د پېداکښېدلو اوموجودېدلو پهٔ بناباندې نه دي بلکي د قرآنِ حکیم د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی ریشتوني کلام دےاوددې د صداقت دپاره د چاه د سائنسی تحقیق تصدیق ته ضرورت نشته دے .

## ۳ . د بنی اسرایېلو پهٔ صحرائے سیناکښې وسیدل او پهٔ دوئ باندې د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی نعمتونه

بنی اسرایېلو د فرعونیانو نه نجات حاصل کړو صحرائے سیناته ورسیدل دا خلق پهٔ غټ شمیر کښې وُو چې کله پهٔ صحرائے سیناکښې سخت دهوپ وونهٔ اوبه وي نهٔ د خوراک څه څیزؤو الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی پهٔ دوئ باندې ډیراحسانونه وکړل دصحراپهٔ دهوپ کښې وریځوسیورےکړےوو ،ولګه وه ،نومَن او سلویٰ راتلل تنده لګیدلي وه ،نود هري قبیلي دپاره جداجدا یعنی دولس۱۲ چینې دېوي ګټي نه رواني شوي لیکن ددې باوجود بنی اسرایېلوناشکري وکړه، یوزل ددوئ تیریدل پهٔ داسې قام باندې وشوچې دبوتانوپهٔ عبادت کښې مصروفه ؤو دا قام چې دوئ ولیدلو ،نو د حضرت موسیٰ (علیه السلام) نه ئي د یوبُت جوړولو فرمائش وکړوچې دوئ ئي هم تعظیم کوي .حضرت موسیٰ (علیه السلام) پهٔ دې باندې خفه شواوددې غلط انجام نه ئې وېرول .

## ۴ . د حضرت موسیٰ (علیه السلام) کوهِ طورته تګ

الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی حضرت موسیٰ (علیه السلام) د ۴۰ څلوېښتوورځودپاره کوهِ طورته راوبلل،نو حضرت موسیٰ (علیه السلام) حضرت هارون (علیه السلام) خپل نائب مقررکړو .حضرت موسیٰ (علیه السلام) پهٔ کوهِ طور باندې د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی سره ملاقات اود کلام د اوریدلو پهٔ شوق کښې دقام نه مخکښې ورسیدلو پهٔ کوهِ طورباندې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی  حضرت موسیٰ (علیه السلام) سره خبرې وکړې  حضرت موسیٰ (علیه السلام) د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی نه د لیدلو درخواست وکړو الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی وفرمائل چې تهٔ  ماهیڅ کله نهٔ شې لیدلے البته ستا د مشاهدې دپاره زهٔ پهٔ غرباندې تجلّي کوم،بیا ته غرا اړخ ته وګوره که چرته پهٔ خپل ځائے قائم

اوروغ ؤو،نوبیاتهٔ مالیدلےشي چې کله الله سُبۡحَانَهُ وَتَعَالیٰ پهٔ غرباندې تجلّی وکړه ،نوغرټوټې ټوټې شواو حضرت موسیٰ (عليه السلام) داټول منظر ولیدلو بےهوشه شو چې کله حضرت موسیٰ (عليه السلام) پهٔ هوش کښېي شو،نو حضرت موسیٰ (عليه السلام) د الله سُبۡحَانَهُ وَتَعَالیٰ تسبیح بیان کړه او دهغه طرف ته ئې رجوع وکړه بیا الله سُبۡحَانَهُ وَتَعَالیٰ حضرت موسیٰ (عليه السلام) ته تورات ورکـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــړو.

### ۵ .د ســــــــروزرو ســـــــخےاو د بنـــــــــی اســـــــــرایېلو ګمراهـــــــــي(بـــــــــےلارې کېښــــــــېدل)

حضرت موسیٰ (عليه السلام) د کوهِ طور دتللونه روسته، سامري ته دګمراهئ خورولوموقع میلاوشوه سامري دقام سره موجودزیورات وُلي کړل اود یوسخي پشان جسم ئې جوړکړو چې د هغه دپاره آوازوو،سامري وویل دا د حضرت موسیٰ (عليه السلام) رب دےاوخلقوته ئې دعبادت کولووویل حضرت هارون (عليه السلام) بنی اسرایېل ډېرپوهه کړل لیکن زیاتو د حضرت هـــــــارون (عليه السلام) خبـــــــره نـــــــهٔ منلـــــــه اود ســـــــخي عبـــــــادت ئـــــــې کولـــــــو.

### ۶ .د حضـــــــرت موسٰـــــــــی (عليه السلام) خفګـــــــان اود بنـــــــــی اسرایېلوســـــــزا

الله سُبۡحَانَهُ وَتَعَالیٰ حضرت موسیٰ (عليه السلام) د قام ددې جرم پهٔ باره خبرکړو،نوهغه د ډېرې غوصې پهٔ حالت کښېي واپس راغلےاول خپل ورور حضرت هارون (عليه السلام) ته غصه شوچې دې قام ولې نه دے پوهه کړے؟چې کله ئې ورته ټول حقیقت وویېلو،نوبیا حضرت موسیٰ (عليه السلام) د سامري تپوس وکړوچې ستا څه حال دے؟ سامري وویل چې زمازړهٔ غوښتل چې زهٔ داسي وکړم حضرت موسیٰ (عليه السلام) ورته وویل چې زهٔ تهٔ به ټوله زندګي خلقوته وائې چې مالره لاس مه راوړئ اوتهٔ به پهٔ دې تکلیف کښېي ذلیل اورسوائې. سامري لره ئې جوړشوے خسي وسوزوواودهغې ایره ئې دریاب ته وغورزوله حضرت موسیٰ (عليه السلام) بنی اسرایېلوته وویل چې دوئ د خپل جرم نه الله ته توبه اوباسي اوددې د قبلیدلوشرط دادے چې یوبل مړه کړئ د حضرت موسیٰ (عليه السلام) پهٔ دې حکم باندې پهٔ زراووبنی اسرایېل مړه شو اوپهٔ آخره کښېي الله سُبۡحَانَهُ وَتَعَالیٰ د بنی اســـــــرایېلوتوبه قبولـــــــــه کـــــــړه اوددوئ جـــــــرم ئـــــــې معـــــــاف کـــــــړو.

### ۷ .پـــــــهٔ کـــــــوهِ طوربانـــــــدې د بنـــــــی اســـــــرایېلود ســـــــردارانوبےځایه مطالبـــــــه

حضرت موسیٰ (عليه السلام) د بنی اسرایېلواویا(۷۰) سرداران کوهِ طور ته بوتلل هغوئ مطالبه وکړه چې اےموسیٰ !ترڅوچې مونږه الله سُبۡحَانَهُ وَتَعَالیٰ پهٔ خپلوسترګونهٔ وي لیدلے نوترهغه وخته پورې ستاخبره نهٔ منو . چې پهٔ دې باندې الله سُبۡحَانَهُ وَتَعَالیٰ دوئ د یوې زلزلې اود بجلۍ پهٔ کرنټ سره هلاک کړل د حضرت موسیٰ (عليه السلام) د دعاپهٔ نتیجه کښېي دې ټولوته بیا

ژوند میلا شوبیاچې کله بنی اسرایېلو د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د اړخ نه ورکړے شوي احکامات پرېښودل ،نو الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی غر د بنی اسرایېلوپۀ سرونو باندې وچت کړلو اود دوئ نه ئې وعده واخستله چې دوئ به پۀ دین باندې عمل کوي او دالله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی حکمونه به یادوي لیکن ددې باوجود دې خلقونافرماني جاري وساتله .

## ۸ . د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی پۀ نعمتونوباندې د بنی اسرایېلوناشکري

بنی اسرایېلوته الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د صحراپۀ میدان کښې مَنّ او سلویٰ یعني دانه دارخوګ خوراک اود مرزانو غوښې ورکولې لیکن بنی اسرایېلو د حضرت موسیٰ (علیه السلام) نه مطالبه وکړله چې مونږ د یو قِسم خوراک خوړلونه تنګ راغلو ،حضرت موسیٰ (علیه السلام) د خپل رب نه دعا وکړله چې هغه زمونږ دپاره د زمکې نه سبزیاني بادرنګ غنم دال اوپیاز وغیره راوباسي حضرت موسیٰ (علیه السلام) خپل قام ته وفرمایېل چې تاسو دالله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د یوغټ نعمت پۀ بدله کښې ورکوټے نعمت غواړئ ؟که چرته تاسو داهرڅه غواړئ ،نوبیا یوښارته لاړشئ هلته به تاسوته دا ټول هرڅه میلاوشي.

## ۹ . د جهاد اوقتال پۀ حکم باندې د بنی اسرایېلوبېغره توب اود دوئ سزا

الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی بنی اسرایېلوته پۀ فلسطین کښې د داخلیدلو حکم وکړلو پۀ دغه وخت کښې هلته یو ډیرزیات سخت جګړمارقام عمالقه آبادؤو .بنی اسرایېلوخپله بزدلي پۀ ډاګه کړه اوصفاانکارئې وکړو اودوئ حضرت موسیٰ (علیه السلام) ته وویل چې ته اوستارب دې لاړشې اوجنګ دې وکړې مونږه به دلته ناست ئې وواودوئ داهم وویل چې کله داقام دا ښار پرېږدې ،نوبیابه مونږدلته داخل شو ،حضرت موسیٰ (علیه السلام) د خپل قام داجواب واوریدلو ،نودالله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی پۀ دربارکښې عرض وکړوچې اے الله!زۀ صرف د خپل زان اود خپل ورور اختیارمندیم لِهٰذا زمونږاود نافرمان قام پۀ منځ کښې جدائې راولې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د حضرت موسیٰ (علیه السلام) دعاقبوله کړله .بنی اسرایېل د څلوېښتو(۴۰)کالوپورې پۀ صحراکښې حیران وو پۀ دې دوران کښې حضرت موسیٰ (علیه السلام) او حضرت هارون (علیه السلام) هم وفات شوےوو بیاڅلوېښت کاله روسته د بنی اسرایېلومخکینےنسل ځوان شوےووچې ددې پۀ مینځ کښې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی حضرت شمویل (علیه السلام) نبی راولیږلودوئ د قام پۀ درخواست باندې حضرت طالوت بادشاه مقررشوددې پۀ مشرئ کښې بنی اسرایېلود عمالقه ؤودقام پۀ خلاف جهاداوقتال وکړلوچې ددوئ پۀ دې وخت پۀ فلسطین باندې قبضه وه ددې جهادپۀ نتیجه کښې جالوت چې د عمالقه ؤوبادشاه اودفوځ مشر وو د حضرت داؤود (علیه السلام) د لاس نه مړ شو دغه رنګې بنی اسرایېلوته د حضرت طالوت د دورنه عروج حاصل شودغه رنګې د حضرت طالوت صاحب دبادشاهت نه روسته د حضرت داؤود (علیه السلام) اوبیا د حضرت

## سلیمان (عليه السلام) بادشاهتونه قائم شو -

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ
زۀ پناه غواړم پۀ الله سره د شیطان رټلي شوي نه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ○
خاص د الله پۀ نوم سره (شروع کوم) چې ډېر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکبنی دی

### ١ ـ د حضرت موسٰی (عليه السلام) د بنی اسرائیلو سره هجرت او د فرعون انجام (سُوْرَةَ طٰهٰ ٢٠، آیتونه: ٧٧نه تر ٧٩)

وَلَقَدْ اَوْحَیْنَآ اِلٰی مُوْسٰٓی ۙ۱ اَنْ اَسْرِ بِعِبَادِیْ فَاضْرِبْ لَهُمْ طَرِیْقًا فِی الْبَحْرِ یَبَسًا ۙ۱

او یقینًا مونږ موسٰی (عليه السلام) ته وحي وکړه چې تۀ زما بنده ګان د شپې وباسه، نو تۀ د دوی دپاره پۀ سیند کې یوه وچه لاره جوړه کړه،

لَّا تَخٰفُ دَرَکًا وَّلَا تَخْشٰی ٠٠٧٧ فَاَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ بِجُنُوْدِهٖ

تۀ به نۀ وېرېږې د نیول کېدو نه او نۀ به وېرېږې (د ډوبېدو نه) نو فرعون سره د خپلو لښکرو پۀ دوی پسې راغی،

فَغَشِیَهُمْ مِّنَ الْیَمِّ مَا غَشِیَهُمْ ؕ٠٠٧٨ وَاَضَلَّ فِرْعَوْنُ قَوْمَهٗ وَمَا هَدٰی ٠٠٧٩

نو دوی لره د سیند نه هغه شې لاندې کړل چې دوی ئې لاندې کړل او فرعون خپل قام لره ګمراه کړو او نېغه لار ئې ور ته ونه ښودله

### د حضرت موسٰی (عليه السلام) د بنی اسرایېلو سره هجرت او د فرعون انجام (سُوْرَةَ الشعراء ٢٢، آیتونه: ٥٢نه تر ٢٢)

وَاَوْحَیْنَآ اِلٰی مُوْسٰٓی اَنْ اَسْرِ بِعِبَادِیْٓ اِنَّکُمْ مُّتَّبَعُوْنَ ٠٠٥٢

او مونږ موسٰی (عليه السلام) ته وحي وکړه داسې چې تۀ زما بنده ګان د شپې بوځه، بېشکه تاسو پسې به درتلل کېدی شي

فَاَرْسَلَ فِرْعَوْنُ فِی الْمَدَآئِنِ حٰشِرِیْنَ ۚ٠٠٥٣ اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ لَشِرْذِمَةٌ قَلِیْلُوْنَ ۙ٠٠٥٤

نو فرعون پۀ ښارونو کښې راټولوونکبنې ولېږل (او وئې ویل) بېشکه دغه خلق ډېره لږه وړه ډله ده

وَاِنَّهُمْ لَنَا لَغَآئِظُوْنَ ۙ٠٠٥٥ وَاِنَّا لَجَمِیْعٌ حٰذِرُوْنَ ؕ٠٠٥٦ فَاَخْرَجْنٰهُمْ مِّنْ جَنّٰتٍ وَّعُیُوْنٍ ۙ٠٠٥٧

او بېشکه دوی مونږ لره یقینًا غصه کوونکي دي او بېشکه مونږ خامخا بیداره ډله یو نو مونږه راوښکل (یعنی الله) دوی (فرعونیان) د باغونو او چینو نه

وَّکُنُوْزٍ وَّمَقَامٍ کَرِیْمٍ ۙ٠٠٥٨ کَذٰلِكَ ؕ۱ وَاَوْرَثْنٰهَا بَنِیْٓ اِسْرَآءِیْلَ ؕ٠٠٥٩

او د خزانو او د عزت والا ځایونو نه هم داسې (مونږ وکړل) او مونږ د دغو (څیزونو) وارثان بني اسرائیل وګرځول

فَاَتْبَعُوْهُمْ مُّشْرِقِیْنَ ٠٠٦٠ فَلَمَّا تَرَآءَ الْجَمْعٰنِ قَالَ اَصْحٰبُ مُوْسٰٓی

بیا (فرعونیان) د دوی پسې شول، چې د لمر ختو پۀ وخت کې داخلېدونکي وو بیا کله چې دواړه ډلې یو بل ته مخامخ شوي، (نو) د موسٰی (عليه السلام) ملګرو وویل:

اِنَّا لَمُدْرَکُوْنَ ٠٠٦٠ قَالَ کَلَّا اِنَّ مَعِیَ رَبِّیْ سَیَهْدِیْنِ ٠٠٦١

بېشکه مونږ خامخا راګیرشو(موسٰی (عليه السلام)) وویل: هیڅکله (داسې) نشي کېدی! بېشکه زما سره زما رب دی، هغه به ما ته ضرور لار وښايي

## ۲ . د فرعون هلاکت(سورة الاعراف ۷، آيات: ۱۳۶ نه تر ۱۳۷)

فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَاَغْرَقْنٰهُمْ فِي الْيَمِّ بِاَنَّهُمْ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَكَانُوْا عَنْهَا غٰفِلِيْنَ ۰۰۱۳۶

نو مونږ د دوی نه بدله واخيسته، بس په سيند کښې مو غرق کړل، ځکه چې يقيناً هغوی زمونږ د ايتونو تکذيب کړی وو او د هغو نه غافله وو

وَاَوْرَثْنَا الْقَوْمَ الَّذِيْنَ كَانُوْا يُسْتَضْعَفُوْنَ مَشَارِقَ الْاَرْضِ وَمَغَارِبَهَا الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا ؕ۱

او مونږ وارثان وګرځول هغه خلق چې کمزوري کولی شول د ځمکې د مشرقي اړخونو او د هغې د مغربي اړخونو ، هغه (اړخونه) چې مونږ په هغو کښې برکت اچولی دی

وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ الْحُسْنٰى عَلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۙ۱ بِمَا صَبَرُوْا ؕ۱

، او ستا د رب ډېره ښه وعده پوره شوه په بني اسرائيلو باندې ، د دوی د صبر کولو په سبب

وَدَمَّرْنَا مَا كَانَ يَصْنَعُ فِرْعَوْنُ وَقَوْمُهٗ وَمَا كَانُوْا يَعْرِشُوْنَ ۰۰۱۳۷

او مونږ تباه کړې هغه (ودانۍ) چې فرعون او د هغه قام به جوړولې (دانګوروباغونه هم) او هغه چې دوی به لوړولې

## د سیند شلیدل اود فرعون هلاکت(سُوْرَةَ الشعراء ۲۶، آيتونه: ۲۳ نه تر ۲۸)

فَاَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓى اَنِ اضْرِبْ بِّعَصَاكَ الْبَحْرَ ؕ۱ فَانْفَلَقَ

نو مونږ موسٰی (عليه السلام) ته وحې وکړه چې ته په خپلې امسا سره سيند ووهه، نو هغه څيرې شو،

فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ كَالطَّوْدِ الْعَظِيْمِ ۚ۰۰۶۳ وَاَزْلَفْنَا ثَمَّ الْاٰخَرِيْنَ ۚ۰۰۶۴ وَاَنْجَيْنَا

نو هره برخه د ډېر اوچت غرپه شان شوله او دغه ځای ته مونږ هغه (فرعونيان) نور ښه رانزدې کړل او مونږ نجات ورکړو

مُوْسٰى وَمَنْ مَّعَهٗٓ اَجْمَعِيْنَ ۚ۰۰۶۵ ثُمَّ اَغْرَقْنَا الْاٰخَرِيْنَ ؕ۰۰۶۶ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ؕ۱

موسٰی (عليه السلام) او هغو کسانو ته چې د هغه سره وو؛ بیا تولو ته مونږ هغه نور غرق (ډوب) کړل بېشکه په دې (قصه) کښې خامخا لويه نښه ده،

وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۰۰۶۷ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ۠۰۰۶۸

او د دوی زيات ايمان راوړونکي نه وو او بېشکه رب ستا خامخا هم هغه ښه غالب، بې حده رحم کوونکی دی

## د فرعون تکبر اود هغه انجام(سُوْرَةَ القصص ۲۸، آيتونه: ۳۸ نه تر ۵۰)

وَقَالَ فِرْعَوْنُ يٰٓاَيُّهَا الْمَلَاُ مَا عَلِمْتُ لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرِيْ ۚ۱ فَاَوْقِدْ لِيْ يٰهَامٰنُ عَلَى الطِّيْنِ

او فرعون وويل: ای سردارانو! زه تاسو دپاره د خپل ځان نه غير بل هيڅ معبود نه پېژنم، نو ای هامانه! ته زما دپاره په خټې باندې اور بل کړه،

فَاجْعَلْ لِّيْ صَرْحًا لَّعَلِّيْٓ اَطَّلِعُ اِلٰٓى اِلٰهِ مُوْسٰى ۙ۱ وَاِنِّيْ لَاَظُنُّهٗ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ۰۰۳۸

پس زما دپاره يوه اوچته مانۍ جوړه کړه، کېدی شي چې زه وخېژم د موسٰی (عليه السلام) معبود ته او بېشکه زه دا د دروغجنو نه ګڼم

وَاسْتَكْبَرَ هُوَ وَجُنُوْدُهٗ فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ اِلَيْنَا لَا يُرْجَعُوْنَ ۰۰۳۹

او ده او د ده لښکرو (تکبر) اولويي وکړه په ځمکه کښې ناحقه او دا ئې وګڼړله چې يقيناً دوی به مونږ ته نه راګرځول کېږي

فَاَخَذْنٰهُ وَجُنُوْدَهٗ فَنَبَذْنٰهُمْ فِي الْيَمِّ ۚ۱ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الظّٰلِمِيْنَ ۰۰۴۰

نو مونږ دا (يعنی فرعون او د ده لښکرې) راونيولې، نو مونږ دوی په درياب کښې وغورځول، نو ته وګوره چې د ظالمانو (کافرانو) انجام څنګه وو؟
وَجَعَلْنٰهُمْ اَىِٕمَّةً يَّدْعُوْنَ اِلَى النَّارِ ۚ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ لَا يُنْصَرُوْنَ ٠٠٤١
او مونږه دوی (د دوزخيانو) داسې پيشوايان وګرځول چې اور ته بلنه کوي او د قيامت په ورځ به د دوی سره مرسته نه شي کيدلې
وَاَتْبَعْنٰهُمْ فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا لَعْنَةً ۚ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ هُمْ مِّنَ الْمَقْبُوْحِيْنَ ٠٠٤٢
او په دې دنيا کښې مونږ د دوی پسې لعنت ولګاوه، او د قيامت په ورځ به هم دوی د خراب کړې شويو (بدمخي شويو) نه وي
وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ مِنْۢ بَعْدِ مَآ اَهْلَكْنَا الْقُرُوْنَ الْاُوْلٰى
او يقينًا مونږ موسٰی (عليه السلام) ته کتاب ورکړی وو، وروسته د هغه نه چې مونږ ړومبني امتونه هلاك کړل،
بَصَآىِٕرَ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَّرَحْمَةً
په دې حال کښې چې هغه د خلقو د پاره بصيرتونه، او هدايت او رحمت دی،
لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ٠٠٤٣ وَمَا كُنْتَ بِجَانِبِ الْغَرْبِيِّ اِذْ قَضَيْنَآ اِلٰى مُوْسَى الْاَمْرَ
د دې د پاره چې دوی نصيحت ومني او (ای نبي (عليه السلام)) ته په دغه وخت (د طور) مغربي خوا ته نه وې کله چې مونږ موسٰی (عليه السلام) ته د (نبوت د) کار وحي وکړه
وَمَا كُنْتَ مِنَ الشّٰهِدِيْنَ ۙ ٠٠٤٤ وَلٰكِنَّآ اَنْشَاْنَا قُرُوْنًا فَتَطَاوَلَ عَلَيْهِمُ الْعُمُرُ ۚ
او ته د حاضرينو نه نه وې او ليکن مونږ ډېر امتونه پيدا کړل، نو په دوی خپل عمرونه اوږده شول.
وَمَا كُنْتَ ثَاوِيًا فِيْٓ اَهْلِ مَدْيَنَ تَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِنَا ۙ وَلٰكِنَّا كُنَّا مُرْسِلِيْنَ ٠٠٤٥
او ته په مدين والاو کښې اوسېدونکې نه وې، چې تا هغوی ته زمونږ ايتونه لوستلی، او ليکن مونږ (تا لره) لېږونکي يو
وَمَا كُنْتَ بِجَانِبِ الطُّوْرِ اِذْ نَادَيْنَا وَلٰكِنْ رَّحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ
او نه ته (نبی (عليه السلام)) طور خوا ته وې کله چې مونږ اواز وکړو (موسٰی (عليه السلام) ته) او ليکن (ته لېږلی ئې مونږ) رحمت، د خپل رب د اړخه،
لِتُنْذِرَ قَوْمًا مَّآ اَتٰىهُمْ مِّنْ نَّذِيْرٍ مِّنْ قَبْلِكَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ٠٠٤٦
د دې د پاره چې ته هغه قام ووېروې چې ستا نه مخکښې دوی ته کوم وېروونکې نه دی راغلی، د دې د پاره چې دوی نصيحت قبول کړي
وَلَوْ لَآ اَنْ تُصِيْبَهُمْ مُّصِيْبَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ
او (نبی (عليه السلام) رسول د دې د پاره ولېږلې شو) که دا نه وی چې دوی ته به څه مصيبت ورسېږي په سبب د هغو عملونو چې د دوی لاسونو مخکښې لېږلي دي،
فَيَقُوْلُوْا رَبَّنَا لَوْلَآ اَرْسَلْتَ اِلَيْنَا رَسُوْلًا فَنَتَّبِعَ اٰيٰتِكَ
بيا به دوی وايي: ای زمونږ ربه! ته مونږ ته کوم رسول ولې نه رالېږې، پس چې مونږ ستا د ايتونو تابع شو
وَنَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ٠٠٤٧ فَلَمَّا جَآءَهُمُ الْحَقُّ مِنْ عِنْدِنَا قَالُوْا لَوْلَآ اُوْتِيَ
او شو د مومنانو نه نو کله چې دوی ته حق راغی زمونږ د اړخه، (نو) وئې ويل: دغه (رسول) ته ولې نه دې ورکړې شوي
مِثْلَ مَآ اُوْتِيَ مُوْسٰى ۭ اَوَلَمْ يَكْفُرُوْا بِمَآ اُوْتِيَ مُوْسٰى مِنْ قَبْلُ ۚ
په مثل د هغو (نښاني) چې موسٰی (عليه السلام) ته ورکړې شوي دي؟ ايا دوی کافران شوي نه وو په هغو (نښانو) چې د دې نه مخکښې موسٰی (عليه السلام) ته ورکړې شوي وې؟
قَالُوْا سِحْرٰنِ تَظٰهَرَا ۣ وَقَالُوْٓا اِنَّا بِكُلٍّ كٰفِرُوْنَ ٠٠٤٨

دوی وویل: دا (تورات او قرآن) دواړه جادو دي، **چې د یو بل مدد کوي**، او دوی وویل: مونږ په هر یو سره کفر کوونکښي یو

## اَهمې نُکتې

قُـــلْ فَاْتُوْابِكِتٰـــبٍ مِّـــنْ عِنْـــدِ اللّٰهِ هُـــوَ اَهْـــدٰى مِنْهُمَـــآ اَتَّبِعْـــهُ اِنْ كُنْـــتُمْ صٰـــدِقِيْنَ ٤٩٠٠

تهٔ(ﷺ)و وايه: تاسو داسې کتاب راوړئ د الله د خوا نه چې هغه د دې دواړو کتابونو نه زيات لار ښوونکنبى وي، چې زهٔ د هغه تابعداري وکړم، که تاسو رښتيني يئ

فَـــاِنْ لَّـــمْ يَسْـــتَجِيْبُوْا لَكَفَـــاعْلَمْ اَنَّمَـــا يَتَّبِعُـــوْنَ اَهْـــوَآءَهُمْ ١

نـو کـه دوى سـتا خبـره ونـهٔ منلـه، نـو تـهٔ پـوه شـه چـې دوى يقينًـا يـواځې د خپلـو خواهشـاتو تابعـداري کـوي

وَمَنْ اَضَلُّ مِمَّنِ اتَّبَعَ هَوٰىهُ بِغَيْرِ هُدًى مِّنَ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۰۰۵۰

او د هغه چا نه لوی گمراه څوك دی، چې د خپل خواهش تابعداري کوي، بې د هدايته د الله د اړخه. بېشکه الله ظالم قام ته نېغه لار نه ښايي

## ۳- بنی اسرائيل په صحرا ئے سينا کښې (سورة الاعراف۷،آيات:۱۳۸نه تر ۱۴۱)

وَجٰوَزْنَا بِبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ الْبَحْرَ فَاَتَوْا عَلٰى قَوْمٍ يَّعْكُفُوْنَ عَلٰٓى اَصْنَامٍ لَّهُمْ ۚ قَالُوْا

او مونږه بني اسرائيل په سيند پورې اېستل، نو دوی په داسې قام راغلل چې د خپلو بُتانو په عبادت لګيا وو ، وويل (بني اسرائيلو):

يٰمُوْسَى اجْعَلْ لَّنَآ اِلٰهًا كَمَا لَهُمْ اٰلِهَةٌ ؕ قَالَ اِنَّكُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُوْنَ ۰۰۱۳۸

اے موسیٰ! مونږ دپاره (هم) داسې معبود جوړ کړه، لکه څنګه چې د دوی دپاره معبودان دي، (موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام) وويل: بېشکه تاسو غټ جاهل قام يئ

اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ مُتَبَّرٌ مَّا هُمْ فِيْهِ وَبٰطِلٌ مَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۰۰۱۳۹ قَالَ

بېشکه دا خلق (چې د کوم څيز په تعظيم) مشغول دي تباه دی هغه (دين) چې دوی په هغه کې دي او باطل دي هغه عملونه چې دوی ئې کوي (موسیٰ عليه السلام) وويل:

اَغَيْرَ اللّٰهِ اَبْغِيْكُمْ اِلٰهًا وَّهُوَ فَضَّلَكُمْ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ۰۰۱۴۰

ايا زۀ تاسو ته د الله نه سوا معبود ولټوم، حال دا چې هغه (الله) تاسو په مخلوقاتو باندې غوره کړې يئ

وَاِذْ اَنْجَيْنٰكُمْ مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ يَسُوْمُوْنَكُمْ سُوْٓءَ الْعَذَابِ ۚ يُقَتِّلُوْنَ اَبْنَآءَكُمْ

او کله چې مونږ تاسو ته د فرعونيانو نه نجات درکړو ، چې تاسو ته به ئې سخت عذاب دررساوه، چې ستاسو زامن به ئې وژل

وَيَسْتَحْيُوْنَ نِسَآءَكُمْ ؕ وَفِيْ ذٰلِكُمْ بَلَآءٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَظِيْمٌ ۰۰۱۴۱

او ستاسو ښځې (لونړه) به ئې ژوندۍ پرېښودلې او په دې کښې ستاسو د رب د اړخه ډېر لوی ازمېښت وو-

## بنی اسرائيل په صحرائے سينا کښې (سورة طٰهٰ۲۰،آيات:۸۰نه تر ۸۲)

يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ قَدْ اَنْجَيْنٰكُمْ مِّنْ عَدُوِّكُمْ وَوٰعَدْنٰكُمْ جَانِبَ الطُّوْرِ الْاَيْمَنَ

اے بني اسرائيلو! بېشکه مونږ تاسو ته نجات درکړو ستاسو د دښمن نه او مونږ وعده وکړه ستاسو سره د طور غر ښي اړخ ته م

وَنَزَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوٰى ۰۰۸۰ كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ وَلَا تَطْغَوْا فِيْهِ

او مونږ په تاسو باندې مَن (ترنجبين) او مړزان نازل کړل تاسو هغه پاکيزه څيزونه خورئ چې مونږ تاسو ته درکړي دي او تاسو په دغه (رزق) کښې تجاوز مه کوئ

فَيَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبِيْ ۚ وَمَنْ يَّحْلِلْ عَلَيْهِ غَضَبِيْ فَقَدْ هَوٰى ۰۰۸۱

(ګنې) نو په تاسو به زما غضب راکوز شي او هغه څوك چې په هغه باندې زما غضب راکوز شي، نو يقيناً دی وغورځېده (هلاك شو)

وَاِنِّيْ لَغَفَّارٌ لِّمَنْ تَابَ وَاٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ثُمَّ اهْتَدٰى ۰۰۸۲

او بېشکه زۀ خامخا ډېر بخښونکښې يم هغه چا ته چې توبه وباسي او ايمان راوړي او نېك عمل کوي، بيا په نېغه لار روان اوسي

## ۴- حضرت موسیٰ په کوه طور باندې (سورة الاعراف۷، آيات: ۱۴۲نه تر ۱۴۷)

وَوٰعَدْنَا مُوْسٰى ثَلٰثِيْنَ لَيْلَةً وَّاَتْمَمْنٰهَا بِعَشْرٍ فَتَمَّ مِيْقَاتُ رَبِّهٖٓ اَرْبَعِيْنَ لَيْلَةً ۚ

او مونږ د موسیٰ (عليه السلام) سره د دېرشو شپو وعده وکړه او مونږ هغه په لسو (نورو) سره پوره کړې، نو ستا د رب ټاکلې موده څلوېښت ورځې پوره شوه،

وَقَالَ مُوْسٰى لِاَخِيْهِ هٰرُوْنَ اخْلُفْنِيْ فِيْ قَوْمِيْ وَاَصْلِحْ

او موسیٰ (عليه السلام) خپل ورور هارون (عليه السلام) ته وويل: ته زما نايب جوړ شه زما په قام کې او اصلاح کوه

وَلَا تَتَّبِعْ سَبِيْلَ الْمُفْسِدِيْنَ ٠٠١٤٢ وَلَمَّا جَآءَ مُوْسٰى لِمِيْقَاتِنَا وَكَلَّمَهٗ رَبُّهٗ ۙ

او د ورانکارو د لارې تابعداري مه کوه او کله چې موسىٰ (عليه السلام) زمونږ تاکلي وخت ته راغی او خپل رب ئې ورسره خبرې وکړې،

قَالَ رَبِّ اَرِنِيْٓ اَنْظُرْ اِلَيْكَ ۭ قَالَ لَنْ تَرٰىنِيْ وَلٰكِنِ انْظُرْ اِلَى الْجَبَلِ

وئې ويل: اى زما ربه! تۀ ما ته (خپل ځان) وښايه چې زۀ تا ووينم، وويل: (الله:) تۀ به ما (پۀ دنيا کښې) د سره ونۀ وينې او لېکن تۀ غر ته وګوره،

فَاِنِ اسْتَقَرَّ مَكَانَهٗ فَسَوْفَ تَرٰىنِيْ ۚ فَلَمَّا تَجَلّٰى رَبُّهٗ لِلْجَبَلِ جَعَلَهٗ دَكًّا

نو که چېرې هغه پۀ خپل ځاى ثابت پاتې شو، نو زر ده چې تۀ به ما ووينې، نو کله چې خپل رب ئې غر ته تجلي وکړه (، نو) هغه ئې ذرې ذرې وګرځاوه

وَّخَرَّ مُوْسٰى صَعِقًا ۚ فَلَمَّآ اَفَاقَ قَالَ سُبْحٰنَكَ تُبْتُ اِلَيْكَ

او موسىٰ (عليه السلام) بېخوده پرېوتلو، نو کله چې پۀ خود شو، (نو) وئې ويل: زۀ ستا پاکي بيانوم، ما تا ته توبه وښکله او زۀ د ټولو اول ايمان راوړونکى يم

وَاَنَا اَوَّلُ الْمُؤْمِنِيْنَ ٠٠١٤٣ قَالَ يٰمُوْسٰٓى اِنِّي اصْطَفَيْتُكَ عَلَى النَّاسِ

او زۀ د ټولو اول ايمان راوړونکى يم وويل: (الله:) اى موسىٰ! بېشکه ما تا ته پۀ ټولو خلقو باندې غوره والى درکړى دى

بِرِسٰلٰتِيْ وَبِكَلَامِيْ ۡ فَخُذْ مَآ اٰتَيْتُكَ وَكُنْ مِّنَ الشّٰكِرِيْنَ ٠٠١٤٤

پۀ خپلو پېغامونو سره او پۀ خپل کلام سره، نو ته هغه څه ونيسه چې ما تا ته درکړي دي، او د شکر کوونکو نه شه

وَكَتَبْنَا لَهٗ فِي الْاَلْوَاحِ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ مَّوْعِظَةً وَّتَفْصِيْلًا لِّكُلِّ شَيْءٍ ۚ فَخُذْهَا بِقُوَّةٍ

او مونږ د هغه دپاره پۀ تختيو کښې د هر شي نه نصيحت او د هر شي تفصيل وليکه، نو تۀ دا پۀ قوت سره ونيسه

وَّاْمُرْ قَوْمَكَ يَاْخُذُوْا بِاَحْسَنِهَا ۭ سَاُورِيْكُمْ دَارَ الْفٰسِقِيْنَ ٠٠١٤٥ سَاَصْرِفُ عَنْ اٰيٰتِيَ

او خپل قام ته حکم وکړه چې د دې پۀ غوره (احکامو) عمل وکړي، زر به زۀ تاسو ته د فاسقانو کور وښيم عنقريب به زۀ د خپلو ايتونو نه واړوم

الَّذِيْنَ يَتَكَبَّرُوْنَ فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ ۭ وَاِنْ يَّرَوْا كُلَّ اٰيَةٍ لَّا يُؤْمِنُوْا بِهَا ۚ

هغه کسان چې پۀ ځمکه کې ناحقه تکبر کوي او که دوى ټولې نښانې ووينې (، بيا هم) پۀ هغې ايمان نه راوړي

وَاِنْ يَّرَوْا سَبِيْلَ الرُّشْدِ لَا يَتَّخِذُوْهُ سَبِيْلًا ۚ وَاِنْ يَّرَوْا سَبِيْلَ الْغَيِّ يَتَّخِذُوْهُ سَبِيْلًا ۭ

او که چېرې دوى د هدايت لار ووينې (، نو) هغه خپله لار نه غوره کوي، او که چېرې د ګمراهۍ لار ووينې (، نو) هغه خپله لار ګرځوي،

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَكَانُوْا عَنْهَا غٰفِلِيْنَ ٠٠١٤٦ وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا

دا ځکه چې يقينًا دوى زمونږ د ايتونو تکذيب کړى دى، او دوى د هغو نه غافله وو او هغه کسان چې زمونږ د ايتونو تکذيب ئې کړى دى

وَلِقَاۗءِ الْاٰخِرَةِ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ ۭ هَلْ يُجْزَوْنَ اِلَّا مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ٠٠١٤٧

او د اخرت د ملاقات، د هغوى عملونه برباد شول، دوى ته به بدله نۀ ورکول کېږي مګر د هغو کارونو چې دوى به کول

## حضرت موسىٰ (عليه السلام) پۀ کوهِ طور باندې (سورة طٰهٰ ٢٠، آيات: ٨٣ تا ٨٧)

وَمَآ اَعْجَلَكَ عَنْ قَوْمِكَ يٰمُوْسٰى ٠٠٨٣ قَالَ هُمْ اُولَاۗءِ عَلٰٓى اَثَرِيْ

او اے موسىٰ! تۀ څه شي راګړندى کړې (پۀ اول راتګ کښې) د خپل قام نه؟ موسىٰ (عليه السلام) وويل: دوى دغه دي پۀ ما پسې راروان دي

وَعَجِلْتُ اِلَيْكَ رَبِّ لِتَرْضٰى ٠٠٨٤ قَالَ فَاِنَّا قَدْ فَتَنَّا

او زۀ تا ته جلت راغلم ای زما ربه! د دې دپاره چې ته راضي شې (الله) وويل: نو بېشکه مونږ وازمايه
قَوْمَكَ مِنْ بَعْدِكَ وَاَضَلَّهُمُ السَّامِرِيُّ ٠٠٨٥ فَرَجَعَ مُوْسٰۤى اِلٰى قَوْمِه
ستا قام ستا نه (وروسته) او سامري دوی ګمراه کړل .نو موسٰی (عَلَیْهِ السَّلَامُ) خپل قام ته راستون شو،
غَضْبَانَ اَسِفًا ۚ قَالَ يٰقَوْمِ اَلَمْ يَعِدْكُمْ رَبُّكُمْ وَعْدًا حَسَنًا ۭ
چې ډېر په غصه او غمجن و، وئې ويل: ای زما قامه! ايا تاسو سره ستاسو رب ډېره ښه وعده نه وه کړې؟
اَفَطَالَ عَلَيْكُمُ الْعَهْدُ اَمْ اَرَدْتُّمْ اَنْ يَّحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ
ايا نو په تاسو زمانه ډېره اوږده شوه، يا که تاسو اراده کړې وه چې په تاسو باندې د خپل رب غضب راکوز شي،
فَاَخْلَفْتُمْ مَّوْعِدِيْ ٠٠٨٦ قَالُوْا مَآ اَخْلَفْنَا مَوْعِدَكَ بِمَلْكِنَا
لهٰذا نو تاسو زما د وعدې خلاف ورزي وکړه دوی وويل: مونږ ستا د وعدې مخالفت په خپل اختيار سره نۀ دی کړی،
وَلٰكِنَّا حُمِّلْنَآ اَوْزَارًا مِّنْ زِيْنَةِ الْقَوْمِ
او ليکن په مونږ باندې بار کړې شوي وو د (قبطيانو د) قام د ښکلا زيورات،
فَقَذَفْنٰهَا فَكَذٰلِكَ اَلْقَى السَّامِرِيُّ ٠٠٨٧
نو مونږ هغه (په اورکښې) وغورځول، نو همداسې سامري هغه (خپله برخه په اور کې) وغورځوله

## اَهمي نُکتې

## ۵ د سوناخسے او د بنی اسرایيلو ګمراهي (سُوۡرَۃ الاعراف ۷، آيتونه: ۱۴۸ تا ۱۴۹)

وَاتَّخَذَ قَوْمُ مُوْسٰى مِنْۢ بَعْدِهٖ مِنْ حُلِيِّهِمْ عِجْلًا جَسَدًا لَّهٗ خُوَارٌ ۭ

او د موسٰی (عليه السلام) قام د هغه (د تلو) نه پس د خپلو کاليو (زيوراتو) نه سخی جوړکړو مجسم چې د هغه دپاره د سخي اواز و،

اَلَمْ يَرَوْا اَنَّهٗ لَا يُكَلِّمُهُمْ وَلَا يَهْدِيْهِمْ سَبِيْلًا ۘ اِتَّخَذُوْهُ وَكَانُوْا ظٰلِمِيْنَ ۰۰۱۴۸

ايا دوی نۀ دې کتلي چې بېشکه دا (مجسم سخی) نۀ د دوی سره خبرې کولی شې او نۀ دوی ته څه لار ښودلی شي، دوی دا (معبود) جوړ کړی دی او دوی ظالمان وو

وَلَمَّا سُقِطَ فِيْٓ اَيْدِيْهِمْ وَرَاَوْا اَنَّهُمْ قَدْ ضَلُّوْا ۙ قَالُوْا لَىِٕنْ لَّمْ يَرْحَمْنَا رَبُّنَا

او کله چې دوی پښېمانه شول او پوه شول چې يقيناً دوی ګمراه شوي دي، (نو) وئې ويل: که چېرې زمونږ رب په مونږ رحم ونۀ کړي

وَيَغْفِرْ لَنَا لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ۰۰۱۴۹

او مونږ ته بخښنه ونۀ کړي (، نو) مونږ به خامخا ضرور د تاوانيانو نه شو

## د سوناخسے او د بنی اسرایيلو ګمراهي (سُوۡرَۃ طٰهٰ، آيتونه: ۸۸ تا ۹۸)

فَاَخْرَجَ لَهُمْ عِجْلًا جَسَدًا لَّهٗ خُوَارٌ فَقَالُوْا هٰذَآ اِلٰهُكُمْ

نو د (سامری) د دوی دپاره يو سخی راووېست، چې جسد و؛ چې د ده دپاره د سخي اواز و، نو دوی وويل: دا ستاسو معبود دی

وَاِلٰهُ مُوْسٰى ۥ فَنَسِيَ ۰۰۸۸ اَفَلَا يَرَوْنَ اَلَّا يَرْجِعُ اِلَيْهِمْ قَوْلًا ۥ

او د موسٰی معبود دی، پس هغه هېر کړی دی (الله فرمايي) نو ايا دوی نه ګوري چې دوئ ته خبره نۀ راګرځوي

وَّلَا يَمْلِكُ لَهُمْ ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا ۰۰۸۹ وَلَقَدْ قَالَ لَهُمْ هٰرُوْنُ مِنْ قَبْلُ

او نۀ دی د دوی دپاره د ضرر اختيار لري او نه د نفعي او يقيناً هارون (عليه السلام) دوی ته د دې (موسٰی (عليه السلام) د راتلو) نه مخکښې ويلي وو

يٰقَوْمِ اِنَّمَا فُتِنْتُمْ بِهٖ ۚ وَاِنَّ رَبَّكُمُ الرَّحْمٰنُ فَاتَّبِعُوْنِيْ

چې ای زما قامه! بېشکه همدا خبره ده چې تاسو پۀ دې سره ازمايل شوي يئ، او ستاسو رب خو رحمٰن دی، نو تاسو زما پيروي وکړئ

وَاَطِيْعُوْٓا اَمْرِيْ ۰۰۹۰ قَالُوْا لَنْ نَّبْرَحَ عَلَيْهِ عٰكِفِيْنَ حَتّٰى يَرْجِعَ اِلَيْنَا مُوْسٰى ۰۰۹۱

او زما د حکم اطاعت وکړئ دوی وویل: مونږ به تل پهٔ (عبادت) د ده مظبوط ولاړ اوسو، تر هغه پورې چې موسٰی (عليه السلام) مونږ ته بېرته راشي

قَالَ يٰهٰرُوْنُ مَا مَنَعَكَ اِذْ رَاَيْتَهُمْ ضَلُّوْٓاۙ ٠٠٩٢ اَلَّا تَتَّبِعَنِؕ اَفَعَصَيْتَ اَمْرِيْ ٠٠٩٣

موسٰی (عليه السلام) چې راغی نو وئې ویل: ای هارونه! ته څهٔ شي منع کړې وې، کله چې تا دوی ولیدل چې ګمراه شول چې تا زما پیروي ونهٔ کړه،

قَالَ يَبْنَؤُمَّ لَا تَاْخُذْ بِلِحْيَتِيْ وَلَا بِرَاْسِيْۚ اِنِّيْ خَشِيْتُ اَنْ تَقُوْلَ فَرَّقْتَ بَيْنَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ وَلَمْ تَرْقُبْ قَوْلِيْ ٠٠٩٤

ایا نو تا زما د حکم نافرماني وکړه؟ هارون (عليه السلام) وویل: ای زما د مور زویه! تهٔ زما ږیره مه نیسه او مه زما سر،

بېشکه زهٔ وویرېږم د دې نه چې تهٔ به وائې چې تا بېلتون واچاوه د بني اسرائیلو پهٔ مینځ کې او زما د خبرې خیال دې ونهٔ کړو

قَالَ فَمَا خَطْبُكَ يٰسَامِرِيُّ ٠٠٩٥ قَالَ بَصُرْتُ بِمَا لَمْ يَبْصُرُوْا بِهٖ فَقَبَضْتُ قَبْضَةً مِّنْ اَثَرِ الرَّسُوْلِ فَنَبَذْتُهَا وَكَذٰلِكَ

موسٰی (عليه السلام) وویل: نو ستا څه کار وو ای سامري! هغه وویل: ما هغه شی ولیده چې دوی هغه نهٔ وو لیدلی

نو ما یو موټی (خاوره) راوخیسته د فرښتې د قدمه، نو هغه ما (پهٔ دغه سخي کې) وغورځوله او همداسې

سَوَّلَتْ لِيْ نَفْسِيْ ٠٠٩٦ قَالَ فَاذْهَبْ فَاِنَّ لَكَ فِي الْحَيٰوةِ اَنْ تَقُوْلَ لَا مِسَاسَ ۪ وَاِنَّ لَكَ مَوْعِدًا لَّنْ تُخْلَفَهٗ ۚ وَانْظُرْ اِلٰٓى اِلٰهِكَ

ما ته زما نفس (دا کار) ښایسته کړی وو (موسٰی (عليه السلام)) وویل: نو تهٔ ځه! پس بېشکه تا لره پهٔ ژوندن کښې دا دي چې تهٔ به وایې:

(پهٔ ما) مه لګېږئ، او بېشکه ستا دپاره د (یو بل عذاب) وعده (هم) ده چې ستا سره به د هغې وعدې هېڅ خلاف ونهٔ کړی شي، او تهٔ خپل هغه معبود ته وګوره

الَّذِيْ ظَلْتَ عَلَيْهِ عَاكِفًا ۭ لَنُحَرِّقَنَّهٗ ثُمَّ لَنَنْسِفَنَّهٗ فِي الْيَمِّ نَسْفًا ٠٠٩٧

چې تهٔ پهٔ (عبادت) د دهٔ باندې مظبوط ولاړ وې، مونږ به دی خامخا ضرور سوځوو، بیا مونږ دے پهٔ سیند کې بادوو، ښه بادول

اِنَّمَآ اِلٰهُكُمُ اللّٰهُ الَّذِيْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۭ وَسِعَ كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا ٠٠٩٨

بېشکه همدا خبره ده چې ستاسو معبود هغه الله دی چې نشته هېڅ لایق د عبادت مګر هم دی دی، ده د (خپل) علم پهٔ لحاظ هر شی، راګېر کړی۔

## ۲ . د حضرت موسٰی (عليه السلام) خفګان او د بني اسرایېلو سزا (سُوْرَةَ الاعراف ۷، آیتونه: ۱۵۰ تا ۱۵۴)

وَلَمَّا رَجَعَ مُوْسٰٓى اِلٰى قَوْمِهٖ غَضْبَانَ اَسِفًا ۙ قَالَ بِئْسَمَا خَلَفْتُمُوْنِيْ مِنْۢ بَعْدِيْ ۚ

او کله چې موسٰی (عليه السلام) خپل قام ته بېرته راغی، چې ډېر غصّه، افسوس کوونکی وو، (نو وئې ویل: بد دی هغه چې زما نه وروسته تاسو ډېر بد کار کړے دے،

اَعَجِلْتُمْ اَمْرَ رَبِّكُمْ ۚ وَاَلْقَى الْاَلْوَاحَ وَاَخَذَ بِرَاْسِ اَخِيْهِ يَجُرُّهٗٓ اِلَيْهِ ۭ

ایا تاسو د خپل رب د حکم نه تلوار وکړو؟ او تختې ئې وغورځولې او د خپل ورور (هارون (عليه السلام)) سر ئې راونیوه، چې هغه ئې خپل ځان ته راښکه.

قَالَ ابْنَ اُمَّ اِنَّ الْقَوْمَ اسْتَضْعَفُوْنِيْ وَكَادُوْا يَقْتُلُوْنَنِيْ ۫

( هارون (عَلَيْهِ السَّلَامُ) وویل: ای زما د مور زویه! بېشکه قام زۀ کمزوری کړی وم او نزدې وو چې ما ووژني،

فَلَا تُشْمِتْ بِيَ الْاَعْدَآءَ وَلَا تَجْعَلْنِيْ مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ۰۰۱۵۰ قَالَ

نو تۀ په ما باندې دښمنان مه خوشحالوه او ما مه ملګری کوه د ظالم قام سره (موسٰی (عَلَيْهِ السَّلَامُ) وویل:

رَبِّ اغْفِرْ لِيْ وَلِاَخِيْ وَاَدْخِلْنَا فِيْ رَحْمَتِكَ ۖ وَاَنْتَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ۰۰۱۵۱

ای زما ربه! تۀ ما ته بخښنه وکړه او زما وورور ته او مونږه په خپل رحمت کښې داخل کړه او تۀ تر ټولو لوی مهربان یې

اِنَّ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ سَيَنَالُهُمْ غَضَبٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ وَذِلَّةٌ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۭ

بېشکه هغه کسان چې سخی ئې (معبود) نیولی دی، زر به دوی ته د خپل رب د اړخه غضب ورسیږي او په دنیایي ژوند کښې ذلت ،

وَكَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُفْتَرِيْنَ ۰۰۱۵۲ وَالَّذِيْنَ عَمِلُوا السَّيِّاٰتِ ثُمَّ تَابُوْا مِنْۢ بَعْدِهَا وَاٰمَنُوْٓا ۡ

او همدارنګه مونږ بهتان تړونکو ته سزا ورکوو او هغه کسان چې بد کارونه ئې کړي دي، بیا ئې د هغو نه وروسته توبه وېستلې ده او ایمان ئې راوړی دی،

اِنَّ رَبَّكَ مِنْۢ بَعْدِهَا لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۰۰۱۵۳ وَلَمَّا سَكَتَ عَنْ مُّوْسَى الْغَضَبُ

بېشکه ستا رب د دې (توبې) نه پس خامخا ډېر بخښونکی، بې حده مهربان دی او کله چې د (موسٰی (عَلَيْهِ السَّلَامُ) )غصه سړه شوه،

اَخَذَ الْاَلْوَاحَ ۚ وَفِيْ نُسْخَتِهَا هُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّلَّذِيْنَ هُمْ لِرَبِّهِمْ يَرْهَبُوْنَ ۰۰۱۵۴

تختۍ ئې راواخیستلې او د هغو په لیک کښې هدایت او رحمت وو د هغو کسانو دپاره چې هغوی یواځې د خپل رب نه وېرېږي

## ۷ ـ د بنی اسرایېلو په کوهِ طور باندې بے ځایه مطالبه او د هغوئ انجام (سُوْرَةَ الاعراف ۷، آیت: ۱۵۵)

وَاخْتَارَ مُوْسٰى قَوْمَهٗ سَبْعِيْنَ رَجُلًا لِّمِيْقَاتِنَا ۚ فَلَمَّآ اَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ

او موسٰی (عَلَيْهِ السَّلَامُ) د خپل قام نه اویا کسان زمونږ د مقرر کړي وخت دپاره غوره کړل، نو کله چې هغوی زلزلې ونیول،

قَالَ رَبِّ لَوْ شِئْتَ اَهْلَكْتَهُمْ مِّنْ قَبْلُ وَاِيَّايَ ۭ اَتُهْلِكُنَا

، وویل (موسٰی (عَلَيْهِ السَّلَامُ): ای زما ربه! که چېرې تا غوښتلی، تا به دوی مخکې هلاك کړي و او زۀ (هم)، ایا تۀ مونږه د هغه کار په وجه هلاکوې

بِمَا فَعَلَ السُّفَهَآءُ مِنَّا ۚ اِنْ هِيَ اِلَّا فِتْنَتُكَ ۭ تُضِلُّ بِهَا مَنْ تَشَاۗءُ

چې په مونږ کښې بیوقوفو کړی دی؟ نۀ دې دا مګر ستا ازمایل، تۀ په دې سره ګمراه کوې چا لره چې تۀ وغواړې

وَتَهْدِيْ مَنْ تَشَاۗءُ ۭ اَنْتَ وَلِيُّنَا فَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا وَاَنْتَ خَيْرُ الْغٰفِرِيْنَ ۰۰۱۵۵

او په نېغه لار روانوې چا لره چې وغواړې، تۀ زمونږ کارساز یې، نو تۀ مونږ ته بخښنه وکړه او په مونږ رحم وکړه او تۀ د ټولو غوره بخښونکی یې

## اَهمې نُکتې

## د علم او عمل خبري

۱ ـ د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د آیتونونه انکارکولووالا اوددې نه غفلت کولووالا د عذاب مستحقین جوړېږي دغه رنګې پۀ شرک کونکود الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی غضب وي ـ (سُوْرَۃ الاعراف ـ آیتونه: ۱۴۲ تا ۱۵۲)

۲ ـ ګمراه انسان خپل زان او خپلو ملګرولره پۀ هلاکت کنبې غوزوي ـ (سُوْرَۃ طٰهٰ آیتونه: ۸۵، ۷۹، سُوْرَۃ القصص، آیتونه: ۴۲، ۴۱)

۳ ـ پۀ منکرینو، بدکارو، اود حدنه زیاتي کونکوباندې د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی عذاب نازلېږي ـ (سُوْرَۃ طٰهٰ آیت: ۸۱)

۴ ـ توبه ویستل، ایمان راوړل اود نیک عمل کولووالا الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی ډیربښونکےدے ـ (سُوْرَۃ طٰهٰ آیت: ۸۲)

۵ ـ د انبیاءکرامو عَلَیۡهِمِ السَّلَام تعبداري کونکي اود هغوئ حکمونه منونکښې کامیاب وي ـ (سُوْرَۃ طٰهٰ، آیت: ۹۰)

۶ ـ د امّت د ماتولواوجنګولوکوشش کول ډیرغلط کاردے ـ (سُوْرَۃ طٰهٰ، آیت: ۹۴)

۷ ـ غلط بادشاه قام لره د حق نه د جداکولودپاره پۀ فضول کارونوکښې مصروف کوي ـ (سُوْرَۃ القصص، آیت: ۳۸)

۸ـ د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی هدایت پرېښول اود خپلوخوا

هشاتوتعبداري کولووالا ګمراه کښېږي ـ (سُوْرَۃ القصص، آیت: ۵۰)

۹ ـ د مشکلوحالتونونه د ویستلولاره حقیقي اومستقل الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی ورکوي ـ (سُوْرَۃ الشعراء، آیت: ۶۲)

۱۰ـ د انبیاءکِرام عَلَیۡهِمِ السَّلَام پۀ دعاسره الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی مړوته هم نوے ژوند ورکړےدے ـ (سُوْرَۃ الاعراف، آیت: ۱۵۵)

## ځان پرې پوهه کړئ او حل ئې کړئ

**سوال ۱:** پۀ صحيح جواب باندې صحيح نښه (✓) ولګوئ:

(۱) الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی فرعون اود هغه لښکر څرنګه هلاک شو؟

(الف) کاڼي وريدل (ب) پۀ سيند کښې ډوبيدل (ج) پۀ ځمکه کښې دفن کښېدل

(۲) فرعون د مرګ پۀ وخت کښې څه وويل؟

(الف) آيا د مصر حکومت اوزما (د محل) لاندې بهيدونکي نهرونه زما نه دي؟

(ب) زۀ ستاد ټولو غټ رب يم (ج) ماايمان راوړے دے پۀ دې باندې چې هيڅ معبود نشته ددې (الله) نه سېوا چې پۀ کومو بنی اسرايېلو ايمان راوړے دے۔

(۳) الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د بنی اسرايېلو دپاره څه راليږلي وو؟

(الف) سبزيانې (ب) من وسلوىٰ (ج) دال

(۴) چا بنی اسرايېل ګمراه کړي وو؟

(الف) سامري (ب) قارون (ج) فرعون

(۵) چې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی پۀ بنی اسرايېلو باندې د طورغرا وچت کړو ،نود هغوي نه ئې څه اخستے وو؟

(الف) کار (ب) لوظ (ج) انتقام (بدل اخستل)

**سوال ۲** د لاندې جملو سره پۀ جوړېشوو خانو کښې د قصّې د ترتيب پۀ لحاظ سره نمبرورکړئ۔

۱۔فرعون د خپل لښکر سره پۀ بنی اسرايېلو پسې شو۔

۲۔پۀ صحرا سينا کښې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی پۀ بنی اسرايېلو باندې وريځ سېورے کړله،من او سلوىٰ ئې راوليږل او د حضرت موسىٰ (عَلَيْهِ السَّلَامُ) د امسا پۀ وهلو ګټې نه دولس (۱۲) چينې رواني شوې۔

۳۔ الله سُبۡحَانَهٗ وَتَعَالٰی د جهاد حکم وکړو لیکن هغوئ بزدلي وکړه۔

۴۔ سامري د زیورواتونه خسي جوړکړلو۔

۵۔ الله سُبۡحَانَهٗ وَتَعَالٰی د بنی اسرایېلو پهٔ شرک باندي سزاورکړه۔

سوال ۳ د لاندي لیکلي شووسوالونومختصرجوابونه ورکړئ:

۱۔ مخي ته سیند اود روسته نه د فرعون لښکرئې چي ولیدلو ،نوبنی اسرایېلو حضرت موسٰی (علیه السلام) ته څه وویل او حضرت موسٰی (علیه السلام) هغوئ ته څه جواب ورکړو؟

۲۔ الله سُبۡحَانَهٗ وَتَعَالٰی پهٔ صحرائے سیناکښي پهٔ بنی اسرایېلو څه نعمتونه کړي وو؟

۳۔ سامري قام څنګه ګمراه کړو؟

۴۔ پهٔ کوهِ طورباندي د بنی اسرایېلومشرانو څه مطالبه کړي وه؟

.بنی اسرايیلو فلسطين ته د داخليدلو نه ولي انکاروکړو؟

کورنۍ سرګرمي (هله زله)



.د حضرت موسىٰ (عَلَيْهِ السَّلَامُ) د ژوندپهٔ دري دورونوکښې د مخي ته د راتللو اهمو واقعاتو فهرست جوړ کړئ او د اپهٔ چاټ دي ولیکئ۔

. پهٔ صحرائے سیناکښې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ پهٔ بنی اسرائیلو باندې چې کوم احسانات کړي وو د هغي یو فهرست ږکئ۔

.د لاندي اشاراتو پهٔ مدد سره د حضرت موسىٰ (عَلَيْهِ السَّلَامُ) تعارف (پیژندګلو) مکمل کړئ۔

.دقام نوم ۲۔ د کتاب نوم ۳۔ دقام د دشمن نوم ۴۔ د ملک نوم ۵۔ د بادشاه لقب

.معجزي ۷ ۔ پهٔ صحراکښې خوراک ۸۔ د وررورنوم ۹۔ د قام د دشمن انجام

۱۔ د صحرانوم




د استادلاس ليک سره د تاريخ:__________. . . د مورپلارلاس ليک سره د تاريخ:__________. . .

## سبق: ۲ سُوۡرَة النّبَا (سُوۡرَة نمبر: ۷۸، ټولې رکوع ګانې: ۲، ټول آياتونه : ۴۰)

شانِ نزول او پيژندګلو: دا سورت پهٔ حضرت نبی کريم (ﷺ) باندې د وحی د شروع نه روسته د مکّي زندګئ پهٔ ابتدائي دورکښې نازل شوے دے پهٔ دې سُوۡرَة کښې د قيامت د راتللو خبرورکړے شوے دے چې د څه پهٔ باره کښې خلق اختلاف کوي او د قيامت پهٔ واقع کېدلو باندې دلائل ورکړے شوي دي خلق ئې پهٔ کائناتو کښې موجود د الله سُبۡحَانَهُ وَتَعَالٰى د مختلفو نشاناتو او قدرتونو پهٔ ذريعه سره پوهه کړي دي چې کوم الله سُبۡحَانَهُ وَتَعَالٰى دومره غټ کائنات جوړ کړے دے، نو دا به انسان دوباره هم ژوندے کوي بيا به د قيامت هيبتناک منظر نيول کوي، پهٔ دغه ورځ به د نيکانو او بدانو انجام مخې ته راشي

،داهم ښودلي شوي دي چې پۀ آخرت کښې به هيڅ څوک د اللّٰه سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د مرضئ نه بغيرده هيڅ چاه سفارش نه کوي البته د اللّٰه سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی پۀ اجازت سره به د مقربينو (نزدې اللّٰه ته) پۀ دربارِالٰهي کښې سفارش قبول وي، د سورت پۀ آخرکښې پۀ بدانجام باندې د کافرانو د افسوس ذکر دے چې کاش دوئ پۀ آخرت کښې دوباره نه وے جوندې شوے۔

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

زۀ پناه غواړم پۀ اللّٰه سره د شيطان رټلي شوي نه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ○

خاص د اللّٰه پۀ نوم سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکې دی

عَمَّ يَتَسَآءَلُوْنَ ۚ ٠٠١ عَنِ النَّبَاِ الْعَظِيْمِ ۙ ٠٠٢ الَّذِيْ هُمْ فِيْهِ مُخْتَلِفُوْنَ ؕ ٠٠٣

دوی د څه شي پۀ باره کې يو د بل پوښتنه کوي؟ د ډېر لوی (قيامت) خبرپۀ باره کې؟ پۀ هغه کې سره اختلاف کوونکي دي۔

كَلَّا سَيَعْلَمُوْنَ ۙ ٠٠٤

هيڅکله (داسی) نۀ ده! کوي (دغه اختلاف او پوښتني)، زر به دوی پوه شي (دقيامت پۀ حقيقت

ثُمَّ كَلَّا سَيَعْلَمُوْنَ ٠٠٥ اَلَمْ نَجْعَلِ الْاَرْضَ مِهٰدًا ۙ ٠٠٦ وَّالْجِبَالَ

(بيا هيڅکله (داسی) نۀ ده ، زر به دوی پوه شي۔ ايا مونږ نه ده ګرځولي ځمکه فرش ؟ او (پۀ ځمکه باندې خخ شوي) غرونه

اَوْتَادًا ۙ ٠٠٧ وَّخَلَقْنٰكُمْ اَزْوَاجًا ۙ ٠٠٨ وَّجَعَلْنَا نَوْمَكُمْ سُبَاتًا ۙ ٠٠٩

(مو) ميخونه نۀ دي جوړکړي۔ او مونږ تاسو پيدا کړي يئ دجوړوپۀ شکل (نر او ښځه) او مونږ ستاسو خوب (تاسو دپاره) راحت ګرځولی دی

وَّجَعَلْنَا الَّيْلَ لِبَاسًا ۙ ٠١٠ وَّجَعَلْنَا النَّهَارَ مَعَاشًا ۪ ٠١١

او شپه مو (دپټولو والا) پرده ګرځولې ده ۔ او ورځ مو د روزۍ لټولو وخت ګرځولې دی ۔

وَّبَنَيْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعًا شِدَادًا ۙ ٠١٢

او جوړ کړي دي مونږ ستاسو د پاسه اوه ډېر مضبوط اسمانونه ۔

وَّجَعَلْنَا سِرَاجًا وَّهَّاجًا ۙ ٠١٣ وَّاَنْزَلْنَا مِنَ الْمُعْصِرٰتِ مَآءً ثَجَّاجًا ۙ ٠١٤

او مونږ روښانه ځليدونکې ډيوه (لمر) پيدا کړې ده۔ او مونږ د ډکو وريځو نه نازلې کړې دي ډېرې تو ييدونکې اوبه

لِّنُخْرِجَ بِهٖ حَبًّا وَّنَبَاتًا ۙ ٠١٥

د دې دپاره چې راوباسو مونږ پۀ دغو (اوبو) سره داني او زرغونه ۔

وَّجَنّٰتٍ اَلْفَافًا ؕ ٠١٦ اِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ كَانَ مِيْقَاتًا ۙ ٠١٧ يَّوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ

او باغونه يو له بل سره نزدې۔ بيشکه د فيصلې ورځ مقرر وخت دی هغه ورځ چې پو کی به وو هل شي پۀ شپيلۍ کښې

فَتَاْتُوْنَ اَفْوَاجًا ۙ ٠١٨ وَّفُتِحَتِ السَّمَآءُ فَكَانَتْ اَبْوَابًا ۙ ٠١٩

نوراځئ به تاسو ډلې ډلې او اسمان به پرانستل شي، نو دی به دروازې دروازې وي ۔

وَّسُيِّرَتِ الْجِبَالُ فَكَانَتْ سَرَابًا ؕ ٠٢٠ اِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتْ مِرْصَادًا ۙ ٠٢١ لِّلطّٰغِيْنَ مَاٰبًا ۙ ٠٢٢

او غرونه به روان کړی شي، نو دوی به (شګو ګل) سراب شي۔ بيشکه دوزخ به د انتظار ځای (کمين ځای) شي، (دا) د سرکشو دپاره د ورتللو ځای

لّٰبِثِيْنَ فِيْهَآ اَحْقَابًا ۚ ٠٢٣ لَا يَذُوْقُوْنَ فِيْهَا بَرْدًا وَّلَا شَرَابًا ۙ ٠٢٤

چې دوی به پۀ هغه کې زماني زماني (هميشه) پاتې کيږي۔ دوی به پۀ هغه کښې نۀ څه يخوالی څکي او نۀ څه اوبه ۔

اِلَّا حَمِیْمًا وَّغَسَّاقًاۙ ۰۰۲۵

غير د اېشېدلو تودو اوبو او بهيدونکو وينو زوو نه.

جَزَآءً وِّفَاقًاؕ ۰۰۲۶ اِنَّهُمْ كَانُوْا لَا یَرْجُوْنَ حِسَابًاۙ ۰۰۲۷ وَّكَذَّبُوْا بِاٰیٰتِنَا كِذَّابًاؕ ۰۰۲۸

بدله به ورکولی شي د عملونو سره برابره موافقه. بیشکه دوی به د حساب امید نه کاوه. او زمونږ ایتونه به ئي دروغ ګڼړل، سخت دروغ ګڼړل.

وَكُلَّ شَیْءٍ اَحْصَیْنٰهُ كِتٰبًاۙ ۰۰۲۹ فَذُوْقُوْا

او هر شی، مونږ هغه په کتاب (لوح محفوظ) کې شمیرلی (او محفوظ کړی) دی. نو تاسو (خپله سزا) وڅکئ.

فَلَنْ نَّزِیْدَكُمْ اِلَّا عَذَابًاؒ ۰۰۳۰

پس مونږ به تاسو ته د سره زیات نهٔ کړو مګر عذاب.

اِنَّ لِلْمُتَّقِیْنَ مَفَازًاۙ ۰۰۳۱ حَدَآىِٕقَ وَاَعْنَابًاۙ ۰۰۳۲ وَّكَوَاعِبَ اَتْرَابًاۙ ۰۰۳۳

بیشکه خاص د متقیانو دپاره کامیابي ده. (چې) باغونه او انګور دي. او پیغلې همځولې (بې بیانې) دي

وَّكَاْسًا دِهَاقًاؕ ۰۰۳۴ لَا یَسْمَعُوْنَ فِیْهَا لَغْوًا

او (پاکیزه) ترخندو پورې ډکې د شرابو پیالې دې. دوی به په دغه (جنت) کې نهٔ لغوه (بیکاره) خبره اوري

وَّلَا كِذّٰبًاۚ ۰۰۳۵ جَزَآءً مِّنْ رَّبِّكَ عَطَآءً حِسَابًاۙ ۰۰۳۶

او نه دروغ د رب د اړخه به بدله ورکولی شي. (د عملونو) په حساب سره ډېره ورکړه

رَّبِّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَیْنَهُمَا الرَّحْمٰنِ

چې د اسمانونو او ځمکې رب دی او د هغه څه چې د دغو دواړو په مینځ کښې دي، چې ډېر زیات مهربان دی،

لَا یَمْلِكُوْنَ مِنْهُ خِطَابًاۚ ۰۰۳۷

دوی د هغه سره (په دې ورځ) د خبرو کولو اختیار (او قدرت) نه لري.

یَوْمَ یَقُوْمُ الرُّوْحُ وَالْمَلٰٓىِٕكَةُ صَفًّاؕۛ ۱ لَّا یَتَكَلَّمُوْنَ

په هغې ورځ کښې چې روح (یعنی جبرایيل (علیه السلام) )، او ملایك به صفونه صفونه ودرېږي، دوی به خبرې نشي

اِلَّا مَنْ اَذِنَ لَهُ الرَّحْمٰنُ وَقَالَ صَوَابًا ۰۰۳۸

کولی مګر هغه څوك چې هغه ته رحمٰن اجازت ورکړي او ده (په دنیا کې) حقه خبره (لا إله الا الله) ویلې وي.

ذٰلِكَ الْیَوْمُ الْحَقُّۚ ۱ فَمَنْ شَآءَ اتَّخَذَ اِلٰی رَبِّهٖ مَاٰبًا ۰۰۳۹

دغه حق ورځ ده، نو هغه څوك چې د خپل رب په اړخ د ورتلو ځای نیسي (نو ودې نیسي).

اِنَّاۤ اَنْذَرْنٰكُمْ عَذَابًا قَرِیْبًاۚۖ ۱ یَّوْمَ یَنْظُرُ الْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ یَدٰهُ

بیشکه مونږ تاسو د نژدې (راتلونکي) عذاب نه وویرولئ، په هغه ورځ کښې چې هر سړی به هغه څه ته ګوري چې د ده لاسونو مخکې لیږلي دي

وَیَقُوْلُ الْكٰفِرُ یٰلَیْتَنِیْ كُنْتُ تُرٰبًاؒ ۰۰۴۰

او کافر به وایي: ای کاشکې چې زهٔ خاورې وی.

## اَهمي نُکتي

## دعلم اوعمل خبرې

١ ـ مونږبه خامخا د قيامت پۀ ورځ دوباره ژوندې کولےشو ـ (سُوْرَۃ النباء،آيتونه: ١تا٥)

٢ ـ الله سُبْحَانه وَتَعَالىٰ خوب دآرام اوسکون،شپه د پټولووالا پرده اوورځ د روزئ ګټلووالا وخت جوړکړےدے(سورالنباء،آيتونه: ٩تا ١١)

٣ ـ داکائنات د الله سُبْحَانه وَتَعَالىٰ د قدرت نشاه ده اوداپۀ دې خبره باندې دليل دےچې د الله سُبْحَانه وَتَعَالىٰ دپاره قيامت قائ
ډيرزيات آسان دې ـ (سُوْرَۃ النبا ،آيتونه: ٦تا ١٦)

٤ ـ زمونږه اعمال محفوظ دې اود قيامت پۀ ورځ به ددې نتيجه خامخا راوزي ـ (سُوْرَۃ النبا ،آيتونه: ٢٩، ١٨، ١٧)

۵- پهٔ دنیاکښې د الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ او د هغه د رسول(ﷺ)نافرماني کولووالا به پهٔ آخرت کښې ناکامه وي-(سُوْرَة النبا،آیتونه:۲۱تا ۳۰)

۶- د آخرت د حساب فکرنه کول او د الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ آیاتونه دروغ ګڼړل جهنّم ته د تللووالا عملونه دي-(سُوْرَة النبا،آیتونه

۷- پهٔ دنیاکښې الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ او د هغه د حضرت رسول (ﷺ) تعبداري کولووالا پهٔ آخرت کښې کامیاب دي-(سُوْرَة النبا،آیتونه:۳۱تا۳۶)

۸- الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ چې چاته اجازت ورکړي هغي سفارش کولے شي-(سُوْرَة النبا،آیت:۳۸)

۹- پهٔ قیامت باندې یقین کول پهٔ انسان کښې د نیکیانو کول او ګناه نه د بچیدلو جذبه پیدا کوي-(سُوْرَة النبا،آیت: ۴۰)

۱۰- کافرچې کله خپل عبرتناک انجام او عذابویني ،نودا افسوس به وکړي چې کاش مونږددېنه مخکښې خاوري شوےوے وه-(سُوْرَة النبا،آیت ۴۰)

ځان پرې پوهه کړئ او حل ئې کړئ

سوال ۱: پهٔ صحیح جواب باندې صحیح نښه (✓):ولګوئ :

(۱) د کوم څیزپهٔ باره کښې خلق پهٔ خپل مینځ کښې اختلاف کوي-

(الف)توحید (ب) رسالت (ج) آخرت

(۲) الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ شپه د کوم څیزذریعه جوړه کړي ده ؟

(الف) آرام (ب) معاش (ج) پټیدل(پرده کول)

(۳) د روښانه چراغ نه څه شے،مراد دې ؟

(الف) نمر (ب) سپوږمئ (ج) ستوري

(۴) چاچې سرکشي وکړه او د آخرت پهٔ مقابله کښې دنیازیاته ښوښه کړه ،نوداکس به چرته وي؟

(الف) وادی طویٰ کښې (ب)پهٔ جنت کښې (ج)پهٔ جهنم کښې

(۵) دقامت پهٔ ورځ به کافر د څه افسوس کوي؟

(الف) کاش زهٔ خاوري وے (ب) کاش زهٔ فرښته وے (ج) کاش زهٔ پېدانه وے

**سوال ۲:** د لاندې لیکلي شوي آیت نمبراو ددې پهٔ متعلقه الفاظو کښې يو شانته رنګ ورکړئ.

| | |
|---|---|
| آیت نمبر۱۰ | باغونه او انګور |
| آیت نمبر۱۲ | د فرښتو صفونه |
| آیت نمبر۳۲ | پټولو والا پرده |
| آیت نمبر۳۸ | کاش چې زهٔ خاوري وے |
| آیت نمبر۴۰ | اووهٔ ۷ مظبوط اسمانونه |

**سوال ۳:** د لاندې لیکلي شوو سوالونو مختصر جوابونه ورکړئ:

۱۔ پهٔ دې صورت کښې بیان شوي د الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ د څه قدرتونونه درې ولیکئ۔

۲۔ پهٔ دې صورت کښې بیان کړلے شوي د قیامت پهٔ مناظرو کښې یو درې ۳ منظرونه ولیکئ۔

۳۔ پهٔ دې صورت کښې د جهنمیانو کوم جرمونه بیان شوي دي ؟

. پهٔ دې سُوْرَة النبا کښې پرهيزګارولره د ورکړےشووکومونعمتونوذکردے؟

. د قیامت پهٔ ورځ به فرښتې پهٔ کوم کيفيت باندې ولاړې وي؟



کورنۍ سرګرمي(هله زله)

پهٔ سُوْرَة النبا کښې د جنت کوم منظرونه بيان شوي دي هغه مخې ته ايښودل د يوپنځوؤو نعمتونوفهرست جوړکړئ کوروالا ته ئې وښ

. د جهنم دعذاب پهٔ حوالې سره دوه حديثونه تلاش کړئ اوئې ليکئ۔

پهٔ لاندې ورکړےشوې چاټ باندې د شپې اوورځې پنځهٔ پنځهٔ فائدې وليکئ




ستادلاس لیک سره دتاریخ :———— . . د مورپلارلاس لیک سره د تاریخ:———————— . .

## بق: ۷سوره النّزِعٰت (سُوۡرَۃ نمبر: ۷۹ ،ټولی رکوع ګاني: ۲ټول آیاتونه : ۴۶)

### شانِ نزول اوپیژندګلو

ۡرَۃ النّزِعٰت پۀ مکّه مکرّمه کښې د سُوۡرَۃ النباء نه روسته فوراًپۀ حضرت نبی کریم (ﷺ) باندې نازل شوددې سُوۡرَۃپۀ شرو
بۡحَانه وَتَعَالیٰ د فرښتوقِسمونه بیانول د قیامت دواقع کښېدلوبیان کړےدےددې نه روسته د یاددهانئ دپاره د
ضرت موسٰی عَلَیۡهِ السّلَام د توحیدذکر دے اود فرعون د عبرت ناک انجام بیان دے بیاد آخرت نه دانکارکولوولا ته د
ان ترغیب ورکړےشوےدے اود قیامت دورځي د نیکانواوغلطوانسانانود انجام بیان شوےدے د سُوۡرَۃپۀ آخره کښې

ښودلي شوي دي چې د قيامت د واقع کېدلو يقيني علم د الله سُبْحَانه وَتَعَالىٰ سره دے اود دنياژوند د آخرت پۀ مقابله کښې ډير مختصر دے.

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ
زۀ پناه غواړم پۀ الله سره د شيطان رټلي شوي نه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ○
خاص د الله پۀ نوم سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکې دے

وَالنّٰزِعٰتِ غَرْقًا ٠٠١ۙ وَّالنّٰشِطٰتِ نَشْطًا ٠٠٢ۙ
قسم دے پۀ (ملايکو) راوښکونکو (روحونو د کفارو له)، راوښکل او پۀ هغه (ملايکو) قسم چې اسان راوښکونکي دي (د مومنانو روحونو له)، پۀ اساني سره.
وَّالسّٰبِحٰتِ سَبْحًا ٠٠٣ۙ فَالسّٰبِقٰتِ سَبْقًا ٠٠٤ۙ
او پۀ (فضا کښې) پۀ تېزئ سره پۀ لامبو وهونکو (ملايکو)، قسم. بيا (د الله د حکم پۀ منلو کښې) پۀ پوره طاقت سره وړاندې کېدونکو (ملايکو)، قسم.
فَالْمُدَبِّرٰتِ اَمْرًا ٠٠٥ۘ يَوْمَ تَرْجُفُ الرَّاجِفَةُ ٠٠٦ۙ
بيا د هر کار پۀ تدبير جوړونکو (ملايکو قسم) ــ پۀ هغه ورځ چې لړځېدونکي (ځمکه) به ولړځېږي.
تَتْبَعُهَا الرَّادِفَةُ ٠٠٧ؕ قُلُوْبٌ يَّوْمَىِٕذٍ وَّاجِفَةٌ ٠٠٨ۙ اَبْصَارُهَا خَاشِعَةٌ ٠٠٩ۘ
پۀ دې پسې به راځي ورپسې (زلزله) راتلونکې (د مجرمانو) زړونه به پۀ دغه ورځ کښې رپېدونکي (درزېدونکي) وي. د دغو سترګې به ښکته وي.
يَقُوْلُوْنَ ءَاِنَّا لَمَرْدُوْدُوْنَ فِي الْحَافِرَةِ ٠١٠ؕ ءَاِذَا كُنَّا عِظَامًا نَّخِرَةً ٠١١ؕ قَالُوْا
دوی به وايي: ايا پۀ رښتيا (او) يقيناً به مونږ رومبني حالت ته ګرځولی شو (بيا به ژوندي کېږو؟). ايا کله چې مونږ زاړه رژېدونکې هډوکي شو. دوی وويل:
تِلْكَ اِذًا كَرَّةٌ خَاسِرَةٌ ٠١٢ۘ فَاِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَّاحِدَةٌ ٠١٣ۙ
دغه (ګرځېدل) به پۀ هغه وخت کې تاواني ګرځېدل وي پس بېشکه دغه خو بس يوه چغه ده.
فَاِذَا هُمْ بِالسَّاهِرَةِ ٠١٤ؕ
نو (ټول) ناڅاپۀ به دوی پۀ يو ځلې پۀ کولاو ميدان (يعنې محشر) کښې ځمکې جمع وي.
هَلْ اَتٰىكَ حَدِيْثُ مُوْسٰى ٠١٥ۘ اِذْ نَادٰىهُ رَبُّهٗ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى ٠١٦ۚ اِذْهَبْ اِلٰى فِرْعَوْنَ
آيا تا ته راغلې ده د موسٰی (عليه السلام) خبره؟ کله چې اواز وکړ ده ته خپل رب پۀ پاکې دَرې (ناو) "طُوٰی" کې. (او وويل) ته فرعون ته لاړ شه،
اِنَّهٗ طَغٰى ٠١٧ۖ فَقُلْ هَلْ لَّكَ اِلٰى اَنْ تَزَكّٰى ٠١٨ۙ وَاَهْدِيَكَ اِلٰى رَبِّكَ فَتَخْشٰى ٠١٩ۚ
بېشکه ده سرکشي شروع کړې ده نو ته (ورته) ووايه: ايا ته دا خوښوې چې ته پاک شې؟ او دا چې زۀ تا ته ستا د رب پۀ اړخ ښودنه وکړم، پس چې ته وو ويرېږې.
فَاَرٰىهُ الْاٰيَةَ الْكُبْرٰى ٠٢٠ۖ فَكَذَّبَ وَعَصٰى ٠٢١ۖ ثُمَّ اَدْبَرَ يَسْعٰى ٠٢٢ۖ
نو ده (موسٰی (عليه السلام)) دغه (فرعون) ته تر ټولو لويه نښه وښودله. نو ده تکذيب وکړ او نافرماني ئې وکړه. بيا ئې شا کړه (او د فساد) کوشش يې وکړو
فَحَشَرَ فَنَادٰى ٠٢٣ۖ فَقَالَ اَنَا رَبُّكُمُ الْاَعْلٰى ٠٢٤ۖ فَاَخَذَهُ اللّٰهُ
نو ده (جادوګر) راجمع کړل، پس اواز ئې وکړو. نو وئې ويل: زۀ ستاسو رب يم، د ټولو اوچت (رب). نو دی الله راونيوه

نَكَالَ الْاٰخِرَةِ وَالْاُوْلٰى ٠٠٢٥ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّمَنْ يَّخْشٰى ٠٠٢٦ؔ۲

پۀ عذاب د اخرت او دنيا سره. بېشکه پۀ دغه (غرقولو او سوځولو) کښې يقينًا د هغه چا دپاره عبرت دی چې (د الله نه) وېرېږي

ءَاَنْتُمْ اَشَدُّ خَلْقًا

ايا تاسو د پيدا کولو پۀ لحاظ ډېر سخت يئ،

اَمِ السَّمَآءُ ؕ۱ بَنٰىهَا ٠٠٢٧ رَفَعَ سَمْكَهَا فَسَوّٰىهَاۙ ٠٠٢٨ وَاَغْطَشَ لَيْلَهَا

يا اسمان چې جوړ کړے ئې دے د ده چت ئې اوچت کړی دی، نو دغه ئې ښه برابر جوړ کړی دی. او د ده شپه ئې توره تياره کړې ده

وَاَخْرَجَ ضُحٰىهَا ٠٠٢٩ وَالْاَرْضَ بَعْدَ ذٰلِكَ دَحٰىهَا ؕ٠٠٣٠ اَخْرَجَ مِنْهَا مَآءَهَا وَمَرْعٰىهَا ٠٠٣١

او د ده رڼرا ئې راوېستلې ده. او ځمکه ئې دده نه وروسته غوړولې ده. دۀ د دغې (ځمکې) نه د دې اوبه او د دې واښه را اېستلي دي.

وَالْجِبَالَ اَرْسٰىهَاۙ ٠٠٣٢ مَتَاعًا لَّكُمْ وَلِاَنْعَامِكُمْ ؕ٠٠٣٣ فَاِذَا جَآءَتِ الطَّآمَّةُ الْكُبْرٰى ؔ٠٠٣٤

او غرونو لره، (په ځ،که)ده مظبوط کړي دي. ستاسو او ستاسو د څارويو د فايدې دپاره. نو کله چې د ټولو لويه بلا (قيامت) راشي.

يَوْمَ يَتَذَكَّرُ الْاِنْسَانُ مَا سَعٰىۙ ٠٠٣٥ وَبُرِّزَتِ الْجَحِيْمُ لِمَنْ يَّرٰى ٠٠٣٦

پۀ هغه ورځ چې انسان به هغه څه يادوي چې ده کړي وي . او دوزخ به هغه چا ته څرګند کړی شي چې ئې ويني .

فَاَمَّا مَنْ طَغٰىۙ ٠٠٣٧ وَاٰثَرَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَاۙ ٠٠٣٨ فَاِنَّ الْجَحِيْمَ هِيَ الْمَاْوٰى ؕ٠٠٣٩

نو هر چې هغه څوك دی چې سرکشي ئې کړې وي. او دنيايي ژوند ته ئې ترجيح ورکړې وي. نو بېشکه چې هم دا دوزخ (د ده) استوګنه ده.

وَاَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوٰىۙ ٠٠٤٠

او هر چې هغه څوك دی چې د خپل رب پۀ وړاندې د ودرېدلو نه وېرېدلی وي او نفس (ځان) ئې د خواهشاتو نه منع کړی وي.

فَاِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَاْوٰى ؕ٠٠٤١ يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ السَّاعَةِ اَيَّانَ مُرْسٰىهَا ؕ٠٠٤٢

نو بېشکه چې هم دا جنت (د ده) استوګنه ده. ای نبي ﷺ! دوی ستا نه د قيامت پۀ باره کې پوښتنه کوي چې د ده واقع کېدل به کله وي؟

فِيْمَ اَنْتَ مِنْ ذِكْرٰىهَا ؕ٠٠٤٣ اِلٰى رَبِّكَ مُنْتَهٰىهَا ؕ٠٠٤٤

او ستا (ﷺ) د (قيامت دوخت) د ذکر سره څه تعلق دے ؟ خاص ستا (ﷺ) رب ته د دغه (دقيامت دوخت) انتها ده .

اِنَّمَآ اَنْتَ مُنْذِرُ مَنْ يَّخْشٰىهَا ؕ٠٠٤٥

بېشکه ته (ﷺ) خو يواځې د هغه چا وېروونکښی ئې چې دده (قيامت) نه وېرېږي .

كَاَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَهَا لَمْ يَلْبَثُوْٓا اِلَّا عَشِيَّةً اَوْ ضُحٰىهَا ٠٠٤٦

ګويا کښې دوی (کافر) به پۀ هغې ورځې کښې چې دوی دغه (قيامت) ووينې (داسې به وي لکه چې) دوی (پۀ دنيا، يا پۀ قبر کښې) نۀ دي ايسار شوي مګر د ورځې اخر، يا ښاښت.

اَهمي نُکتې

## دعلم اوعمل خبرې

۱۔ فرښتې د الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ پۀ حکم منلوکښې کوتاهي نه کوي۔ (سُوْرَةَ النّازعات،آیاتونه: ۱تا۵)

۲۔ د ګناه ګارودپاره د قیامت ورځ ډېره د وېرې والا ده۔ (سُوْرَةَ النّزعٰت،آیاتونه: ۶تا۱۴ )

۳۔ د مخکینوقامونود قصّونه مونږه لره سبق حاصلول اود خپل زان اصلاح کول پکاردي۔ (سُوْرَةَ النازعات،آیاتونه: ۱۵تا۲۶)

۴۔ مونږلره د ګناهونونه بچیدل پکاردي او د الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ د خفګان نه ویره کول پکاردي۔ (سُوْرَةَ النازعات،آیاتونه: ۱۸تا۱۹)

۵۔ د الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ اود هغه د رسول (ﷺ) د منکرینواود خپلي لوي والي اظهارکولووالا مجرمانوته به پۀ دنیااوآخرت دواړوکښې عذاب ورکولے شي۔ (سُوْرَةَ النازعات،آیت: ۲۵)

۶۔ کوم الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ چې داعظیم کائنات پیدا کړےدےد هغه دپاره قیامت قائمول اود انسان دوباره ژوندي کول ډېرآسان دے۔ (سُوْرَةَ النازعات،آیاتونه: ۲۷،۳۳)

۷۔ د الله س ونافرماني اود آخرت د فکرپۀ ځائےد دنیاسره د محبت کولووالا به پۀ جهنم کښې وي۔ (سُوْرَةَ النازعات،آیتونه: ۳۷تا۳۹)

۸۔ د الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ نه ویرېدلووالا اود خپل نفس ناجائزخواهشات منعه کولووالا به پۀ جنت کښې وي۔ (سُوْرَةَ النازعات،آیتونه: ۴۰تا۴۱)

۹۔ د قیامت پۀباره کښې د سوال اوجواب پۀ زائے د خپل آخرت بهترکولوکوشش کول پکاردي۔ (سُوْرَةَ النازعات،آیتونه: ۴۲تا۴۶)

۱۰۔ د قیامت ورځ به انسان پۀ دنیاکښې تیره شوي زندګي ډېره لګه محسوس کړي یعني د آخرت د همیشه زندګۍ پۀ مقابله د دنیازندګۍ هیڅ حیثیت نشته۔ (سُوْرَةَ النازعات،آیت: ۴۶)

## ځان پرې پوهه کړئ او حل ئې کړئ

سوال ۱ : پۀ صحیح جواب باندې صحیح  نښه  (✓):ولګوئ

(۱) ددې سُورَۃپۀ شروع کښې کوم قِسمونه ذکرشوي دي ؟

(الف) هواګانې (ب) فرښتې (ج) آسونه

(۲)پۀ دې سورت کښې د کوم نبی ذکردے؟

(الف) حضرت شعیب (علیه السلام) (ب) حضرت عیسیٰ (علیه السلام) (ج) حضرت موسیٰ (علیه السلام)

(۳) چې کله حضرت موسیٰ (علیه السلام) فرعون ته غټې نشانې وښودلې ،نوفرعون څه وکړل؟

(الف) هغه ئې دروغژن کړو (ب) ایمان ئې پرې راوړو (ج) بنی اسرایېل ئې آزادکړل

(۴) فرون څه دعوىٰ کړې وه؟

(الف) د بادشاه کښېدلو (ب) دټولونه د غټ رب کښېدلو (ج) د نیک کښېدلو

(۵)پۀ دې سورت کښې دجهنم والا څه بدیانې بیان شوي دي؟

(الف) د نوروغیبت کول (ب) د خلقومال غلاکول (ج) د آخرت پۀ ځائے دنیاته غوره والے ورکول

سوال آیت نمبر

سوال ۲: د لاندې لیکلې شوې آیت نمبراوددې د متعلقه الفاظونه کرښه اوباسئ او میلاوئې کړئ۔

| | |
|---|---|
| آیت نمبر ۲ | یوجرق |
| آیت نمبر ۹ | دزلزلې والاڅمکه |
| آیت نمبر ۱۳ | د جنت ځائے |

آیت نبمر ۳۱ — ښکته شوي سترګي

آیت نبمر ۴۱ — اوبه اوګیا

**سوال ۳**: د لاندې ليکلي شوو سوالونو مختصرجوابونه ورکړئ:

۱۔ د سُوْرَت پهٔ شروع کښې د ملائکو د کوموکارونوذکرد ے؟

۲۔ اللّٰه سُبْحَانه وَتَعَالیٰ حضرت موسیٰ (ﷺ) ته څه حکم کړےوو؟

۳۔ د قیامت پهٔ ورځ به د خلقو د زړونو اوسترګوڅه حالت وي؟

۴۔ پهٔ دې سورت کښې د اللّٰه سُبْحَانه وَتَعَالیٰ د کوموقدرتونوبیان د ے؟

۵۔ د قیامت پهٔ ورځ به انسان ته د دنیازندګي څرنګه محسوسیږي؟



## کورنۍ سرګرمي(هله زله)

. د ځلورو فرښتونومونه اود هغوئ کارمعلوم کړئ اوپهٔ چاټ باندې ولیکئ۔

. د دې سورت کښې مطابق د جنت اوجهنم تللووالا عملونه ولیکئ۔

نت دتللووالا عملونه:

. د دنیا اود آخرت د زندګۍ موازنه وکړئ اودا وښائې چې مونږ د آخرت ژوند له ولې غوره والے ورکؤو۔



د استاد لاس لیک سره د تاریخ :____________ . . . داستاد لاس لیک سره د تاریخ :____________ . .

سبق :۸

# سُورَةُ عَبَسَ

(سورت نمبر: ۸۰، کل رکوعګاني ټول آیتونه: ۴۲)

شانِ نزول اوتعارف(پیژندګلو): دا سورت په حضرت نبی کریم (ﷺ) باندې د وحي د شورع نه روسته د مکي زندګۍ ابتدائي دورکښې نازل شوے دے ددې سورت په شروع کښې یوه واقعه ذکرده یوه ورځ حضرت نبی کریم (ﷺ) دقریشِ مکه غټ غټ سرداران ابوجهل بن هشام، عتبه بن ربیعه، ابَی بن خلف ،امیّه بن خلف، اوشیبه وغیره ؤوته د اسلام دعوت ورکولو په دې وخت کښې یونابناصحابي حضرت عبدالله ابن امِّ مکتوم رضی الله عنه راغلےهغه د حضرت نبی کریم (ﷺ) توجّه حاصلول غوښتله اوڅه تپوس ئې هم کولوبعضي خلقود حضرت عبدالله ابن امِّ مکتوم رضی الله عنه راتلل ښوښ نهٔ کړل حضرت نبی کریم (ﷺ) خپله توجّه د مکي سردارانوته کړله ځکه حضرت عبدالله ابن ام مکتوم رضی الله عنه د حضرت نبی کریم (ﷺ) د اصحابونه وو اوروسته ئې هم د حضرت نبی (ﷺ) نه تپوس کولے شوچې څه تپوس ئې کولے، کولےئې شو په دې آیتونونوکښې الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ خلقوته تنبیه ورکوي چې په عبدالله ابن امِّ مکتوم رضی الله عنه به د ناراضتیاهیڅ حق نشته ځکه د راتللووالا هم د الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ یوبنده دےپهٔ ابتدائي آیاتونوکښې ددې رازنه پرده اوچتوي چې په دې عظیم کاروان کښې یوړوندمؤومن د ډیروګمراهانونه زیات کارکولےشي مزیددې خبرې ته متوجِّه کښېدل پکاردې چې د سردارانود ایمان راوړلوپهٔ باره کښې د ګکرمندکښېدلودومره ضرورت نشته بلکې د شفقت اوعنایت اود کاملي توجّه زیات مستحق هغه افراد دي چې پهٔ ریشتوني زړهٔ اواخلاص سره ئې حق قبول کړےدے، که چرته ددوئ نه څوک ظاهري بصیرت نه لري ،نوڅه خبره ده داخود حق پېژندلود لیدلونه محروم نه دے ددې آیاتونود نازلېدلونه روسته به حضور نبی کریم (ﷺ) د حضرت عبدالله ابنِ امِّ مکتوم رضی الله عنه

ډیرخیال ساتلو  چې کله به حضرت بنی کریم (ﷺ) پۀ سفرباندې تللو ،نوپۀ مدینه کښې به ئې اکثر خپل نائب مقررولو دډېنه روسته پۀ دې سورت کښې د قرآنِ عظیم ذکرد ے د انسان پېدائش مرګ اود مرګ نه روسته ژوند بیان د ےبیاد څه نعمتونوکول ایمان راوړل اود الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ د شکرادا کولوترغیب د ے،ددې سورت اختتام ئې پۀ دې حقیقت باندې کړےد ےچې د آخرت پۀ  ورځ به ټولې رشتې هیرې شې صرف د خپل نجات پۀ فکر کښې بوخت وي.

اَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیطٰنِ الرَّجِیمِ
زۀپناه غواړم پۀ الله سره د شیطان رټلي شوي نه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیمِ○
خاص د الله پۀ نوم سره(شروع کوم)چې ډېر زیات مهربان،بې حده رحم کوونکښی دی

عَبَسَ وَتَوَلّٰیٓ ۱ ۰۰ اَنْ جَآءَهُ الْاَعْمٰی ۰۰۲ وَمَا یُدْرِیكَ لَعَلَّهٗ یَزَّكّٰیٓ ۰۰۳
ده تندی تریو کړ او مخ ئې وګرځاوه۔(په دې وجه) چې دۀ ته ړوند راغی۔او تۀ څه شې پوهه کړی یې، ښایي چې دی پاك شي۔
اَوْ یَذَّكَّرُ فَتَنْفَعَهُ الذِّكْرٰی ۰۰۴ اَمَّا مَنِ اسْتَغْنٰی ۰۰۵
یا به دی نصیحت (او پند) واخلي، نو دۀ ته به نصیحت نفع ورسوي۔هر چې هغه څوك دی چې بےپرواهي ئې کړې ده۔
فَاَنْتَ لَهٗ تَصَدّٰی ۰۰۶ وَمَا عَلَیْكَ اَلَّا یَزَّكّٰی ۰۰۷
(نو) ته هغه اړخ ته ډیره توجه کوي ۔حال دا چې په تا (هېڅ هیڅ ذمواري) نشته چې هغه پاك نشي۔
وَاَمَّا مَنْ جَآءَكَ یَسْعٰی ۰۰۸ وَهُوَ یَخْشٰی ۰۰۹ فَاَنْتَ عَنْهُ تَلَهّٰی ۰۰۱۰
او هر چې هغه څوك دی چې تا ته په منډو راغي۔په داسې حال کې چې دی (د الله نه) وېرېږي۔نو ته د هغه نه مشغولېږې۔
كَلَّآ اِنَّهَا تَذْكِرَةٌ ۰۰۱۱ فَمَنْ شَآءَ ذَكَرَهٗ ۰۰۱۲ فِیْ صُحُفٍ مُّكَرَّمَةٍ ۰۰۱۳
داسې کله هم مه کوه!، بېشکه دا (قرآن) یو پند (او نصیحت) دی۔نو هغه څوك چې غواړي(نو)دی دې ومني۔(دغه) په عزتمنو پاڼو کښې(لیکلے شوے)دی۔
مَّرْفُوْعَةٍ مُّطَهَّرَةٍ ۰۰۱۴ بِاَیْدِیْ سَفَرَةٍ ۰۰۱۵ كِرَامٍ بَرَرَةٍ ۰۰۱۶
چې پورته کړی شوې، ښې پاکې کړی شوې دې ۔د لیکونکو (ملایکو) په لاسونو کې ۔چې ډېر عزتمن، ډېر نېك (فرښتې)دې ۔
قُتِلَ الْاِنْسَانُ مَآ اَكْفَرَهٗ ۰۰۱۷ مِنْ اَیِّ شَیْءٍ خَلَقَهٗ ۰۰۱۸ مِنْ نُّطْفَةٍ ۱ خَلَقَهٗ
انسان دې هلاك کړی شي، دی څومره ډېر ناشکره دی؟ دی دغه (الله) د څه شي نه پیدا کړی دی؟ د نطفې نه، ئې پیدا کړی دی،
فَقَدَّرَهٗ ۰۰۱۹ ثُمَّ السَّبِیْلَ یَسَّرَهٗ ۰۰۲۰ ثُمَّ اَمَاتَهٗ فَاَقْبَرَهٗ ۰۰۲۱
پس بیائې (هرشے) اندازه کړی دی۔بیا ئې دۀ ته(دژوند) لاره اسانه کړې ده۔بیا ئې دی مړ کړ، نو دی ئې په قبر کښې کېښود ۔
ثُمَّ اِذَا شَآءَ اَنْشَرَهٗ ۰۰۲۲ كَلَّا لَمَّا یَقْضِ مَآ اَمَرَهٗ ۰۰۲۳
بیا چې کله وغواړي دی به ژوندی کړي۔یقیناً دې (نافرمان) هغه کار نۀ دی پوره کړی چې دغه (الله) دۀ ته حکم کړی دی
فَلْیَنْظُرِ الْاِنْسَانُ اِلٰی طَعَامِهٖٓ ۰۰۲۴ اَنَّا صَبَبْنَا الْمَآءَ صَبًّا ۰۰۲۵

لهٰذا انسان له پکارده چي دي خپل طعام ته وګوري ـ چي بېشکه مونږ (دوریځونه) اوبه راتوی کړې دي، راتویول ـ
ثُمَّ شَقَقْنَا الْاَرْضَ شَقًّاۙ٠٠٢٦ فَاَنْۢبَتْنَا فِيْهَا حَبًّاۙ٠٠٢٧ وَّعِنَبًا وَّقَضْبًاۙ٠٠٢٨ وَّزَيْتُوْنًا وَّنَخْلًاۙ٠٠٢٩

بیا مونږ ځمکه څیرې کړې ده، څیرول ـ نو مونږ په دې کې دانې را زرغونه کړې دي ـ او انګور او ترکاریاني ـ او زیتون او کجورې ـ
وَّحَدَآئِقَ غُلْبًاۙ٠٠٣٠ وَّفَاكِهَةً وَّاَبًّاۙ٠٠٣١ مَّتَاعًا لَّكُمْ وَلِاَنْعَامِكُمْؕ٠٠٣٢

او ګڼ باغونه ـ او مېوې او ګیاه (وابنه) ـ ستاسو او ستاسو د څارویو د فایدې لپاره ـ
فَاِذَا جَآءَتِ الصَّآخَّةُ۫٠٠٣٣ يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ اَخِيْهِۙ٠٠٣٤

نو کله چي سخت آواز راشي ـ په هغه ورځ چي سړی به د خپل وروره تښتي ـ
وَاُمِّهٖ وَاَبِيْهِۙ٠٠٣٥ وَصَاحِبَتِهٖ وَبَنِيْهِؕ٠٠٣٦ لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَاْنٌ

او د خپلي مور او خپل پلاره ـ او د خپلي ښځي او خپلو زامنو نه ـ په دوی کې د هر سړي لپاره به په دغه ورځ کښې یو حال وي
يُّغْنِيْهِؕ٠٠٣٧ وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ مُّسْفِرَةٌۙ٠٠٣٨ ضَاحِكَةٌ مُّسْتَبْشِرَةٌۚ٠٠٣٩

چي دی به (د نورو نه) بې پروا (بې غوره) کوي ـ څه مخونه به په دغې ورځ کښې روښانه وي ـ خندېدونکي (او) خوشاله به وي ـ
وَوُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ عَلَيْهَا غَبَرَةٌۙ٠٠٤٠ تَرْهَقُهَا قَتَرَةٌؕ٠٠٤١ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْكَفَرَةُ الْفَجَرَةُ۠٠٠٤٢

او څه مخونه به په دغې ورځ کښې پر هغو به ګرد پروت وي دغه (مخونه) به تورو الي پټ کړي وي دغه (تور مخي) خلق هم دوی کافران (او) فاجران (بدکاران) دي ـ

## اَهمي نُکتي

## دعلم اوعمل خبرې

۱۔ د الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ په نزد اصل اهمیت صرف د دنیاپۀ منصب یامال ودولت باندې نه دے بلکې پۀ ایمان او اخلاص والا عمل باندې دے۔(سُوْرَۃ عبس ،آیتونه: ۱تا ۱۰)

۲۔ د غیرمسلموپۀ اسلام کښې د داخلیدلوفکراهم دے ددې سره د مسلمانانو د اصلاح اورعلم فکر کول هم ډېرزیات ضروري دي۔(سُوْرَۃ عبس،آیتونه: ۱تا ۱۰)

۳۔ ښائسته نصیحت انسان ته فائده رسوي۔(سُوْرَۃ عبس ،آیت: ۴)

۴۔ قرآنِ حکیم د الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ عظیم ترین کتاب دے۔(سُوْرَۃ عبس،آیتونه: ۱۱، ۱۲)

۵۔ قرآنِ حکیم یونصیحت دے څوک چې غواړي ددېنه دې فائده حاصله کړي۔(سُوْرَۃ عبس،آیتونه: ۱۲، ۱۱)

۶۔ اکثرانسان د الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ ناشکري کوي۔(سُوْرَۃ عبس،آیت: ۱۷)

۷۔ مونږلره د الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ پۀ نعمتونوباندې شکرادا کول اود هغه تعبداري کول پکاردي۔(سُوْرَۃ عبس،آیتونه: ۱۸تا ۳۲)

۸۔ د قیامت سختي انسان لره د هغه نزدې خپلوانونه هم غافله کوي۔(سُوْرَۃ عبس،آیتونه: ۳۳تا ۳۷)

۹۔ د قیامت پۀ ورځ به دالله سُبْحَانه وتَعَالیٰ د تعبدارومخونه روښانه وي او خوشحاله خوشحاله به وي۔(سُوْرَۃ عبس،آیتونه: ۳۸،۳۹۰

۱۰۔ د قیامت پۀ ورځ د الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ اود هغه د رسول (ﷺ) منکرینو اوبدکارومخونه به ګردغبارو والا اوتوروي۔(سُوْرَۃ عَبس،آیتونه: ۴۰تا ۴۲)

## ځان پوهه کړئ او حل ئې کړئ

سوال ۱ پهٔ صحيح جواب باندې صحيح نښه (✓) ولګوئ:

(۱) پهٔ دې سورت کښې د کوم صحابي رضی الله عنه د حضرت نبی کريم ﷺ خواته د حاضريدلو ذکر دے ؟

(الف) حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه (ب) حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه (ج) حضرت عبدالله ابن مکتوم رضی الله عنه

(۲) قرآنِ حکيم څه شے دے؟

(الف) شاعري (ب) نصيحت (ج) قصّه

(۳) د الصّاخه نه مراد کوم آواز مراد دے؟

(الف) د غوږونو کڼولو والا (ب) د جنّاتو (پيرانو) نه سخت (ج) د فرښتو د محبت نه ډک (وزندار)

(۴) د دې سورت مطابق د قيامت پهٔ ورځ به انسان د چانه تښتي؟

(الف) فرښتې (ب) رشتدار (ج) جنّات (پيران)

(۵) د قيامت پهٔ ورځ به د چا مخونه ښائسته وي؟

(الف) مالداره او سرداران (ب) د کافرو او بدکارو (ج) د غريبانانو او محتاجو

سوال ۲ د لاندې ليکلې شوې آيت نمبر او د دې پهٔ متعلقه الفاظو کښې يو شانته رنګ ورکړئ.

| | |
|---|---|
| آيت نمبر ۲ | يو ړوند |
| آيت نمبر ۱۱ | مور او پلار |
| آيت نمبر ۱۲ | قرآن او نصيحت |
| آيت نمبر ۲۱ | عزت والا فرښته |
| آيت نمبر ۳۵ | مرګ او قبر |

ل ۳: د لاندې لیکلي شووسوالونو مختصرجوابونه ورکړئ:

. حضرت نبی کریم (ﷺ) کومو سردارانوته د اسلام دعوت ورکړے وو؟

. پهٔ دې سورت کښې د قرآنِ حکیم کوم عظمت بیان شوے دے؟

. پهٔ دې سورت کښې بیان کړلے شوي یودرې ۳ نعمتونه ولیکئ؟

. د قیامت پهٔ ورځ به د انسان د خپلورشتدارانو سره څه رویه وي؟

. پهٔ دې سورت کښې د نیکانو خلقوڅه انجام بیان شوے دے؟



کورنۍ سرګرمي(هله زله)

. د خپلو والدینو نه معلوم کړئ چې تاسوبه د معذوروخلقوسره څرنګه کارکوئ.

۲ ـ د خپل نوروخویاندو      ورونوسره د یومعذورمرسته وکړئ اوحوصله افزائی ئې وکړئ ددې نیکۍ دعوت ورکړئ.

۳ ـ پۀ لاندې لیکلي شووکښې د قیامت پۀ ورځ د الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ د تعبداروا ونافرمانوبندګانو حالتونه ولیکئ.



د استادلاس ليک سره دتاريخ :ـــــــــــــــ . .    د مورپلارلاس ليک سره د تاريخ :ـــــــــــــــ . .

سبق : ۹

# سُورَةُ التَّكْوِيرُ

(سورت نمبر: ۸۱، ټولي رکوعګاني: ۱، ټول آياتونه: ۲۹)

شانِ نزول اوپيژندګلو : ددې سُوْرَة ابتدائي څوارلس(۱۴) آياتونه د مکي زندګۍ په ابتدائي دورکښې اوآخري پنځلس(۱۵) آيا
زندګۍ په درميانه دورکښې په حضرت نبی کريم (ﷺ) باندې نازل شوي وو حضرت نبی کريم (ﷺ) فرمائي چې کوم کس
قيامت په خپلو سترګوليدل غواړي هغه له پکاردي چې سُوْرَة التّکوير، سُوْرَة الانفطار، اوسوره الاِنشِقَاق ولولي، (ترمذي).

ددې سورت په ابتداکښې د قيامت دهيبتناکۍ بيان شوےدے بيا د حضرت جبرايېل (عليه السلام) عظمت اود نبی (ﷺ) سره دد
بيان دے . په آخره کښې د عظمتِ قرآن ذکردے اود قرآنِ حکيم نه د نصيحت حاصلولوترغيب ورکړےشوےدے .

اَعُــوْذُ بِاللّـــهِ مِـــنَ الشَّــيْطٰنِ الـــرَّجِيْمِ
زۀ پناه غواړم پۀ الله سره د شيطان رټلي شوي نه

بِسْـــــمِ اللّـــــــهِ الـــــــرَّحْمٰنِ الـــــــرَّحِيْمِ○
خاص د الله پۀ نوم سره(شروع کوم) چې ډېرزيات مهربان، بې حده رحم کوونکښی دی

اِذَا الشَّـــــمْسُ كُــــوِّرَتْ ۰۰۱ وَاِذَا النُّجُـــــوْمُ انْكَـــــدَرَتْ ۰۰۲ وَاِذَا الْجِبَـــالُ سُــــيِّرَتْ ۰۰۳
کلـه چې لمـر ونغښـتل شـي .او کلـه چـې سـتوري خـړ شـي .او کلـه چـې غرونـه روان کـړل شـي .
وَاِذَا الْعِشَــارُ عُطِّلَـــتْ ۰۰۴ وَاِذَا الْوُحُـــوْشُ حُشِـــرَتْ ۰۰۵ وَاِذَا الْبِحَــارُ سُــجِّرَتْ ۰۰۶
او کله چې د لسو مياشتو بلاربې اوښې بےکاره (ازادې) پرېښودې شي .او کله چې وحشي ځناوران راجمع کړل شي .او کله چې دريابونه بل کړې شي .
وَاِذَا النُّفُــــوْسُ زُوِّجَـــتْ ۰۰۷ وَاِذَا الْمَـــوْءٗدَةُ سُــــئِلَتْ ۰۰۸ بِـــاَيِّ ذَنْـــبٍ قُتِلَـــتْ ۰۰۹
او کله چې روحونه(د بدنونو سره) جوړه کړلے شي او کله چې دژوندۍ خښه کړې شوي (جينۍ) نه پوښتنه وشي .چې دا په کومې ګناه وژل شوي ده.
وَاِذَا الصُّـــحُفُ نُشِــرَتْ ۰۰۱۰ وَاِذَا السَّـــمَآءُ كُشِـــطَتْ ۰۰۱۱ وَاِذَا الْجَحِـــيْمُ سُــعِّرَتْ ۰۰۱۲
او کله چې اعمال نامې کولاو کړے شي .او کله چې د اسمان نه پوستکی وويستل شي .او کله چې دوزخ بلې لمبې کړې شي .
وَاِذَا الْجَنَّـــةُ اُزْلِفَـــتْ ۰۰۱۳ عَلِمَـــتْ نَفْـــسٌ مَّـــآ اَحْضَـــرَتْ ۰۰۱۴ فَـــلَآ اُقْسِـــمُ بِـــالْخُنَّسِ ۰۰۱۵
او کله چې جنت ښه نژدې کړې شي .هر نفس به په هغه شي پوه شي چې ده حاضر کړې وي .نو زۀ قسم خورم په هغو (ستوريو) چې بېرته ګرځېدونکي دي .
الْجَـــوَارِ الْكُـــنَّسِ ۰۰۱۶ وَالَّيْـــلِ اِذَا عَسْـــعَسَ ۰۰۱۷ وَالصُّـــبْحِ اِذَا تَـــنَفَّسَ ۰۰۱۸
په روانو ، پټېدونکو باندې .او قسم خورم په شپې کله چې تلل شروع کړي اوپه سبا کله چې دی ساه واخلي (روښانه شي)

إِنَّـــهٗ لَقَـــوْلُ رَسُـــوْلٍ كَـــرِيْمٍۙ۰۰۱۹ذِيْ قُـــوَّةٍ عِنْـــدَ ذِي الْعَـــرْشِ مَكِـــيْنٍۙ۰۰۲۰

بېشکه دا (قرآن) خامخا د ډېر عزتمن فرښتي قول دی۔ چې د قوت والا دے د عرش د مالك (الله) په نيز (او) د مرتبې والا۔

مُّطَـــاعٍ ثَـــمَّ اَمِـــيْنٍؕ۰۰۲۱وَمَـــا صَـــاحِبُكُمْ بِمَجْنُـــوْنٍۚ۰۰۲۲

منلی شوی دی هلته(په اسمانونوکښې)، (اوهغه)امانتدار دی ۔او ستاسو ملګری (محمد ﷺ) د سره لېوني نهٔ دی ۔

وَلَقَـــدْ رَاٰهُ بِـــالْاُفُقِ الْمُبِـــيْنِۚ۰۰۲۳وَمَـــا هُـــوَ عَلَـــى الْغَيْبِ بِضَـــنِيْنٍۚ۰۰۲۴

او يقيناً ده دغه (جبريل د اسمان)په ځرګنده غاړه کښې ليدلی وو او دی د وحي په بيانولو کښې د سره بخل کوونکي نهٔ دی ۔

وَمَـــا هُـــوَ بِقَـــوْلِ شَـــيْطٰنٍ رَّجِـــيْمٍۙ۰۰۲۵فَـــاَيْنَ تَـــذْهَبُوْنَؕ۰۰۲۶اِنْ هُـــوَ اِلَّا ذِكْـــرٌ لِّلْعٰلَمِـــيْنَۙ۰۰۲۷

او ببخي نهٔ دی دا (قرآن) خبره د شيطان رټل شوي۔نو تاسو (ای کافرانو!) چېرته ځئ؟ دا (قرآن) د ټولو جهانونو دپاره نصيحت (او پند)

لِمَـــنْ شَـــآءَ مِـــنْكُمْ اَنْ يَّسْـــتَقِيْمَؕ۰۰۲۸وَمَـــا تَشَـــآءُوْنَ اِلَّا اَنْ يَّشَـــآءَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِـــيْنَؒ۰۰۲۹

د هغه چا دپاره چې په تاسو کې غواړي چې دی په نېغه لار برابر روان شي۔او تاسو صرف هغه غواړئ چې الله يې غواړي (چې) د ټولو جهانونو رب دے۔

## د علم او عمل خبرې

۱۔ د قيامت په ورځ به د ټولې دنيا نظام ګډوډ درهم برهم کړلے شي۔ (سُوْرَةُ التکوير، آيتونه: ۱ تا ۲)

۲۔ د جنکو وژل ډېر غټ جرم دے ددې په باره کښې به د قيامت په ورځ سوال کولے شي۔

(سُوْرَةُ التکوير، آيتونه: ۹، ۸)

۳۔ د قيامت په ورځ به د ظالمانو نه د ظلم حساب واخستلے شي۔ (سُوْرَةُ التکوير، آيتونه: ۹، ۸)

۴۔ د قيامت ه ورځ به زمونږ هرخبره او هرعمل حاضر کړے شي۔ (سُوْرَةُ التکوير، آيت: ۱۴)

۵۔ قرآنِ حکيم د الله سُبْحَانَه وَتَعَالیٰ کلام دے چې الله سُبْحَانَه وَتَعَالیٰ د جبرايېل (عليه السلام) په ذريعه په حضرت نبي کريم (ﷺ) زل (سُوْرَةُ التکوير، آيتونه: ۱۹ تا ۲۱)

۶۔ حضرت جبرايېل (عليه السلام) امانتدار او ډېر طاقتور دے او د فرښتو سردار دے۔ (سُوْرَةُ التکوير، آيت: ۲۴)

۷۔ حضور اکرم (ﷺ) د غيبو په خبرو ښودلو کښې د خپل امّت سره بخل نه دے کړے۔ (سُوْرَةُ التکوير، آيت: ۲۴)

۸. قرآنِ حکیم د ټول جهان والا دپاره نصیحت دے۔(سُوْرَةَ التکویر،آیت:۲۷)

۹. د قرآنِ حکیم نصیحت هغه خلقوته میلاویږي چې څوک د سیده لارې پۀ روانیدلو اراده لري۔(سُوْرَةَ التکویر،آیتونه:۲۸)

۱۰. هدایت د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی پۀ تعفیق سره ملاویږي۔(سُوْرَةَ التکویر،آیتونه۲۹،۲۸)

## ځان پرې پوهه کړئ او حل ئې کړئ

**سوال ۱** پۀ صحیح جواب باندې صحیح نښه (✓) ولګوئ:

(۱) ددې سورت پۀ ابتدا کښې د قیامت نقشه د څوخیزونو بیان نه معلومیدلے شي؟

(الف) لس (ب) دولس (ج) څوارلس

(۲) پۀ دې سورت کښې د رسُولٌ کَرِیم نه څوک مراد دے؟

(الف) حضرت سیدنا محمد مصطفیٰ (ﷺ) (ب) حضرت جبرایيل (علیه السلام) (ج) حضرت موسیٰ (علیه السلام)

(۳) حضرت نبی کریم (ﷺ) چالره د آسمان پۀ غاړه کښې لیدلے وو؟

(الف) لمر (ب) جنّت (ج) جبرایيل (علیه السلام)

(۴) قرآنِ حکیم د چا دپاره نصیحت دے؟

(الف) ټول جهان والا دپاره (ب) ټولې فرښتې (ج) ټول څیزونه

(۵) د قیامت ورځ به چالره راغونډه کړي؟

(الف) آسمان (ب) سپوږمۍ (ج) لمر

**سوال ۲:** د لاندې لیکلې شوې آیت نمبر او ددې د متعلقه الفاظونه کړښه اوباسئ او میلاوئې کړئ۔

| | |
|---|---|
| آ يت نمبر ۲ | يو نصيحت |
| آيت نمبر ۵ | شېطان رټلے شوي |
| آيت نمبر ۱۱ | د آسمان څرمن |
| آيت نمبر ۲۵ | وحشي ځناور |
| آيت نمبر ۲۷ | بےرنړا ستوري |

سوال ۳ د لاندې ليکلي شوي سوالونو مختصر جوابونه وليکئ:

۱ ـ د قيامت پهٔ ورځ د ژوندۍ خخه کړے شوي جنۍ نه څه تپوس کېد لے شي؟

۲ ـ د قيامت منظر ليدلو د پاره به انسان کوم سورتونه لولي؟

۳ ـ پهٔ دې سورت کښې د جبرايېل (عليه السلام) کوم صفات بيان شوي دي؟

۴ ـ ه دې سورت کښې پهٔ کومو څيزونو قَسمونه خوړلے شوي دي؟

. حضرت نبی کریم (ﷺ) حضرت جبرایېل (علیه السلام) کم ځائے لیدلےوو؟

کورنۍ هله زله



پۀ یو چاټ باندې د قیامت پۀحالاتو لس خبرې ولیکئ.

. د حضرت نبی کریم (ﷺ) د راتګ نه مخکښې به خلقو جنګئ بدې ګڼړلې، د لورګانو سره د ښه سلوک کولو فضائل یکئ.

پۀ لاندې چاټ کښې د قیامت د ورځې واقع کېدلو والا د هغه حالاتو نشاندهي رنګ کړئ چې د کوم ذکر پۀ دې سورت کښې راغلے دے.

| | |
|---|---|
| ځمکه به بلکل هموار کړے شي | غرونه به ختم کړے شي |
| روحونه به د بدنونو سره میلاو شي | اعمال نامې به کولاو کړے شي |
| ستورې به خړۀ کړے شي | لمر او سپوږمۍ به میلاو کړلے شي |
| آسمان به وشلېږي | جهنم به بل کړے شي |

د استادلاس لیک سره د تاریخ:________ . د مورپلارلاس لیک سره د تاریخ:__________. . .

سبق: ۱۰

# سُورَةُ الْاِنْفِطَار

ټول رکوع ګاني: ۱، ټول آیاتونه: ۱۹

شانِ نزول اوپیژندګلو: دا سورت پهٔ نبي کریم (ﷺ) باندې د مکِّي زندګۍ پهٔ ابتدائي دورکښې نازل شوے دے، پهٔ دې سورت کښې د قیامت د واقع کېدلو منظرپیښ کړے شوے دے رسول اکرم (ﷺ) فرمائي چې کوم کس قیامت پهٔ خپلو سترګولیدل غواړي هغه لره پکاردي چې سُوْرَةَ التکویر، سوه الانفطار، اوسوره الانشقاق ولولي۔ (ترمذي) انسان پوهه کړے شوے دے چې دا د خپل رب پهٔ باره کښې دهوکه نشي چې چادا پېدا کړے دے شکل اوصورت ئې ورکړے دے اوپهٔ دې باندې د عملونولیکلووالا فرښتې مقررکړې دي یعني د الله سُبْحَانه وتَعَالىٰ فضل اود هغه نعمتونولره لیدل، داګمان نه کول چې د هغه پهٔ نافرمانۍ باندې څه نیول نشته اونه څه حساب اوکتاب شته، انسان لره پکاردي چې دا د قیامت د ورځې فکروکړي چې پهٔ کوم ورځ به سیوا د نیک عملونونه هیڅ شےپهٔ کارنه رازي اود هري فیصلې اختیارصرف د الله سُبْحَانه وتَعَالىٰ سره دے۔

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ

زهٔ پناه غواړم پهٔ الله سره د شیطان رټلي شوي نه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ○

خاص د الله پهٔ نوم سره (شروع کوم) چې ډېر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکښې دی

اِذَا السَّمَآءُ انْفَطَرَتْۙ ۰۰۱ وَاِذَا الْكَوَاكِبُ انْتَثَرَتْۙ ۰۰۲ وَاِذَا الْبِحَارُ فُجِّرَتْۙ ۰۰۳ وَاِذَا الْقُبُوْرُ بُعْثِرَتْۙ ۰۰۴

کله چې اسمان وچوي او کله چې ستوري ګډوډ شي (او) راولوېږي۔ او کله چې دریابونه یو ځای روان کړی شي. او کله چې قبرونه دبیخ نه راویسے شي.

عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ وَاَخَّرَتْؕ ۰۰۵ يٰۤاَيُّهَا الْاِنْسَانُ

(پهٔ دې وخت) به هر نفس پهٔ هغه څه پوه شي چې ده وړاندې لېږلي دي او (چې څه) یې وروسته پرېښې دي۔ اى انسانه!

مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيْمِۙ ۰۰۶ الَّذِيْ خَلَقَكَ فَسَوّٰىكَ فَعَدَلَكَۙ ۰۰۷

ته پهٔ خپل کریم (او سخي) رب باندې څه شي دوکه کړی یې؟ هغه چې تهٔ ئې پیدا کړې، نوبرابر کړےيئې نوتهٔ ئې ښه برابر کړې۔

فِيْۤ اَيِّ صُوْرَةٍ مَّا شَآءَ رَكَّبَكَؕ ۰۰۸ كَلَّا بَلْ تُكَذِّبُوْنَ بِالدِّيْنِۙ ۰۰۹

پهٔ هر صورت (شکل) کښې چې هغه غوښتل، تهٔ ئې جوړ کړې داسې ښېخي نهٔ ده، بلکې تاسو د بدلې ورځ (قیامت) دروغ ګڼئ۔

وَاِنَّ عَلَيْكُمْ لَحٰفِظِيْنَۙ ۰۰۱۰ كِرَامًا كَاتِبِيْنَۙ ۰۰۱۱ يَعْلَمُوْنَ مَا تَفْعَلُوْنَ ۰۰۱۲

پهٔ داسې حال کې چې پهٔ تاسو باندې ساتونکي (ملایك) مقرر دي چې عزتمن (ستاسو عملونه) لیکونکي دي دوی پهٔ هغه څه پوهېږي چې تاسو ئې کوئ

اِنَّ الْاَبْرَارَ لَفِيْ نَعِيْمٍۚ ۰۰۱۳ وَاِنَّ الْفُجَّارَ لَفِيْ جَحِيْمٍۚۖ ۰۰۱۴ يَّصْلَوْنَهَا يَوْمَ الدِّيْنِ ۰۰۱۵

بېشکه نېکان (مومنان) به خامخا (د نعمتونو والا په جنت) کې وي. او بېشکه چې بدکاران به خامخا په جهنم کې وي. دوی به دې ته د بدلې په ورځ ننوځي.

وَمَا هُمْ عَنْهَا بِغَآئِبِيْنَ ۝۰۰۱۶ وَمَاۤ اَدْرٰىكَ مَا يَوْمُ الدِّيْنِ ۝۰۰۱۷ ثُمَّ مَاۤ اَدْرٰىكَ

او دوی به د دغه (دوزخ) نه د سره پټېدونکي نه وي. او ته څه شي پوه کړې چې د بدلې ورځ (قیامت) څه شی دی؟ بیا ته څه شي پوه کړې

مَا يَوْمُ الدِّيْنِ ۝۰۰۱۸ يَوْمَ لَا تَمْلِكُ نَفْسٌ لِّنَفْسٍ شَيْـًٔا ۭ وَالْاَمْرُ يَوْمَىِٕذٍ لِّلّٰهِ ۝۰۰۱۹

چې د بدلې ورځ څه شی دی؟ (یاده کړه) هغه ورځ چې هېڅ یو نفس به د بل نفس د پاره د هېڅ شي اختیار و نه لري. او په دغې ورځ کې به حکم خاص الله لره وي

## اهمې نُکتې

## د علم او عمل خبرې

١ ـ د قيامت ورځ ډېره هيبتناکه ده چې کله د دنياموجوده نظام تباه کړےشي ـ (سُوْرَةَ الانفطار،آيتونه: ١ تا ٣)

٢ ـ د قيامت پۀ ورځ به انسانان د قبرونونه باررا ويستلےشي،بيابه ددوئ حساب او کتاب وي ـ (سُوْرَةَ الانفطار،آيت: ۴)

٣ ـ د قيامت پۀ ورځ به د خلقوټول عملونه اود هغونتيجې مخې ته راشي ـ (سُوْرَةَ ،آيت: ۵)

۴ـ پۀ انسانانوباندې د الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ د فضل اوکرم تقاضاداده چې پۀ هرحال کښې د هغه تعبداري وکړي۔(سُوْرَةَ الانفطار،آيت: ٦)

۵- زمونږه جسم اوشکل وصورت ټول د الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ راکړلےشوي نعمتونه دي چې پۀ دې باندې مونږه لره د الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ شکراداکول پکاردي- (اوره الانفطار، آيتونه: ۸، ۷)

۶- د نافرمانۍ اصل وجه د آخرت نه انکارکول دي- (سُوْرَةُ الانفطار، آيت: ۹)

۷- پۀ هرانسان باندې کراماًکاتبين يعني معززليکلوولا فرښتي مقرردي چې ددې هره خبره اوهرعمل ليکي- (سُوْرَةُ الانفطار، آيتونه: ۱۰تا ۱۲)

۸- د قيامت پۀ ورځ به نيک خلق د الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ پۀ نعمتونوکښې وي- (سُوْرَةُ الانفطار، آيت: ۱۳)

۹- د قيامت پۀ ورځ به غلط خلق پۀ جهنم کښې وي- (سُوْرَةُ الانفطار، آيتونه: ۱۴تا ۱۶)

۱۰- پۀآخرت کښې د معاف کولوياعذاب ورکولو  پوره اختيار به د الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ سره وي- (سُوْرَةُ الانفطار، آيت: ۱۹)

ځان پرې پوهه کړئ اوحل ئې کړئ

سوال ۱ پۀ صحيح جواب باندې صحيح  نښه  (✓): ولګوئ

(۱) د قيامت پۀ ورځ به څه شےرايوځائے شي؟

(الف) پانړې  (ب) ستورې  (ج) ورېځ

(۲) د قيامت پۀ ورځ به کوم څيزونه راويستلے شي؟

(الف) خرمنې  (ب) واښه، ګڼ بوټي  (ج) قبرونه

(۳) د قيامت پۀ ورځ به څوک پوهه شي چې دې مخکښې څه ليږلي اوڅې روسته پريښي دي؟

(الف) هرانسان  (ب) نيک انسان  (ج) غلط انسان

(۴) کراماًکاتِبين کومې فرښتې دي؟

(الف) روح ويستلوولا  (ب) حاظت کولوولا  (ج) هره خبره اوعمل ليکلوولا

(۵) د قیامت پهٔ ورځ به اصل اختیار د چاه سره وي؟

(الف) الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ (ب) فرښتي (ج) انسانان

سوال ۲: د لاندې لیکلي شوي آیت نمبراو ددې د متعلقه الفاظونه کرښه اوباسئ او میلاوئې کړئ.

| | |
|---|---|
| آیت نمبر ۳ | عزتمند لیکلووالا |
| آیت نمبر ۴ | د بدلي ورځ |
| آیت نمبر ۲ | د رب پهٔ باره کښې دهوکه |
| آیت نمبر ۱۱ | خوتکښېدنکے سیند |
| آیت نمبر ۱۸ | راپورته کړے شي قبرونه |

سوال ۳ د لاندې لیکلي شووسوالونومختصرجوابونه ورکړئ:

۱ ـ ددې سورت پهٔ شروع کښې د قیامت واقع کښېدلوڅه نقشه راښکلے شوې ده؟

---

---

۲ ـ پهٔ دې سورت کښې د رب څه صفات بیان شوي دي؟

---

---

۳ ـ پهٔ دې سورت کښې د کِرَامًا کَتِبِین څه صفات بیان شوي دي؟

---

---

.پۀ دې سورت کښې د نیکانواوګناه ګاروخلقوڅه انجام بیان شوے دے؟

.ددې سورت پۀ آخرکښې د قیامت د ورځې کوم کیفیت بیان شوے دے؟



کورنۍ هله زله

پۀ دې سورت کښې د قیامت بیان شوے منظرخپل کوروالا ته بیان کړئ۔

.فهرست جوړکړئ چې مونږه لره د قیامت دورځې د هیبتوالي نه د بچیدلودپاره کوم کول پکاردي

.ددې سورت مطابق دقیامت د ورځې د خلقود حالاتویوفهرست جوړکړئ

-
-
-
-
-

ستادلاس لیک سره دتاریخ :__________ . .  د مورپلارلاس لیک سره د تاریخ :__________ . .

## سُورَةُ الْمُطَفِّفِينَ

سبق : ۱۱

(سورت نمبر:۸۳،ټول رکوع ګاني : ۱ ،ټول آیاتونه:۳۶)

نِ نزول اوپېژندګلو د ډیرومفسِّرینومطابق دا سُوْرَةِ مبارکه پهٔ مکّه مکرّمه کښې نازل شوےدےاود بعضِ مفسرینود رائې لابق ددې نزول پهٔ مدینه طیِّبه کښې شوےدےددې سورت پهٔ شروع کښې پهٔ ناپ تول کښې کمي چې دایوه اهمه ګناه وه جّه ورکړےشوي ده دا ګناه پهٔ آخرت باندې د نهٔ یقین کونکویوه نشانه ده دا سي خلق د الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ د کمونوماتونکښې اوګناهګاردې،هغوئ قرآنِ حکیم د مخکنوخلقوقصّې اوکهانیاني ګنړي چې ددې وجې نه ددې پهٔ ونوباندې زنګ لګیدلےدے،پهٔ دې سورت کښې داهم ښودلي شوي دي چې د بدکاروعملنامه به پهٔ سجین کښې اود کانوعملنامه به پهٔ علیِّین کښې وي د قیامت پهٔ ورځ به نافرمانه پهٔ عذاب کښې وي چې ایمان والا به پهٔ جنت کښې د نعمتونونه خوندونه اخلي۔

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

زهٔ پناه غواړم پهٔ الله سره د شيطان رټلي شوي نه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

خاص د الله پهٔ نوم سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکى دى

وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِيْنَ ۰۰۱ الَّذِيْنَ اِذَا اكْتَالُوْا عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُوْنَ ۰۰۲

پهٔ تول او پیمانه کښې کمي کوونکو لره هلاکت دى. هغه کسان چې دوى د خلقو نه (ځان) ته پیمانه اخلي (، نو) پوره (يې) اخلي.

وَاِذَا كَالُوْهُمْ اَوْ وَّزَنُوْهُمْ

او کله چې دغو (خلقو) ته پیمانه ورکوي، یا ئې دوى ته تلي

يُخْسِرُوْنَ ۰۰۳ اَلَا يَظُنُّ اُولٰٓئِكَ اَنَّهُمْ مَّبْعُوْثُوْنَ ۰۰۴ لِيَوْمٍ عَظِيْمٍ ۰۰۵

(، نو) کمى کوي. ايا دغه خلق يقين نهٔ کوي چې بېشکه دوى به بيا راپورته کولے شي. پهٔ ډېره لويه ورځ کښې (د حساب دپاره).

يَّوْمَ يَقُوْمُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۰۰۶ كَلَّآ اِنَّ كِتٰبَ الْفُجَّارِ لَفِيْ سِجِّيْنٍ ۰۰۷

هغه ورځ چې خلق به "دټولو جهانونو رب" ته ودريږي. هيڅکله (داسې) نهٔ ده پهٔ کار! (چې بدله او سزا به نهٔ وي)، بېشکه د فاجرانو عملنامه خامخا پهٔ سجين کښې ده.

وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا سِجِّيْنٌ ۰۰۸ كِتٰبٌ مَّرْقُوْمٌ ۰۰۹ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ۰۱۰

او ته څهٔ شي پوه کړې چې سجين څهٔ شى دى؟ يو دفتر (کتاب) دى ليکل شوى. پهٔ دغې ورځ کښې د دروغ ګڼونکو دپاره هلاکت دى.

الَّذِيْنَ يُكَذِّبُوْنَ بِيَوْمِ الدِّيْنِ ۰۱۱ وَمَا يُكَذِّبُ بِهٖٓ اِلَّا كُلُّ مُعْتَدٍ اَثِيْمٍ ۰۱۲ اِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِ اٰيٰتُنَا

هغه کسان چې د بدلې ورځ دروغ ګڼړي. او دغه (ورځ) دروغ نهٔ ګڼړي مګر هر زياتي کوونکى، سخت ګناه ګار. کله چې دهٔ ته زمونږ ايتونه تلاوت کولى شي؛

قَالَ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ۰۱۳ كَلَّا بَلْ رَانَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ

نو دى وايي: (دا) د ړومبيو (خلقو) باطلې قصې دي. هيڅ کله داسې نهٔ ده!، بلکې (د دروغژن کولو وجه داده) چې د دوى پهٔ زړونو باندې زنګ لګولى دى

مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ۰۱۴ كَلَّآ اِنَّهُمْ عَنْ رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّمَحْجُوْبُوْنَ ۰۱۵

هغو (د ګناه عملونو) چې دوى به کول. (داسې) نهٔ ده پهٔ کار!، بېشکه دوى به پهٔ دغې ورځ کښې د خپل رب (ددیدار) نه يقيناً پهٔ پرده کړى شوي وي.

ثُمَّ اِنَّهُمْ لَصَالُوا الْجَحِيْمِ ۰۱۶ ثُمَّ يُقَالُ هٰذَا الَّذِيْ كُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ ۰۱۷

بيا بېشکه دوى يقيناً دوزخ ته ننوتونکي دي. بيا به (دوى ته) ويلى شي: دا هغه (دوزخ) دى چې تاسو به دا دروغ ګڼله.

كَلَّآ اِنَّ كِتٰبَ الْاَبْرَارِ لَفِيْ عِلِّيِّيْنَ ۰۱۸ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا عِلِّيُّوْنَ ۰۱۹

داسې نهٔ ده، بېشکه د نېکانو (خلقو) عملنامې (ليکلى کتاب) خامخا پهٔ "علّيين" کې دي. او ته څهٔ شي پوه کړې چې "علّيون" څهٔ شى دى؟

كِتٰبٌ مَّرْقُوْمٌ ۰۲۰ يَّشْهَدُهُ الْمُقَرَّبُوْنَ ۰۲۱ اِنَّ الْاَبْرَارَ لَفِيْ نَعِيْمٍ ۰۲۲

يو کتاب دى چې ليکل شوى دى چې دهٔ ته مقرب (بنده ګان او ملايک) حاضريږي. بېشکه نېکان خلق يقيناً پهٔ نعمتونو کښې دي.

عَلَى الْاَرَآئِكِ يَنْظُرُوْنَ ۰۲۳ تَعْرِفُ فِيْ وُجُوْهِهِمْ نَضْرَةَ النَّعِيْمِ ۰۲۴

دوى به پهٔ تختونو باندې (ناست) وي، ګوري به. اى کتونکيه! ته به د دوى پهٔ مخونو کې د نعمتونو تازګي وينې.

يُسْقَوْنَ مِنْ رَّحِيْقٍ مَّخْتُوْمٍ ۰۲۵ خِتٰمُهٗ مِسْكٌ ۱ وَفِيْ ذٰلِكَ

پهٔ دوى به مُهر (ټاپهٔ) کړى شوي خالص شراب څښولى شي. چې د دغو مُهر (ټاپهٔ) به مشک وي، او پهٔ دغه (نعمتونو) کې،

فَلْيَتَنَافَسِ الْمُتَنَافِسُوْنَ ۰۲۶ وَمِزَاجُهٗ مِنْ تَسْنِيْمٍ ۰۲۷ عَيْنًا يَّشْرَبُ بِهَا الْمُقَرَّبُوْنَ ۰۲۸

پس پهٔ کار ده چې رغبت کوونکي رغبت وکړي.د دغو (شرابو) ګډون د تسنيم (چينې) نه دی.چې يوه چينه ده چې د دې نه به (د الله) مقربين (بندګان) څښې.

اِنَّ الَّذِيْنَ اَجْرَمُوْا كَانُوْا مِنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا يَضْحَكُوْنَ ۝٠٠٢٩ۖ وَاِذَا مَرُّوْا بِهِمْ

بېشکه هغه کسان چې جرمونه کړي دي، دوی به پهٔ هغو کسانو پورې خندا کوله چې ايمان ئې راوړی وو.او کله چې به د دوی (مومنانو) پهٔ خوا کښې تېرېدل

يَتَغَامَزُوْنَ ۝٠٠٣٠ۖ وَاِذَا انْقَلَبُوْٓا اِلٰٓى اَهْلِهِمُ انْقَلَبُوْا فَكِهِيْنَ ۝٠٠٣١ۖ

(نو) پهٔ خپلو منځونو کښې به ئې پهٔ سترګو اشاري کولي.او کله چې به دوی خپلو کورونو ته واپس کېدل (نو) خوشاله (يعنی پهٔ توقو) کولو به واپس کېدل

وَاِذَا رَاَوْهُمْ قَالُوْٓا اِنَّ هٰٓؤُلَاۗءِ لَضَاۗلُّوْنَ ۝٠٠٣٢ۙ

او کله چې به دوی دغه (مسلمانان) وليدل (نو) ويل به يې: بېشکه دغه خلق يقينًا ګمراهان دي.

وَمَآ اُرْسِلُوْا عَلَيْهِمْ حٰفِظِيْنَ ۝٠٠٣٣ۭ

حال دا چې دوی پهٔ دغو (مومنانو) باندې نګرانان (څوکيداران) نهٔ وو لېږل شوي.

فَالْيَوْمَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنَ الْكُفَّارِ يَضْحَكُوْنَ ۝٠٠٣٤ۙ عَلَي الْاَرَاۗىِٕكِ ۙ يَنْظُرُوْنَ ۝٠٠٣٥ۭ

نو پهٔ نن ورځ به هغه کسان چې ايمان ئې راوړی دی؛ پهٔ کافرانو پورې خندا کوي.پهٔ تختونو باندې به ناست وي، چې (د کافرانو حال به) ګوري

هَلْ ثُوِّبَ الْكُفَّارُ مَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ۝٠٠٣٦ۧ

يقينًا کافرانو ته د هغه (بد سلوک) بدله ورکړی شوه چې دوی به (د مؤومنانو سره) کول

## د علم او عمل خبري

۱- زمونږ د اخستو او ورکولو اندازه يو شان کښېدل پکار دي.(سُوْرَةُ المطفّفِين،آيتونه:۳،۲)

۲- چې کوم څيز مونږه د زان د پاره ښو ښوو دغه د نورو د پاره هم ښو ښول پکار دي.(سُوْرَةُ المطففين،آيتونه:۳،۲)

۳- پهٔ ناپ تول کښې کمي کول د آخرت نه د غفلت علامه ده.(سُوْرَةُ المطفّفِين،آيتونه: ۱تا۴)

۴- د آخرت نه انکارکولو والا د پاره هلاکت او تباهي ده.(سُوْرَةُ المطفّفِين،آيت: ۱۰)

۵- ګناه کول ،د حدنه اوړيدل او قرآن نهٔ منل د آخرت نه د انکار نتيجه ده.(سُوْرَةُ المطفّفِين،آيتونه: ۱۱تا۱۳)

۶- آخرت هيره ول او د دنيا مقصد جوړولو د وجې نه د انسان پهٔ زړهٔ باندې زنګ لګي.(سُوْرَةُ المطفّفِين،آيت:۱۴)

۷۔ د آخرت نه انکارکولووالا به د قيامت پۀ ورځ د ديدارِ الٰهي نه محرومه وي۔او دوزخ ته به وغورزولے شي۔ (سُوْرَةَ المطفِّفين،آيتونه:۱۵تا۱۷)

۸۔ د نيکانوخلقومخونه به د جنت د نعمتونوپۀ وجه تروتازه وي۔ (سُوْرَةَ المطفِّفين،آيتونه:۱۸تا۲۸)

۹۔ مونږه لره د آخرت پۀ حوالي سره ديوبل نه د مېنکي کېښېدلوکوشش کول پکاردي۔ (سُوْرَةَ المطفِّفين،آيت:۲۶)

۱۰۔ پۀ دنياکښې پۀ ايمان والا پسي ټوقي کولووالا به پۀ آخرت کښې د عذاب ښکاروي۔ (سُوْرَةَ المطفِّفين،آيتونه:۲۹تا۳۶)

## ځان پرې پوهه کړئ او حل ئې

**سوال ۱** پۀ صحيح جواب باندې صحيح نښه (✓):ولګوئ :

(۱) د المطففين څه معنې ده؟

(الف) طواف کولووالا (ب) د طائف ښاراوسېدلووالا (ج) پۀ ناپ تول کښې کمي کولووالا

(۲) پۀ ناپ تول کښې کمي کول د چاه علامه ده؟

(الف) د عقل مندکېښېدلو (ب) د آخرت نه د غافل کېښېدلو (ج)د نيکوخلقو

(۳) د بدکاروخلقوعملنامه به چرته وي؟

(الف) پۀ علّيّين کښې (ب) پۀ سجّين کښې (ج) پۀ جهنّم کښې

(۴) پۀ آخرت باندې يقين نۀ کولووالا قرآنِ حکيم څه شے ګڼړي؟

(الف) د هدايت کتاب (ب) د الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ کتاب (ج) د پخوانوخلقوقصّي

(۵) پۀ زړونوباندې د څه وجي نه زنګ لګي؟

(الف)آخرت لره هيرول (ب) دنيالره هيرول (ج) آخرت لره يادول

سوال ۲ د لاندې لیکلې شوې آیت نمبراوددې د متعلقه الفاظونه کرښه اوباسئ او میلاوئې کړئ.

| | |
|---|---|
| آیت نمبر ۱ | پۀ زړونوباندې زنګ |
| آیت نمبر ۷ | عِلّیِین |
| آیت نمبر ۱۴ | پۀ ناپ تول کښې کمې کولووالا |
| آیت نمبر۱۸ | سجِّین |
| آیت نمبر۲۷ | د تسنیم چینه |

سوال ۳: د لاندې لیکلې شووسوالونومختصرجوابونه ورکړئ:

۱ ـ ددې سورت پۀ شروع کښې د کوم ګناه ذکرشوےدے؟

---

---

۲ ـ د سجِّین اوعلیِّین نه څه مراددې؟

---

---

۳ـ پۀ دې سورت کښې د نیک خلقودپاره د جنت د کومونعمتونوذکرشوےدے؟

---

---

۴ـ کافران پۀ دنیاکښې پۀ ایمان والا پسې څرنګه توقې کوي؟

---

---

. د قیامت په ورځ به په کافرانو پسې څوک خاندي؟

## کورنۍ هله زله



. د ناپ تول په حواله سره خلق په کوموکوموموقعوباندي کمي کوي ،پنځهٔ ۵مثالونه ولیکئ.

. چاټ جوړکړئ وښیوئ چې مونږ لره په اخستلو او خرڅولو کښې د کوموخبرو خیال کول پکاردي؟ څه دري خبري ولیکئ

. په دي لاندي چاټ کښي د نیکئ اوبدئ نشاندهي وکړئ.

نیکي
امانتداری

غلاکول

حق و هل

مددکول

ټوقي کول

ظلم کول

احسان کول

عدل کول

رشتیاویل

غیبت کول

د استادلاس لیک سره دتاریخ: ________ . . . . د مورپلارلاس لیک سره د تاریخ: ________ . .

## سبق : ۲ ۱ سُورَۃ الانشقاق (سورت نمبر ۸۴، ټولې رکوع ګانې: ۱، ټول آیاتونه: ۲۵)

شانِ نزول اوپېژندګلو: دا سورت پهٔ حضرت نبي کريم (ﷺ) باندې د مکي زندګۍ پهٔ درميانه دورکښې نازل شوے دے حضرت نبي کريم (ﷺ) فرمائي چې کوم کس قيامت پهٔ خپلو سترګو ليدل غواړي هغه لره پکار دي چې سُوْرَۃ التکوير، سُوْرَۃ الانفطار، او سُوْرَۃ الانشقاق ولولي۔ (ترمذي) ددې سورت پهٔ ابتدا کښې الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ د قيامت منظربيان کړے دے د قيامت پهٔ ورځ د آسمان شليدل ځمکه هموارکېدل اود زمکي خالي کېدل ذکرشوے دے دا هم ښودلي شوي دي چې انسان به ددنيا پهٔ ژوند کښې مشقتونه اوچتوي اوبالآخربه د قيامت پهٔ ورځ د الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ سره ملاقات کوي د قيامت پهٔ ورځ به خلق پهٔ دوه ډلو کښې تقسيم کړےشي نيکانو ته به عمنامه پهٔ ښي لاس ورکړےشي او بدکاروته به عملنامه پهٔ ګس لاس کښې ورکړےشي اوددې سره به حساب آسان کړےشي اوجنت به داخل کړےشي دالله سُبْحَانه وتَعَالیٰ اود رسول کريم سُبْحَانه وتَعَالیٰ نه انکارکونکي اوبدکاروته به عملنامه د شاه د اړخنه ورکولي شي اوجهنم ته به وغورزولي شي، د سورت پهٔ آخرکښې د قرآنِ حکيم دروغژنونکي اود الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ نه انکارکونکوته به د دردناک عذاب خبرورکړےشي، تعبداروته به د بے انتها اجر خوشخبري واورولي شي

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

زهٔ پناه غواړم پهٔ الله سره د شيطان رټلي شوي نه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ○

خاص د الله پهٔ نوم سره (شروع کوم) چې ډېرزيات مهربان، بې حده رحم کوونکې دی

اِذَا السَّمَآءُ انْشَقَّتْۙ ۰۰۱ وَاَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْۙ ۰۰۲ وَاِذَا الْاَرْضُ مُدَّتْۙ ۰۰۳

کله چې اسمان خيرې شي۔ او د خپل رب (حکم) ته غوږ کېږدي او دا هم پهٔ دهٔ لازم دی۔ او کله چې ځمکه راښکلی شي۔

وَاَلْقَتْ مَا فِيْهَا وَتَخَلَّتْۙ ۰۰۴ وَاَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْؕ ۰۰۵

او هغه څه چې پهٔ دې کښې بهرو غورځوي او خالي شي۔ او د خپل رب (حکم) ته غوږ کېږدي او دا هم پهٔ دهٔ لازم دی۔

يٰۤاَيُّهَا الْاِنْسَانُ اِنَّكَ كَادِحٌ اِلٰى رَبِّكَ كَدْحًا فَمُلٰقِيْهِۚ ۰۰۶

ای انسانه! بېشکه ته پهٔ پوره کوشش سره کار کوونکی ئې د خپل رب اړخ ته (سره د ملاقات پورې)، ښه پوره کوشش، بيا ته د دغه (خپل عمل) سره ملاقات کوونکی ئې۔

فَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ بِيَمِيْنِهٖۙ ۰۰۷ فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَّسِيْرًاۙ ۰۰۸

نو هر چې هغه څوک دی چې هغه ته خپل کتاب (عمل نامه) پهٔ ښي لاس کښې ورکړی شي۔ نو زر ده چې د دهٔ سره به حساب وکړی شي، ډېر اسان حساب۔

وَّيَنْقَلِبُ اِلٰى اَهْلِهٖ مَسْرُوْرًا ؕ۰۰۹ وَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ وَرَآءَ ظَهْرِهٖ ۙ۰۰۱۰

او دی به خپل اهل ته خوشاله وګرځي. او هر چې هغه څوك دی چې هغه ته خپل كتاب (عمل نامه) د خپلې شا نه وروسته وركړی شي.

فَسَوْفَ يَدْعُوْا ثُبُوْرًا ۙ۰۰۱۱ وَّيَصْلٰى سَعِيْرًا ؕ۰۰۱۲

نو دی به زر هلاكت ته چغې كړي. او د دوزخ بل اور ته به ننوځي.

اِنَّهٗ كَانَ فِيْۤ اَهْلِهٖ مَسْرُوْرًا ؕ۰۰۱۳ اِنَّهٗ ظَنَّ اَنْ لَّنْ يَّحُوْرَ ۚۛ۰۰۱۴ بَلٰۤى ۛۚ

بېشكه دی (په دنيا كښې) په خپل اهل كښې خوشاله وو. بېشكه دهٔ يقين كړی وو چې دی به د سره بېرته (الله ته) ونهٔ ګرځي. ولې نه!

اِنَّ رَبَّهٗ كَانَ بِهٖ بَصِيْرًا ؕ۰۰۱۵ فَلَاۤ اُقْسِمُ بِالشَّفَقِ ۙ۰۰۱۶ وَالَّيْلِ وَمَا وَسَقَ ۙ۰۰۱۷

بېشكه د دهٔ رب ده لره تل ښه ليدونكی و. نو زهٔ قسم خورم په شفق (د ماښام نه پس په سوروالي). او په شپه او په هغه څه چې دې راجمع كړي دي.

وَالْقَمَرِ اِذَا اتَّسَقَ ۙ۰۰۱۸ لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا عَنْ طَبَقٍ ؕ۰۰۱۹ فَمَا لَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۙ۰۰۲۰

او په سپوږمۍ كله چې دا كامله شي. چې تاسو به خامخا ضرور رسېږئ يو حال ته وروسته د بل حال نه. نو په دوی څه شوي دي چې دوی ايمان نهٔ راوړي؟

وَاِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ الْقُرْاٰنُ لَا يَسْجُدُوْنَ ؕ۩۰۰۲۱ بَلِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُكَذِّبُوْنَ ۖۗ۰۰۲۲

او كله چې په دوئ ته قرآن لوستی شي دوی سجده نهٔ كوي. بلكې هغه كسان چې كافران شوي دي؛ هغوی تكذيب كوي.

وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا يُوْعُوْنَ ۖۗ۰۰۲۳ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ۙ۰۰۲۴ اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

او الله ښه عالم دی په هغه څه چې دوی ئې پټ ساتي. نو ته دوی ته د ډېر دردوونكي عذاب زېری وركړه. غير د هغو كسانو نه چې ايمان ئې راوړی دی

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ اَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُوْنٍ ۠۰۰۲۵

او نېك عملونه ئې كړي دي، د دوی د پاره نهٔ ختمېدونكی اجر دے.

اهمې نُكتې

## د علم او عمل خبري

۱۔ د قيامت ورځ انتهائي خطرناکه ده،مونږه لره ددې ورځې د هيبتوالي دبچيدلو نه تياري کول پکاردي۔(سُوۡرَةۡ الانشقاق،آيتونه:۱تا۵)

۲۔ د هر انسان به د الله سُبۡحَانه وَتَعَالىٰ سره ملاقات کښېږي۔(سُوۡرَةۡ الانشقاق،آيت:۶)

۳۔ د قيامت په ورځ به نيکانو ته عملنامه په ښي لاس سره ورکولي شي۔(سُوۡرَةۡ الانشقاق،آيت:۷)

۴۔ د نيکو خلقوسره به د قيامت په ورځ آسان حساب وکړے شي۔(سُوۡرَةۡ الانشقاق،آيت:۸)

۵۔ د قيامت په ورځ به بدکارو ته عملنامه آخوا د شاه نه په ګس لاس ورکړے شي۔(سُوۡرَةۡ الانشقاق،آيت:۱۰)

۶۔ د قيامت په ورځ به کافران مرګ غواړي مګر مرګ به نۀ رازي اودوزخ ته به واچولے شي۔(سُوۡرَةۡ الانشقاق،آيتونه:۱۴،۱۳)

۷۔ د دنياپۀ ژوندکښې مشغول کښېدل اوآخرت هيرول دوزخ ته د تګ وجوهات دي۔(سُوۡرَةۡ الانشقاق،آيتونه:۱۴،۱۳)

۸۔ الله سُبۡحَانه وَتَعَالىٰ زمونږ دعملونونه ښه خبردارد ے۔(سُوۡرَةۡ الانشقاق،آيت:۱۵)

۹۔ د کفرکولووالا اود حق نه انکارکولووالا دپاره به دردناک عذاب وي ۔(سُوۡرَةۡ الانشقاق،آيتونه:۲۲تا۲۴)

۱۰۔ د ايمان والا اود نيک عمل والا دپاره به داسي اجروي چې هيڅ کله به ختم نشه۔(سُوۡرَةۡ الانشقاق،آيت:۲۵)

## ځان پري پوهه کړئ اوحل ئې کړئ

سوال ۱ پۀ صحيح جواب باندې صحيح نښه (✓):ولګوئ

(۱) پۀ دې سورت کښې د اسمان د کوم کيفيت ذکردے ؟

(الف) دروازي دروازي کښېدل  (ب) شلیدل  (ج) اوچتوالے

(۲) انسان چې مشقت برداشت کړي ،نود چاه سره میلاویدلووالا دے؟

(الف) د خپلوانوسره  (ب) والدین  (ج) رب

(۳) کومو خلقوته چې عملنامه پۀ ښي لاس کښې ورکړےشي د هغونه به څه اخستلےشي؟

(الف) آسان حساب  (ب) سخت حساب  (ج) هیڅ حساب نه

(۴) کومو خلقوته چې عملنامه دشاه د اړخ نه پۀ چپ لاس کښې ورکړےشي ،نود قیامت پۀ ورځ به چاته آوازکوي؟

(الف) والدین  (ب) خپلوان  (ج) مرګ

(۵) چې کله د کافرومخي ته قرآنِ حکیم ولوستلےشي ،نوهغوئ څه نه کوي؟

(الف) شکر  (ب) سجده  (ج) سوچ اوفکر

**سوال ۲** د لاندې لیکلي شوې آیت نمبراوددې پۀ متعلقه الفاظو کښې یوشانته رنګ ورکړئ۔



ال ۳ د لاندې لیکلي شوو سوالونو مختصر جوابونه ورکړئ:

- پۀ دې سورت کښې د قیامت څه نقشه جوړه کړے شوې ده؟

- د قیامت پۀ ورځ به انسانان پۀ کومو دوو ۲ ډلو کښې تقسیم کړے شي؟

- پۀ دې سورت کښې د دوزخ د تللو کوم اسباب بیان شوي دي؟

- پۀ دې سورت کښې پۀ کومو څیزونو قَسمونه خوړلے شوي دي؟

- د ایمان راوړلو والا او نیک عمل کولو والا دپاره څنګه اجر دے؟



کورنۍ سرګرمی (هله زله)

۱ - د خپلي يوي ورځي د عملونو فهرست جوړ کړئ او جائزه واخلئ او وياد وساتئ چې کراماً کاتبين زمونږ هره خبره اوهرعمل ليکي.

---

---

---

۲ - هره ورځ د اوده کېدلو نه مخکښې د خپلو ټولو کارونو جائزه واخلئ په نيکيانو باندي د الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ شکر اداکول
اوپـــــــــــه ګناهونو بانـــــــــــدي توبـــــــــــه ويســـــــــــتل .

۳ - سُوْرَةَ التّکوِير، سُوْرَةَ الانفطار، او په سُوْرَةَ الانشقاق باندې سوچ وکړئ او د قيامت د حالاتو په باره کښې يو پنځه خبرې اوليکئ.



د استادلاس لیک سره دتاریخ:________ د مورپلارلاس لیک سره د تاریخ :________

## سبق:۱۳ د یو ظالم بادشاه او مؤمن هلک قصّه

پهٔ سُوْرَۃ البُرُوْج الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ د اَصْحَابُ الاُخْدُوْدِ یعني خندقونووالا ذکرشوےدے د ډیري زماني مخکښې خبره ده چې یوظالم بادشاه وو چې چاه پهٔ الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ باندې ایمان راوړے وو ،نود اورپهٔ خندقونوکښې وسوزول۔ددې واقعې پهٔ بیانولوسره د ایمان والا ؤود کافرانوپهٔ ظلم اوستم باندې د صبرکولواوپهٔ توحیدباندې د قائمیدلوتلقین ورکړےشوےدے،داواقعه د حدیثونوپهٔ مشهورکتاب د صحیح مسلم پهٔ یوحدیث مبارک کښې تفصیلي بیان شوي ده دغه رنګې پهٔ بحارالانوارکښې هم موجودده ۔

### ۱ ۔ د بوډاجادوګرد بادشاه نه درخواست

پهٔ مخکښې زمانه کښې یوبادشاه ووچې دهغه سره یوجادوګرووـچې کله جادوګربوډاشو،بودې بادشاه ته درخواست اوکړوچې ماته یوهلک راکړه چې زمانه جادو یاد کړي بادشاه یوهلک مقررکړوچې ددې جادوګرنه جادویاد کړې ددې هلک اوجادوګر د کورپهٔ لاره کښې یوراهب اوسیدلوهلک چې ددې خبرې واوریدلې ،نوددې راهب نه متاثره شواود هغه خواته به تللواوعلمِ دین به ئې ترینه یادولو هلک پهٔ دې سوچ کښې ووچې پهٔ جادوګراوراهب کښې کوم یوریشتوني دےاو د چاه خبره منل پکار دي ۔

### ۲ ۔د مؤمن هلک کمالات

اتفاقًایوه ورځ داسې وشوچې داهلک د راهب د خوانه د جادوګرخواته د تللودپاره راووتلوچې وې کتل چې یوغټ ځناورد خلقوپهٔ لاره کښې ولاړدےچې د خلقوتګ راتګ بنددے دا منظرئې چې ولیدلو،نوسوچ ئې اوکړوچې دا موقع ښه ده چې ددې خبرې تصدیق به اوشي چې د جادوګرمذهب ریشتوني دے اوکه د راهب دا ،دې هلک یوګټه رواچته کړله اود الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ نه ئې دعاوغوښتله چې که د راهب مذهب ریشتوني وي ،نوداځناورمړکړې ورنه مې مړکوې، دائې وویېل اوګټه ئې ګزارکړه ،نوفوراًځناورمړشوخلقوچې داولیدل ،نود هلک د عظمت اقرارئې وکړوبیاداهلک د راهب خواته راغلےاوهغه ته ئې داواقعه ټوله واوروله ،نوهغه ورته وویېل بچیه ته پهٔ مقام اومرتبه کښې زمانه مخکښې شوې یقینًاستامرتبه دیته ورسیدله چې زهٔ ئې وینم اوته به نزدې ده چې پهٔ ازمائش کښې به شې بیاکه تهٔ پهٔ امتحان کښې واچولےشوې ۔نازما نوم مه اخله دې هلک تهٔ دومره قرب اوغوروالےحاصل شوچې دې د الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ پهٔ ورکړےشوې صلاحیت اوکرامت سره ړاندو اوبرګي مرض والا ته به شفامیلاویدله اوددښه علاوه به ئې هم د

ټولو بیماریانو علاج کولو یوه ورځ یو ړوند کس د ډیرو تحفوسره راغلے چې د بادشاه د خاص کسانو نه ؤ او ویوېل که چرته تازما د سترګو نظر واپس کړو ،نو دا ټول مال به تا لره درکړم هلک ورته وویېل چې زۀ ستا نه هیڅ انعام نۀ اخلم شفا ورکول د للّٰه سُبْحَانه وَتَعَالیٰ د اړخه دي البته که ته پۀ الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ باندې ایمان راوړې ،نو زۀ به د الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ نه دعا اوغواړم ،نو هغه به درله شفا درکړي هغه ړوند پۀ الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ باندې ایمان راوړو او هلک دیته دعا اوکړه ،نو الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ هغه ته شفا ورکړه هغه د بادشاه خوا ته لاړلے او د هغ خوا ته کیناستلو چې څرنګه به مخکښې ناست وو چې کله بادشاه ته ددې خبرې خبر وشو ،نو بادشاه راهب ،هلک ،او ړوند کس خپل دربار ته راوبلل او ورته ویویل چې آیا زما نه علاوه هم بل څوک رب شته ؟دوئ اوېیل چې الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ زمونږ د ټولو رب دے بادشاه ړوند او راهب دواړه پۀ آره باندې ځیري کړل او دوه ټکړې ئې کړل .

## ۳ .د مؤومن هلک د وژلو د پاره د بادشاه کوششونه

د هلک د وژلو د پاره بادشاه د خپل فوځ یو ي دستې ته حکم اوکړو چې دا د غر څوکې ته بوزئ بیا د ې هلک ته د الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ د دین د پرېښودلو او ایئ ،که پرې ئېي خودلو ،نو صحیح ده ،او که پرې ئې نۀ خودلو ،نو دهکه ورله ورکړئ ددې د پاره چې ښکته اوغوزېږي او مړشي فوځ دا هلک د غر څوکې ته بوتلو هلک د الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ نه دعا وکړه چې ته څرنګه غواړې ما دد ېنه بچ کړې ،الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ پۀ غر باندې زلزله وکړه هغه ټول فوځ چې دا هلک ئې وژلو ،نو پۀ خپله مړه شو ،دغه هلک صحیح سلامت دوباره د بادشاه دربار ته ورسیدلو .بادشاه تپوس وکړو چې زما فوځ چرته دے ؟ دې جواب ورکړو چې هغه ټول زما رب هلاک کړل او زۀ ئې بچ کړم بادشاه پۀ دویم زل دویمې دستې ته حکم اوکړو چې دا سیند ته بوځئ او چې کله د سیند منځ ته ورسیږئ ،نو دیته د الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ د دین د پرېښودلو او ایئ که پرې ئې ښودلو ،نو ټیک ده ،ورنه پۀ سمند رکښې واچوئ فوځ دا بوتلو چې کله د سیند منځ ته ورسیدل ،نو دې هلک بیا د الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ نه دعا وغوښتله چې اے الله! ته چې څرنګه غواړې ما دد ېنه بچ کړه الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ ټول فوځ ډوب کړو او دا هلک ئې بچ کړو هغه دوباره د بادشاه دربار ته راغلے بادشاه تپوس اوکړو چې زما فوځ څه شو ؟هلک جواب ورکړو چې هغه ټول زما رب هلاک کړل او زۀ ئې بچ کړم دغه رنګې بادشاه ته معلومه شوه چې ددې هلک وژل دده پۀ وس کښې نۀ دي .

## ۴ د مؤومن هلک شهادت او د خلقو ایمان راوړل

چې کله د بادشاه ټول کوششونه ناکام شو ،نو بلآخر هلک بادشاه ته وویېل که تا ماوژل غواړې ،نو پۀ غټ میدان کښې خلق راجمعه کړه بیا زما د ترکش (د غشو بوجۍ) نه یو غشے راواخله او زما پۀ لینده کښې کښېږده بیا دا کلمات اووایه بِسمِ اللّٰہِ رَبِّ هٰذا الغلَام (زۀ دا هلک ددې د رب پۀ نوم باندې پۀ دې غشې ولم )پۀ ما باندې ددې غشې ګزار وکړه زۀ به مړشم بادشاه دا سې

وکړل اوچې کله ئې غشے ویشتلو ،نوهلک پۀ خپل د غوږېۀ مرکې باندې لاس کېښودو او شهید شوتېول قام دامنظر ولیدلو اوچغه ئې اوچته کړه چې مونږددې هلک پۀ رب باندې ایمان راوړے دے ځکه هغوئ پوهه شوچې حقیقي رب هغه الله سُبْحَانَه وتَعَالىٰ دے چې د کوم ذکر دې هلک کولو .

## 5  د اورخندقونه او د ایمان والاصبر .

بادشاه چې دا ولیدل ،نوډیرزیات غوصه شواودې خپل فوځ ته د خندقونود کنستلواوپۀ دېکښې د اور د بلولوحکم وکړوتېول مسلمانان ئې د اورنه چاپیره جمعه کړل بیائې د هریونه د هغه د دین پۀ باره کښې تپوس کولوچې چا به د توحید اقرارکولو ،نوهغه به ئې ژوندے اورته اچولودغه رنګې ټول مؤومنان سرو اوخځولره ئې پۀ اورکښې ژوندې وسیزل الله سُبْحَانَه وَتَعَالىٰ دې مؤومنانولره دومره همت ورکړےووچې هیڅ یوهم پۀ ایمان پرېښودلوباندې راضي نۀ وواوددوئ نه هریوپۀ اورکښې غورزیدل قبول کړل صرف یوه زنانه چې دهغې پۀ غیګ کښې یووړکےماشوم ووددې خځې پۀ اورکښې د غورزیدلونه لګه وېرې دله ،نوهغه بچې وویېل مورجانې صبرکوه بیشکه ته پۀ حقه باندې یې لهٰذادا دواړه۲ یې اورته وغورزول ظالم بادشاه ایمان والا ددې دپاره د بدلې اخستونشانه جوړه کړه چې دوئ پۀ الله سُبْحَانَه وَتَعَالىٰ باندې ایمان راوړےوود الله سُبْحَانَه وَتَعَالىٰ کول داسې وې چې دخندقونوپۀ غاړوباندې چې کوم کافرناست ؤوهغه هم اوروسوزول الله سُبْحَانَه وتَعَالىٰ به د قیامت پۀ ورځ هم دې ظالمانو ته د دوزخ پۀ اورکښې سخت عذاب ورکړې چې کله الله سُبْحَانَه وَتَعَالىٰ ایمان والوته ددې پۀ صبراواستقامت باندې د جنت نعمتونه ورکړې وییلې شوې دې چې ددې نعش لاش د حضرت عمر رضی الله عنه پۀ زمانه کښې راوتلےوو اوددې ګوتې پۀ دغه وخت هم دغوګ پۀ مرکې باندې ایښې وې چې پۀ کوم حالت دې د مرګ پۀ وخت ایښې وې ددې واقعې نه د اولیاءالله شان ،صبراواستقامت اوچت مقام اومرتبې اوددې د کرامت اظهارکښېدلےشې مزیددا هم ده چې ددې ؤودعاګانې قبلېدلےشې  اوددوئ د دعاګانوپۀ وجه د لاعلاجه بیماریانونه شفاهم میلاوېږې څنګه چې د الله سُبْحَانَه وَتَعَالىٰ نیکان بندګان د حق پۀ لاره کښې پۀ لوې لوې مصیبتونواومشکلاتوباندې مظبوط وې مونږلره هم ددوئ صحبت اختیارول پکاردې او دنیکئ پۀ لاره باندې قائمېدل پکاردې ددې دپاره چې مونږته هم د الله سُبْحَانَه وتَعَالىٰ نزدېکت حاصل شي .

## سبق:۱۴     سُوْرَۃ البروج     (سورت نمبر:۸۵،ټولې رکوع ګانې:۱،ټول آیاتونه:۲۲)

شانِ نزول اوپېژندګلو: دا سورت پۀ حضرت نبي کریم ﷺ باندې د مکې ژوند پۀ منځنې دورکښې نازل شوےدےدا هغه دورووچې قریشوپۀ مسلمانانوباندې ظلم اوستم کولو حضرت نبي کریم ﷺ د ماسخوتن پۀ مونځ کښې سُوْرَۃ البروج او

سُورَةُ الطّارق هم تلاوت کول. (مسند احمد)

ددې سورت په شروع کښې الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ خوقسمونه بیان کړي دي داصحاب الاخدود یعني د خندقونووالهٔ ؤود هلاکت اعلان کړےدے چي ددوئ دپاره په دنيا کښې هم سزاده اوپهٔ آخرت کښې د دوزخ عذاب دےددې سره ئي ايمان والا ته زيرےورکړےدےچي پهٔ مشکلاتوباندې صبرکولووالا دپاره جنت دےبيايي ددې خبرې خبردارے ورکړےدےچي د الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ نيول ډيرسخت دي چي ددېنه فرعون ،ثموديان،اود اصحاب الاخدودوالا پشان ظالمان بچ نهٔ شو ،پهٔ آخره کښې د قرآنِ حکیم عظمت بیان کړےدےچي داپهٔ لوحِ محفوظ کښې دے.

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ
زهٔ پناه غواړم پهٔ الله سره د شيطان رټلي شوي نه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ○
خاص د الله پهٔ نوم سره (شروع کوم) چي ډير زيات مهربان، بې حده رحم کوونکښې دی

وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الْبُرُوْجِ ۙ۰۰۱ وَالْيَوْمِ الْمَوْعُوْدِ ۙ۰۰۲ وَشَاهِدٍ وَّمَشْهُوْدٍ ؕ۰۰۳
قسم دی پهٔ اسمان چي خاوند د برجونو دی.اوپهٔ وعده کړی شوي ورځې.اوقسم دے پهٔ ګواه يا حاضربدونکي اوپهٔ هغې (ورځې) چي هغې ته حاضري کولی شي
قُتِلَ اَصْحٰبُ الْاُخْدُوْدِ ۙ۰۰۴ النَّارِ ذَاتِ الْوَقُوْدِ ۙ۰۰۵ اِذْ هُمْ عَلَيْهَا قُعُوْدٌ ۙ۰۰۶
هلاك دي کړی شي خاوندان د خندق .چي (پهٔ کښې) اوروو د بلېدلو (او لرګو) والا .کله چي دوی پهٔ (غاړو د) هغو ناست وو .
وَّهُمْ عَلٰى مَا يَفْعَلُوْنَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ شُهُوْدٌ ؕ۰۰۷ وَمَا نَقَمُوْا مِنْهُمْ
او دوی هغه څه ته چي دوی به پهٔ مومنانو باندې کول؛ حاضر وو .او دوی د دغو (مومنانو) نه هېڅ عيب نهٔ ليده
اِلَّاۤ اَنْ يُّؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَمِيْدِ ۙ۰۰۸ الَّذِيْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ۱
مګر دا چي دوی پهٔ الله باندې ايمان راوړی و ، چي ډير غالب، بنه ستايل شوی دی.هغه (الله) چي خاص د هغه دپاره د اسمانونو او ځمکې بادشاهي ده
وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ؕ۰۰۹ اِنَّ الَّذِيْنَ فَتَنُوا الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ
او الله پهٔ هر شي باندې او ګواه دی .بېشکه هغه کسان چي مومنان سړي او مومنې ښځې ئي پهٔ فتنه (عذاب) کې اچولي وي،
ثُمَّ لَمْ يَتُوْبُوْا فَلَهُمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمْ عَذَابُ الْحَرِيْقِ ؕ۰۰۱۰
، بيا ئي توبه نهٔ وي ايستلي، نو د دوی دپاره د جهنم (دوزخ) عذاب دی او د دوی دپاره د ډير سوځوونکي اور عذاب دی.
اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ
بېشکه هغه کسان چي ايمان ئي راوړی دی او نېك عملونه ئي کړي دي
لَهُمْ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ؕ۱ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْكَبِيْرُ ؕ۰۰۱۱ اِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ لَشَدِيْدٌ ؕ۰۰۱۲
د دوی دپاره داسي جنتونه دي چي د هغو د لاندې ولې بهېږي، همدغه ډيره لويه کاميابي ده.بېشکه ستا د رب نيول يقيناً ډير سخت دي.
اِنَّهٗ هُوَ يُبْدِئُ وَيُعِيْدُ ۚ۰۰۱۳ وَهُوَ الْغَفُوْرُ الْوَدُوْدُ ۙ۰۰۱۴
بېشکه هم دغه (الله) اول ځلي پيدا کوي او (دغه) دويم ځلي پيدا کوي .او هم دی ډير بخښونکښې، ډير محبت کوونکی دی.

ذُو الْعَرْشِ الْمَجِيْدُ ۙ۰۰۱۵ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ ؕ۰۰۱۶ هَلْ اَتٰىكَ حَدِيْثُ الْجُنُوْدِ ۙ۰۰۱۷ فِرْعَوْنَ

د عرش مالك دى، (اود) لوى شان (او عزت) والا دى. ډېر کوونکی دی هغه څه لره چې دی ئې اراده وکړي. ايا تا ته د لښکرو خبر راغلی دی؟ (يعنی) د فرعونيانو

وَثَمُوْدَ ؕ۰۰۱۸ بَلِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِيْ تَكْذِيْبٍ ۙ۰۰۱۹ وَّاللّٰهُ مِنْ وَّرَآىِٕهِمْ مُّحِيْطٌۢ ۰۰۲۰

او ثموديانو (لښکري) وي. بلکې هغه کسان چې کافران شوي دي په دروغ ګڼړلو کښې (لګيا) دي. او الله د دوی د هر اړخ نه راګېروونکښی دی.

بَلْ هُوَ قُرْاٰنٌ مَّجِيْدٌ ۙ۰۰۲۱ فِيْ لَوْحٍ مَّحْفُوْظٍ ۠۰۰۲۲

بلکې (د قرآن خبره د دروغو نه ده) دغه د لوی قدر والا قرآن دی. (چې) په لوح محفوظ کې (ليکلے شوے) دی.

## اهمي نُکتې

## د علم او عمل خبري

١ - زمونږ د نصيحت دپاره الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ پهٔ قرآنِ حکيم کښې دنيکانو اوبدانو ذکرکړے دے ـ (سُوْرَة البروج،آيتونه: ١ تا ١٨، ٧ تا ١٩)
٢ - د کافرواومشرکينوظلم اوستم د ايمان والهٔ وودپاره ازمائش وي ـ (سُوْرَة البروج،آيتونه: ۴تا٧)
٣ - الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ ظالم اومظلوم تول پهٔ ښه طريقه پيژني ـ (سُوْرَة البروج،آيت: ٩)
۴ - مونږله پهٔ هيچاه باندې ظلم کول نه دي پکار ـ (سُوْرَة البروج،آيت: ١٠)
۵ - چې څوک د ظلم کولونه روستـه توبه اوباسي ،نو الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ هغه معاف کوي ـ (سُوْرَة البروج،آيتونه: ١۴ ، ١٠)
٦ - د ايمان والؤو اونيک عملونووالا دپاره جنت دے ـ (سُوْرَة البروج،آيت: ١١)
٧ - د الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ پهٔلاره کښې قرباني کولوو الا ته الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ لوي اجرورکوي ـ (سُوْرَة البروج،آيتونه: ١۴ ، ١١)
٨ - الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ ظالمانوله سخت نيونکے دےهيخ مجرم به د الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ د نيولونه وتلووالا نه دے ـ (سُوْرَة البروج،آيت: ١٢)
٩ - الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ چې څه غواړي هغه کوي څوک د الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ ارادې له بندونکے نشته دے ـ (سُوْرَة البروج،آيت: ١٢)
١٠ - دخلقو پهٔ انکارباندې پهٔ قرآنِ عظيم باندې هيڅ اثر نه کښيږي ځکه پهٔ لوحِ محفوظ کښې موجود دے ـ

## ځان پرې پوهه کړئ او حل ئې کړئ

**سوال۱** پهٔ صحیح جواب باندې صحیح نښه  (✓):ولګوئ

(۱) د اصحاب الاخدود نه مراد څوک دي؟

(الف) کوهي والا (ب) خندقونو والا (ج)غرو والا

(۲) بادشاه د هلک ازده کړې دپاره څه شے مقرر کړے ؤو؟

(الف) غشي ویشتل (ب) د دین علم (ج) جادو

(۳) بادشاه څوک پهٔ اري سرې څیرې کړو او شهیدئي کړو؟

(الف) ړوندکس او راهب (ب) ړوندکس او مؤومن هلک (ج) راهب او مؤومن هلک

(۴) الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ قرآنِ حکیم چیرته محفوظ کړے دے؟

(الف)پهٔ جنت کښې (ب) پهٔ لوحِ محفوظ کښې (ج) پهٔ غارِحرا کښې

(۵) پهٔ دې سورت کښې د اصحاب الاخدودنه علاوه د کوموقامونو ذکر دے؟

(الف) آلِ فرعون (ب) اهلِ مَدیَن او آلِ فرعون (ج) عادیان او ثمودیان

**سوال ۲** د لاندې لیکلي شوي آیت نمبراوددې د متعلقه الفاظو کرښهٔ راکاږئ او میلاوئي کړئ۔

| | |
|---|---|
| آیت نمبر۴ | د رب نیول |
| آیت نمبر ۱۰ | خندقونو والا |
| آیت نمبر ۱۲ | د لښکرو خبر |
| آیت نمبر۱۴ | ډیرمحبت کولو والا |
| آیت نمبر ۱۷ | مؤومنانو ته تکلیف رسول |

**سوال ۳** د لاندې لیکلي شوو سوالونو مختصرجوابونه ورکړئ:

۱ ۔خلقو د مؤومن هلک د عظمت اقرارد کومې واقعې نه روسته وکړو؟

۲۔الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ مؤومن هلک ته څه خاص لوې نعمتونه ورکړي وو؟

. د مؤومن هلک د وژلو دپاره بادشاه څه طریقه غوره کړه چې بالآخرغه شهید شو؟

.د مؤومن هلک پهٔ شهادت باندې قام څه وکړل؟

.بادشاه د ایمان والا سره څه چل وکړو؟



کورنۍ سرګرمي(هله زله)

. پهٔ یوچاټ باندې د اورمنظرجوړکړئ اوددې سورت کښې آیت نمبر ۱۱(اِنّ الّذِینَ اٰمَنوا ـ ـ ـ ـالکَبِیر) د ترجمه سره پهٔ شخطئ سره ولیکئ۔

. پهٔ یوچاټ باندې دباغ منظرجوړکړئ اوددې سورت دآیت نمبر : ۱۱انّ الّذِین اٰمَنوا دترجمي سره پهٔ ښائسته خط سره۔ جمي سره پهٔ ښائسته خط سره ولیکئ۔۔

. پهٔ مسلمانانوباندې د کافرانوظلم اوستم یودوه۲ مزیدواقعي تلاش کړئ اووي لیکئ ۔

اولنۍ واقعه

دویمه واقعه

د استادلاس لیک سره دتاریخ : ـــــــــــــــ     د مورپلارلاس لیک سره د تاریخ : ــــــــــــــــــــــ

## سبق: ۱۵ سُوْرَةُ الطَّارِق (سورت نمبر: ۸۶، ټولي رکوع ګاني: ۱، ټول آیاتونه: ۱۷)

**شانِ نزول او پېژندګلو:** دا سورت پهٔ حضرت نبي کریم (ﷺ) باندې د مکي ژوند پهٔ منځ کښې نازل شوے دے، ددې سورت پهٔ شروع کښې الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ د آسمان او د شپې راختونکے ستورے قَسم بیانوي. انسان ددې حقیقت نه خبروي چې دا پهٔ دې دنیا کښې بےکاره نهٔ دے پېدا شوے. دا ډېر طاقت والا الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ پېدا کړے دے الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ به دا د مرګ نه روسته دویم ځل ژوندے کوي او ددې د عملونو حساب به اخلي د سورت پهٔ آخر کښې حضرت رسول اکرم (ﷺ) ته تسلي ورکوي چې تاسو (ﷺ) د کافرانو د سازشونو نه مه پریشانه کښېږئ.

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ
زۀ پناه غواړم پهٔ الله سره د شیطان رټلي شوي نه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ○
خاص د الله پهٔ نوم سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکبې دی

وَالسَّمَآءِ وَالطَّارِقِ ۙ۰۰۱ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا الطَّارِقُ ۙ۰۰۲ النَّجْمُ الثَّاقِبُ ۙ۰۰۳
قسم دی پهٔ اسمان او د شپې پهٔ راتلونکبې. او تهٔ څهٔ شې پوهه کړې چې د شپې راتلونکبی څهٔ شی دی؟ (دا) ځلېدونکی ستوری دی.
اِنْ كُلُّ نَفْسٍ لَّمَّا عَلَيْهَا حَافِظٌ ؕ۰۰۴ فَلْيَنْظُرِ الْاِنْسَانُ مِمَّ خُلِقَ ؕ۰۰۵
نشته هېڅ یو کس مګر پهٔ هغه باندې ځارونکی (ساتونکی) شته نو انسان دې وګوري چې دی د څهٔ شي نه پیدا کړی شوی دی؟
خُلِقَ مِنْ مَّآءٍ دَافِقٍ ۙ۰۰۶ يَّخْرُجُ مِنْ بَيْنِ الصُّلْبِ وَالتَّرَآئِبِ ؕ۰۰۷
دی د ټوپ وهونکو اوبو نه پیدا کړی شوی دی. چې راوځي د ملا او د سینو د هډوکو د مینځ نه.
اِنَّهٗ عَلٰى رَجْعِهٖ لَقَادِرٌ ؕ۰۰۸ يَوْمَ تُبْلَى السَّرَآئِرُ ۙ۰۰۹
بېشکه دغه (الله) د دغه (انسان) پهٔ بیا راژوندي کولو یقیناً قادر دی. پهٔ هغې ورځ چې د پټو څیزونو به (پهٔ کښې) څرګندونه کولی شي
فَمَا لَهٗ مِنْ قُوَّةٍ وَّلَا نَاصِرٍ ؕ۰۰۱۰ وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الرَّجْعِ ۙ۰۰۱۱
نو د دغه (انسان) دپاره به نهٔ هېڅ طاقت وي او نهٔ څوك مرسته کوونکبی. قسم دی پهٔ اسمان چې خاوند د باران دی.
وَالْاَرْضِ ذَاتِ الصَّدْعِ ۙ۰۰۱۲ اِنَّهٗ لَقَوْلٌ فَصْلٌ ۙ۰۰۱۳ وَّمَا هُوَ بِالْهَزْلِ ؕ۰۰۱۴
او پهٔ ځمکه چې د (زرغوني راوتلو دپاره) چاودېدلو والا ده. بېشکه دا (قرآن) یقیناً (د حق او باطل) بېلونکې وینا ده. او دا هیڅکله عبثه (او د ټوقو) خبره نهٔ ده.
اِنَّهُمْ يَكِيْدُوْنَ كَيْدًا ۙ۰۰۱۵ وَّاَكِيْدُ كَيْدًا ۚ۰۰۱۶ فَمَهِّلِ الْكٰفِرِيْنَ اَمْهِلْهُمْ رُوَيْدًا ۧ۰۰۱۷
بېشکه دوی (کافر) مکر او چل کوي، یو چل کول. او زهٔ هم یو پټ تدبیر کوم. نو ته (ﷺ) کافرانو ته مهلت ورکړه، ته دوی ته لږ مهلت ورکړه.

### د علم او عمل خبرې

۱. د هرکس سره حفاظت کونکي فرښتي مقرر دي. (سُوْرَةُ الطَّارِق، آیت: ۴)

۲۔ انسان لره خپل زان د ادنیٰ حيثيت والا پيژندل پکار دي۔ (سُوْرَةُ الطّارِق،آيتونه:۵تر۷)
۳۔کوم اللہ سُبْحَانَہ وَتَعَالٰی چي انسان لره اول پيدا کړے دے هغه پهٔ دويم ۲ زل واپس کولو باندي قادره دے۔ (سُوْرَةُ الطّارِق،آيت:۸)
۴۔د قيامت پهٔ ورځ به د خلقوټول رازونه ښکاره کړلے شي۔(سُوْرَةُ الطّارِق،آيت:۹)
۵۔ پهٔ آخرت کښي د اللہ سُبْحَانَہ وَتَعَالٰی پهٔ مقابله کښي نهٔ به د چا سره څه طاقت وي او نهٔ به څوک مددګاروي۔(سُوْرَةُ الطّارِق،آيت:۱۰)
۶۔ زمونږد کاميابۍ او ناکامۍ فيصله پهٔ قرآنِ حکيم باندي د عمل کولو او نهٔ کولو پهٔ اعتبار باندي ده۔
۷۔ قرآنِ حکيم چي چاه ته حق وئ هغه حق وي او چي چاه ته باطل وئ هغه باطل وي۔ (سُوْرَةُ الطّارِق،آيت:۱۳)
۸۔ قرآنِ حکيم د څه ټوقو يا معمولي کلام نهٔ دے۔ (سُوْرَةُ الطّارِق،آيت:۱۴)
۹۔ کافران د حق خلاف سازشونه کوي۔ (سُوْرَةُ الطّارِق،آيت:۱۵)
۱۰۔ د کافرانو سازشونه ناکام وي او هغوئ ته ضرور سزا ميلاويږي۔ (سُوْرَةُ الطّارِق،آيتونه:۱۲،۱۷)

## ځان پري پوهه کړئ او حل ئي کړئ

**سوال ۱:** پهٔ صحيح جواب باندي صحيح نښه (✓) ولګوئ:

(۱) د الطّارِق (د شپي راتلونکے) نه څه مراد دے؟
(الف) روښانه لمر (ب) پرقيدونکي سپوږمۍ (ج) زليدونکے ستورے

(۲) پهٔ هرکس د بره څوک مقرردي؟
(الف) فرښتي (ب) انسانان (ج) پيران

(۳) ددي سورت پهٔ شروع کښي پهٔ کومو څيزونو قسمونه ذکرشوي دي؟
(الف) شپه او ورځ (ب) لمر او سپوږمۍ (ج) آسمان او ځمکه

(۴) قرآنِ حکيم څه شے دے؟
(الف) د فرښتو خبري (ب) يو فيصله کونکے کلام دے (ج) د انسان خبري دي

(۵) حضرت نبي کريم (ﷺ) ته د کافرانو د کومي خبري د نهفريشانه کښيدلو تسلي ده؟
(الف) ددوئ طاقت (ب) ددوئ شمير (ج) ددوئ سازشونه

**سوال ۲** د لاندي ليکلي شوي آيت نمبراو ددي پهٔ متعلقه الفاظو کښي يو شانته رنګ ورکړئ۔

| | |
|---|---|
| آيت نمبر ۲ | شپه راتلونکي |
| آيت نمبر ۴ | لګ شانته مهلت |
| آيت نمبر ۹ | محافظ |
| آيت نمبر ۱۳ | راز |
| آيت نمبر ۱۷ | فيصله کونکے کلام |

**ال ۳ د لاندې لیکلي شوو سوالونو مختصر جوابونه ورکړئ:**

. پهٔ دې سورت کښې د کوموشیزونو قسمونه ذکرشوي دي؟

. پهٔ دې سورت کښې د قیامت کوم کیفیات بیان شوي دي؟

. پهٔ دې سورت کښې د قرانِ حکیم کوم صفات یان شوي دي؟

. ستورې ته اَلطّارِق ولې وايي؟

. حضرت  نبي کریم (ﷺ) د کافرانو پهٔ باره کښې څه تلقین فرمايېلے دے؟



**کورنۍ سرگرمی (هله زله)**

پهٔ آسمان باندې د زلیدونکو ستورو منظر پهٔ یو چاټ باندې جوړ کړئ۔ د ستورو پهٔ فائدو باندې یو درې خبرې ولیکئ۔

۲ ـ آسمان، ځمکه او انسان د الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ د قدرت نښاني دي د الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ د قدرت نوري لس نښاني وليکئ.

۳ ـ "مونږ به د قيامت په ورځ دويم ځل ژوندي کښېږو ، "دا حقيقت په قرآنِ حکيم کښې په څو مقاماتو باندې بيان شوے دے د دوو مقامونو نشاندهي وکړئ.

| اول مقام | دويم مقام |
|---|---|
| د سورت نوم:---------- | د سورت نوم:------------ |
| آيت نمبر:-------------- | آيت نمبر:------------ |

د اسـتاد لاس ليـک سـره د تـاريخ: ـــــــــ . . . د مـورپلار لاس ليـک سـره د تـاريخ: ـــــــــ . . .

## اَهمي نُکتي

## سبق: ۱۲ سُورَۃ الاَعلیٰ (سورت نمبر: ۸۷، ټول رکوع ګاني: ۱، ټول آياتونه: ۱۹)

شانِ نزول او پېژندګلو: دا سورت پۀ حضرت نبي کريم (ﷺ) باندې د مکي ژوند پۀ ابتدائي دور کښې نازل شوے دے رسول الله (ﷺ) به د جُمعِې اود اخترونو پۀ مونځکښې پۀ اول رکعت کښې سُورَۃ الاَعلیٰ او پۀ دويم رکعت کښې سُورَۃ الغَاشِيَه تلاوت کولو ـ (صحيح مسلم) د وترو پۀ مونځ اولني رکعت کښې حضرت نبي کريم (ﷺ) د سُورَۃ الفَاتِحه نه روسته سُورَۃ الاَعلیٰ تلاوت کولو او پۀ دويم رکعت کښې به ئې سُورَۃ الکَافِرون او پۀ رکعت کښې به ئې سُورَۃ الاِخلَاص تلاوت کولو ـ (مسند احمد) ددې سورت شروع ددې حکم نه شوي ده چې د خپل اوچت شان والا رب پاکي بيان کړه حضور اکرم (ﷺ) ددې آيت د نازلېدلو نه روسته پۀ سجده کښې سبحَانَ رَبِّیَ الاَعلیٰ (زما اوچت شان والا رب پاک دے) ويلو حکم وکړو ـ (مسند احمد) د پاکۍ مطلب دا دے چې زمونږه رب د هرکمي ،عيب ،اونقصان نه پاک دے د الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ د قدرتونو بيان هم شوے دے حضرت نبي کريم (ﷺ) ته فرمايېلي شوي دي چې مونږ تاسو (ﷺ) ته داسي قرآن لوستلے دے چې ستاسو نه به هيڅ کله هېرنشي مګر چې الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ اوغواړي بيائې د کامياب انسان ذکر کړے دے د سورت پۀ آخر کښې د دنيا او آخرت حقيقت بيان کړے دے او ښودلي دي چې د آخرت د مخکينو انبياء کِرامو عَلَيْهِمِ السَّلَام پۀ تعليماتو کښې هم ؤو ـ

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ
زۀ پناه غواړم پۀ الله سره د شيطان رټلي شوي نه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ○
خاص د الله پۀ نوم سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکښی دی

سَبِّحِ اسْمَ رَبِّکَ الْاَعْلَىۙ ۰۰۱ الَّذِيْ خَلَقَ فَسَوّٰی ۪ ۰۰۲
ته پاکي بيان کړه د خپل رب د نوم چې د ټولو اوچت (شان والا) دی۔ هغه چې پيدا ئې کړل ټول شيان، بيا يې (پۀ هرلحاظ) ښه برابر کړل۔
وَالَّذِيْ قَدَّرَ فَهَدٰی ۪ ۰۰۳ وَالَّذِيْٓ اَخْرَجَ الْمَرْعٰى ۪ ۰۰۴ فَجَعَلَهٗ غُثَآءً اَحْوٰی ؕ ۰۰۵
او هغه (رب) چې اندازه ئې وکړه، پس (هغۀ ته يې) لاره وښووله۔ او هغه ذات چې (د ځمکي) نه ئې تازه ګياه را ايستلې ده۔ بيا ئې هغه وګرځوله وچه توره۔

سَنُقْرِئُكَ فَلَا تَنْسَىٰٓ ٠٠٦ اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ ۭ اِنَّهٗ يَعْلَمُ الْجَهْرَ

زر ده چې مونږ به تاته(ﷺ) (قرآن) ولولو، نو ته به ئې نۀ هېروې مګر هغه چې اللّٰه ئې وغواړي، بېشکه دغه (اللّٰه) پۀ هره ښکاره (خبره) پوهېږي

وَمَا يَخْفٰى ٠٠٧ ۭ وَنُيَسِّرُكَ لِلْيُسْرٰى ٠٠٨ ښ فَذَكِّرْ

او پۀ هغه څه چې پټۀ (خبره) وي۔ او مونږ (پۀ دین باندې د عمل د پاره) به تا ته اساني لارې ته اسانتیا درکوو۔ نو تۀ (ﷺ) نصیحت (پند) کوه

اِنْ نَّفَعَتِ الذِّكْرٰى ٠٠٩ ۭ سَيَذَّكَّرُ مَنْ يَّخْشٰى ٠٠١٠ ۙ وَيَتَجَنَّبُهَا الْاَشْقَى ٠٠١١ ۙ

که نصیحت کول نفع رسوي۔ زر ده چې هغه څوك به پند واخلي چې (د اللّٰه نه) وېرېږي۔ او د دغه (نصیحت) نه به د ټولو بدبخته ډډه کوي۔

الَّذِيْ يَصْلَى النَّارَ الْكُبْرٰى ٠٠١٢ ۚ ثُمَّ لَا يَمُوْتُ فِيْهَا وَلَا يَحْيٰى ٠٠١٣ ۭ قَدْ اَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى ٠٠١٤ ۙ

هغه چې د ټولو لوی اور ته به ننوځي۔ بیا به دی پۀ دغه (اور) کښې نۀ مري او نۀ به ښه ژوند تیروي۔ یقیناً هغه څوك کامیاب شو چې پاك شو۔

وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهٖ فَصَلّٰى ٠٠١٥ ۭ بَلْ تُـؤْثِرُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ٠٠١٦ ښ وَالْاٰخِرَةُ خَيْرٌ

او د خپل رب نامه ئې یاده کړه، پس مونځ ئې وکړو ۔بلکې تاسو (پۀ اخرت باندې) دنیايي ژوند غوره کوئ ۔حال دا چې اخرت ډېر غوره

وَّاَبْقٰى ٠٠١٧ ۭ اِنَّ هٰذَا لَفِي الصُّحُفِ الْاُوْلٰى ٠٠١٨ ۙ صُحُفِ اِبْرٰهِيْمَ وَمُوْسٰى ٠٠١٩ ۧ

او (تل) ترتله دی ۔بېشکه دا (تعلیم) یقیناً پۀ ړومبنیو صحیفو کښې هم دې د ابراهیم(علیه السلام) او موسی(علیه السلام) پۀ صحیفو کښې۔

اَهمي نُکتي

## د علم او عمل خبرې

۱۔ د الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ ذات د هرکمي اوضرورت نه پاک دے هغهٔ هدايت والا دے۔ (سُوْرَةَ الاَعلٰی، آيتونه: ۳، ۱)

۲۔ الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ رسول الله (ﷺ) ته د قرآنِ حکيم په داسي اندازکښې په خپله تعليم ورکړےووچي په دېکښې د عام انسانانو پشان په خپله د نبي (ﷺ) نه د هيرېدلو امکان نهٔ وو۔ (سُوْرَةَ الاَعلٰی، آيت: ۲)

۳۔ د الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ په دېن باندې عمل کول آسان دي۔ (سُوْرَةَ الاَعلٰی، آيت: ۸)

۴۔ مونږله يوبل ته د ښو خبرو نصيحت کول پکار دي۔ (سُوْرَةَ الاَعلٰی، آيت: ۹)

۵۔ د نصيحت نه فائده هغه کس اوچتولےشي چي د الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ د خفګان نه ويرېږي۔ (سُوْرَةَ الاَعلٰی، آيت: ۱۰)

۶۔ د الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ د نصيحت نه انکارکولو والا ناکام دي ۔ (سُوْرَةَ الاَعلٰی، آيت: ۱۱)

۷۔ خپل نفس پاک ساتلو والا، الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ يادولو والا ، اود مونځ اداکولو والا کامياب دي۔ (سُوْرَةَ الاَعلٰی، آيتونه: ۱۵، ۱۴)

۸۔ مونږ د دنيا په ځاے آخرت له غورکول پکار دي۔ (سُوْرَةَ الاَعلٰی، آيتونه: ۱۷، ۱۲)

۹۔ د آخرت نعمتونه ډېر ښه او هميشه ناقي کېښېدلو والا دي۔ (سُوْرَةَ الاَعلٰی، آيت: ۱۷)

۱۰۔ د قرآنِ حکيم پشان په اول نازل شوي کتابونوکښې هم د آخرت د يادېدلوذکرووو۔ (سُوْرَةَ الاَعلٰی، آيت: ۱۹)

## ځان پرې پوهه کړئ او حل ئې کړئ

سوال ۱: په صحيح جواب باندې صحيح نښه (✓) ولګوئ:

(۱) ددې سورت په شروع کښې څه حکم شوےدے؟

(الف) نصيحت کول (ب) د الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ د پاکۍ بيان (ج) مونځ کول

(۲) حضرت نبي کريم (ﷺ) ته قرآنِ حکيم يادول د چاه ذمواري ده ؟

(الف) صحابهٔ کرام رضی الله عنهم (ب) فرښتې (ج) الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ

(۳) دې سورت کښې د دوزخ د عذاب کوم کيفيت بيان شوےدے؟

(الف) د اوسپنو په پلکونو باندې به وهلےشي (ب) ويني اوزوي به پرې څکولےشي

(ج) دوزخيان به نهٔ په دوزخ کښې مري اونهٔ به ئې ژوند د خوشحالۍ وي

(۴) چاچي پاکوالے اختيارکړے هغه څه شےشو؟

(الف) بدقسمته (ب) ناکام (ج) کامیاب

(۵) ددې سورت پۀ اولنې آیت باندې حضرت نبي کریم (ﷺ) ته پۀ سجده کښې د څه ویلوحکم شوے دے؟

(الف) سَمِعَ اللهُ لِمَن حَمِدَه (ب) سبحان رَبِّیَ العظِیم (ج) سبحَانَ رَبِّیَ الاَعلیٰ

سوال ۲: د لاندې لیکلې شوې آیت نمبراوددې د متعلقه الفاظونه کرښۀ راکاږئ اومیلاوئې کړئ۔

| | |
|---|---|
| آیت نمبر ۱ | ګیا |
| آیت نمبر ۴ | د حضرت ابراهیم (علیه السلام) |
| آیت نمبر ۸ | اوچت شان والا رب |
| آیت نمبر ۱۲ | د عمل کولو والا دپاره آساني |
| آیت نمبر ۱۹ | غټ اور |

سوال ۳ د لاندې لیکلې شووسوالونومختصرجوابونه ورکړئ:

۱۔ د الله سُبْحَانَه وَتَعَالیٰ تسبیح یعني پاکي بیانولو نه څه مراد ده؟

۲۔ پۀ دې سورت د الله سُبْحَانَه وَتَعَالیٰ د کوموقدرتونوبیان دے؟

۳۔ د نصیحت نه فائده کوم خلق حاصله وي؟

۴۔ د کامیاب خلقوکوم صفات بیان شوي دي؟

۵۔ د دنیاپۀ مقابله کښې آخرت له اهمیت ولې دے؟



## کورنۍ سرګرمی(هله زله)

خپل ټول یادشوي سورتونه خپل کوروالا ته واوروئ اوددې فهرست جوړکړئ اوپهٔ دېکښې د اضافي کولوکوشش وکړئ

.د خپل کوروالا نه د مونځ فائدې معلومې کړئ اووي ليکئ اوخپلودوستانوته ئې وښايئ۔

یوفهرست جوړکړئ چې نن ستاسو استاذانو تاسو ته څه نصیحتونه کړي دي۔



د استادلاس ليک سره دتاريخ:______ . . . د مورپلارلاس ليک سره د تاريخ :________ . .

## سبق:۱۷ سُوْرَةُ الغَاشِيَة (سورت نمبر:۸۸،ټول رکوع ګاني:۱،ټول آياتونه :۲۶)

شانِ نزول اوپيژندګلو: دا سورت پۀ حضرت نبي کريم (ﷺ) باندې د مکې ژوند پۀ منځني دورکښې نازل شوےوو حضرت نبي کريم (ﷺ) به د جُمُعې اود اخترونوپۀ مونځ کښې پۀ اول رکعت کښې سُوْرَةَ الاَعلىٰ اوپۀ دويم رکعت کښې سُوْرَةَ الغَاشِيَه تلاوت کولو .(صحيح مسلم)

غاشيه د قيامت يو نوم دے ددې سورت پۀ شروع کښې الله سُبْحَانه وَتَعَالىٰ د قيامت ذکرکړےدےپۀ دې ورځ به کافراوبدکاره خلق د خپلوبدوعملونواو دهغې نتيجولېدلونه پۀ ويره شي چې کله د الله سُبْحَانه وَتَعَالىٰ تعبدارد جنت پۀ نعمتونوکښې وي بياد الله سُبْحَانه وَتَعَالىٰ د بےشميره نشانونه څلور۴نشاني يعني اوبن،اسمان،غر،اودزمکې ذکرراغلےدے پۀ دې باندې د سوچ اوفکردعوت ورکړےشوے دے ددېنه علاوه د حضورِاکرم (ﷺ) پۀ ذريعه د دين دعوت ورکونکي پۀ دې خبره پوهه کوي چې ددوئ کارحق رسول دې پۀ بل منل نۀ دي .د سورت پۀ آخرکښې د حساب وکتاب د تياری نصيحت ورکړےشوےدے .

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ
زۀ پناه غواړم پۀ اَللّٰه سره د شيطان رټلي شوي نه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ○
خاص د اللّٰه پۀ نوم سره(شروع کوم) چې ډېرزيات مهربان، بې حده رحم کوونکې دی

هَلْ اَتٰىكَ حَدِيْثُ الْغَاشِيَةِ ۰۰۱ وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ خَاشِعَةٌ ۰۰۲ عَامِلَةٌ

ايا تا ته (يعني خلقو لره) د پټوونکي (قيامت) خبر راغلی دی؟ څه مخونه به پۀ دغې ورځ کښې خوار وي .(او)سخت کار کوونکښې،

نَّاصِبَةٌ ۰۰۳ تَصْلٰى نَارًا حَامِيَةً ۰۰۴ تُسْقٰى مِنْ عَيْنٍ اٰنِيَةٍ ۰۰۵

ستړي کېدونکښې به وي .ډېر ګرم اور ته به ننوځي .پۀ دوی به د ډېرې ګرمې چينې نه اوبه څښولی شي .

لَيْسَ لَهُمْ طَعَامٌ اِلَّا مِنْ ضَرِيْعٍ ۰۰۶ لَّا يُسْمِنُ وَلَا يُغْنِيْ مِنْ جُوْعٍ ۰۰۷

د دوی دپاره به طعام نه وي مګر (سيبوا)د اغزني ترخې ونې نه .چې نۀ(به دا خوراک) څربول کوي او نۀ به هېڅ لوږه لرې کوي .

وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ نَّاعِمَةٌ ۰۰۸ لِّسَعْيِهَا رَاضِيَةٌ ۰۰۹ فِيْ جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ۰۰۱۰

څه مخونه به پۀ دغې ورځ کښې تروتازه وي .دخپل (نيک)کوشش دوجې نه به راضي (خوشاله) وي .پۀ اوچت جنت کښې به وي .

لَّا تَسْمَعُ فِيْهَا لَاغِيَةً ۰۰۱۱ فِيْهَا عَيْنٌ جَارِيَةٌ ۰۰۱۲ فِيْهَا سُرُرٌ مَّرْفُوْعَةٌ ۰۰۱۳ وَّاَكْوَابٌ مَّوْضُوْعَةٌ ۰۰۱۴

دوی به پۀ دغه (جنت) کښې هېڅ بېکاره خبره نۀ اوري .پۀ دغه (جنت) کښې روانه چينه ده .پۀ دغه (جنت) کښې اوچت تختونه دي .او (پۀ اندازې سره) اېښودل شوي جامونه دي .

وَّنَمَارِقُ مَصْفُوْفَةٌ ۙ۰۰۱۵ وَّزَرَابِيُّ مَبْثُوْثَةٌ ؕ۰۰۱۶ اَفَلَا يَنْظُرُوْنَ اِلَى الْاِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ ۫۰۰۱۷

او په قطار کې ایښودل شوي بالښتونه دي۔ او غوړول شوي اعلی قالیلونه دي۔ آیا نو دوی اوښانو ته نه ګوري چې دوی څرنګه پیدا کړی شوي دي؟

وَاِلَى السَّمَآءِ كَيْفَ رُفِعَتْ ۫۰۰۱۸ وَاِلَى الْجِبَالِ كَيْفَ نُصِبَتْ ۫۰۰۱۹ وَاِلَى الْاَرْضِ كَيْفَ سُطِحَتْ ۫۰۰۲۰

او اسمان ته چې دی څنګه اوچت کړی شوی دی؟ او غرونو ته چې دوی څنګه ودرول شوي دي؟ او ځمکې ته چې څنګه غوړول شوې ده؟

فَذَكِّرْ ۫ؕ اِنَّمَاۤ اَنْتَ مُذَكِّرٌ ؕ۰۰۲۱ لَسْتَ عَلَيْهِمْ بِمُصَيْطِرٍ ۙ۰۰۲۲

نو ته (علیه السلام) پند ورکړه، ببشکه ته (علیه السلام) خو یواځې پند ورکوونکی ئې۔ ته (علیه السلام) په دوی باندې مسلط کړی شوی نه ئې۔

اِلَّا مَنْ تَوَلّٰى وَكَفَرَ ۙ۰۰۲۳ فَيُعَذِّبُهُ اللّٰهُ الْعَذَابَ الْاَكْبَرَ ؕ۰۰۲۴ اِنَّ اِلَيْنَاۤ اِيَابَهُمْ ۙ۰۰۲۵

۔مګر هغه څوک چې (د ایمانه) وګرځي او کافر شي۔ نو الله به دهٔ ته عذاب ورکړي د ټولو لوی عذاب۔ بېشکه خاص مونږ ته د دوی بېرته راتګ دی.

ثُمَّ اِنَّ عَلَيْنَا حِسَابَهُمْ ۠۰۰۲۶

بیا یقیناً د دوی حساب زمونږ په غاړه دی۔

## د علم او عمل خبرې

۱۔ مونږ له قیامت همیشه یاد ساتل پکار دي۔ (سُوْرَةَ الغاشیه،آیت:۱)

۲۔ د الله سُبْحَانَه وتَعَالىٰ د نافرمانۍ کولو والا مخونه به د قیامت په ورځ د شرم د لاسه ښکته وي۔ (سُوْرَةَ الغاشیه،آیت:۲)

۳۔ د خلقود عملونو نتیجې به د قیامت په ورځ په مخونو ښکاره وي۔ (سُوْرَةَ الغاشیه،آیتونه:۲،۸)

۴۔ د الله سُبْحَانَه وتَعَالىٰ د نافرمانو دپاره به په آخرت کښې سخت تکلیفونه وي۔ (سُوْرَةَ الغاشیه،آیتونه:۳،۷)

۵۔ د الله سُبْحَانَه وتَعَالىٰ تعبداري کولو والاؤو مخونه به د قیامت په ورځ د خوشحالۍ نه تروتازه وي۔ (سُوْرَةَ الغاشیه،آیت:۸)

۶۔ د الله سُبْحَانَه وتَعَالىٰ تعبداربه د جنت په بهترینو نعمتونو کښې وي۔ (سُوْرَةَ الغاشیه،آیتونه:۹تا۱۲)

۷۔ اوښان،اسمان،غرونه،ځمکه او داسې نورې نشانې د الله سُبْحَانَه وتَعَالىٰ د پېژندلو ذریعه ده۔ (سُوْرَةَ الغاشیه،آیتونه:۱۷تا۲۰)

۸۔ د حضور نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) د دین دعوت ورکول او وس زمونږ ذمواري ده۔ (سُوْرَةَ الغاشیه،آیت:۲۱)

۹۔ زمونږه ذمواري د دین دعوت ورکول دي په خلقو باندې په زوره منل نه دي۔ (سُوْرَةَ الغاشیه،آیت:۲۲)

۱۰۔ د قیامت په ورځ به د الله سُبْحَانَه وتَعَالىٰ په دربار کښې حساب وي۔ (سُوْرَةَ الغاشیه،آیتونه:۲۵،۲۶)

## ځان پرې پوهه کړئ او حل ئې کړئ

سوال۱ په صحیح جواب باندې صحیح نښه (✓): ولګوئ

(۱) غاشیه د چاه یوبل نوم دے؟

(الف) جنّت (ب) قیامت (ج) جهنّم

(۲) پهٔ دنیاکښې چې کوم عملونه شوي دي ددې نتیجې به پهٔ آخرت کښې چیرته ښکاره کښېږي؟

(الف) پهٔ زړونو (ب) پهٔ لاسونو (ج) پهٔ مخونو

(۳) کافرانوته به پهٔ دوزخ کښې د څکلودپاره څه ورکولے شي؟

(الف) جوشولي شوي اوبه (ب) جوشولي شوي تیل (ج) ترخ شهد، ګبین

(۴) پهٔ دې سورت کښې د کائینات څومره نشاني ذکردي؟

(الف) دوه ۲ (ب) دري ۳ (ج) څلور ۴

(۵) پهٔ آخرت کښې د انسان حساب اخستل د چاه پهٔ ذمه دي؟

(الف) فرښتي (ب) الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ (ب) انبیاءکرام عَلَیْهِمِ السَّلَام

**سوال ۲** د لاندې لیکلي شوي آیت نمبراوددې پهٔ متعلقه الفاظو کښې یوشانته رنګ ورکړئ

| | | | |
|---|---|---|---|
| | آیت نمبر ۱ | اوښ | |
| | آیت نمبر ۵ | نصیحت کولووالا | |
| | آیت نمبر ۱۳ | اوچت اوچت تختونه | |
| | آیت نمبر ۱۷ | پټولووالا قیامت | |
| | آیت نمبر ۲۱ | د خوټ کولے شووا اوبه چینهٔ | |

**سوال ۳** د لاندې لیکلي شووسوالونومختصرجوابونه ورکړئ:

۱۔ پهٔ دې سورت کښې د نافرمانو څه انجام بیان شوےدے؟

۲۔ پهٔ دې سورت کښې دتعبداروڅه انجام بیان شوےدے؟

۳۔ پهٔ دې سورت کښې د کائنات د کومونښانوذکرشوےدے؟

. د دین د دعوت پهٔ حواله سره زمونږ څهٔ ذ مواري ده؟

. د دین دعوت دروغژن کولو والا څه انجام بیان شوے دے؟



## کورنۍ سرګرمي(هله زله)

. ددې سورت آیتونه: ۱۷ نه، ۲۰ د مظمون مطابق پهٔ یو چاټ باندې تصویري خاکه جو ړه کړئ

. د قیامت دپاره پهٔ قرآنِ حکیم کښې د استعمال شوونوموونه څه پنځهٔ نومونه تلاش کړئ او وې لیکئ .

- ۲ -

-۳

. مونږه د خپل کلاس ملګرو سره چې کومې ښې خبرې کوو ـ وې لیکئ ـ

د استادلاس لیک سره دتاریخ :__________ . .      د مورپلارلاس لیک سره د تاریخ :______ . .

اَهمی نُکتي

## سبق:۱۸ سُورَۃ الفَجر (سورت نمبر:۸۹،ټولي رکوع ګاني:۱ټول آیاتونه : ۳۰)

**شانِ نزول اوپېژندګلو** دا سورت پۀ حضرت نبي کریم ﷺ باندې د مکي ژوند پۀ منځني دور کښې نازل شوے دے داهغه دورؤوچې مشرکانوبه پۀ مسلمانانوباندې ظلم کولو ـ ددې سورت پۀ ابتدا کښې الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ د عقلمندو خلقو مختلف قسمونه بیان کړي دي د پخوانو قامونو یعني قام عاد ،قام ثمود ،اوفرعونیانو نافرمانئ اوپۀ هغوئ باندې د الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ د عذاب ذکرد عبرت پۀ طور شوے دے، بیاد انسان د کمزورئ بیان دے چې دا پۀ نعمتونو باندې خوشحالېږي اوپۀ غریبئ خفه کېږي بیا الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ د انسان د ځوکوتاهیانو یعني د یتیمانانو عزت نۀ کول ،پۀ محتاجانو خوراک نۀ کول ،د وِراثت مال خوړل اود مال سره د ډیرمحبت کولو بیان دے د سورت پۀ آخر کښې د قیامت منظربیان شوے دے چې د قیامت پۀ ورځ به ګناهګار انسان پۀ خپل ژوند باندې پښېمانه وي پۀ دې ورځ به د عذاب اختیار صرف د الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ سره وي چې د ایمان والا د پاره به د الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ د رضا اود جنت د داخلیدلو اعلان وي ـ

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ
زۀ پناه غواړم پۀ الله سره د شيطان رټلي شوي نه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ○
خاص د الله پۀ نوم سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكبنى دى

وَالْفَجْرِ ۙ ٠٠١ وَلَيَالٍ عَشْرٍ ۙ ٠٠٢ وَّالشَّفْعِ وَالْوَتْرِ ۙ ٠٠٣ وَالَّيْلِ اِذَا يَسْرِ ۚ ٠٠٤

قسم دى پۀ فجر (سبا) باندې اوپۀ لسو شپو باندې. اوپۀ جفت او طاق باندې. اوپۀ شپه باندې كله چې روانه وي. آيا پۀ دغو

هَلْ فِيْ ذٰلِكَ قَسَمٌ لِّذِيْ حِجْرٍ ۭ ٠٠٥

(قسمونو كې خاوند د عقل لره (كوم غټ) قسم شته؟

اَلَمْ تَرَكَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِعَادٍ ۙ ٠٠٦ اِرَمَ ذَاتِ الْعِمَادِ ۙ ٠٠٧

آيا تا نۀ دې كتلي چې ستا رب څه وكړل د "قام عاد" سره؟ چې ارم (والاورته وايي) د ستنو والا (پشان قد او محلات) يې وو ـ

الَّتِيْ لَمْ يُخْلَقْ مِثْلُهَا فِي الْبِلَادِ ۙ ٠٠٨ وَثَمُوْدَ الَّذِيْنَ جَابُوا الصَّخْرَ بِالْوَادِ ۙ ٠٠٩

هغه چې پۀ ښارونو كښې د دوى پۀ مثل نۀ وو پيدا كړى شوي ـ او د ثمود يانو سره (ئې څه سلوک وكړلو) هغه چې پۀ دره كښې ئې كټې غوڅې كړې (تراشلي) وې؟

وَفِرْعَوْنَ ذِي الْاَوْتَادِ ۙ ٠٠١٠ الَّذِيْنَ طَغَوْا فِي الْبِلَادِ ۙ ٠٠١١ فَاَكْثَرُوْا فِيْهَا الْفَسَادَ ۙ ٠٠١٢

او د ميخونو والا فرعون سره (ئې څه وكړل) ـ هغه كسان چې دوى پۀ ښارونو كښې سركشي كړې وه ـ نو پۀ دغو كښې ئې فساد ډېر كړى وو ـ

فَصَبَّ عَلَيْهِمْ رَبُّكَ سَوْطَ عَذَابٍ ۚ ٠٠١٣ اِنَّ رَبَّكَ لَبِالْمِرْصَادِ ۭ ٠٠١٤

نو ستا رب پۀ دوى باندې د عذاب چابک (كوړه) نازله كړه ـ بېشكه ستا رب يقيناً (د سركشو) پۀ ځاى د انتظار كښې دى ـ

فَاَمَّا الْاِنْسَانُ اِذَا مَا ابْتَلٰىهُ رَبُّهٗ

نو انسان (دا حال) دى، كله چې دۀ لره خپل رب وازمايي،

فَاَكْرَمَهٗ وَنَعَّمَهٗ ۙ فَيَقُوْلُ رَبِّيْٓ اَكْرَمَنِ ۭ ٠٠١٥ وَاَمَّآ اِذَا مَا ابْتَلٰىهُ

پس دۀ ته عزت وركړي او دۀ ته نعمت وركړي، نو دى وايي: زما رب ما ته عزت راكړو ـ او خو هر كله چې دى وازمايي

فَقَدَرَ عَلَيْهِ رِزْقَهٗ ۙ فَيَقُوْلُ رَبِّيْٓ اَهَانَنِ ۚ ٠٠١٦ كَلَّا بَلْ لَّا تُكْرِمُوْنَ الْيَتِيْمَ ۙ ٠٠١٧

(داسي) چې پۀ دۀ باندې د دۀ رزق تنګ كړي، نو دى وايي: زما رب زۀ سپك كړم ـ هيڅ كله (داسې) نۀ ده، بلكښې تاسو د يتيم (سره احسان او د هغه) عزت نۀ كوئ

وَلَا تَحٰٓضُّوْنَ عَلٰي طَعَامِ الْمِسْكِيْنِ ۙ ٠٠١٨ وَتَاْكُلُوْنَ التُّرَاثَ اَكْلًا لَّمًّا ۙ ٠٠١٩

او مسكين ته پۀ طعام وركولو يو بل ته ترغيب نه وركوئ ـ او تاسو د ميراث (پردى) مال خورئ، پۀ خوړلو ټولو سره ـ

وَّتُحِبُّوْنَ الْمَالَ حُبًّا جَمًّا ۭ ٠٠٢٠ كَلَّآ اِذَا دُكَّتِ الْاَرْضُ دَكًّا دَكًّا ۙ ٠٠٢١

او تاسو د مال سره مينه كوئ، ډېره زياته مينه ـ (داسې) نۀ ده ـ كله چې ځمكه وټكولى شي، پۀ ټكولو ماتولو سختو سره ـ

وَّجَآءَ رَبُّكَ وَالْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا ۚ ٠٠٢٢

او ستا رب راشي او ملايك قطار قطار (راشي) ـ

وَجِايْٓءَ يَوْمَىِٕذٍ بِجَهَنَّمَ ۙ يَوْمَىِٕذٍ يَّتَذَكَّرُ الْاِنْسَانُ وَاَنّٰى لَهُ الذِّكْرٰى ۭ ٠٠٢٣

او پۀ دغې ورځ كښې به دوزخ راوستى شي ـ پۀ دغې ورځ كښې به انسان نصيحت (او پند) اخلي او (پۀ دغه وخت كښې) د دۀ دپاره نصيحت به څنګه (نفعمن) وي ـ

يَقُوْلُ يٰلَيْتَنِيْ قَدَّمْتُ لِحَيَاتِيْ ۚ ۰۰۲۴ فَيَوْمَئِذٍ

دی به وايي: ای کاشکې ما د خپل ژوند دپاره مخکې (څه نېك عملونه) لېږلي وی ـ نوپۀ دغې ورځ کښې به

لَّا يُعَذِّبُ عَذَابَهٗ اَحَدٌ ۙ ۰۰۲۵ وَّلَا يُوْثِقُ وَثَاقَهٗ اَحَدٌ ؕ ۰۰۲۶

د دۀ (يعنې د رب) د عذاب پۀ شان هيڅوك عذاب نۀ ورکوي ـ او د دۀ د تړلوپۀ شان به هيڅوك تړل نۀ کوي ـ

يٰاَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَىِٕنَّةُ ۖۗ ۰۰۲۷ ارْجِعِيْٓ اِلٰى رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً ۚ ۰۰۲۸

ای اطمينان نيوونکيه نفسه! تۀ وګرځه خپل رب ته، (پۀ داسې حال کښې) چې خوشاله او راضي کړی شوی به ئې ـ

فَادْخُلِيْ فِيْ عِبٰدِيْ ۙ ۰۰۲۹ وَادْخُلِيْ جَنَّتِيْ ۠ ۰۰۳۰

نو تۀ زماپۀ بنده ګانو کښې داخل شه ـ او زما جنت ته ننوځه ـ

## د علم اوعمل خبرې

۱ـ بدان خلق به د الله سُبۡحَانه وَتَعَالىٰ د نيولو نه بچ نشي ـ (سُوۡرَۃ الفجر، ايتونه: ۶تا۱۳)

۲ـ مونږه لره د پخوانوقامونو نه سبق حاصلول پکاردي ـ (سُوۡرَۃ الفجر، آيتونه: ۶تا۱۳)

۳ـ مونږلره پۀ نعمتونود الله سُبۡحَانه وَتَعَالىٰ شکراداکول پکاردي ـ (سُوۡرَۃ الفجر، آيت: ۱۵)

۴ـ مونږلره پۀ امتحانونواوغريبۍ باندې صبرکول پکاردي ـ (سُوۡرَۃ الفجر، آيت: ۱۶)

۵ـ پۀ آخرت باندې يقين نه کولو والا پۀ غلطوکارونوکښې مبتلاوي ـ مثلًا د يتيم عزت نۀ کول، د مسکين پۀ خوراک باندې تيزي نۀ ورکول، د وراثت مال خوړل او د مال سره محبت کول ـ (سُوۡرَۃ الفجر، آيتونه: ۱۷تا۱۸)

۶ـ مونږلره د يتيمانانو، محتاجانواوضرورتمندوسره ښه کول پکاردي ـ (سُوۡرَۃ الفجر، آيتونه: ۱۷تا۱۸)

۷ـ د قيامت پۀ ورځ به نۀ نصيحت فائده ورکوي اونۀ به د عمل د اصلاح موقع ميلاوشي ـ (سُوۡرَۃ الفجر، آيت: ۲۳)

۸ـ د قيامت پۀ ورځ به ګناهګارخلق پۀ تيره شوي د غفلت والا ژوندباندې افسوس کوي ـ (سُوۡرَۃ الفجر، آيت: ۲۴)

۹ـ مونږلره د آخرت پۀ شرمندګۍ اود دوزخ د عذابونه ځ بچيدلوفکرپکاردے ـ (سُوۡرَۃ الفجر، آيتونه: ۲۵تا۲۶)

۱۰ـ مونږلره د الله سُبۡحَانه وَتَعَالىٰ د رضااود جنت د حاصلولوکوشش پکاردے ـ (سُوۡرَۃ الفجر، آيتونه: ۲۷تا ۳۰)

## ځان پرې پوهه کړئ اوحل ئې کړئ

سوال ۱ پۀ صحيح جواب باندې صحيح نښه (✓) ولګوئ:

(۱) پۀ دې سورت کښې پۀ څه شي قسم خوړلے شوے دے؟

(الف) ۱۰ لس شپې (ب) ۹ شپې (ج) ۱۰ لس مياشتې

(۲) پۀ دې سورت کښې د فرعون متعلق څه بیان شوے دے؟

(الف) ګټوتراشلوولا (ب) ستنوولا (ج) میخونوولا

(۳) چې کله الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ پۀ یوناشکره انسان باندې ازمائش کوي اوپۀ دې باندې ددې رزق کم کړي ،نوانسان څه وايي؟

(الف) الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ زۀ ذلیله کړم (ب) الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ ماته عزت راکړو (ج) الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ ماته نعمت راکړو

(۴) د قیامت پۀ ورځ به د زمکې سره څه کولے شي؟

(الف) تباه کول ختمیدل (ب) د ګولونولګولوباغ (ج) ټوټې ټوټې کښېدل

(۵) نَفسِ مطمَئِنه ته د جنت د داخلیدلو سره دبل کوم څیززیرےورکړےشوےدے؟

(الف)پۀ دنیاکښې د ښه ژوند (ب) دالله سُبْحَانه وتَعَالیٰ رضا(ج) د فرښتوملګرتوب

**سوال ۲** د لاندې لیکلې شوي آیت نمبراوددې د متعلقه الفاظونه کرښۀ راکاږئ اومیلاوئې کړئ.

| | |
|---|---|
| آیت نمبر ۲ | دارِم قام |
| آیت نمبر ۷ | ز دثمود قام |
| آیت نمبر ۹ | لس شپې |
| آیت نمبر ۱۷ | مطمئن نفس |
| آیت نمبر ۲۷ | د یتیم عزت |

**سوال ۳** د لاندې لیکلې شووسوالونومختصرجوابونه ورکړئ:

۱۔ د سورت پۀ شروع کښې د نافرمان قامونوذکرشوےدے،مونږلره پۀ دېکښې څه سبق دے؟

۲۔ د الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ نعمتونه او د الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ د اړخه پۀ ازمائشونوباندې مونږلره څه کول پکاردي؟

۳۔ پۀ دې سورت کښې الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ د انسان د کوموغلطوذکرکړےدے؟

. پۀ دي سورت کښې د قيامت د ورځي کومه نقشه راښکلي شوي ده ؟

---

---

. د یوګناهګارکس به د قيامت پۀ ورځ کوم کيفيت وي؟

---

---



## کورنۍ (هله زله)

پۀ دي سورت کښې چې دکوموقامونوذکرراغلےدےپۀ یوچاټ باندې ددې قامونونومونه،زائے،د پیغمبرنوم، ،ددې قام اوددې سزاولیکئ۔

. یوفهرست جوړکړئ چې مونږلره د یتیمانانو اومسکنانوسره څه ښېګړه کول پکاردي

---

---

---

---

---

---

. ستاسوپۀ محله یاخپلوانوکښې چې کوم یتیمانان دي د هغوئ د نومونویوفهرست جوړکړئ اوچاه ته ئې تحفه کړئ۔




د استادلاس ليک سره دتاريخ: ____________ د مورپلارلاس ليک سره د تاريخ: ____________

## سبق ۱۹ سُورَةَ البَلَد (سورت نمبر: ۹۰، ټول رکوع ګاني: ۱، ټول آياتونه: ۲۰)

شانِ نزول او پېژندګلو: دا سورت پهٔ حضرت نبي کريم (ﷺ) باندې پهٔ مکي ژوند درميانه دورکښې نازل شوے دے چې د مکې مکرمې د امن نه ډک ښارکښې حضرت نبي کريم (ﷺ) او د هغه ملګرو د ظلم او ستم نشانه جوړه شوې وه۔ د دې سورت

پۀ شروع کښې الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ د مکي پۀ ښار، حضرت آدم (عَلَيْهِ السَّلَام) اوپۀ ټول انسانيت باندې قسم بيانې فرمائې چې انسان پۀ دنيا کښې پۀ مشقتونو کښې پېدا شوے دے دا دې دنياته ذموار را لېږلے شوے دے الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ دېته ډېر نعمتونه ورکړي دي لکه مال، سترګې، ژبه او شونډې. الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ دېته د نيکۍ او بدۍ دواړه لارې ښودلې دي ليکن انسان پۀ ظاهره پۀ مشکله لاره يعنې د نيکۍ پۀ لاره د روانېدلو نه وېرېږي . ليکن کوم خلق چې غلامان آزدوي، د خپلوانو، يتيمانانو او پۀ مسکينانو خوراک کوي، ايمان والا هم وي او يو بل ته د صبر تاکښېد اود رحم تلقين هم کوي، نو دغه خلق کامياببدلو والا دې. ددې اولټه چې کوم خلق د الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ د آياتونو نه انکار کوي، نو داسې خلق ناکام دې او د اورمســـــــــــــــــــــــتحق دې .

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ
زۀ پناه غواړم پۀ الله سره د شيطان رټلي شوي نه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ○
خاص د الله پۀ نوم سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکې دی

لَآ اُقْسِمُ بِهٰذَا الْبَلَدِۙ ۰۰۱ وَاَنْتَ حِلٌّ بِهٰذَا الْبَلَدِۙ ۰۰۲
زۀ قسم خورم پۀ دې ښار (مکّه) باندې. پۀ داسې حال کښې چې ته (اے محبوب ﷺ) پۀ دې ښار کښې اوسېدونکې ئې.
وَوَالِدٍ وَّمَا وَلَدَۙ ۰۰۳ لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِيْ كَبَدٍؕ ۰۰۴
او پۀ زېږوونکښې باندې او پۀ هغه باندې چې ده زېږولي دي (قسم) يقينًا مونږ انسان (ددې) پۀ مشقت کښې پيدا کړی دی.
اَيَحْسَبُ اَنْ لَّنْ يَّقْدِرَ عَلَيْهِ اَحَدٌۘ ۰۰۵ يَقُوْلُ اَهْلَكْتُ مَالًا لُّبَدًاؕ ۰۰۶
ايا دغه (کافر انسان) خيال کوي چې بېشکه شان دا دی چې پۀ دۀ باندې به هيڅوك قادر نشي؟ دی وايي: ما ډېر زيات مال خرخ کړی (لګولی) دی.
اَيَحْسَبُ اَنْ لَّمْ يَرَهٗۤ اَحَدٌؕ ۰۰۷ اَلَمْ نَجْعَلْ لَّهٗ عَيْنَيْنِۙ ۰۰۸ وَلِسَانًا وَّشَفَتَيْنِۙ ۰۰۹
ايا دی خيال کوي چې بېشکه دی هيچا نه دی ليدلی؟ ايا مونږ دۀ ته دې ورکړي نه دي دوه سترګې؟ او يوه ژبه او دوه شونډې؟
وَهَدَيْنٰهُ النَّجْدَيْنِۚ ۰۰۱۰ فَلَا اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ ۖ ۰۰۱۱
او مونږ دۀ ته دوه (د نيکۍ او بدۍ) لارې ښودلي دي؟ نو دا (د نيکۍ) پۀ سخته غونډۍ کښې داخل نۀ شو.
وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا الْعَقَبَةُؕ ۰۰۱۲ فَكُّ رَقَبَةٍۙ ۰۰۱۳
او ته څه شې پوه کړې چې دا سخته غونډۍ څه شی دی؟ (هغه دې) خلاصول د څټ (ازادول د مريي) دې د غلامۍ نه.
اَوْ اِطْعٰمٌ فِيْ يَوْمٍ ذِيْ مَسْغَبَةٍۙ ۰۰۱۴ يَّتِيْمًا ذَا مَقْرَبَةٍۙ ۰۰۱۵
او طعام ورکول دې پۀ داسې ورځ کښې چې د لوږې والا ده . يتيم ته چې د خپلوۍ خاوند وي.
اَوْ مِسْكِيْنًا ذَا مَتْرَبَةٍؕ ۰۰۱۶ ثُمَّ كَانَ مِنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ
يا يو ډېر مسکين غريب محتاجه ته. بيا دغه د هغو کسانو نه وي چې ايمان ئې راوړی وي او يو بل ته د صبر وصيت کوي
وَتَوَاصَوْا بِالْمَرْحَمَةِؕ ۰۰۱۷ اُولٰٓىِٕكَ اَصْحٰبُ الْمَيْمَنَةِؕ ۰۰۱۸ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِنَا
او يو بل ته د مهربانۍ (او شفقت) کولو وصيت کوي. دغه کسان د ښي اړخ والا (يعني خوش نصيب) دي. او هغه کسان چې زمونږ پۀ ايتونو باندې کافران شوي دي.

هُـــــــمْ اَصْـــــــحٰبُ الْمَشْـــــــئَمَةِؕ۱۹ عَلَـــــــيْهِمْ نَـــــــارٌ مُّؤوصَـــــــدَةٌ۲۰

دوی د چـپ (ګـس) اړخ والا (يعنـي بدنصـيبه) دي . پـۀ دوی بانـدي بـه (دهـر اړخ نـه) بنـد کـړې شـوی اور وي .

## د علم او عمل خبري

۱. الله سُبْحَانه وتَعَالىٰ مکّه مکرّمه د امن والا ښار جوړ کړے دے د دي قسم د دي د پاره . شوے دے چي دا د نبي کريم (ﷺ) وطن وو . (سُوْرَةُ البلد، آيتونه: ۱، ۲)

۲. د دنيا پۀ ژوند کښي انسان د ډيرو مشقتونو سره مخامخ کښېږي . (سُوْرَةُ البلد، آيت: ۴)

۳. د الله سُبْحَانه وتَعَالىٰ پۀ بندګانو پوره قدرت حاصل دي . (سُوْرَةُ البلد، آيت: ۵)

۴. ډير انسان د الله سُبْحَانه وتَعَالىٰ د نعمتونو ناشکره وي . (سُوْرَةُ البلد، آيت: ۶)

۵. الله سُبْحَانه وتَعَالىٰ د خلقو د عملونو نه خبر دے . (سُوْرَةُ البلد، آيت: ۷)

۶. زمونږه بدن اوزان د الله سُبْحَانه وتَعَالىٰ راکړلے شوي نعمتونه دي . (سُوْرَةُ البلد، آيتونه: ۸، ۹)

۷. الله سُبْحَانه وتَعَالىٰ مونږ ته د نيکۍ او بدۍ دواړه لاري ښودلي دي . مونږ له پکار دي چي د نيکۍ لاره غوره کړو او د ګناه د لاري نه بچ شو . (سُوْرَةُ البلد، آيت: ۱۰)

۸. د نيک جوړيدلو د پاره د ډير کړاؤ وضرورت دے . (سُوْرَةُ البلد، آيت: ۱۱)

۹. غلامان آزادول، پۀ يتيمانا او مسکينانو باندي خوراک کول د نيکۍ کار دے . (سُوْرَةُ البلد، آيتونه: ۱۳ تا ۱۶)

۱۰. د نيکۍ د قبوليت د پاره ايمان شرط دے او پۀ نيکۍ باندي د مظبوطيدلو د پاره د نيکانو خلقو سره تعلق لرل، يو بل ته د صبر او رحم دلۍ تلقين کول ضروري دي . (سُوْرَةُ البلد، آيت: ۱۷)

## ځان پري پوهه کړئ او حل ئي کړئ

**سوال ۱** پۀ صحيح جواب باندي صحيح نښه (✓) ولګوئ:

(۱) پۀ دي سورت کښي پۀ کوم ښار قسم ذکر شوے دے؟

(الف) طائف (ب) مکّه (ج) مدينه

(۲) پۀ دي سورت کښي د والد نه عموماً څوک اخستلے شوے دے؟

(الف) حضرت سيدنا محمد (ﷺ) (ب) حضرت نوح (عَلَيْهِ السَّلَامُ) (ج) حضرت آدم (عَلَيْهِ السَّلَامُ)

(۳) الله سُبْحَانه وتَعَالىٰ انسان پۀ کوم حالت کښي پيدا کړے دے؟

(الف) نعمتونه (ب) مشقتونه (ب) بيمارياني

(۴) الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ انسان ته د کومولارو ښودنه کړي ده؟

(الف) نيکي اوبدي                (ب) لوندوالےاواوچوالے  (ج) ځمکه او اسمان

(۵)پۀ دې سورت کښې "اَصْحَابُ الْمَشْئَمَة"، يعني د ناکام خلقوکومي خرابئ بيان شوي دي؟

(الف) دا خلقوته دهوکه ورکوي        (ب) دا يتيم ته دهکي ورکوي(ج) دا د الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ د آياتونونه انکارکوي

**سوال ۲** د لاندې ليکلي شوي آيت نمبراوددې پۀ متعلقه الفاظو کښې يوشانته رنګ ورکړئ.

| | |
|---|---|
| آيت نمبر ۱ | د مکي ښار |
| آيت نمبر ۸ | د رحم کولونصيحت |
| آيت نمبر ۱۰ | دوه سترګي |
| آيت نمبر ۱۴ | دوه ۲ لارې |
| آيت نمبر ۱۷ | خوراک خوړل |

**سوال ۳** د لاندې ليکلي شووسوالونومختصرجوابونه ورکړئ:

۱۔ الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ د انسان د کوم بدني نعمتونوذکرکړےدے؟

۲۔ د نيکئ د مشکلي لارې نه څه مراددې؟

۳۔ پۀ دې سورت کښې الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ کله اوکومو خلقوته د خوراک خوړلو ترغيب ورکړےدے؟

.په دې سورت کښې د کومودوو ۲ ډلوتذکره شوې ده؟

.د کس اړخ والا(اَصۡحَابُ الۡمَشۡئَمَةِ) به څه انجام وي؟



## کورنۍ سرګرمي(هله زله)

په یوچاټ باندې د مکې دښارتصویرولګوئ ا ود موراوپلار د مکې مکرمې پۀ باره کښې یوپنځۀ  خبرې معلومې کړئ ئې لیکئ-

.مونږپۀ نوروباندې پۀ رحم اومددکولوکښې کومې طریقې غوره کوو؟یوپنځۀ خبرې ولیکئ-

.د خانه کعبې متعلق یوڅلورخبرې ولیکئ-



ستادلاس لیک سره دتاریخ :______ . .　　د مورپلارلاس لیک سره د تاریخ :______ . .

اَهمي نکتي

## سبق: ۲۰  سُوْرَۃ الشّمس  () سورت نمبر: ۹۱، ټولي رکوع: ۱، ټول آیاتونه: ۱۵

**شانِ نزول او پېژندګلو:** دا سورت په حضرت نبي کریم (ﷺ) باندې د مکي ژوند په مینځني دورکښې نازل شوے دے. حضرت نبي کریم (ﷺ) به د ماسخوتن په مونځ کښې سُوْرَۃ الشّمس او ددې په شان نور سورتونه تلاوت کول. (جامع ترمذی)
په دې سورت کښې په اووۀ ۷ څیزونو قسم خوړلے شوے دے او د نیکۍ او بدۍ فرق ښودلے شوے دے چې الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ

انسان تهٔ د نیکئ اوبدئ پوهه ورکړي ده ـ ښودلې شوې دي چې نفس د ګناهونو نه پاکوي تقوىٰ اختیارولو والا کامیاب دےچې کله د نفس تعبداري کوي پهٔ ګناهونو کښې ژوند تیرولو والا ناکام دے بیایې دقام ثمود د غلط انجام مثال بیان کړےدےچې ددوئ اړخ تهٔ حضرت صالح (عَلَيْهِ السَّلَام) لیږلےشوےوودوی قام د کفراوشرک نه منعه کول ،نوقام ددښه مطالبه وکړه که چرتهٔ تهٔ ریښتوني ئې ،نویوه معجزهٔ راوړه ـ د قام پهٔ مطالبه باندې الله سُبْحَانَه وَتَعَالىٰ د غرنه ژوندۍ اوښه راویستله چې دا د دوئ دپاره معجزه وه حضرت صالح (عَلَيْهِ السَّلَام) خلقولره پوهه کړل چې دا د الله سُبْحَانَه وَتَعَالىٰ اوښه ده لهٰذاددې خیال کوئ حضرت صالح (عَلَيْهِ السَّلَام) ددې اوښې د اوبوڅکلودپاره یوه ورځ مقررکړه قام حضرت صالح (عَلَيْهِ السَّلَام) دروغژن کړو ،د دوئ نه یوغلط کس د اوښې ښپې کټ کړلې اومړه ئې کړه ـ بیاپهٔ دوئ باندې د الله سُبْحَانَه وَتَعَالىٰ عذاب راغلےاود زلزلې پهٔ ذریعه سره دا قـــــــام هــــــــــلاک شــــــــــو ـ

اَعُــوْذُ بِاللّٰــهِ مِــنَ الشَّــیْطٰنِ الــرَّجِیْمِ

زهٔ پناه غواړم پهٔ الله سره د شیطان رټلي شوي نه

بِسْــــــمِ اللّٰــــــهِ الـــــــرَّحْمٰنِ الـــــــرَّحِیْمِ○

خاص د اللّٰه پهٔ نوم سره (شروع کوم) چې ډیر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکښی دی

وَالشَّمْسِ وَضُحٰىهَا ۙ۰۰۱ وَالْقَمَرِ اِذَا تَلٰىهَا ۙ۰۰۲ وَالنَّهَارِ اِذَا جَلّٰىهَا ۙ۰۰۳

قسم دی پهٔ لمر باندې او د هغه پهٔ رڼا باندې ـ اوقسم دے سپوږمۍ باندې کله چې پهٔ (لمر) پسې وروسته راځي ـ اوپهٔ ورځ باندې کله چې دغه (لمر) ښکاره کړي

وَالَّيْلِ اِذَا يَغْشٰىهَا ۙ۰۰۴ وَالسَّمَاۗءِ وَمَا بَنٰىهَا ۙ۰۰۵

اوپهٔ شپه باندې کله چې دغه (لمر) پټ کړي (پهٔ خپلو تیارو کې) ـ اوپهٔ اسمان باندې اوپهٔ هغه ذات چې دغه ئې جوړ کړې دی ـ

وَالْاَرْضِ وَمَا طَحٰىهَا ۙ۰۰۶

اوپـــهٔ ځمکـــه بانـــدې اوپـــهٔ هغـــه ذات چـــې دغـــه (ځمکـــه) ئـــې غـــوړولې ده ـ

وَنَفْسٍ وَّمَا سَوّٰىهَا ۙ۰۰۷ فَاَلْهَمَهَا فُجُوْرَهَا وَتَقْوٰىهَا ۙ۰۰۸

اوپهٔ (انساني) نفس باندې اوپهٔ هغه ذات چې دغه ئې ښه برابر کړې دی ـ بیا (الله) پهٔ دې (نفس) کښې د بدۍ او د تقوىٰ (نېکي) الهام کړې دے ـ

قَدْ اَفْلَحَ مَنْ زَكّٰىهَا ۙ۰۰۹ وَقَدْ خَابَ مَنْ دَسّٰىهَا ۭ۰۱۰ كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ

چې یقیناً کامیاب شو هغه څوک چې دغه (نفس) ئې پاك کړو ـ او یقیناً نامراده شو هغه څوك چې دغه (نفس) ئې پهٔ (ګناهونو) کښې پټ کړو ثمودیانو تکذیب کړې وو

بِطَغْوٰىهَآ ۠ ۙ۰۱۱ اِذِ انْۢبَعَثَ اَشْقٰىهَا ۙ۰۱۲ فَقَالَ لَهُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ

ـ د خپلې سرکشۍ پهٔ سبب (د صالح (عَلَيْهِ السَّلَام) کله چې د دوی لوی بدبخت (کس) راپورته شو ـ نو دوی ته د الله رسول (صالح (عَلَيْهِ السَّلَام)) وویل:

نَاقَةَ اللّٰهِ وَسُقْيٰهَا ۭ۰۱۳ فَكَذَّبُوْهُ فَعَقَرُوْهَا ۙ۱

تاسو د الله اوښه او د هغې اوبه څښل پرېږدئ ـ نو دوی د هغه (یعني صالح (عَلَيْهِ السَّلَام)) تکذیب وکړ (دروغجن ئې وګاڼه) نو دوی د هغې (اوښې) پښې (لینګي) پرې کړل (او مړه ئې کړه)

فَدَمْدَمَ عَلَيْهِمْ رَبُّهُمْ بِذَنْۢبِهِمْ فَسَوّٰىهَا ۙ۰۱۴

نو پهٔ دوی باندې د دوی رب د خپلو ګناهونو پهٔ سبب راګېرووونکی عذاب راولېږه، نو دغه (ټول) ئې (پهٔ هلاکت کښې) برابر کړل ـ

وَلَا يَخَافُ عُقْبٰهَا ۝١٥

او دی (الله) د دغه (هلاکت او عذاب) د انجام نه نه ویریږي.

اَهمې نکتې

## د علم او عمل خبرې

۱ ـ څرنګه چې د لمر او سپوږمۍ تاثیر مختلف دے دغه شانه د نیکۍ اوبدۍ نتیجې هم مختلف دې ـ (سُوْرَةَ الشّمس، آیتونه: ۱ تا ۷)

۲ ـ الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ په انسان کښې دننه د نیکۍ اوبدۍ پېژندل هم ایښې دي ـ (سُوْرَةَ الشّمس، آیت: ۸)

۳ ـ الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ انسان لره د نیکۍ اوبدۍ دواړو اختیار ورکړے دے او په امتحان کښې اچولے دے ـ (سُوْرَةَ الشّمس، آیتونه: ۸ تا ۱۰)

۴ ـ د بدۍ نه بچېدل او نیکۍ اختیارولو والا کامیاب دے ـ (سُوْرَةَ الشّمس، آیت: ۹)

۵ ـ نیکۍ پرېښودل اوبدۍ اختیارولو والا ناکام دے ـ (سُوْرَةَ الشّمس، آیت: ۱۰)

۶ ـ د ناکام خلقو یو مثال قام ثمود دے ـ (سُوْرَةَ الشّمس، آیتونه: ۱۱ تا ۱۵)

۷ ـ کله ناکله غلط انسان د ګناه نه نۀ منعه کول، ټول قام په عذاب کښې اخته کښېږي ـ (سُوْرَةَ الشّمس، آیتونه: ۱۲ تا ۱۴)

۸۔ انبياءکرام عَلَيۡهِم السّلَام هميشه خپل قام ته د نيکۍ نصيحت کړےدے۔ (سُوۡرَةَ الشّمس،آيت:۱۳)
۹۔ د انبياء کرام عَلَيۡهِم السّلَام خبره نه منلو والا تباه اوبربادشوي دي۔ (سُوۡرَةَ الشّمس،آيت:۱۴)
۱۰۔ الله سُبۡحَانه وتَعَالىٰ چې څه غواړي هغه د چاه فکرنه کوي۔ (سُوۡرَةَ الشّمس،آيت:۱۵)

## ځان پرې پوهه کړئ اوحل ئې کړئ

**سوال ۱:** پۀ صحيح جواب باندې صحيح نښه (✓):ولګوئ

(۱) پۀ دې سورت کښې د کوم قام ذکردے؟

(الف)قام عاد (ب) قام ثمود (ج) قام لوط (عَلَيۡهِ السَّلَام)

(۲) ددې سورت پۀ شروع کښې الله سُبۡحَانه وتَعَالىٰ پۀ کومه رڼراباندې قسم خوړلےدے؟

(الف) ورځ (ب) سپوږمۍ (ج) لمر

(۳) پۀ دې سورت کښې د کوم څيزد پاکولو ذکرشوےدے؟

(الف) بدن (ب) نفس (ج) لباس

(۴) الله سُبۡحَانه وتَعَالىٰ قام ثمودته کوم څيزد معجزې پۀ طورورکړےوو؟

(الف) مار (ب) مهې (ج) اوښه

(۵) قام ثمود دالله سُبۡحَانه وتَعَالىٰ د نشانۍ سره څه اوکړل؟

(الف) محفوظه ئې کړه (ب) هلاکه کړه (ج) قيد ئې کړه

**سوال ۲** د لاندې ليکلې شوې شوې آيت نمبراوددې د متعلقه الفاظونه کرښۀ راکاږئ اوميلاوئې کړئ۔

| | |
|---|---|
| آيت نمبر ۱ | ځمکه |
| آيت نمبر ۲ | لمراورڼرا |
| آيت نمبر ۸ | پۀ ګناه باندې عذاب |
| آيت نمبر ۱۳ | د الله سُبۡحَانه وتَعَالىٰ اوښه |
| آيت نمبر ۱۴ | بدې اوپرهيزګاري |

ال ۳ د لاندې ليکلې شوي سوالونو مختصرجوابونه ورکړئ:

.الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ زمونږدننه د څه څيزپوهه ايښي ده؟

.کامياب انسان څوک دے؟

.ناکام انسان څوک دے؟

.الله  سُبْحَانه وَتَعَالیٰ د قام ثمود قصه ولې بيان کړےده؟

.د حضرت صالح (عليه السلام) په باره کښې درې ۳ خبرې وليکئ.



کورنۍ سرګرمي (هله زله)

.د قَسم خوړلو په وخت مونږلره د کومو خبرو لحاظ کول پکاردي. کم ازکم درې وليکئ.

.د سورت په آخرکښې د قام ثمودذکرشوےدے د دوئ د محلّاتوتصويرونه اوګورئ او په چاټ باندې ولګوئ.

.په نيکۍ او بدۍ کښې د فرق په حوالې سره درې  خبرې وليکئ.




د استادلاس لیک سره دتاریخ:____________ د مورپلارلاس لیک سره د تاریخ:____________

## سبق: ۲۱ سُورَةُ الّیل (سورت نمبر: ۹۲، ټولي رکوعګانی: ۱ټول آیاتونه: ۲۱)

**شانِ نزول اوپېژندګلو:** دا سورت پهٔ حضرت نبي کریم (ﷺ) باندې د مکي ژوند پهٔ مینځني دورکښې نازل شوےدے. ددې سورت پهٔ شروع کښې د څلورو مختلفو څیزونو قسم بیان شوےدےالله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ د دوو ۲ مخالفولاروذکرکوي پهٔ دې لاروباندې د روانومختلف کوششونه اود هغوئ انجام هم بیانوي یولار د الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ د خوشحالولوده چې دویمه لارد ګناه لارده چې د الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ د خفګان ذریعه جوړېږي انسان چې کومه لارغوره کول غواړي الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ د هغې توفیق ورکوي پهٔ سورت کښې د دوو ۲ نتیجوذکردےیعني د نافرمانودپاره عذاب اود تعبدارودپاره انعام دےد

حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه او د حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنه د روایت مطابق د سورت آخري آیاتونه د حضرت ابوبکرصدّیق رضی الله عنه پهٔ شان کښې نازل شوي دي ځکه چې هغه پهٔ چاه باندې د احسان کولو د پاره نهٔ بلکې صرف د الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ د رضا پهٔ خاطر د جود او سخاوت اعلیٰ مظاهره کړې وه او حضرت بلال رضی الله عنه او نورې یاره او مددګار ایمان والا ئې واخستل او صرف د الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ د رضا د پاره ئې آزاد کړل پهٔ دې وجه باندې د الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ د اړخه ابوبکر رضی الله عنه د ټولونه د غټ متقي کښېدلو شرافت ورکړے شو او پهٔ ورځ د قیامت به الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ هغه له رضی الله عنه پهٔ داسې قدر اعزاز او اکرام سره ورکړه وکړې چې ابوبکر صدیق رضی الله عنه به خوشحاله شي پهٔ دنیا کښې د ابوبکر رضی الله عنه د دې عمل نه الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ راضي وو او پهٔ آخرت کښې به ابوبکر رضی الله عنه الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ پهٔ خاص ورکړې سره خوشحاله کړي .

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

زهٔ پناه غواړم پهٔ الله سره د شیطان رټلي شوي نه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ○

خاص د الله پهٔ نوم سره (شروع کوم) چې ډېر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکې دی

وَالَّيْلِ اِذَا يَغْشٰى ۙ ٠٠١ وَالنَّهَارِ اِذَا تَجَلّٰى ۙ ٠٠٢ وَمَا خَلَقَ الذَّكَرَ وَالْاُنْثٰٓى ۙ ٠٠٣

قسم دی پهٔ شپه کله چې دا (هر شی) پټ کړي. او پهٔ ورځ باندې کله چې روښانه شي. او پهٔ هغه ذات باندې (قسم) چې نر او ښځه ئې پیدا کړي دي.

اِنَّ سَعْيَكُمْ لَشَتّٰى ؕ ٠٠٤ فَاَمَّا مَنْ اَعْطٰى وَاتَّقٰى ۙ ٠٠٥ وَصَدَّقَ بِالْحُسْنٰى ۙ ٠٠٦

چې بېشکه ستاسو سعي (او عمل) خامخا بیل بیل دي. نو هر چې هغه څوک دی چې (د الله پهٔ لاره کښې مال) ورکوي او وېرېږي. او د ډېرې ښکلې کلمې تصدیق کوي

فَسَنُيَسِّرُهٗ لِلْيُسْرٰى ؕ ٠٠٧ وَاَمَّا مَنْۢ بَخِلَ وَاسْتَغْنٰى ۙ ٠٠٨ وَكَذَّبَ بِالْحُسْنٰى ۙ ٠٠٩

نو مونږ به ضرور دهٔ ته د (نیکۍ) اسانۍ لارې اسانتیا ورکړو. او هر چې هغه څوک دی چې بخل کوي او (د الله) بې پروایي کوي او د ډېرې ښکلې کلمې تکذیب کوي (دروغ ئې ګڼړي)

فَسَنُيَسِّرُهٗ لِلْعُسْرٰى ؕ ٠١٠ وَمَا يُغْنِيْ عَنْهُ مَالُهٗٓ اِذَا تَرَدّٰى ؕ ٠١١

نو مونږ به ضرور دهٔ ته د (بدۍ) سختۍ لارې اسانتیا ورکړو. او د دهٔ مال به د دهٔ هېڅ پهٔ کار رانشي کله چې دی پهٔ کنده (دوزخ) کښې غورځېږي

اِنَّ عَلَيْنَا لَلْهُدٰى ۖ ٠١٢ وَاِنَّ لَنَا لَلْاٰخِرَةَ وَالْاُوْلٰى ٠١٣

بېشکه خاص زمونږ پهٔ ذمه خامخا لاره ښودل دي. او بېشکه خاص زمونږ د پاره آخرت او دنیا ده (د دواړو اختیار دی).

فَاَنْذَرْتُكُمْ نَارًا تَلَظّٰى ۚ ٠١٤ لَا يَصْلٰىهَآ اِلَّا الْاَشْقَى ۙ ٠١٥

نوما تاسو د داسې اوره ووېرولئ چې لمبې وهي. دهٔ ته به نهٔ ننوځي مګر د ټولو لوی بدبخته.

الَّذِيْ كَذَّبَ وَتَوَلّٰى ؕ ٠١٦ وَسَيُجَنَّبُهَا الْاَتْقَى ۙ ٠١٧

هغه چې (د حق) تکذیب ئې کړی او مخ ئې (د حقه) ګرځولی دی. او عنقریب د دې (دوزخ) نه به خامخا لرې ساتلی شي (هغه چې) ښه وېرېدونکې وي.

الَّذِيْ يُؤْتِيْ مَالَهٗ يَتَزَكّٰى ۚ ٠١٨ وَمَا لِاَحَدٍ عِنْدَهٗ مِنْ نِّعْمَةٍ تُجْزٰٓى ۙ ٠١٩

هغه چې خپل مال (د الله پهٔ لاره کښې) د دې د پاره ورکوي چې پاک شي. او د دهٔ سره (د دهٔ پهٔ غاړه) د هیچا د پاره څهٔ نعمت (او احسان) نشته چې بدله ئې ورکولی شي.

اِلَّا ابْتِغَـــآءَ وَجْـــهِ رَبِّـــهِ الْاَعْلٰـــی ۚ۰۰۲۰ وَلَسَـــوْفَ يَرْضٰـــی ۧ۰۰۲۱

مګر (هغه) د خپل رب درضا دپاره چې د ټولو اوچت دی (مال ورکوي) ـ او خامخا زر به دی راضي شي ـ

## د علم اوعمل خبرې

۱ ـ څرنګه چې د انسانانو کوششونه مختلف دي دغهٔ رنګې ددوئ دعملونو نتيجې هم مختلفې دي ـ (سُوْرَةَ الّيل، آيت:۴)

۲ ـ د الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ پهٔ لاره کښې خرچ کول تقویٰ اختيارول اودښو خبرو تصديق کول د نيکانو خلقو صفتونه دي (سُوْرَةَ الّيل، آيتونه: ۵، ۲)

۳ ـ د نيکۍ لار فطرت ته نزدې او اسانه ده ـ (سُوْرَةَ الّيل، آيتونه: ۵تا۷)

۴ ـ الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ به نيکۍ کولو والا ته جنت ته پهٔ تللو کښې د آساني لارې توفيق ورکړي ـ (سُوْرَةَ الّيل، آيات: ۵ ـ ۷)

۵ ـ بخل کول، بېپرواهي کول او ښې خبرې دروغژن کول د غلطو خلقو صفتونه دي ـ (سُوْرَةَ الّيل، آيات: ۸، ۹)

۶ ـ د بدۍ لار د فطرت نه جدا او پهٔ مشکلاتو کښې د زياتېدو سبب دے ـ ـ (سُوْرَةَ الّيل، آيت: ۸تا ۱۰)

۷ ـ الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ به د بدۍ کولو والا د جهنم اړخ ته د تللو والا پهٔ مشکله لار باندې د تللو دپاره پرېږدي ـ ـ (سُوْرَةَ الّيل، آيت: ۱۰)

۸ ـ د الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ پهٔ لاره کښې پهٔ مال خرچ کولو سره انسان د ګناهونو نه پاکښېږي ـ ـ (سُوْرَةَ الّيل، آيتونه: ۱۸، ۱۹)

۹ ـ د حق نه انکار کونکي او د نيکۍ نه مخ اړولو والا بدنصيب د جهنم پهٔ لمبو والا اورکښې وغورزولے شي ـ ـ (سُوْرَةَ الّيل، آيت: ۱۴تا ۱۶)

۱۰ ـ پهٔ پرهيزګارۍ اختيارولو، د الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ پهٔ لاره کښې پهٔ خرچ کولو سره الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ راضي کښېږي اوداخلق د خپل خالق او مالک پهٔ نعمتونو باندې راضي او شکرګزار کرزي ـ داسې خلق د دوزخ نه محفوظ وي ـ ـ (سُوْرَةَ الّيل، آيتونه: ۱۷تا ۱۸)

## ځان پرې پوهه کړئ او حل ئې کړئ

**سوال ۲ ـ** پهٔ صحيح جواب باندې صحيح نښه (✓) ولګوئ:

(۱) الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ د شپې او ورځې نه روسته د څاه قسم ذکر کړے دے؟

(الف) نيک او بد (ب) نر او ښځه (ج) سپوږمۍ او لمر

(۲) د سورت پهٔ شروع کښې د څاه د قسم ذکر شوے دے؟

(الف) سپوږمۍ او لمر (ب) ورځ او شپه (ج) ځمکه او آسمان

(۳) د انسانانو کړاؤنه څومره کښېدلے شي؟

(الف) يو شانته دوه شانته (ج) مختلف شانته

(۴) الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ د کوموخلقونیکیاني قبلوي؟

(الف) شهرت غوښتلووالا   (ب)پۀ خپله زان نیک ښکاره کول(ج) د رب رضاغوښتلووالا

(۵) د نفس دپاکولویوه ذریعه کومه ده؟

(الف) مال بدګنړل        (ب)   د الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ پۀ لاره کښې مال خرچ کولووالا  (ج) دنیابالکل هیرول

**سوال ۲** د لاندې لیکلې شوي شوي آیت نمبراوددې پۀ متعلقه الفاظو کښې یوشانته رنګ ورکړئ

| | |
|---|---|
| آیت نمبر۲ | ګرانه لار |
| آیت نمبر۸ | لمبووالا اور |
| آیت نمبر ۱۰ | بخل کول |
| آیت نمبر۱۴ | روښانه ورځ |
| آیت نمبر۱۵ | غټ بدبخت |

**سوال ۳**: د لاندې لیکلې شوي شؤوسوالونومختصرجوابونه ورکړئ:

۱۔ پۀ دې سورت کښې پۀ آسانه لاربانديې د تلونکوځه صفتونه بیان شوي دي؟

۲۔ پۀ دې سورت کښې پۀ مشکله لاربانديې د تلونکوځه صفتونه بیان شوي دي؟

۳۔ د ګناه پۀ لاره باندې د تلونکوځه انجام دے؟

۴۔ کوم خلق به الله سُبْحَانه وتَعَالیٰ د دوزخ د اورنه بچ کړي؟

۵۔ تزکیه یعني د پاکۍ حاصلولوځه ذریعه ده؟



## کورنۍ سرګرمي(هله زله)

. د خپل جیب په خرچه سره د کوروالا د پاره د څه ضرورت څیزونو انتظام وکړئ.

. د الله سُبْحَانه وَتَعَالیٰ په لارکښې خرچ کول په آخرت کښې د کامیابۍ ذریعه ده. د خپل کوروالا سره په یوځل د یبانانوبچود مدد دپاره څه انتظام جوړکړئ.

. د قرآنِ حکیم په آخره سپاره کښې هغه سورتونولره رنګ ورکړئ چې د کومونومونه په مختلفووختونوباندې ایښودلې دي اوپه دې وختونوکښې د ویېلې شؤومونځونونومونه اولیکئ.

| شمیرنمبر | د سورت نوم | په دې وخت کښې د ویلې شؤومونځونونومونه |
|---|---|---|
| ١ | | |
| ٢ | | |
| ٣ | | |
| ۴ | | |

سُوْرَةُ الَّيْلِ | سُوْرَةُ النَّبَا

سُوْرَةُ الْعَصْرِ | سُوْرَةُ الضُّحٰى

سُوْرَةُ التِّيْنِ | سُوْرَةُ الْفَجْرِ

د استادلاس لیک سره دتاریخ:________ د مورپلارلاس لیک سره د تاریخ :______________

الحمد لله ثمّ الحمد لله داکتاب پۀ اوولسو ۱۷ ورځوکښې پا ےتکمیل ته ورسیدلوا ےالله !دا کوشش پۀ خپل دربارِعالیه کښې ورته شرف د قبولیت ورکړي اوزما د مرحومي مور دپاره ئي صدقه جاریه وګرځوي۔

تمت: 24 نومبر2022 : بمطابق ۲۹ربیع الثاني ۱۴۴۴هجري،ورځ جمعرات۔ وخت۔ ۱۲ ۔ ۲۵

۔(الاحقررضاء الله ابومنقادوعطاءالمنعم بن الحاج خان بادشاه الباجوري حالًانزیل شریف آباد شانرے باجورباکستان۔)